# ژبپوهنه

ډاکټر بشریٰ اکرام

زیرنګراني

ډاکټر نصرالله جان وزیر

## پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي

ټول حقوق په حق د پښتو اکېډیمي پېښورپوهنتون پښورپوهنتون محفوظ دي.

مطبوعاتِ سلسله نمبر ۲۷۷


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | ژبپوهنه |
| د لیکوالې نوم | : | ډاکټر بشریٰ اِکرام |
| اهتمام | : | ډائریکټرپښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي |
| کمپوزنګ | : | حبیب الرحمن صافي |
| دچاپ کال | : | 2018ء |
| د چاپ شمیر | : | 500 |
| د چاپ ځاے | : | فاسټ ټرېک کمیونیکېشن پېښور |
| بیعه | : | 500 روپۍ |

یادګیرنه :- د لیکوال د لیک سره د اداري متفق کېدل ضروري نهٔ دي.

**I.S.B.N:** ***978-969-418-117- 2***

## د خپل خداے بخښلي

## پلار غلام سرور خان

## په نوم

# فهرست


| مخ | سرخط | شمېر |
|---|---|---|
| 15 | د اکیډیمۍ مطبوعات پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر | 1 |
| 20 | خپلې خبرې ډاکټر بشرٰی اکرام | 2 |
| 27 | **اول باب: ژبه** | 3 |
| 27 | ژبه څۀ ته وائي | 4 |
| 34 | د ژبې خصوصیات | 5 |
| 40 | د ژبې پیداوښت | 6 |
| 40 | بو وؤ نظریه | 7 |
| 41 | پو پو نظریه | 8 |
| 41 | ډنګ ډانګ نظریه | 9 |
| 41 | یوهي ، هو نظریه | 10 |
| 42 | د اشارو نظریه | 11 |
| 42 | د موسیقۍ نظریه | 12 |
| 42 | د میل جول نظریه | 13 |
| 56 | د ژبو عالمي ویش | 14 |
| 61 | **دویم باب : ژبپوهنه** | |
| 61 | ژبپوهنه څۀ ته وائي | 1 |
| 64 | د ژبپوهنې د مطالعې مقصد | 2 |
| 65 | آیا ژبپوهنه یو سائنس دے ؟ | 3 |

| | | |
|---|---|---|
| 4 | د ژبپوهنې ساحه | 69 |
| 5 | د ژبپوهنې اهميّت | 75 |
| 6 | د ژبپوهنې طريقه کار | 82 |
| 7 | د ژبپوهنې د نورو علومو سره اړيکې | 84 |
| 8 | ژبپوهنه او بشر پوهنه | 84 |
| 9 | ژبپوهنه او نفسيات | 85 |
| 10 | ژبپوهنه او ټولن پوهنه | 87 |
| 11 | ژبپوهنه او فطري سائينسونه | 88 |
| 12 | ژبپوهنه او تاريخ | 89 |
| 13 | ژبپوهنه او جغرافيه | 90 |
| 14 | ژبپوهنه او لرغون پوهنه ( آرکيالوجي ) | 91 |
| 15 | ژبپوهنه او ادب | 92 |
| 16 | ژبپوهنه او فلسفه | 93 |
| | **دريم باب: د ژبپوهنې تاريخ** | 94 |
| 1 | بابل (400 ق م نه 1500 ق م پورې ) | 94 |
| 2 | هندوستان (1500 ق م نه 200 ق م پورې) | 96 |
| 3 | يونان (500 ق م نه 175ء پورې ) | 106 |
| 4 | روم(100 ق م نه 500ء پورې ) | 119 |
| 5 | چين (3 ق م نه 100 ق م پورې ) | 121 |
| 6 | عرب (5ء نه 8ء پورې ) | 124 |
| 7 | قرون وسطي (د لسمې پيړۍ نه تر خوارلسمې پيړۍ پورې ) | 131 |
| 8 | د نشاة ثانيه دور (د پنځلسمې پيړۍ نه تراتلسمې پيړۍ پورې ) | 134 |
| 9 | نولسمه پيړۍ(1801ء نه تر 1900ء پورې ) | 145 |

| | | |
|---|---|---|
| 10 | شلمه پیړۍ (1901ء نه تر 2000ء پورې ) | 155 |
| | **څلورم باب: د ژبپوهنې بنیادي قسمونه** | 178 |
| 1 | تاریخي ژبپوهنه | 180 |
| 2 | د غږ بدلون | 184 |
| 3 | ویو تهیوري (Wave theory) | 185 |
| 4 | د ګِرِم قانون(Grimm's law) | 186 |
| 5 | د غږ د بدلون نور قسمونه | 189 |
| 6 | حذف یا اخراج (Loss or Deletion) | 189 |
| 7 | ادخال(Insertion) | 190 |
| 8 | انجذاب(Assimilation) | 190 |
| 9 | Dissimilation | 191 |
| 10 | تقلیب حرفي(Matathesis) | 191 |
| 11 | د ورنر قانون(Verner's law) | 191 |
| 12 | صرفي بدلون | 191 |
| 13 | نحوي بدلون | 193 |
| 14 | د لفظونو په ذخیره کښې بدلون | 196 |
| 15 | معنوي بدلون | 199 |
| 16 | Pejoration | 200 |
| 17 | Amelioration | 200 |
| 18 | Hyperbole | 200 |
| 19 | Under statement | 200 |
| 20 | Metonymy | 201 |
| 21 | Semantic Bleaching | 201 |
| 22 | ګرامري بدلون | 201 |
| 23 | په ژبو کښې د بدلون وجوهات | 202 |

| | | |
|---|---|---|
| 24 | توضيحي ژبپوهنه | 206 |
| 25 | صرف | 210 |
| 26 | نحو | 214 |
| 27 | ګرائمر | 214 |
| 28 | معنيات | 215 |
| 29 | لغتيات | 216 |
| 30 | تقابلي ژبپوهنه | 218 |
| 31 | تطبيقي ژبپوهنه | 225 |
| | **پينځم باب : فونيټکس اوفونولوجي** | 236 |
| 1 | فونيټکس (غږ پوهنه ) | 237 |
| 2 | آرټيکيولټري فونيټکس | 238 |
| 3 | ډا يا فرام او پړيوس | 240 |
| 4 | ليرنکس | 241 |
| 5 | ووکل فولډز اوګلوټس | 242 |
| 6 | فيرنکس | 244 |
| 7 | د پوزې خانه | 244 |
| 8 | د خُلې خانه | 245 |
| 9 | ژبه | 246 |
| 10 | ژبۍ | 246 |
| 11 | غاښونه | 247 |
| 12 | شونډې | 247 |
| 13 | مُرمر **Murmur** | 250 |
| 14 | کريکه **Creak** | 250 |

| | | |
|---|---|---|
| 15 | پس پس Whisper | 250 |
| 16 | سُست او متحرک آرټیکولیشن (Active and Passive Articulation) | 252 |
| 17 | د آرټیکیولیشن د ځاے په لحاظ د غږونو ویش | 253 |
| 18 | شونډیز(Bilabial) | 254 |
| 19 | شونډیز غاښیز(Labio-dental) | 254 |
| 20 | غاښیز (Dental) | 254 |
| 21 | اُوریز (Alveolar) | 255 |
| 22 | کلک تا لویز(Palatel) | 255 |
| 23 | نرم تالویز (Velar) | 255 |
| 24 | ژبۍ ئیز (uvlar) | 255 |
| 25 | ګلوټل(Glotal) | 256 |
| 26 | مرۍ ئیز(Laryngeal) | 256 |
| 27 | برغ ژبیز(Retroflex) | 256 |
| 28 | د Manners of Articulation په حواله د تورو ویش | 259 |
| 29 | تَم(Stop or Plosive) | 260 |
| 30 | مښلي یا احتکاکي(Fricatives) | 261 |
| 31 | تم مښلي مرکب آوازونه(Affricates) | 261 |
| 32 | پوزیز آوازونه (Nasals) | 261 |
| 33 | مائع آوازونه (Liquids) | 261 |
| 34 | اړخیز مائع آوازونه (Lateral Liquid) | 262 |
| 35 | نااړخیز مائع آوازونه (Non Lateral Liquids) | 262 |
| 36 | ړپیدونکي مائع آوازونه(Flapped Liquids) | 262 |

| | | |
|---|---|---|
| 37 | د غړیزو ببوزد (Vocal Folds)له مخې د آوازونو ویش | 264 |
| 38 | ناغړن آوازونه | 264 |
| 39 | اکاوسټک فونیټکس(Aceoustic Phonetics) | 267 |
| 40 | ایمپلي چیوډ(Amplitude) | 269 |
| 41 | فریکونسي (Frequency) | 269 |
| 42 | شدّت (Intensty) | 270 |
| 43 | اُوچت والے(Loudness) | 271 |
| 44 | پچ(Pitch) | 272 |
| 45 | کوالټي (کیفیّت ) | 272 |
| 46 | ګوشي غږ پوهنه (Auditory Phonetics) | 273 |
| 47 | بهرنے غوږ | 274 |
| 48 | منځنے غوږ | 275 |
| 49 | ائیر ډرم( Ear Drum) | 275 |
| 50 | هیمر (Hammer) | 275 |
| 51 | اینول (Anvil) | 275 |
| 52 | سِټرپ (Stirrup) | 275 |
| 53 | یوسټیچین نالۍ (Eustachain Tube) | 275 |
| 54 | دننے غوږ | 276 |
| 55 | ویسټي بیولر (Vestibular) | 276 |
| 56 | کوکلیا (Cochlea) | 276 |
| 57 | د توازن عصب (Balance nerve) | 276 |
| 58 | سمعي عصب( Accoustic nerve) | 276 |
| 59 | یوسټیچین نالۍ (Eustachian Tube) | 276 |

| | | |
|---|---|---|
| 60 | فونولوجي | 278 |
| 61 | فونو لوجي او فونيټکس کښې فرق | 281 |
| 62 | د فونولوجي د اُصولو قسمونه | 284 |
| 63 | د فونولوجي ماډلونه | 285 |
| 64 | کلاسيکل فونيمکس | 285 |
| 65 | سټينډرډ جنريټو فونو لوجي | 285 |
| 66 | نان لينئر ماډل آف فونولوجي | 285 |
| 67 | آټوسګمنټل فونولوجي | 286 |
| 68 | ميټريکل فونولوجي | 286 |
| 69 | ليګزيکل فونولوجي | 286 |
| 70 | د فونولوجي څانګې | 287 |
| 71 | ډاياکرونک هسټاريکل فونولوجي | 287 |
| 72 | سينکرونک ډسکرپټو فونولوجي | 287 |
| 73 | سګمنټل فونولوجي | 288 |
| 74 | سُپراسګمنټل فونولوجي | 290 |
| 75 | عروض (Prosody) | 290 |
| 76 | سليبل /ڇپه | 290 |
| 77 | آن سيټ (Onset) | 291 |
| 78 | کوډا (Coda) | 291 |
| 79 | مرکزه (Nucleus) | 291 |
| 80 | فيټ(Feet) | 292 |
| 81 | انټرنيشنل فونيټک الفبټ سسټم | 294 |
| 82 | د پښتو غږونه او توري | 295 |

| | | |
|---|---|---|
| 83 | د واول تعریف | 295 |
| 84 | د کانسونینټ تعریف | 296 |
| 85 | سیمي واول | 301 |
| 86 | برغ غږونه ( ډیفتانګونه ) | 302 |
| 87 | کانسونینټ مرکب کلسټرونه | 304 |
| 88 | د پښتو فونیمک الفبا | 304 |
| | **شپږم باب : ټولنیز ژبپوهنه او نفسیاتي ژبپوهنه** | 307 |
| 1 | ټولنیزه ژبپوهنه | 307 |
| 2 | کوډ(**Code**) | 312 |
| 3 | کوډ سویچنګ ( **Code switching**) | 312 |
| 4 | لهجه (**Dialect**) | 312 |
| 5 | معیاري ژبه(**Standard Languege**) | 315 |
| 6 | آیډیو لیکټ (**Ideolect**) | 316 |
| 7 | سوشولیکټ (**Sociolect**) | 316 |
| 8 | رجسټر (**Register**) | 317 |
| 9 | آئیسو ګلاس(**Isoglass**) | 318 |
| 10 | ډائي ګلاسیا(**Diglossia**) | 318 |
| 11 | پډګن (**Pidgin**) | 322 |
| 12 | کریول (**Creole**) | 325 |
| 13 | کوئنائزیشن(**Koineiztion**) | 325 |
| 14 | نفسیاتي ژبپوهنه | 327 |
| | **اُووم باب: د ژبپوهنې نور قسمونه** | 339 |
| 1 | فلالوجي | 339 |

| | | |
|---|---|---|
| 2 | ګلوټولوجي | 340 |
| 3 | د نظرياتي ژبپوهنې قسمونه | 340 |
| 4 | پريګميټکس(Pragmatics) | 341 |
| 5 | ډسکورس اناِلسز (Discoursc Analysis) | 342 |
| 6 | ليګزيکوګرافي(Lexicography) | 343 |
| 7 | ليګزيکالوجي(Lexicology) | 343 |
| 8 | Prescriptive Linguistics | 343 |
| 9 | Probabilistic Linguistics | 344 |
| 10 | د فونيټکس او فونولوجي سره تړلي قسمونه | 344 |
| 11 | ګرافيمکس(Graphemics) | 344 |
| 12 | ګرافو فونيمکس(Graphophanemics) | 344 |
| 13 | مار فيمکس (morphemics) | 344 |
| 14 | مارفو فونميکس(Morphophonemics) | 344 |
| 15 | فونيمکس(Phonemics) | 345 |
| 16 | فونو ټيکټکسس(Phonotactics) | 345 |
| 17 | ټونيټکسس(Tonetics) | 345 |
| 18 | ټيګميمکس(Tagmemics) | 345 |
| 19 | (ortheopy) | 345 |
| 20 | ووکلزِم(Vocalism) | 345 |
| 21 | ايتمالوجيEtymology | 345 |
| 22 | چيرالوجي (Cherology) | 345 |
| 23 | (Onomastics) | 346 |
| 24 | (Text linguistics) | 346 |
| 25 | (Glossematics) | 346 |
| 26 | د تطبيقي ژبپوهنې ذيلي ښاخونه | 346 |

| | | |
|---|---|---|
| 347 | Contrastive Linguistics | 27 |
| 347 | تعليمي ژبپوهنه | 28 |
| 348 | Stylistics اسلوبيات | 29 |
| 349 | Cognitive Linguistics ادراکي ژبپوهنه | 30 |
| 350 | Neuro linguistics اعصابي ژبپوهنه | 31 |
| 351 | Clinical Linguistics کلينکي ژبپوهنه | 32 |
| 352 | Forensic Linguistics عدالتي ژبپوهنه | 33 |
| 353 | Anthropological Linguistics | 34 |
| 353 | Ethnolinguistics | 35 |
| 354 | Ethnosemantics | 36 |
| 354 | Semiotics | 37 |
| 354 | Anthroposemiotics | 38 |
| 355 | Ecolinguistics | 39 |
| 356 | Interactional Linguistics | 40 |
| 356 | Integrational Linguistics | 41 |
| 357 | Dialectolgy | 42 |
| 357 | Folk Linguistics اُولسي ژبپوهنه | 43 |
| 357 | SocioPhonetics سوشيوفونيټکس | 44 |
| 358 | Paralinguistics | 45 |
| 359 | Kinesics | 46 |
| 360 | Metalinguistics | 47 |
| 361 | Typology | 48 |
| 361 | حياتياتي ژبپوهنه(Biolinguistics) | 49 |
| 361 | Phylogeny | 50 |
| 362 | Linguistic ontogeny | 51 |
| 362 | Evolutionary Linguistics ارتقائي ژبپوهنه | 52 |
| 362 | Antiquated Linguistics | 53 |
| 363 | Glottochronology | 54 |
| 365 | Areal Linguistics | 55 |

| | | |
|---|---|---|
| 366 | Structural Linguistics | 56 |
| 367 | Systematic Functional Linguistics | 57 |
| 367 | Formal Linguistics | 58 |
| 367 | Generative Linguistics | 59 |
| 368 | Empirical Linguistics | 60 |
| 369 | Mathemtical Linguistics | 61 |
| 369 | Computational Linguistrcs | 62 |
| 371 | Corpus Linguistics | 63 |
| 372 | Linguistic Engineering | 64 |
| 373 | Xeno linguistics | 65 |
| 373 | کتابيات | 66 |
| 399 | ګلوسري | 67 |

# د اکېډیمی مطبوعات

ژبه د اظهار هغه ذریعه ده چې د هغې په واسطه انسان خپل باطني احساسات ، جذبات او کېفیات نورو ته رسوي او هم د پوهولو راپوهولو عمل ته پرې جریان ورکوي . انسان دغه اظهار په څو ډوله سره کوي، یود وېنا/غږ ، دوېم د لیک / تحریر او درېم د حرکاتو/ سکناتو یا اشارو په ذریعه . ژبه یو ټولنیز توکے دے ، دا په ټولنه کښې زده کېږي او هم په ټولنه کښې وده کوي . ددې متعلق وئیل کېږي چې د ژبې په داخل کښې یعني د هغې په ذخیره الفاظو کښې د هغه ټولنې نفسیات ، مدنیت او د تاریخ ازانګه خوندي ده . څومره چې د یوې ژبې د الفاظو ذخیره پرېمانه او د هر ډول علوم او فنون په خپله لمن کښې د رانغښتلو توان زیات لري هغومره هغه مترقي او پرمخ تللې بلل کېږي . د مترقي ژبو یو بل مهم خاصیت دا هم دے چې په هغو کښې د انساني ژوند متعلقاتو په کثرت سره خپرول کېږي . خو د نړۍ د نورو ژبو په پرتله که مونږ پښتو کښې د خپور شوؤ یا د خپرول کېدونکو موادو تجزیه کوؤ،نو د ډېرو ژبو تر څنګ پښتو کښې دا کچ نۀ ډېر ټیټ او نۀ ډېر لوړ دے . خود یوې ژوندۍ او متحرکه ژبې د پاره دغه کېفیت د اطمینان وړ نۀ بلل کېږي ، ځکه که مونږ غواړو چې خپله ژبه د نړۍ د سیالو ژبو په قطار کښې د اودرولو جوګه کړو نو تر هر څۀ د مخه

لازمه ده چې دې کښې د هر اړخیز موادو اشاعت ته فوقیت ورکړل شي نۀ چې یواځې تخلیقات .

پښتو اکېډیمي له ابتدا څخه دا هڅې کوي چې د وخت د غوښتنو او د زمانې د ضروریاتو په مطابق څېړنیز، تاریخي، ژباړیز،اولسي ادبیات، د ماشومانو ادبیات ، داستانونه، قلمي نسخې ، دیوانونه ، لُغتونه او یو لړ نور علمي و ادبي اثار راغونډ او د ژبې و ادب مینه والو ته ئې وړاندې کړي . د اشاعت دغه لړۍ چې ستاسو په وړاندې ده د هم هغې کړۍ تسلسل دے کومو ته چې بره اشاره اوشوه . دې کښې په بېله بېل موضوعاتو د بېله بېلو لیکوالو لیکل شوي هغه اثار دي چې له ډېره وخته هغو ورباندې کار کړے خو د نامساعدو حالاتو له کبله اشاعت ئې لا ممکن شوے نۀ وۀ . دې کښې غونډ څلېریشت کتابونه او یوه پښتو نه پښتو ډکشنري (پښتواکېډیمي لُغت) شامل دي . ددې لُغت د ځانګړتیاؤ په حقله بشپړ بحث د لُغت په سریزه کښې شوے، خو په لنډه توګه به اووایو چې دا یو علمي او تشریحي لُغت دے چې د افادیت او سند له لحاظه تر ټولو غوره او مهم قاموس دے . (هیله ده چې لوستونکي به دا لُغت د خپلو علمي او څېړنیزو چارو دپاره مخې ته کښېږدي). د کتابونو په ضمن کښې پینځۀ قلمي نسخې

دیوان فیاالدین (چې زیاتره موضوعات ئې د تصوف او اسلوب ئې د کلاسیک شاعرانو مکتب ته ورته والے لري . ډېره موده مخکښې دغه نسخه خان میر خیالي وزیر پښتو اکېډیمي ته سپارلې وه . دوه کاله

د مخه هغهٔ ددې په حقله راسره رابطه کړې وه، غوښتل ئې چې دا بېرته تر لاسه کړي، خو قانوناً د هغهٔ حق نهٔ جوړېدوځکه چې هغهٔ ددې حق اکېډیمۍ ته په هم هاغه زمانه تسلیم کړے وو . چونکې دا یوه ډېره نادره او نایابه قلمي نسخه ده او هم بله نسخه ئې لا تراوسه چېرته نهٔ ده ښودل شوې ځکه ددې څېړنه ، سمونه او اشاعت مهم وو . دې نه علاوه ددې ادبي او علمي ارزښت هم مسلم دے) .

دیوان تورسم(د یو وطن دوست او په قوم مئین شاعر دیوان دے، موضوعات ئې د قومیت او وطنیت په مفکوره مبني دي ، د هغه وخت د حالاتو، واقعاتو او د قومي سوچ و فکر یو ښهٔ اثر بلل کېدے شي).

دیوان میا حمدالله فقیرخېل(ددې دیوان د هر غزل په مقطع د میا حمدالله فقیر خېل په نوم سربېره د عبدالرحمن اوکا نوم اچول شوے ، خو نومتو متن پوهډاکټر بدرالحکیم حکیم زي له خوا دا دیوان د عبدالرحمن اوکا پرځاے د میاحمدالله فقیر خېل ثابت کړل شوے . (د شک لرې کولو په خاطر ما په خپله هم دغه قلمي نسخه کتلې ده او رښتیا هم دغسې شوي لکه څهٔ ډول چې حکیمزي صاحب ښودلې ده یعني دا په اصل کښې د میا حمدالله فقیرخېل دیوان دے نهٔ چې د عبدالرحمن اوکا)

کلیاتِ سرور خان مهمند(دې کښې د پاکستان د تحریک ازادي مبارزه ، ددې فکر د مرستیالو د داد و شجاعت لوړه ستاینه او

ددې په اړوند د قومي فکر لرونکو شخصیاتو او د هغوي د افکارو سره تضاد ئې اساسي موضوعات دي )

بل مهم کتاب د پښتنو شجره چې شېره علي خان د بنو پټواري لیکلې ده ، ډېره د قدر او اهمیت وړ تاریخي شجره ده. دې کښې د پښتنو د بېله بېلو قومونو،خېلونو او علاقو د ذکر پرته ځینې تاریخي واقعات چې د مخه تاریخونو کښې نۀ دي راوړل شوي،په قوي دلیلونو سره بیان کړل شوي دي. خو ځینې واقعات په کښې تکراري او هم هغه دي چې د مخه تاریخونوکښې بیان کړل شوي دي ـ

دوه ژباړې (''حالنامه'' له فارسي څخه پښتو او ''ژبه او ژبپوهنه'' له اُردو څخه پښتو) هم دې کښې شاملې دي . دې نه علاوه اووۀ لس نور په مختلفو موضوعاتو لیکل شوي څېړنیز کتابونه دي چې د اوس دور لیکوالو له خوا لیکل شوي دي .

لکه د مخه مو اووئیل چې دا د پښتو اکېډیمي د هغې کړۍ تسلسل دے چې د ۱۹۵۵ء څخه را په دېخوا پېل شوې ده او تر دې دمه ئې په سوونو کتابونه ، کتابګوټي ، رسالې او یو لړ نور مواد چاپ کړي دي . هیله ده چې دغه کتابونه به د پښتو ژبې و ادب په ذکر کښې د قدر وړ اضافه اوګڼلې شي او د ژبې و ادب مینه وال به ترې لازمه استفاده اوکړے شي . تر کومه چې ددې موادو د کره والي تعلق دے نو یقیناً چې هر لیکوال د خپل استعداد په مطابق له موضوع سره د انصاف کولو پوره ـ پوره هڅه کړې ده . د هغوي دغه زیار او خواري په

هره حواله د ستائنې وړ او قابلِ قدره ده . هيله ده چې د دوي دغه هڅه به د پښتو په ادبي پانګه کښې يوه غوره او ښکلې اضافه ثابته شي . که چېرته تربنه يو نيم ځاے څۀ نيمګړتيا يا تېروتنه شوې وي نو هغه به د وسائلو عدم دستيابي او د پرېمانه مسائلو ملتيا له کبله وي ، نۀ چې ددوي کومه علمي او فکري نيمګړتيا.

د هغو ټولو ليکوالو چې په اکېډيمۍ کښې ئې د ورسپارل شوؤ وظيفې تحت دغه کار سر ته رسولے او د هغو چې د اکېډيمۍ څخه د باندې دي خو د خپل ادبي ذوق او علمي شوق په خاطر ئې دغه علمي و ادبي ښېګړې راپېرزو کړې دي ، هم انتهائې مننه کوؤ او نېکې هيلې ورته لرو.

په اخر کښې د تېر صوبائي حکومت د پارليمان د ټولو غړو،د دولتي چارواکو او هم د اوسني صوبائي دولت د ټولو مشرانو او لوړ رتبه چارواکو او د يو لړ مرستيالانو يو ځل بيا مننه چې هغوي د پښتو اکېډيمي فعاليتونو ته خصوصي پاملرنه کوي او هم ورته ښۀ نظر لري .

په درناوي
پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزير
ډائرېکټر
پښتو اکېډيمي خېبر پښتونخوا
نېټه: ۲۱ / ۱۰ / ۲۰۱۸ء

# خپلې خبرې

کله چې ما په پښتو اکېډيمۍ کښې په ايم فل ليډنګ ټو پي ايچ ډي پروګرام کښې داخله واخسته نو د ايم فل په دوېم سمسټر کښې زمونږ يو کورس د ژبپوهنې هم وۀ چې هغه وخت ئې يو کتاب هم په پښتو کښې نۀ وۀ ـ زما د انګرېزۍ د اړخه دې مضمون سره څۀ نه څۀ اشنائي وه خو زما ملګرو ته ډېره ګرانه وه ـ د هغه وخت نه زما اراده وه چې که چرې خدائے ته منظوره وه نو په دې مضمون به يو کتاب په پښتو کښې ليکم چې په روهالوجي کښې راتلونکو طالبعلمانو ته څۀ مسئله نۀ وي ـ د خدائے کارونو ته ګوره چې په نومبر ۲۰۱۳ء کښې د جونئير ريسرچ افيسر په حېث په پښتو اکېډيمۍ کښې زما تقرري اوشوه ـ او اولنے کلاس راته هم د ژبپوهنې راکړے شو ـ په اولني کلاس کښې مې څۀ انګرېزي څۀ پښتو ليکچر ورکړو ـ ولې يو شاګرد راته هم په دې اولني کلاس کښې اووئيل چې ميډم مونږ ته په سوچه پښتو کښې سبق ښايه نو د شاګردانو دپاره مې د انګرېزۍ د کتابونو نه په پښتو کښې څۀ نوټس تيار کړل ـ خو دا ځل مې په پښتو کښې په دې مضمون د يو کتاب ضرورت ډېر زيات محسوس کړو ـ دا زما د تدريس د اړخ خبره وه ـ

د تحقيق په اړخ ماته د چارج اخستو په دويمه ورځ پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهين (ښخوانۍ ډائريکټر ) له اړخه آرډر ملاؤ شو چې تۀ

یو کلچرل انسائیکلوپېډیا اولیکه ـ ما د خپل وس مطابق کتابونه راټول کړل ـ سنټرل لائبرېرۍ ته لاړم او هلته مې د مختلفو انسائیکلوپېډیا نمونې مطالعه کړې او د خپلې پښتون کلچرل انسائیکلوپېډیا دپاره مې دوه نمونې جوړې کړې ـ خو د انسائیکلو پېډیا دپاره صرف کتابونه مطالعه کول نۀ وو بلکې فیلډ ورک هم کول وو او د فیلډ ورک تجربه ما د خپلې پي ایچ ډي د وختو لرله ـ خو د یو انسائیکلوپېډیا دپاره فیلډ ورک دپاره د یو پوره ټیم ، څۀ الاتو او د مالي مدد ضرورت وۀ چې زما د وس کار نۀ وۀ ـ په دې وجه د ډاکټر سلمٰی شاهین د ریټائرمنټ نه پس چې کله ښاغلي ډین سید الحسنات صېب زمونږ د اکېډیمۍ د ډائرېکټر شپ چارج واخستو ـ نو ما هغۀ ته درخواست اوکړو چې سر په دې وخت کښې زۀ د انسائیکلوپېډیا لیکلو جوګه نۀ یم او ما ته یو بل پراجیکټ راکړئ ـ هغۀ راته حکم اوکړو چې تۀ د بل پراجیکټ خاکه تیاره کړه نو ما زر زر په ژبپوهنه خاکه تیاره کړه او د هغوي مخې ته مې کښېښوده ـ د څو ورځو د غور و حوض نه پس هغۀ ماته دا پراجیکټ دستخط کړو او ما پرې سمدستي کار شروع کړو ـ خو چې د خپلې لائبرېرۍ سرچ مې اوکړو نو په پښتو ژبه کښې څۀ خاص کتابونه په لاس رانغلل ـ د خیال بخاري صېب صرف و نحو او غږ پوهنه ، د کوثر غوریا خېل ژبو وئینه او د افغانستان څو کتابونه ملاؤ شو ـ د لهجې د بدلون د وجې د افغانستان په کتابونو پوهه ما دپاره ګرانه وه ـ په دې وجه ما د خپل ډائرېکټر پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر صېب نه د

انګرېزۍ د شعبې لائبرېرۍ ته د تللو اجازت اوغوښتو او هغوي ماته په رونړ تندي هلته د تلو اجازت راکړو دغه شان ما پوره دوه مياشتې په دغه لائبرېرۍ کښې تېرې کړې ـ د څۀ کتابونو نه حوالې او د څۀ نه فوټو کاپۍ مې اوکړې او د هغوي لائبريرين ماته تر هغه وخت لائبرېرۍ ته نوي رارسېدونکي کتابونه هم راکړل ـ باقي مطالعه ما په "Net" اوکړه او په دې نتيجه اورسېدم چې ژبپوهنه اوس يو مهم مضمون دے ـ يو اوږد تاريخ لري ـ په ژبه هر رنګه څېړنې اوشوې اول ددې د حېثيت قيصه وه چې سائنس دے که آرټس او بيا سوچه سائنس دے که سوشل سائنس دے ـ چې ددې مرحلونه راتېر شو نو نوې نوې څانګې ئې اوسپړدې عن تر دې چې د شپېتو نه هم واوړېدې او ډېرې څآنګې د شلمې پېړۍ په دويمه نيمايۍ کښې مخې ته راغلې دي ـ اوس ژبپوهنه دومره تنه وره ونه ده چې څانګې ئې د ژوند په مختلفو شعبو خورې دي او د انسانيت خدمت کوي ـ د انټرنيټ د لوري خبرېږم چې په ټوله نړۍ کښې په کالجونو کښې ژبپوهنه د يو مضمون په توګه تدريس کولے شي او په يونيورسټو کښې د ژبپوهنې ځان له شعبې دي ـ ددې نه علاوه په قامي سطح د براعظمونو په سطح او په نړيواله سطح بې شماره تنظيمونه او يونيورسټۍ د ژبپوهنې په مختلفو اړخونو نۀ صرف څېړنې کولې شي بلکې هغه په نړيوالو رسالو کښې چاپ کولے هم شي ـ په تاريخي ژبپوهنه، تطبيق ژبپوهنه ، سوشيو لنګوسټکس ، سائيلو لنګوسټکس، کارپس لنګوسټکس ، نيورو لنګوسټکس عن تر دې چې

تقريباً په هره څانګه نۀ صرف بې شمېره کتابونه ليکلې شوي دي بلکې تقريباً د هرې څانګې ځان ځان له رسالې هم اووځي او څېړنکاران پکښې خپل تحقيق چاپوي ـ ددې نه علاوه د نړۍ په مختلفو ملکونو کښې نړيوال سيمينارونه ، کانفرنسونه او ورکشاپونه هم کېږي ـ ژبپوهنه دومره په وړاندې تلې ده چې اوس به د کمپيوټري کار پس په ذريعه څېړنې کېږي ـ خو د افسوس خبره دا ده چې د ژبپوهنې ددې دومره ترقۍ باوجود زمونږ طالبعلمان ددې علم په بنياد هم پوهه نۀ دي او خلق د ژبپوهنې په رڼا کښې په خپلو ژبو رنګ رنګ څېړنې کوي ولې زمونږ پښتو هغسې بکره پرته ده ـ الله دې اوکړي چې زما دا معمولې کتاب د پښتو ژبې طالبعلمان په دې علم نورو مطالعو او څېړنو ته را اوپاروي او څوک ددې علم په برکت د بکرې پښتو د مخ پلو هم اوچت کړي او نړۍ ته دا ژبه او ددې ژبې د ويونکو سپېڅلے ثقافت او درانۀ قدرونه او خويونه ورښکاره کړي ځکه چې هغه د اردو متل دے چې "***بد اچها بد نام برا***" هغه کانه ده به نه يُو خو بدنام ضرور يو او دا بدنامي زمونږ د قام د ترقۍ په لاره کښې نن سبا لوے خنډ جوړ شوے دے ـ الله دې اوکړي چې د ديني او دنياوي علمونو په برکت مونږ پښتانۀ په ټوله نړۍ برے اومومو ـ

زۀ هر ګز دا دعوی نه کوم چې زۀ ددې علم عالمه يمه ـ ما صرف مطالعه کړې ده ـ او بيا مې هغه په خپلو الفاظو کښې لوستونکو ته وړاندې کړې ده ـ اوس زۀ دا لوستونکو ته پرېږدمه چې

زۀ تر کومه حده کامیابه یم ـ په دې کښې ډېر د انګرېزۍ او د سائنس اصطلاحات دي چې ما غوندې کم علمه په پښتو کښې د هغې دپاره څۀ مناسب لفظونه نۀ موندل ـ په دې وجه مې هم دغه شان ذکر کړي دي ـ

ددې کتاب په لیکلو کښې زۀ د ډېرو خلقو پور وړې یم ـ د هغوي ټولو شکریه ادا کول هم ضروري ګڼم ـ د ټولو نه اول زۀ د ډین فیکلټي آف اورینټل اینډ اسلامک سټډیز پروفېسر ډاکټر سیدالحسنات صېب مشکوره یم چې ماله ئې په دې موضوع د کتاب لیکلو اجازت راکړے وۀ ـ بیا د خپل موجوده ډائرېکټر پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر صېب مشکوره یم چې ما سره ئې ددې کتاب په لیکلو کښې هر ممکن تعاون کړے دے ـ که ما د انګرېزۍ شعبې وئیلي دي او که بلې لائبرېرۍ ته د تلو ماله ئې ډېر په اعتماد اجازت راکړے دے ـ زما په لیک کښې ئې ډېره دلچسپي ښکاره کړې ده ـ د ډېر زیات مصروفیت باوجود ئې زما کتاب ئې ټکي په ټکي اوکتلو او د املا غلطۍ ئې ترې لرې کړې ـ ددې کتاب د چاپ کولو ټول کرېډټ هم هغوي ته ځي ـ

زۀ د خپلې مهربانې استاذې پروفېسر ډاکټر سلمی شاهین ډېره مشکوره یم چې هغې په خپلو مهربانو ډاډګیرنو زما د دننه صلاحیتونه کار او ریسرچ کولو ته راپارولي دي ـ دا د هغې زما نه بې حده توقع وه چې زۀ ئې په یوازې ځان د انسائیکلوپیډیا لیکلو جوګه ګڼلم ولې دا زما

کمزوري وه چې ما په یوازې ځان دغه پراجیکټ اونهٔ کړے شو ولې اراده ئې ضرور لرم او مواد ورله هم راټولوم ـ

او که زهٔ د کومې هستئ د لاسه نن په دې مقام ولاړه یم نو هغه زما مور بي بي ده او زما د کتاب یو یو باب د هغې د ختمونو ، نفلونو او دعاګانو نتیجه ده ـ زهٔ د خپلې ګرانې وریرې جویریه بي بي هم ډېره مشکوره یم چې ددې کتاب لیکلو دوران کښې ئې زما ډېر زیات خدمت کړے دے ـ

زهٔ د خپلو دواړو وروڼو ډېره شکر ګذاره یمه چې ما پلار نهٔ دے لیدلے خو هغوي راته د پلار کمے نهٔ دے محسوس کړے او تر دمه زما په تعلې، تحقیقي او تدریسي ټولو کارونو کښې دلچسپي اخلي او زما کتاب ته سترګې په لار وي ـ

د وادهٔ نه پس زهٔ د خپلې دویمې مور یعني خواښې هم ډېره مشکوره یم چې زما ماشومه ئې سنبهال کړې وي او ما ته ئې د لیک لوست کولو وخت راکړے وي ـ زهٔ د خپل ژوند د ملګري اکرام خان هم شکر ګزاره یم چې ما سره هر ممکن تعاون کوي ـ زما په ریسرچ کښې دلچسپي اخلي او زما په کتاب لیکلو فخر کوي ـ

زهٔ د انګرېزئ شعبې د لائبرېرین محترم زیور خان صېب او د پښتو اکېډیمي د لائبریرین سید شاهد علي شاه هم ډېره مشکور یم چې ما سره ئې هر ممکن تعاون کړے دے ـ د خپلو د افغانستان د شاګردانو عبدالجبار څپاند ، عبدالظاهر شکیب ، عبدالاحد منګل ،

بیت الرحمان ، مسعود او رفیع الله نیازي صېب هم ډېره مشکوره یم چې ماته ئې د افغانستان په ژبپوهنه لیکلي شوي کتابونه ډالۍ کړي دي ـ

د کمپوزر حبیب الرحمان صافي مننه چې ددې کتاب کمپوزنګ ئې کړے دے ـ د پښتو اکېډیمۍ کمپوزر ارشاد خان ډېره مشکوره یم چې ددې کتاب سیټنګ ئې کړے دے ـ الله دې ورله روغه سته ورکړي ـ ( آمین )

په ډېر درناوي
ډاکټر بشرٰی اکرام
اسسټنټ پروفېسر
پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي

## اول باب

# ”ژبه“

ژبه انسان ته د الله تعالي د طرف نه یوه خصوصي تحفه ده۔ ژبه هر ځاے موجوده ده۔ زمونږ په سوچونو، خوبونو، دعاګانو زمونږ په تعلقاتو او زمونږ په رسمونو رواجونو ټولو کښې ژبه موجوده ده۔ دا د علم خزانه ده۔ د سوچ ذریعه ده۔ د ژبې په ذریعه مونږ علم د یو نه بل ته او د بل نه بل ته منتقل کوؤ۔ زمونږ فولکلور مونږ ته محض د ژبې په ذریعه رارسېدلے دے ۔ د ژبې نه بغیر د تهذیب او د سائنس تر دې حالته رارسېدل ناممکنه وو څومره چې هم آرکیالوجیکل کنستنې (Excavations) کولے شي د لوښو لرګو، کالو پټرو او هډوکو وغیره نه مونږ د یو انساني دور اندازه په ګرانه لګوؤ۔ خو ولې که په دغه کنستنو کښې سیکې (Coins)را اوځي۔ او په دغه سیکو څۀ لیک وي۔ یا پرې څۀ تصویر جوړ وي ۔ یا داسې کتبې را اوځي چې په هغې څۀ لیک وي نو د دې لیکلو نه د هغه دور خصوصیات ښۀ په آسانه معلومېدے شي ۔

ژبه زمونږ د روحاني سکون سبب هم ګرځي یو خو خلق موسیقۍ ته د روح غذا وائي په دې بحث کول نۀ غواړم خو زمونږ د عقیدې مطابق که الله تعالي هر څو زمونږ په زړونو کښې د پټو

خیالونو نه هم خبردار دے ولې چې تر کومې مونږ په خپله خولهٔ ذکر، تلاوت اونهٔ کړو نو مونږ ته سکون نهٔ ملاویږي ـ او نهٔ مونږ خپله روحاني درجه (**Spiritual level**)اوچته ګنړو، د تصوف ډیرې مرحلې هم د ذکر په وجه سر کیدے شي ـ زمونږ د ژوند ښهٔ والے او بدوالے هم ټول د ژبې د برکته دے ـ په خرابه ژبه زمونږ ژوند دوزخ کیدے شي او په ښهٔ ژبه جنت کیدے هم شي ـ ژبه د ګویایۍ داسې قوت دے چې مونږ ئې د ځناورو نه ممتازه کړي یُو ـ هم په دې ژبه مونږه د خدائے حمد وثنا هم وایو په رسول صلي الله علیه وسلم درود هم وایو ، د خوشحالۍ سندرې پرې هم وایو او د غم ساندې هم ، خو دا خبره صفا ده چې ژبه د ګنړو مقاصدو د پاره استعمالولے شي ـ

ژبهٔ ګنړو مقصدونو سرکولو والا آله ښکاري ولې یو وظیفه ئې بنیادي ده او هغه دا چې د ژبې په ذریعه مونږ د خلقو په رویو باندې اثر پرېباسو او داسې دا د بنیادمو ترمېنځه د تعاون جوړولو وسیله ده ، ژبه د ټولنې د غړو تر مېنځه د جوختولو رشتې مضبوطوي ـ([1])

د ژبې او ژبپوهنې ګنړو ماهرانو د ژبې تعریفونه کړي دي چې یو څو پکښې په دې ډول دي ، خلیل صدیقي په خپل کتاب " زبان کیا هے " کښې د ډاکټر محي الدین قادري زرو په حواله د ژبې تعریف لیکي چې ترجمه ئې څهٔ دارنګ ده :

([1] )C.L. Barber, The story of language, (London and Sydney: Pan Books, ltd, 1972)P:20

'' ډاکټر محي الدين قادري زور د اردو هغه دانشور دے چې د ۱۹۲۷ء نه واخله ۱۹۳۱ء پورې ئې د لندن او پیرس د هغه دور د ژبپوهنې د مشهورو ماهرانو نه فائده اوچته کړې ده ـ هغه د ژبې متعلق ليکي چې ژبه د خيالاتو يوه ذريعه ده۔ د دې کار دا دے چې د لفظونو او فقرو په مدد د انسان د ذهني مطلب او دليلونو او د هغه عامو خيالونو ترجماني اوکړي۔ په دې ترجمانۍ کښې هغه بدني حرکتونه هم شامل دي چې د څۀ مطلب د پوهې ورکولو د پاره د يوې خصوصي ژبې د ويونکو ترمينځه مشترک وي د خيالاتو د ترجمانۍ د پاره نطق يا ګويائي يوه مکمله او د ټولو نه واضحه ذريعه ګڼلے شي ـ نومونړ د ژبې واضحه تعريف په دې ټکو کښې کولے شو چې ژبه د بنيادم د خيالاتو او احساساتو نه پيدا شوۀ د هغه ټولو عضوي او جسماني حرکتونو او اشارو نوم دے چې زيات تر پکښې د ګويايۍ طاقت شامل دے او چې په کومو بل بنيادم پوهيدے شي او چې کله ئې غواړي نو په خپله اراده ئې دوباره کولے شي۔(1)

دغه شان مختلفو ډکشنرو او انسائيکلوپيډيا هم د ژبې تعريفونه کړي دي انسائيکلوپيډيا برټانيکا د ژبې په حقله ليکي :

(1) خليل صديقي ، زبان کيا هے بار دوم (ملتان: بيکسن بکس ګلګشت ،2001 ) ص:۱۲

د روايتي ويونکو ليکلو علامتونو داسې يو نظام د څۀ په ذريعه چې د يو معاشرتي ټولګي بنيادمان په خپلو کښې سره خبرې اترې کوي.(1)

ډکشنري آف لينګوسټکس (sDictionary of Linguistic) د ژبې په حقله ليکي :

د وينا او اورېدو د اعضاؤ په مدد د آوازونو يا غږونو په ذريعه د ابلاغ داسې يو نظام چې د يوې ټولنې غړي ئې د روايتي او اختياري معنو د پاره د غږونو د علامت په توګه پکار وي.(2)

ويبسټرنيوانټرنيشنل ډکشنري د ژبې په تعريف په دې لفظونو کښې کوي.

''اوريدونکي هغه نطقي آوازونه چې د ژبې او ورسره تړلې د نورو نطقي اعضاؤ شريک عمل نه جوړېږي. د لفظونو هغه مجموعه او هغو ته د ربط او ترکيب ورکولو هغه طريقې چې په يو انساني ټولګي کښې استعمالېږي او مطلب ترې اخستے شي. په خصوصي توګه کله چې د ډېرې مودې راسې د استعمال په وجه مکمل او مستقل شوي وي ژبه بللے شي''.(3)

په دې تعريف کښې د ژبې په حقله درې نکتې بيان شوي دي:

---

(1) Encyclwpeclis Britanica vol:13 S.V"Languege''
(2 )Mario A pie and Frank Gaynor, Dictionary of Linguistics 1954.
(3 )Webster New International Dictionery 2nd Edition .

وړومبنی دا چې ژبه د مخصوص نطقي اعضاؤ نه پیدا کیږي۔ دویم دا چې په دې کښې د لفظونو د ترکیب او ترتیب څۀ خاص طریقې وي۔ یعني دا یو پوره نظام وي۔ او دریمه دا چې دا په یو مخصوص انساني ټولګي کښې استعمالیږي۔ او د هغه ټولګي غړي پرې په خپلو کښې ښۀ پوهیږي ۔

ډیرو ژبپوهانو هم په خپل خپل انداز کښې د ژبې تعریفونه کړي دي۔ **Henry sweet**په لنډو ټکو کښې د ژبې په حقله وینا کړې ده ۔

د وینا په ذریعه د خپلو خیالاتو اظهار ته ژبه وئیلے شي ۔([1])

د یو څو نورو پوهانو تعریفونه هم دلته لیکم چې د ژبې په حقله زمونږ نظر فراخه شي **Groce**وائي :

ژبه د یو شمیر نطقي آوازونو مجموعه ده چې پکښې د اظهار په غرض تنظیم پیدا کولے شي۔ ([2])

**Berdman**وائي :

ژبه د خیالاتو د رسولو یو قسم نۀ دے بلکې یو قسم له د سوچ کولو عمل دے یوه وسیله ده چې صرف د انسان خاصه ده۔ ([3])

**Hegel**وائي :

([1] )Mian M saiful-Haq and Bashir Hussain, An Approach to the study of Linguistics (Lahore:New Kitab Mahal, No date)P.2

( [2]) خلیل صدیقي ، زبان کیا هے باردوم ، (ملتان:بیکسن بکس ګلګشت **2001** ) ص:**14**

( [3]) ایضًا ص:**14**

ژبه په صحیح معنو کښې د فطري ذهانت یو فن دے څکه چې دا د دې فن خارجي اظهار کوي۔[1]

ژبه د هغه علامتونو یوه ډهانچه ده د څۀ په مدد چې خیالونه او حقیقتونه بیانولے شي۔ د کومو څیزونو چې وجود نشته او حواس ئې ادراک نۀ شي کولے۔ د هغه څیزونو خاکه راښکي ۔[2]

**F.D Sassure**وائي چې:

ژبه د خیالونو او فکرونو د اظهار کولو والا علامتونو نظام دے۔[3]

**Edward Sapir**وائي چې :

ژبه په آزادانه او اختیاري توګه جوړو شوؤ علامتونو په ذریعه د خیالونو، جذبو او احساس خالصتًا انساني طریقه ده۔ [4]

دغه شان ډاکټر غلام علي الانا د ژبې د اهمیت په حقله کتاب لیکلے دے۔ هغه د انور، ایس، دل په حواله لیکي :

ژبه د ګویایۍ طاقت دے چې د انسان د نطق د اعضاؤ نه راوځي ۔ دا د آوازونو یو داسې نظام دے چې د یوې ژبې ویونکې ټولګي ترمېنځه د معنې او د مطلب د ترسیل کار کوي۔[5]

---

( [1]) خلیل صدیقي ، زبان کیا هے بار دوم (ملتان: بیکسن بکس ګلګشت ، **2001** ) ص:**14**

( [2]) ایضًا ص:**14**

( [3]) ایضًا ص:**14**

( [4])ایضًا ص:**14**

( [5])ډاکټر غلام علي الانا، زبان اور ثقافت ، (اسلام آباد: علامه اقبال اوپن یونیورسټي ، جولائي **1987** )ص:**44**

وړاندې لیکي:

د انساني ذات له اړخه د ادا شوؤ با مقصده آوازونو او خبرو اترو ته ژبه وئیلے شي۔ ([1])

د ژبې او ټولنې په خپلو کښې ډېر نزدې او ضروري تعلق دے، د دې نزدیکت او ضرورت په حقله هم دا ښاغلے لیکوال د **Robert A. Hall** په حواله لیکي :

یوه ژبه په خلا کښې وجود نهٔ لري بلکې دا په انساني معاشره کښې د پېغام رسولود مقصد د پاره پکار راوستے شي او خپله یوه معني لري۔ دغه معني ژبې ته افادیت ورکوي۔ او د دې د وجود سبب ګرځي، د استعمال د دې خاصیت په وجه د څهٔ تحت چې دې یو اشاراتي نظام قائم کړے دے ۔ ژبه د بندیانو ترمېنځه ژوندۍ ژاړه موجوده ده۔([2])

د بشرپوهنې ماهران هم د بنیادم د ژوند د ارتقاء سره سره د ژبې په حقله هم خیړنې کوي :

د بشر پوهنې د ماهرینو په نظر کښې ژبه د بنیادم سره پېدا کېدونکو آوازونو او غړیځو علامتونو یو داسې جال او یو داسې نظام دے د څهٔ په مدد سره چې د یوې ټولنې غړي د بلې ټولنې د غړو سره تعلق قائمولے شي۔ او د یو بل په ما في الضمیر پوهیدے شي۔([3])

---

([1]) ډاکټر غلام علي اِلانا، زبان اور ثقافت،(اسلام آباد: علامه اقبال اوپن یونیورسټي ، جولائي **1987**) ص:**44**

([2]) ایضًا ص:**44**

([3]) ایضًا ص:**48**

لنډه دا چې ژبه یو انساني خاصیت دے د معلوماتو ورکولو یوه ذریعه او تر ډېره حده یوه روایتي معاشرتي رویه ده ـ ژبه د ویونکو علامتونو یو داسې نظام دے چې ښځي په سوچه او اختیاري روایتونو اډانه لري او تر بې شمېره حده پورې د ویونکو د ضرورتونو او حالتونو په وجه بدلیدے او لوئیدے شي۔ د بشر پوهنې ماهران ژبه د کلتوري رویې یو شکل ګڼي ـ د ټولن پوهنې ماهران ژبه د یوې ټولنې د غړو ترمېنځه تعلق ګڼي فلاسفران ژبه د انساني تجربو د اظهار یوه ذریعه ګڼي۔ د ژبې استاذان ژبه د مهارتونو یعني **Skills**یو سیټ ګڼي۔

## د ژبې خصوصیات"**Characteristics of Language**"

۱:ژبه د غږونو او آوازونو نوم دے **Language is verbal, Vocal, Language is Sound.** ژبه د غږونو او غږیځ علامتونو یو منظم شکل یا نظام دے ـ دا غږونه د خولې نه را اوځي چې یو بامعني پېغام ورکوي۔ د دې مطلب دا هم دے چې وېنا د لیک نه وړاندې راځي ـ په نړۍ کښې ډېرې ژبې داسې شته چې د لیکلو څۀ نظام نۀ لري خو بیا هم هغه ژبې دي ځکه چې وئیلے شي ـ ژبه د علامتونو یو غږیځ نظام دے ـ او په دې کښې غږیځ توکي استعمالیږي لکه غږونه ، لفظونه او فقرې او دا ټول په یوه مخصوصه طریقه داسې ترتیب شوي وي چې جملې ترې نه جوړولے شي ـ

۲:ژبه د ابلاغ یوه ذریعه ده " **Language is a means of communication**"ژبه د ابلاغ یوه ډېره طاقتوره مؤثره او مستقله

ذریعه ده ـ د غږونو نه علاوه نور علامتونه لکه پیښې، هر قسمه اشارې، د ټریفک رڼاګانې د سړکونو علامتونه ، جهنډې، بریل توري، د ریاضۍ او منطق علامتونه دا ټول هر څۀ د ابلاغ ذریعې دي ـ خو ولې بیا هم د ژبې هومره لچک پوهه او مکملتیا نۀ ګنړي ـ دا هم ژبه ده د څۀ په ذریعه چې خلق خپل خیالات ، خواهشات ، جذبات او احساسات یو تربله رسوي او هم د ژبې په ذریعه دوي علم ذخیره کوي۔ پېغامات رسوي علم او تجربې د یو کس نه بل کس ته او د یونسل نه بل نسل ته منتقلوي دا هم ژبه ده ـ چې ماضي او حال ئې د یو بل سره تړلي دي ـ

۳:ژبه یو معاشرتي څیز دے " **Language is a Social Phenomenon**"۔ ژبه د یوې معاشرې غړي استعمالوي۔ ژبه د انساني تعلقاتو او د کلتور په وده کښې ډېر غټ کردار ادا کوي ـ د معاشرې مثال د یوې ادارې دے چرته چې ګڼ انسانان د یو بل مدد کوي ـ یوبل سره تعاون کوي ـ یوبل سره خپل خیالونه غم او خوشحالي شریکوي ـ یوکس هم ځان له ژبه نۀ شي جوړولے او نۀ ئې مخ په وړاندې بوتلے شي۔ په دې حقله پارټر وائي :

انساني ژبه د اولس د ټولنې پېداوار دے ـ یوه ژبه هم د هغه قوم عالم په خپله کمره کښې په اوزګاره وخت کښې جوړه کړې نۀ ده ـاونۀ چا فاضل استاد ژبه جوړه کړې ده ـ عالم، استاذ، فاضل ، د علم وادب، ژبپوهنې او ټولن پوهنې ماهران یوه ژبه یا ژبې مالدارې ښائسته او خوږې کولې شي ـ د صنائعو او بدائعو په استعمال ژبه پسته نرمه

کولے شي ـ د تشبيهاتو، استعاراتو مرصع، مسجع او مقفیٰ نثر په استعمال ژبې له څنه سترګه کولے شي او د دې خوبو او خصوصياتو په وجه د ژبې په علمي او ادبي حېثيت کښې اضافه کولے شي ـ خو د ژبې مهمې غوټۍ په هغه ځانګو سپړدلې کېږي کومې چې پخپله راټوکېږي او بغېر د څۀ سهارې نه وده مومي ـ([1])

٤:ژبه يو موروثي څيز نۀ دے " Language is non Instinctive Conventional"ژبه يو موروثي څيز نۀ دے دا زمونږ په جينز کښې کوډ نۀ وي۔ جينز کښې د ويښتو رنګ د سترګو رنګ ، خوئي خصلت هر څۀ کوډډ وي ولې ژبه نۀ وي ـ ځکه چې ژبه يو موروثي څيز نۀ دے ـ که چرې يو ماشوم په هر رنګه معاشره کښې لوے کړے شو نو هغه به د هغه معاشرې د غړو او ويونکو ژبه زده کوي ـ هغه به د خپل اصلي مور پلار ژبه نۀ وائي ـ بله خبره دا چې چرې هم داسې نۀ دي شوي چې يو څو بنيادمان يا د ژبې ماهران په يوه کوټه يا ليبارټرۍ کښې راجمع شوي وي او د يو خاص فارمولې تحت ئې يوه ژبه جوړه کړې وي ـ بلکې ژبه په معاشره کښې د افرادو د يو ځائے اوسېدو نه پخپله رازېږېږي ـ وده مومي، بدلېږي، خورېږي او مري هم ـ

٥:ژبه يو بې قاعده او اختياري څيز دے" Language is Arbitrary"د Arbitrariness نه مراد دا دې چې د يوې ژبې د يو

---

([1]) ډاکټر غلام علي اِلانا، زبان اور ثقافت ،(اسلام آباد: علامه اقبال اوپن يونيورسټي ، جولائي 1987 )ص:40

خاصیت او معنې تر دا مېنځه څۀ موروثي یا منطقي تعلق نشته ـ د دې نه علاوه د یوې ژبې د یو ټکي او معنې ترمېنځه هم څۀ بلا واسطه (Direct)یا ضروري تعلق نشته ـلکه مونږ د یو خیال یا یو څیز د پاره چې کوم ټکے پکارؤ ـ د هغې ټکي د جوړولو څۀ ټاکلي اصول نشته ـ دا یو معاشرتي د خپلې خوښې او بې قاعده **Process**دے ـ د ژبې د دې خاصیت په حقله خلیل صدیقي لیکي:

د خبرو اترو مواد اختیاري وي ـ خو وسیله یا میډیم په حافظه کښې محفوظې وسیلې سره یو شان والے لري۔ علامتونه او د هغې دلیلونه رواج اومومي او بیا ئې یو کس هم نۀ شي بدلولے چې هغه څنګه استعمالول پکار وي ـ هم دغه شان استعمالولے شي ـکله کله ترې نه انحراف هم اوشي خو که دغه انحراف په معاشره کښې په عمومي توګه قبول نۀ شي نو رد کړے شي ـعلامت او د هغې په معنې کښې څۀ حقیقي یا منطقي تعلق نۀ وي ـ ژبه او د هغې نمونو، سانچو ، جوړښت او نظام ترمېنځه هم څۀ فطري رشته نۀ وي ـ دا ټولې رشتې د قبول عام د سند محتاجه وي او چې کله دا سند تر لاسه کړي نو دا رشتې مضبوطې شي خو د یوې ژبې ډېر ویونکي په خصوصي حالاتو کښې د ټولنې د تقاضو مطابق په دې کښې بدلون کولے شي ـګویا د ژبې حکومت په صحیح معنو کښې جمهوریت وي ـ په دې کښې د چا آمر حکم نۀ چلیږي ـ د کله نه هم چې انساني ژبه په وجود کښې راغلې ده د دې مزاج په بنیادي توګه جمهوري پاتې شوے دے سیاسي

جمهوریت خو بیا زرګونه کاله پس څیز دے د ژبې دې خاصیت ته **Arbitrary**وئیلے شي ([1])

٦:ژبه علامتي حېثیت لري "**Language is Symbolic**"د ژبې علامتي خصوصیت اصل کښې د دې د بې قاعدګۍ نتیجه ده علامت د یو خاص څیز د پاره وي او دا علامت د هغه څیز په ځائے استعمالېږي ژبه د بې قاعده علامتونو یو نظام دے ـ د خیالونو، جذبو، څیزونو او تصوراتو د پاره لفظونه مونږ د علامت په توګه استعمالوؤ ـ په ژبه کښې لفظونه د علامتونو په توګه استعمالېږي خو د ریاضۍ یا فزکس د **G** یا **g**علامت په شانې نه چې یو خاص **Value**لري .

٧:ژبه یو نظام دے "**Language is systematic**"ژبه کښې لفظونه د علامتونو په توګه استعمالېږي ـ خو دا علامتونه هم په یو خاص طرز ترتیب شوي وي او د هرې ژبې د ترتیب یعنې د جملې د ترتیب یو خپل نظام وي ـ لکه د مثال په توګه : **Aslam is eating an apple** په دې جمله کښې مختلف لفظونه په دې ترتیب دي چې اول فاعل بیا فعل او بیا مفعول ، او "اسلم سېب خوري" په دې جمله کښې اول فاعل بیا مفعول او بیا فعل راغلے دے ـ

دا علامتونه د شمېر دي ولې په بې شمېره طریقو سره دا لفظونه مونږ ترتیب کولے شو او جملې ترې نه جوړولے شو ـ د ژبې د دې خاصیت په حقله ښاغلے خلیل صدیقي لیکي :

([1]) خلیل صدیقي، زبان کیا هے باردوم ،(ملتان :بیکسن بکس ګلګشت، **2001** ) ص:**20**

ژبه یو داسې مرکب نظام دے چې د غږونو ، فونیمي، ګرامري او د معنو د نظام نه جوړېږي ـ د دې وړو نظامونو یو بل سره مطابقت، کارکولو، په یو بل باندې اثر کولو او یو بل کښې د جذب کېدو نه د ژبې د نظام رغونه سازېږي۔ ([1])

۸:ژبه یو ځانګړے ، تخلیقي ، پیچیده او بدلیدونکے څیزدے ـهره ژبه په خپل ځاے ځانګړې او منفرده وي ـ په ژبو کښې څۀ خصوصیات یو شان هم شته ولې بیا هم د هرې ژبې خپل خپل نظام دے ـچې یوه ژبه د بلې نه بېلوي ـ دغه شان هره ژبه د ټولنې د ضرورتونو او تقاضو مطابق بدلیږي۔

۹:" Language is both Linguistic and Communicative Competence"یوه ژبه د نفسیاتي اصولو او ټولنیز خیالاتو او معنو یو داسې تصوراتي نظام دے چې په یو مخصوص صورتحال کښې ئې یو غړے پکاروي ـ دا نفسیاتي اصول هغه غړے د نوؤ نوؤ جملو جوړولو جوګه کوي ـ په دې وجه مونږ وئیلے شو چې ژبه صرف د یوې روېې نوم نۀ دے دا د یو داسې نظام نوم دے چې د غږونو او معني تر مېنځه ربط او تعلق قائموي ـ

د ژبې او د فکر په تعلق د نفسیاتو او ژبپوهنې ډېرو ماهرانو رڼا اچولې ده ـ د فکر د ژبې یا لفظونو سره ډېر ژور تعلق دے ـژبه د فکر د پاره یوه اهمه وسیله ده ـ د ژبې نه بغېر د فکر وړومبنۍ درجې

([1]) خلیل صدیقي، زبان کیا هے بار دوم، (ملتان:بیکسن بکس ګلګشت، **2001**ء ص:**21**)

خو سر کېدے شي ولې د فکر اعلیٰ سطح او ارتقاء د ژبې سهارا اخلي ـ فکرته وده ورکولو والا بحثونو او د استدلال ټول دارومدار په ژبه باندې وي ـخو دا ده چې کله کله لفظونه د فکر ملګرتیا نۀ شي کولے ـ او د دې د ترجمانۍ نه قاصره وي ـ لفظونه د فکر د ټولو لطیف اړخونو د دې د ژورتیا او باریکو احاطه نۀ شي کولےـ ځکه چې لفظونه د معنې د یو خاص سطحې دلالت کولے شي ـ خو ولې بیا هم ژبه د فکر د ابلاغ د پاره یوه مفیده ا ومضبوطه ذریعه دهـ

۱۰:ژبه صرف انساني خاصه ده "**Language is human**"د انسان نه بغېر بل ذي روح له الله تعالي د ژبې یا د ګویایۍ طاقت نۀ دے ورکړے او نۀ ئې د نطق اعضاء ورکړي دي۔ ژبه یو ډېر پیچیده نظام هم دے چې صرف انسانانو سره تعلق لري ـ

**د ژبې پېداوښت :** د ژبې د پېداوښت په حقله ژبپوهان یو خولۀ نۀ دي۔د ژبې د پېداوښت په حقله مختلفې نظریې وخت په وخت پېش کړے شوي دي۔ چې لاندې ئې ذکر کولے شي

۱:بو -- وؤ نظریه "**The Bow-waw Theory**"د دې نظریې په حقله ښاغلے خالد خان خټک لیکي:

د دې نظریې مطابق انسان د ځناورو د آوازونو د پېښنو نه وئیل زده کړل او بیا ئې ژبه تر اوسني معیاره پورې را اورسوله ـ ([1])

( [1]) ډاکټر خالد خان خټک، سندهي پشتو ، اُردو کے لساني روابط (پشاور:پشتو اکیډیمي پشاور یونیورسټي **2007**ء) ص:**20**

۲:پوُ پوُ نظريه "Pooh Pooh Theory":دا نظريه د دې خبرې وضاحت کوي چې انسان د خوشحالۍ يا د يرې په موقع چې کوم مختلف آوازونه د خولې نه اوباسي ـ دغې اوازونو وروستو يو منظم شکل اختيار کړو او ژبه ترې جوړه شوه ـ([1])

۳:ډنګ ډانګ نظريه:ډنګ ډانګ نظريه دا يقين لري چې د غږ او معنې ترمېنځه يو پرُ اسراره تعلق دے د هر پرُ اسراره څيز په شان سنجيده سائيسني بحث دا نظريه هم رد کړې ده۔ ([2])

٤:يو۔ هي ـ هو نظريه "Yo- He-Ho Theory": د دې نظريې په حقله ښاغلے صفدر خليل ليکي:

په انګرېزۍ کښې يوه نظريه د يو هو په نوم مشهوره ده۔ د علماؤ قياس دے چې د محنت مشقت په وخت د انسان بدني طاقت خرچ کېږي د هغۀ ساه بد بد شي ، پړپوس ئې اوپړسېږي رګونه او کولمې ئې هم اوپړسېږي او په رپېدو شروع شي۔ دا وخت د ساز د تارونو په شان د انساني مرۍ نه هم آوازونه اوځي۔ د دغه آوازونو نه ژبه جوړه شي او انسان د هرکار نوم په دغه آواز ږدي ـ([3])

---

([1]) ډاکټر خالد خان خټک، سندهي پشتو ، اُردو کے لساني روابط (پشاور:پشتو اکېډيمي پشاور يونيورسټي **2007**ء) ص:**20**

([2] )Mario Pei , The Story of Language, (London:George Allen of unwin Ltd Ruskin House Museum street, 1925)P:19

([3]) پروفېسر صفدرعلي ، اُردو لسانيات، (لاهور: فاروق سنز الکريم مارکيټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد )ص:**157** ـ

۵:د اشارو نظریه "**Gesture theory**":ـ د دې نظریې لب لباب **C.L Barber** لیکي: چې د وېنا د ژبې نه وړاندې په اشارو ژبه استعمالیده ـد دې نظریې حامیان وائي چې د مختلف قسمه ځناورو نه انسان ډېرې زیاتې اشارې زده کړې وې. او زوړ انسان به د اشارو نه کار اخستو ([1])

٦:د موسیقۍ نظریه "**Musical Theory**": د دې نظریې باني د ډنمارک مشهور ژبپوهان"**Otto . Jesperson**"دے ـ د هغهٔ دا خیال وو چې وړاندې بیان کړي شوي ټول نظریات د ژبې د یوې حصې د پاره خو صحیح دي ـخو د ټولې ژبې د پاره قابل قبول نهٔ دي ـدے وائي چې آوازونه یا غړونه اول اول کښې ډېر اوږدهٔ وو ـ خو په دمه دمه دا مختصر شول او په آخره کښې ترې نه موجوده شکل جوړ شو.

٧:د میل جول نظریه "**The Contact Theory**":ـ د دې نظریې په حقله خالد خان خټک لیکي:

دا نوې قابل قبوله نظریه ده چې د ایمسټرډ پروفېسر جے ریوس پېش کړې ده ـ هغه وائي چې یو سړے د بل سره تړلے دے او دا تړون هغه بنیاد دے د څهٔ په نتیجه کښې چې ژبه جوړه شوه ـ او د مختلفو مرحلو نه چې تیره شوه نو په موجوده شکل کښې ظاهره شوه ـ

[1] C.L Barber, The story of Language (London: and Sydney :Pan Books ltd, 1972) P:31

انسان د مختلفو ضرورتونو د پاره اوازونه ایستل شروع کړل ـ د دغې آوازونو نه لفظونه جوړ شول او د ژبې یو نظام جوړ شو۔ ([1])

د دې نه علاوه هم څهٔ نورې نظریې شته چې په هغې رڼا اچول ضروري ګڼم

## د اوزارو د جوړښت نظریه:

د اوازارو جوړول د ژبې د پېداوښت په تاریخ ښودو کښې مدد کوي ـ د آثاریاتوداسې شهادتونه شته چې تقریبًا دوه ملینه کاله وړاندې انسان د کاڼي اوزار جوړ کړي وو۔ اودے پسې ئې بیا د لرګي او داسې نور اوزار هم جوړ کړل۔ د اوزارو جوړول او بیا په لاس د هغې استعمال د دې خبرې ثبوت دے ـ چې انسان د دماغو نه کار اخستل شروع کړي وو۔([2])

د اوزارو د جوړولو نه دا هم پته لګي چې لرغونو انسانانو به دا اوزار جوړول نو هغوي به دا علم د یو نسل نه بل نسل ته منتقل کولو مطلب دا چې هغوي د ابلاغ یوه ذریعه یعني ژبه لرله ، د دې په حقله ښاغلے جوزف ایچ ګرین برګر لیکي چې :

کله چې مونږ د زړو آثارو ریکارډ مومو په هغې کښې په خصوصي توګه تراشلي شوي آلات چې د هغه وخت رواج وو یو داسې

---

([1]) ډاکټرخالد خان خټک ، سندهي ، پشتو ، اُردو کے لساني روابط (پشاور:پشتو اکیډیمي پشاور یونیورسټي ، 2007ء ) ص:21 ـ

([2] ) George Yule, The study of Language 4th Edition(Cmbr,dge : Cambridge university press,2010)P:5

ثقافتي نمونه ده چې د دې وجود د ژبې نه بغېر ممکن نۀ دے ـ د دې ثقافتي ترسيل نه مونږ دا استنباط کوؤ چې د ژبې بنيادي کار د مخکنبې نه د موجود علم ابلاغ وو ـ دا بالواسطه دليل دا خبره يقين ته رسوي چې د انسانانو وړومبنو آباؤ اجدادو چې دا آلات به ئې جوړول او د دې علم به ئې د يو نسل نه بل نسل ته منتقل کوؤ، ژبه لرله که چرې دا دليل صحيح وي نو بيا ژبه ملينونه کاله زړه ده ـ (1)

## د جسماني موافقت نظريه:

پوهان دا هم وائي چې کله د اتقاء په پړاؤنو کښې د انسان د بدن نطقي اعضاء د وينا د پاره جوګه شول نو انسان ژبه شروع کړه ـ دا قسم بدني بدلونونه شپيتۀ زره کاله وړاندې د لرغوني انسان او د ګوريلا د ډهانچو په کېرئ کښې ليدے شي ـ د دغه دور د انساني ډهانچې د ګوړګوړي () نه پته لګي چې د کانسونينټ آواز ايستل د دې نه ممکن وو او بيا مونږ پينځۀ دېرش زره کلونه نور انتظار کوؤ چې د لرغوني انسان دغه ګوړ ګوړے د جديد انسان په شان شو ـ د ارتقائي ودې په مطالعه کښې مونږ داسې جسماني خصوصيات وينو چې د وينا د پاره نيم په نيمه مطابقت ورته وئيلے شو ـ ضروري نۀ ده چې دا خصوصيات دې د ژبې د وئيلو باعث وي خو دا اشاره ضرور ورکوي چې دے خاصيتونو والا زنده سرو د ژبې د وئيلو استعداد لرلو ـ او دغه شان په دمه دمه د

(1) Joseph. H. Green berger, Language, Culture and CommuniCation, (California:Stanford university press,1971)P:262.

انسان غاښونه، شونډې ، خولۀ ، ګوړ ګوړے او ستونې د وينا جوګه شول د انسان ګوړګوړے چې ووُکل فولډز لري د نورو حيواناتو رئيسه (**Primates**) نه بدل دے۔([1])

<u>الهامي نظريه</u>:د نړۍ په هر مذهب کښې د ژبې په حقله څۀ الهامي نظريه شته ۔ زمونږ د دين اسلام د قرآن په رڼا کښې واضحه نظريه ده چې ژبه الله تعالي انسان ته ښودلې ده ۔په انجيل کښې ليکلي دي چې الله تعالي آدم عليه السلام پيدا کړو او هغۀ چې کوم څيز ته کوم نوم واخستو هم هغه ئې نوم شو ۔ دغه شان په هندو مذهب کښې ژبه سارس وتي (**Saraswati**)ديوي چې د برهما ښځه وه ، پيدا کړې ده ۔ د دې اصلي الهامي ژبې معلومولو د پاره وخت په وخت خلقو دا تجزيې کړي دي چې د ماشومانو د مشاهدې په ذريعه دا ژبه معلومه کړي۔

يوناني ليکوال هيروډوټس دا قيصه بيان کړيده چې يو مصري فرعون چې سميټکيس (**Psammetichus**) يا (**Psamtik**) نوم ئې وو، په دوؤ نوؤ پيدا شوؤ ماشومانو دا تجربه څۀ دوه نيم زره کاله وړاندې کړے ده هغۀ دا ماشومان بېخي بېل اوساتل او نورو انسانانو ته دوي سره د ملاويدو اجازت نۀ وو ۔ دوي سره صرف بيزې او يو خاموشه شپونکے وو۔چې کله ماشومانو خبرې شروع کړې نو هغوي يو لفظ بيکوس (**bekos**) اووے، دا لفظ د مصري ژبې نه بلکې د

---

([1] ) George Yule, The study of Language 4th Edition(Cambridge :Cambridge university press, 2010)P:4

منځني ایشیائے کوچک د فریجي ژبې لفظ وو۔ او دا فریجي ژبه هغه چرته وئیلے شوه چرته چې اوس نوې ترکي ملک دے۔ د دې نه فرعون په دې خبره اورسېدو چې اصلي ژبه فریجي ژبه ده ۔

دغه شان د سکاټ لېنډ باچا جیمز څلورم هم دا تجربه په 1500ء کښې کړې وه ۔ او د دغه ماشومانو اولنے لفظ د عبرانۍ ژبې وو۔ د دې نه باچا دا اندازه اولګوله چې عبراني د جنت ژبه ده۔(1)

جینیاتي نظریه: مونږ چې د کوم جسماني موافقت خبره اوکړه ، هغه مونږ د ماشوم د ژوند په اولنو یو څو کالو کښې مشاهده کولے شو کله چې ماشوم پېدا شي نو د هغهٔ د مزغو وزن د بالغ انسان د مزغو په څلورمه حصه وي او د هغهٔ ګوړ ګوړے اوږدوي ۔چې هغه په یو وخت شکل هم کولے شي او ساه هم اخستے شي په ډېره لږه موده کښې د هغهٔ مازغهٔ وده اوکړي او ګوړګوړے ئې هم رالنډ شي ۔ اوماشوم ګرځېدل او خبرې کول زده کړي د ماشوم دومره زر دومره پیچیده ژبې زده کولو ډېر سکالران په دې سوچ مجبوره کړل چې د بدني مطابقت نه علاوه هم څهٔ شے داسې طاقتور شته چې ماشوم پرې ژبه زده کوي ، او که یو ماشوم د ګویائۍ طاقت نهٔ هم لري نو هغه ډېر زر د اشارو ژبه زده کړي، د دې مطلب دا شو چې انسان په پېدائشي توګه د ژبې خصوصي صلاحیّت لري او دا صلاحیّت پېدائشي دے او دا صلاحیت د یوې

(1 )George Yule, The study of Language 4th Edition(Cambridge :Cambridge university press, 2010) P:2

مخصوصې ژبې پورې هم نۀ دے تړلے ـ دا ممکنه ده چې د ژبې دا خاصیّت په جنیاتي توګه په انسان کښې پیئلے شوے دےـ او په دمه دمه واقع کېدونکي د څۀ بدلون نتیجه نۀ ده ـ بلکې یو داسې شے دے چې سمدستي شوے دے دا قسمه څېړنې بیا یو خصوصي ژبنې جین طرف ته ځيـ ([1])

د دې نظریې غټ حامي نوم چامسکي وو ـ د هغۀ دا دلیل وو چې د ژبې په حقله زمونږ ډېر علم آفاقي او پېدائشي دے ، یعنې په جنیاتي توګه انسان ته ورکړے شوے دے ـ اوس که ورپسې د ژبپوهنې د نوؤ څېړنو مطابق د مزغو د ساخت علم لږه مطالعه اوکړو، چې آیا په مزغو کښې څۀ برخه د ژبې د پاره شته او که نه ، نو خبره به نوره هم سپینه شي ـ

په **1861**ء کښې یو فرانسیسي سرجن او اناټومسټ پال بروکا د دماغو د ګس اړخ په کره کښې د مخامخ حصې (**frontal lobe**)په ښکتنۍ برخه کښې یوه حصه معلومه کړه ـچې بروکاورته وئیلے شي ـ د دې برخې په مدد مونږ خبرې کوؤ ـ([2])

د بروکا نه دیارلس کاله پس په **1874**ء کښې یو بل سرجن کارل ورنیک د مزغو ګس اړخ ته په لاندینۍ حصّه کښې یوه برخه په ګوته

([1] )George Yule, The study of Language 4th Edition(Cambridge :Cambridge university press, 2010) P:6

([2] ) Adrian Akmajian et all, Linguistics An Introduction to Language and Communiction (New Delhi:Prentrce-Hall of India Pvt ltd, 2004)P:526

کړه چې د ژبې د نقص سره تعلق لري ـ دغه برخه اوس د ورنیک په نامه پېژندے شي ([1])

د دې دوؤ برخو نه علاوه **1959**ء کښې وائلډپن فیلډ او لامارزابرټس یوه دریمه برخه هم په مزغو کښې په ګوته کړه ، چې موټر ایریا ورته وئیلے شي ـ

بروکا، ورنیک او موټر ایریا درې واړه د مزغو هغه برخې دي چې د خبرو کولو صلاحیت سره تعلق لري۔ دې سائنسدانانو په دې برخو مختلفې تجربې کړي دي او دا ئې ثابته کړې ده چې دا برخې د خبرو کولو د صلاحیت سره تعلق لري او که چرې په حادثاتي توګه د انسان د مزغو دا برخې اوچقېږي یا زخمي شي نو د انسان د خبرو کولو صلاحیت متاثره کېدے شي۔

د دې نه علاوه د انسان په کروموسوم څۀ جین هم داسې شته چې هغه د ژبې سره تړلي دي۔ لکه **NRXNI**یو جین دے چې د ژبې د اهلیّت سره تړلے دے**CNTNAP:2** یو بل جین دے چې د ژبې د ودې او پرفارمنس سره تعلق لري یو بل جین**PCDH11** د ژبې د استعداد سره تعلق لري ـ([2])

د جدیدو څېړنو مطابق په انسان کښې په اووم نمبر کروموسوم باندې اویا(**70**)جینز لګیدلي دي۔ هغې کښې یوجین

---

([1] ) Vicforia Fromkin et all , An Introduction to Language, (Australia: Thomson, 1996 )P:32.
([2] )http://en.wikipedia.org/wiki/linguistic-inteligence (accessed January 1st , 2015).

FoxP2دے چې د ژبې سره تړلے دے ـ دا واحد جین نهٔ دے چې د وینا د صلاحیّت سره تړلے دے ـ بلکې دا جین په ډېره پیچیده طریقه نورو جینونو سره ربط کوي او مازغهٔ د ژبې د صلاحیّت د پاره تیاروي۔ ([1])

ماهرانودا تجربې کړي دي چې که چرې په دې جین کښې معمولي بدلون راشي نو د داسې بنده په وینا کښې فرق راځي ، نهٔ صِرف وینا بلکې د ژبې سره تړلے نورو کارونو لکه لوستل، لیکل، پوهیدلو او د ګرامر په استعمال کښې هم کمزورے وي د دې نه علاوه د دوي I.Qهم کمزورے وي۔([2])

چامسکي دا تجویز ورکړے وو چې ژبه سره د خپل ساخت او د افاقي ګرائمر زمونږ په مزغو او جین کښې اخلے شوې ده د FOXP2د دریافت سره اوس دا خبره یقیني ښکاري او د مخکښې خبرنو د پاره دا یو قدم دے FOXP2جین نه صرف د ژبې د ادراکي اړخ سره تړلے دے بلکې د ژبې او وینا د حرکي اړخ د پاره هم ډیر اهم دے .([3])

هرکله چې په سائینسي توګه دا ثابته شوې ده چې د انسان د ژبې اهلیّت پیدائشي دے او د انسان په مزغو کښې درې برخې د ژبې سره تعلق لري ـ او دغسې جین هم نو سوال دا راپورته کېږي چې

([1] ) www.brainfacts.org/sencing-thinking-behaving/language/article/2009/genes-and-language/(accessed January 10,2017)

([2] ) www.nature.com/neuro/Journal/uf/nii/full/nniiot.10&49.htmal(accessed January 10, 2017).

([3] ) www.line science .com/ 7973-human-speech gene .htmal(January 10,2017).

انسان له دا صلاحيّت چا ورکړے دے ـ که څوک هر څۀ وائي خو د يو مسلمان په حېث مونږ دا عقيده لرو چې دا صلاحيّت صرف او صرف د الله تعالي جل جلاله ورکړۀ دي ـ

څومره پورې چې د ارتقاء خبره ده ـ نو په دې حقله فرينک ايلن وائي چې د پروټين په يو ماليکيول کښې پينځۀ عنصرونه وي ـ او په کائنات کښې خوارۀ وارۀ دوه نوي (92) عنصرونو نه په يو خاص ترتيب د دې عنصرونو د راټوليدو او د ماليکيول د تياريدو په حقله فرينک ايلن ليکي چې :

د سوئيزرلېنډ يو حساب دان چارلس ايوجين ګائي د دې حساب لګولے دے ـ او د هغۀ تحقيق دا دے چې په کائنات کښې د داسې قسم اتفاقي واقعې امکان د $10^{160}$ په مقابله کښې صرف يوه درجه کېدے شي ـ ياده دې وي چې د $10^{160}$ مطلب 10 له پرله پسې يو سل شپېتۀ ځله ضرب ورکول دي ـ او د دې نه داسې عدد را اوځي چې لفظونو کښې ئې اظهار هم مشکله دے ـ او بله دا چې صرف د پروټينو ماليکيول جوړولو د پاره د دې پوره کائنات د موجوده مادې نه په کروړونو ځله زياته ماده پکار ده ـ چې هغه يو ځاے او جړقولے شي نو د دې عمل نه به د څۀ نتيجې راوتو امکان $10^{243}$ يعنې اربونه کلونه پس پيدا کېږي ـ([1])

---

([1]) لقاء المحسن، اسلاميات برائے سي ايس ايس (لاهور:ډوګرپبلشرز،**2004** )ص:**77** ، **78** ـ

دا پروټین د انسان او نورو ځناورو د بدن بنیادي اکائي ده ، چې کله یو د پروټین مالیکیول په ارتقائي توګه نۀ شي جوړیدلے نو د انسان بدن خو غټه خبره ده ـ مونږ په دې ایمان لرو چې الله تعالي ټول کائنات په یوه منصوبه تخلیق کړے دے او انسان ئې هم تخلیق کړے دے ـاو انسان ته د ژبې صلاحیّت هم الله تعالي بخښلے دے ـچې صرف د هغه ذات پاک خاصه او کمال کېدے شي ـ څنګه چې الله تعالي په کروړونو اربونو انسانان پېدا کړي دي او لا پېدا کېږي خو د هر انسان څهره د بل نه بدله ده ـ دغه شان الله تعالي هر انسان له د ژبې صلاحیّت ورکړے دے ـ خو د هر قوم ژبه بدله ده ـ د ژبو دا رنګارنګي د الله په وحدانیّت او خالقیّت ګواهي ورکوي ـ

زما د دې اوږد بحث مطلب دا دے چې د ژبې د اصلیّت په حقله چې کومې جدیدې څېړنې دي ـ هغه ټولې په سائینسي توګه دا ثابتوي چې انسان له د ژبې اهلیّت الله تعالي ورکړے دے او ژبه د ځناورو پېښې یا د آوازونو د نقل ته نۀ ده زیږیدلےـ

اوس به د ژبې په حقله د قرآن پاک څۀ آیتونه مطالعه کړو، د قرآن کریم په وړومبنیٰ سیپاره سورۀ بقره کښې الله تعالي فرمائي:

"وعلمّ آدمَ الاَسمآء کُلَّهَا " ([1])

ترجمه: او اوښودل خدائے پاک آدم علېه السلام ته نومونه د ټولو څیزونوـ

([1]) قرآن کریم، سورۃ بقرۃ ، آیت:۳۰

همدارنګې د اووهٔ ویشتمې سیپارې په سورت رحمان کښې راغلي دي :

"خَلَقَ الاِنسَانَ عَلَّمَهُ البَيَانَ " ([1])

ترجمه: الله پاک انسان پېدا کړو او هغه ته ئې بیان یعني د خبرو کولو چل ور اوښودلو۔

دغه رنګې الله تعالي په سورت البلد کښې فرمائي:

" اَلَم نَجعَل لَّهُ عَينَينِ وَلِسَانًا وَّشَفَتَينِ " ([2])

ترجمه: آیا نهٔ دي ورکړې مونږ دهٔ له دوه سترګې ژبه او دوه شونډې۔

د قرآن کریم په ابراهیم سورت کښې د مورنۍ ژبې د اهمیت په حقله الله تعالي فرمائي :

"وَمَا اَرسَلنَا مِن رَّسُولٍ اِلاَّ بِلِسَانِ قَومِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُم فَيَضِلُّ اللّٰهُ مَن يَشَآء وَيَهدِي مَن يَشَآء وَهُوَ العَزِيزُ الحَكِيم " ([3])

ترجمه: مونږ نهٔ دے لیږلے یو رسول مګر لیږلے مو دے په ژبه د قوم د هغهٔ د دې لپاره چې دوي ته د الله تعالي دین بیان کړي ۔ پس الله تعالي ګمراه کوي هغه څوک چې خوښه ئې شي او هدایت ورکوي هغه چاته چې خوښه ئې شي او الله تعالي د حکمت خاوند دے۔

---

([1])قرآن کریم ، سورة رحمان، آیت ۲، ۳

([2]) قرآن کریم ، سورة البلد، آیت:۸، ۹

([3])قرآن کریم، سورة ابراهیم، آیت:٤

د دې نه علاوه د قرآن پاک د ډېرو آیتونو په تفسیر کښې مفسرین لیکي چې الله تعالي خپله پېغمبرانو ته ګڼې ژبې وربښودلې وې لکه د مثال په توګه دا یو څو آیتونه سره د تفسیر وړاندې کوم :

''وَقِيلَ يٰٓأرضُ ابلَعِي مَآء كِ وَيَسَمَآء اَقلِعِي وَغِيضَ المَآء وَقُضِيَ الامرُ وَاستَوَت عَلَي الجُودِيّ وَقِيلَ بُعدً لِلقَومِ الظلِمِينَ ''[1]

د دې آیت په تفسیر کښې مفسرین لیکي چې:

پس نوح علیه السلام د جودي غر سره کوز شو او هلته ئې یو کلے آباد کړو، چې ثمانین ورته وئیلے شي۔ یوه ورځ چې سحر ټول خلق پاڅېدل نو د هر یو ژبه بدله وه ۔ اتیاژبې ئې وئیلې چې په ټولو کښې اعلي او بهترینه ژبه عربي وه ۔د یو بل په خبره پوهېدل ګران شو۔ نوح علیه السلام ته الله تعالي ټولې ژبې اوښودې ، او هغه د ټولو ترمېنځه ترجمان وو۔ د یومطلب به ئې بل ته بیانوۀ ۔ [2]

دغه شان د سورت یوسف د یو آیت د تفسیر جائزه به هم واخلو:

''قَالَ المَلِكُ ائتُونِي بِه اَستَخلِصهُ لِنَفسِي ''[3]

ترجمه: او اووے بادشاه چې راولئ هغه (یوسف علیه السلام) ماله چې خالص ئې کړم د خپل ځان د کاروبار د پاره د دې آیت په تفسیر کښې مفسرین لیکي چې:

---

( [1] ) قرآن کریم سورة هود، آیت:٤٤

( [2] ) مولانا عبدالقیوم مهاجرمدني، ګلدستۀ تفاسیر جلد**3** (مُلتان:ادارۀ تالیفات اشرفیه،محرم**1428** ھ )ص:**326**۔

( [3] ) قرآن کریم ، سورۀ یوسف ، آیت:٥٤

وهب بیانوي چې کله (یوسف علیه السلام ) شاهي دروازې ته اورسېدو نو وے فرمائیل چې زما رب زما د پاره کافي دے۔ هغه د دنیا نه بې پرواه کولو والا دے۔ زما رب زما د پاره کافي دے۔ هغه د خپل مخلوق نه بې احتیاجه کولو والا دے د هغه پناه اخستونکے غالب وي د هغه ثناء لویه ده۔ د هغه نه سېوا بل معبود نشته۔ د دې نه پس کور ته ورننوتو او د بادشاه مخې له لاړو نو دعا ئې اوکړه چې یاالله د دۀ د خېر په ځاے زۀ ستا نه ستا د خېر طالب یم او د دۀ او د نورو خلقو د شر نه ستا پناه غواړم۔ چې کله ورته بادشاه اوکتل نو یوسف علیه السلام ورته په عربۍ ژبه کښې سلام اوکړو۔ بادشاه اووئیل چې دا کومه ژبه ده ، وے فرمائیل چې دا زما د ترۀ اسماعیل علیه السلام ژبه ده ، بیا ئې بادشاه ته په عبرانۍ ژبه کښې دعا اوکړه ، بادشاه تپوس اوکړو چې دا کومه ژبه ده وے فرمائیل دا زما د پلار نیکۀ ژبه ده ، بادشاه د دې دواړو ژبو نه ناواقفه وو اګر چې هغه له اویا ژبې ورتلې ، په کومه ژبه کښې چې به ئې خبره کوله یوسف علیه السلام به ورله په هغه ژبه کښې جواب ورکوۀ ، خو عبراني او عربي یوسف علیه السلام له سېوائې ورتلې چې بادشاه ترې واقفه نۀ وو۔ دغه وخت د حضرت یوسف علیه السلام عمر دېرش کاله وو۔ په دې ځوانۍ کښې په دې دومره کمالاتو باندې بادشاه حېران شو او هغۀ ئې ځان سره نزدې کښېنوۀ۔ (تفسیر مظهري) ([1])

([1]) مولانا عبدالقیوم مهاجرمدني، ګلدستۀ تفاسیر (جلد3 )(مُلتان:ادارۀ تالیفات اشرفیه، محرم 1428 ه )ص: 611۔

د دې آیتونو او تفسیرونو نه دا ثابته شوه چې ژبه لکه د نورو مخلوقاتو او څیزونو په شان الله پاک پیدا کړې ده ـ او خپلو پیغمبرانو ته ئې ښودلې ده. همدارنګې وېنا څېړنیار رفیع الله نیازي هم کوي ـ

''د قرآن کریم د ارشاداتو پر بنسټ ویلې شو چې ټولې ژبې الله پاک پیدا کړي او جوړې کړي دي. انسانان ئې په پیداوښت او جوړونه کښې هېڅ راز ونډه نۀ لري ـ او له دې سره په څنګ کښې د ټولو بشري ژبو زده کړه الله پاک د لومړي ځل لپاره ادم علیه السلام ته ورکړې وه ـ په دې اړه ښاغلي پوهنمل زاهدي احمدزي په خپل اثر ''د اسلامي اندود په رڼا کښې د ژبو او لیک د پیدائښت تاریخ'' کښې د اسلامي تاریخ پوهانو او ژبپوهانو امام رازي د تفسیر کبیر او د امام سیوطي د اثر المزهر له قوله لیکي چې حضرت آدم علیه السلام د ګردوبشري ژبو لپاره یو دفتر جوړ کړے وو چې په هغه کښې یې لیکلې وې بیا مخکې له دې چې وفات شي هره ژبه ئې د خټو په ځانګړې تختې اولیکله ـ بیا یې ټولې تختې د اور په بټۍ کښې پخې کړې ـ بیا ئې په یوه خونه کښې خوندي وساتلې او کله چې نړیوال توپان راغې نو د ژبو هغه تختې یې یوې او بلې خوا ته یوړې او سره خورې ورې یې کړې ـ د توپان له پایې ته رسېدو وروسته د هغو ژبو د هرې ژبې تخته چې چاته لاس ته ورغله او مینده یې کړه نو د میندونکي او هغه نسل هماغه ژبه شوه'' (1)

(1) څېړنیار رفیع الله نیازي، په پښتو کښې دَ ګرامر لیکنې تاریخي بهیر، (افغانستان: دَ علومو اکاډمۍ دَ څېړونو ریاست، 1390 لمریز) ص: 49 -50 ـ

## ''د ژبو عالمي وېش''

**John P. Hughes** د ژبو د وېش د پاره درې طریقې اختیار کړي دي.

۱:جغرافیائي (**Geographically**): دا طریقه هغه وخت استعمالېږي کله چې د یوې ژبې په حقله پوره معلومات نۀ وي۔ او نۀ د هغې ژبې د خصوصیاتو په حقله دومره علم وي۔ چې د ژبو یوه خاصه ډله کښې کېښودے شي۔ په دې وجه هغه سیمه خاص کر په نظر کښې ساتلے شي په کومه سیمه کښې چې دا ژبه وئیلے شي ۔ ځکه چې د جغرافیائيسیمې په ژبه باندې خاص اثر وي ۔

۲:نسلي(**Genetically**):په دې طریقه کښې ژبې د نسل په لحاظ وېشلے شي۔ لکه آریائي ژبې او ایراني ژبې وغېره

۳:صنفي یا نوعي (**Typologically**): دا قسم وېش هله ممکن دے چې کله د ژبو متعلق پوره پوره معلومات وي۔ او د دې بنیاد د ژبې داخلي جوړښت باندې وي۔ د داسې قسمه وېش د پاره لفظونه، ګرائمر، فقرې وغېره ضروري دي ۔

څۀ هغه ژبې دي چې په یوه جمله کښې د ګڼو لفظونو د یو ځاے کېدو نه مرکب لفظونه جوړېږي۔داسې ژبو ته (**Polysynthetic**)ژبې وئیلے شي .

د جوړښت په لحاظ ژبې په لاندینو طریقو وېشلے شي :

۱:ترکیبي(**Agglutinating**): دا هغه ژبې دي چې پکښې د یو لفظ سره بل لفظ یا د نورو لفظونو ټکړو یو ځاے کېدو سره ترې نوي نوي لفظونه جوړېږي۔ د داسې ژبو لفظونه خپل شکل نۀ بدلوي۔ بلکې د

هغې بدلولو د پاره ورسره وړاندې یا وروستو نور لفظونه یا د هغې اجزاء لګي ـ ترکي ژبه د دې ټولګي مثال دے۔

۲:اشتقاقي(**Inflectional**): دا هغه ژبې دي چې پکښې ډېر زیات اشتقاق کېږي۔ کله کله د دوؤ لفظونو د یو ځائے کېدو نه یو نوے لفظ جوړېږي ـ او کله په لفظ کښې دننه بدلون راځي۔ دې بدلون سره د لفظ دننه جوړښت بدل شي او بیا یوه خاصه معني ورکوي۔ په دې وجه په دې قسمه ژبو کښې د لفظونو ذخیره ډېره وي۔ سامي او آریائي ژبې د ژبو دې ډلې سره تعلق لري۔

۳:یولفظي ژبې (**Isolating**): دا هغه ژبې دي چې پکښې لفظونه صرف د یوې مادې نه وتي وي او مخکښې وروستو ورسره نور حروف یا لفظونه نهٔ لګي ـ په دې کښې د هر لفظ خپله معني وي او یو لفظ په ګڼو معنو کښې استعمالېږي او د آواز په بدلون نوې معنې ورکوي۔ په دې کښې د لفظونو ذخیره ډېره کمه وي او پکښې د اسم، فعل یا حرف څهٔ فرق نهٔ وي ـ

په عالمي توګه ژبې په لاندیني خاندانونو او ټولګو کښې وېشلے شوي دي :

| خاندان | ټولګي |
| --- | --- |
| انډو یورپین ۴۲۵ ژبې | انډو ایرانین<br>یوناني<br>اطالوي<br>سلټک |

| | |
|---|---|
| | جرمنک<br>سلیوک<br>الباني<br>آرمین |
| یورولیک(**Urulic**)٣٤ ژبې | فنوآګرک<br>سمویدک |
| باسک (**Basque**) صرف یوه ژبه | باسک |
| ایفرو، ایشیاټک٣٥٠ ژبې | سیمټک<br>بربر<br>کوشټک<br>مصري<br>اوموټک<br>چډ |
| نائیجر ، کورډوفینین<br>(**Niger-Kordofanian**)<br>١٤٠٠ نه زیاتې ژبې | کورډوفانین<br>مانډنګ<br>نائیجر، کانګو |
| نیلوسهارن (**Nilo-Saharan**)<br>تقریبًا ٢٠٠ ژبې | نیلو، سهارن |
| خوئیسان(**Khoisan**)٣٥ ژبې | خوئیسان |
| التیک (**Altaic**) ٧٨ ژبې | ترکي |

| | |
|---|---|
| | منګولین<br>تنګوس |
| کورین(**Korean**) پوره ژبه چې ځنې ژبپوهان ئې په الټک خانه کښې ګڼي. | کورین |
| سائنو تبتن ( **Sino-Tibetan**)<br>۳٦۰ ژبې | چائینیز<br>تبتوبرمن |
| ډیک (**Daic**) ٦۸ ژبې | |
| آسټرو ایشیاټک<br>(**Austro-Asiatic**)<br>۱۸۰ ژبې | |
| آسټرونیسین(**Austronesian**)<br>۱۲۰۰ نه سېوا ژبې | |
| انډامانیز(**Andamanese**)<br>۲۷۰ ژبې | |
| اسکیموءالیوټ(**Eskimo-Aleut**) | |
| نادین (**Na-Dene**)٤۲ ژبې | |
| امریندین(**Amerindian**)<br>٦۰۰ نه زیاتې ژبې | الجک (**Algic**)<br>اندین ایکویټوریل<br>(**Andean- Equatoril**) |

| | |
|---|---|
| | کیډن **(Caddoan)**<br>چبچن **(Chibchan)**<br>هوکن **(Hokan)**<br>اروقوین **(Iroquoian)**<br>میکروجي **(Macro-Ge)**<br>مایان **(Mayan)**<br>میکسي ذوق**(Mixe-Zoque)**<br>مسکوګین **(Muskogean)**<br>اوټو ، مانکوین<br>**(Oto-Manquean)**<br>پنوشین**(Penutian)**<br>سالیشان **(Salishan)**<br>سیوان **(Siouan)**<br>اوټو آزټکن**(Uto-Aztecan)** |
| کاؤکیشین (**Caucasian**)<br>تقریبًا ۴۰ ژبې | جنوبي کاؤکیشین<br>شمالي کاؤکیشین |
| ډراویډین(**Dravidian**) ۷۸ ژبې | دراوړي |
| بروشکي(**Burushaki**)<br>ځان له یوه ژبه | بروشکي |

## دویم باب

# ''ژبپوهنه''

ژبپوهنه د دوؤ کلمو ''ژبه'' او ''پوهنه'' نه جوړه ده ـ د ژبې مطلب دے ''د وینا یا لیک په ذریعه خپل خیالات بل ته رسول ، او د ''پوهنې'' مطلب دے علم یا پوهه یا سائنسي پوهه ، نو د ژبپوهنې مطلب شو د ژبې علم یا د ژبې سائنسي پوهه ـ خو د دې نه مُراد د یوې مخصوصې ژبې علم یا پوهه نۀ ده بلکې د نړۍ د ټولو ژبو یوه عمومي مطالعه ـ د ژبپوهنې د پاره په عربۍ کښې علم اللغت، په فارسۍ کښې زبان شناسي په جرمنۍ ژبه کښې **Sprachwissenschaft**او په هندۍ کښې بهاشا او په اُردو کښې د لسانیات کلمه پکارولے شي۔ ولې د انګرېزۍ ژبې لینګوسټک (**Linguistics**) په نړیواله توګه د دې علم د پاره پکارولے شي۔

ډیویز په **1716**ء کښې د ژبې علم ته د ګلاسولوجي (**Glossology**)نوم ورکړو۔ په پخوا زمانه کښې به ژبپوهنه صرف د یوې ژبې قاعدې ګڼلې شوه ـ په دې وجه ئې ورته څۀ جدا نوم نه ورکوؤ خو چې کله د هند یورپي ژبو تقابلي موازنه او مطالعه اوشوه نو دا معلومه شوه چې د ژبې علم خو صرف قاعدې زده کول نۀ دي بلکې په دې کښې د مختلفو غړونو تجزیه او د لفظونو معنې هم په پام کې

نیولے شي نو په نولسمه پيړۍ کښې د دې د پاره د تقابلي فلولوجي نوم غوره کړے شو د **Philo**معني ده مینه او د لوجي (**logy**) مطلب دے علم یعنې د ژبې سره مینه یا د ژبې علم ، بیا پرې څۀ خلقو اعتراض اوکړو چې په سائنس کښې خو تقابل هسې هم وي نو د تقابلي لفظ ورسره څۀ ضرورت دے ـ په دې وجه د ژبې علم ته صرف فلالوجي اووئیلے شول په **1841**ء کښې رچرډ دې ته د **Glottology**نوم ورکړو خو دا نوم هم او نۀ چلیدو ـ او فلالوجي ځکه قابل اعتراض وو چې د دے په دائره کښې ادبیات او اسلوبیات هم راتلل ، هم په نولسمه پیړۍ کښې په فرانس کښې د دې د پاره لږ غوره لفظ **Linguistique** استعمال کړے شو دا لفظ لږ اوچلېدو ، دا د لاطینۍ ژبې لفظ دے چې په انګریزۍ کښې ترې**Linguistic** جوړ شو، او یو څو کاله پس د دې جمع یعني **linguistics**استعمالیدل شروع شو چې ترننه پورې جاري دے۔

د**linguistics** کلمه هم د دوؤ کلمو**Lingua** او **istics**نه جوړه ده د **Lingua**مطلب دے ژبه او د **istics**مطلب دے علم یا سائنس نو د **linguistics**مطلب شو د ژبې سائنس یا پوهه([1])

دغه شان کولنز انګلش ډکشنري هم د ژبپوهنې یا **linguistics**په ساده توګه هم دغه تعریف کوي چې د ژبې سائنسي مطالعې ته **linguistics**وئیلے شي۔ ([1])

---

([1]) Tarni Prasad, A Course in Linguistics (New Delhi PHI: Learning private Limited 2009)Page NO:1

میریام ویبسټر ډکشنري د ژبپوهنې تعریف په دې توګه کوي:

د انساني وینا مطالعه چې پکښې د ژبې د اکائیانو د دې د فطرت، جوړښت او د بدلون مطالعه هم شامله ده۔(2)

امریکن هیرټیج ډکشنري د ژبپوهنې لږ نوره هم تشریح کوي:

د ژبې د فطرت، جوړښت او بدلون مطالعه چې پکښې د ژبو عمومي غږپوهنه او د یوې مخصوصې ژبې غږپوهنه صرف ونحو، معنیات، ټولن پوهنه او په معاشره کښې د ژبې د اصلي استعمال مطالعه هم کولے شي۔(3)

یونیورسټي آف کیلفورنیا سانټا کروز په خپل ویب سائیټ د ژبپوهنې لږ تفصیل وړاندې کوي۔چې لاندې ئې مفهوم ورکولے شي۔

هره ژبه د علم او اهلیت یو پیچیده نظام دے چې د هغې ژبې ویونکي د دې جوګه کوي چې یو تر بله خپل خیالات، مفروضې، جذبات، خواهشات او هغه ټول خیزونه چې د اظهار غوښتنه کوي، اورسولے شي ژبپوهنه د دې علم هر اړخیزه مطالعه ده دا چې دا علم څرنګې جوړښت لري ۔ څرنګه دا زده کولے شي د پیغامونو په پیداوښت او رسولو کښې دا څرنګه پکارولے شي۔دا څرنګه بدلیږي ۔

(1) Collins English Dictionary Complete and unabridged, Harper Collins publishers,2003.

(2) meriam-webster Dictionary (abailable at) http://www.meriam .webster.com/dictionary/linguistcs (accessed26-12-14).

(3) American Heritage Dictionary of English Language 5th Edition Copy right© Houghton Mittlin Harcourt Publishing Company,2011

د نتیجې په توګه ژبپوهنه د ژبې په حواله یو شمېر پښتنې رامخې ته کوي ، دا چې ژبه څۀ شے دے ۔ او په ټولو ژبو کښې کوم خصوصیات یو بل سره یو شان والے لري۔ په ژبو کښې بدلون یا فرق تر کومه حده دے ۔ او آیا دا فرقونه د یو نظام د لاندې دي ؟ د ماشومانو ژبه څرنګه د یو بل نه توپیر لري او آیا مونږ په دې توپیر کښې څۀ قاعدې موندلې شو ؟ او دا چې ماشومان په دومره مختصر وخت کښې د یوې ژبې څرنګه دومره زده کړه اوکړي ، هغه کومې طریقې او لارې دي چې وخت سره سره پرې ژبې بدلیږي ۔ او یو انسان د یوې ژبې په زده کړه کښې د ادراک او آګاهۍ د کومو مرحلو نه تیریږي۔([1])

د افغانستان یو لیکوال د ژبپوهنې یومختصر او ځانګړې تعریف په دې توګه کوي :

ژبپوهنه هغه علم ته وائي چې د هغۀ په وسیله سره ژبه د ژبې څرنګوالي ، جوړښت بدلون او نور قسم قسم ژبني مسائل د څیړنې لاندې نیولے شي۔([2])

## د ژبپوهنې د مطالعې مقصد:

د ژبپوهنې د مطالعې د ټولو نه غټ مقصد په علم کښې اضافه ده ، خو په انساني ژوند کښې د ژبې د بې کچه اهمیّت د وجې د

([1] ) http://linguistics.ucsc.edu/about/what-is-linguistics.html (accessed 26-12-14.)

( [2]) پوهیال محمود مرهون، دَ ژبپوهنې بنسټونه ، (افغانستان، کائنات څېړنیز او دَ ژباړې مرکز، **1394** لمریز کال)،ص:**16**

ژبپوهنې د علم ډېر شے عملي استعمالات او فائدې هم دي ـ

مشهور ژبپوهان فرډيننډ ډي ساسر د ژبپوهنې د مطالعې د مقصد په حقله ليکي:

یو ژبپوهان د ژبپوهنې مطالعه د لاندينو مقصدونو تر سره کولو د پاره کوي :

(۱)چې ټولې ژبې بيان کړي او د هغې تاريخ خوندي کړي ، په دې کښې د ژبو په مختلفو خاندانونو کښې ويش او د هر يو خاندان يو مور ژبه ټاکل هم شامل دي ـ

(۲)هغۀ قوتونه معلوم کړے شي چې په ټولو ژبو کښې مستقل او په آفاقي توګه جاري وي اوداسې عمومي قوانين جوړ کړے شي چې د ټولو خصوصي ژبپوهنې مفسرونو د پاره پکارولے شي او په تاريخي توګه ثابت کړے شوے وي ـ

(۳)د ژبپوهنې د مطالعې دريم مقصد دا دے چې پخپله د ژبپوهنې تعريف اوکړے شي او د دې ساحه معلومه کړے شي۔([1])

## آيا ژبپوهنه يو سائينس دے ؟

ژبپوهنه د ژبې سائينسي مطالعه ده ، ژبه په غږ او ليک مشتمله ده ـ د ژبې غريځ مواد مونږ ته د غږ په حقله علم راکوي ، د غږ پېدا کېدل يعنې **articulation** د غږ ترسيل او بيا د غږ اورېدل د

([1]) Ferdinand de Saussure, A Course in General Linguistics , Edited and annotated by Roy Harris, (London: Blooms bury, 2013) P.No:7

غږ د دې ټولو اړخونو مطالعې ته غږ پوهنه وئیلے شي۔ د غږ پوهنې مطالعه په بنیادي توګه د فطري ، طبعي او حیاتیاتي سائینس سره تعلق لري ۔ په غږ پوهنه کښې مونږ د غړيځ اعضاؤ مطالعه کوو چې د ژوند پوهنې د لاندې راځي۔ د غږ پېدا کېدل د دې ترسیل او اوریدل د فزکس په دائره کښې راځي او دا ټول د سُوچه سائینس سره تعلق لري ، او د دې ټولو سرګرمو مشاهده د تجربو په ذریعه کولے شي ۔

د ژبې لیک د ژبې مادي اړخ سره تعلق لري دې ته د څۀ خاص تکنیک ضرورت نۀ وي ، دغه شان د ژبې نور اړخونه لکه فارمل او Contexualد رویّو او د ټولنیزو سائنسونو لاندې راځي ۔ دې ټولو ته په شریکه ژبپوهنه وئیلے شي۔

که چرې ویونکې ژبې ته مونږ یو منظم شور اووایو نو غږ پوهنه د دې شور مطالعه کوي او ژبپوهنه د دې منظمه مطالعه کوي د یو ژبپوهان د ژبې خپله تجربه ګاه هم وي هغه د غږ د چپو په شکل کښې په ترسیل ډېرې تجربې کوي د یو سائنسدان په شان هغه خپل معلومات(data)راجمع کوي د هغۀ د مشاهدې په طریقو کښې ساده اوریدل، د غږ ترسیل او د ګڼو آلاتو استعمال شامل وي۔ لکه آسکیلوګراف، ساؤنډپکټوګراف، کیموګراف، کروموګراف، مِنګوګراف، لیرنګوسکوپ، انډوسکوپ، سونوګراف، آټوفونو سکوپ، سټروبولیرنګوسکوپ، الیکټرک وُوکل ټریکټ، پچ میټر، انټنسټي میټر، پیچ سټریچر او فارمنټ ګرافک مشین، د دې نه علاوه د

ریکارډنګ د پاره د کیسټو استعمال هم کوي چې ګڼ قسمه معروضي بیانات راجمع کوي۔ ([1])

دغه شان لکه د یو سائنسدان غوندې یو ژبپوهان هم یوه مفروضه جوړوي ، یو عمومي بیان وضع کوي او بیا ئې ټسټ کوي۔ په سائینس کښې هر مشاهداتي مفسر یو مختصر او جامع تشریح غواړي لکه د مثال په توګه یو کیمیادان عنصرونه په دهاتونو او غیر دهاتو کښې او یو ژوند پوهان ( بیالوجسټ) زنده سر په څناورو او نباتاتو کښې تقسیموي ۔ مخکښې ویش ئې د نورو خصوصیاتو په بنیاد کولے شي ، لکه کلاس ، سب کلاس او فائیلم وغیره۔ هم دغه شان یو ژبپوهان یا غږ پوهان د ژبې خصوصیات مطالعه کوي او هغه د غږ د خاصیتونو په بنیاد په مختلفو ډلو کښې ویشي ۔ د دې مشاهدو او ټسټونو په بنیاد د ژبپوهنې په تاریخ کښې د واقعو په حقله مفروضې قائمولے شي۔ او بیا یوه کوټلې نظریه قائمولے شي چې ژبه څرنګه کار کوي۔ د دې نه پس د ژبپوهنې د واقعاتو او نظریې دواړو ترمخه د دې جائزه اخستې شي بهترین بیانات هغه وي چې د نظریې د حقائقو سره زیات تر تعلق اوښائي ۔

ژبپوهنه د ژبې د دوؤ اړخونو مطالعه کوي وړومبنے چې کله مونږ د دې صوتي اړخ مطالعه کوؤ نو دا فطري سائنسونو لکه فزکس، فزیالوجي ، بیالوجي او زووالوجي سره جوخت تعلق لري۔ په **acoustics** او **audition** کښې فزکس سره تعلق لري۔ د غږئیځ

[1] ) Tarni prasad, A Course in Linguistics,( New Delhi :PHI Learning private Limited , 2009),Page No:3.

اعضاؤ د جوړښت په ذریعه فزیالوجي سره لګي ـ او د زووالوجي سره د مختلفو زنده سرو د **CommuniCative System**د موازنې په مطالعه کښې لګي۔

د ژبپوهنې دویم اړخ د څۀ خصوصیاتو په وجه د ټولنیزو سائنسونو سره تعلق لري ـ ځکه چې دا د ژبې مطالعه کوي کومه چې د ټولنیزې روّیې یو شکل دے ـ او په ټولنه کښې د انسانانو د یو ځاے د اوسېدو د وجې قائمه ده ـ

لنډه دا چې ژبپوهنه نۀ صِرف یو تجرباتي سائینس دے۔ بلکې یو ټولنیز سائینس هم دے کله چې دا په تجربو، مشاهدو ، نتیجو اډانه لري لکه د مثال په توګه استقرائي طریقه نو دا د تجرباتي یا سوچه سائینس د لاندې راځي او چې کله یو ژبپوهان د یوې مفروضې په بنیاد مطالعه کوي ـ **data** راجمع کوي نو دا بیا د ټولنیز سائینس په احاطه کښې راځي ـ د **R.A. Hall** هغه خبره چې د دې پوزیشن لکه د **geology**د سوچه او ټولنیزو سائینسونو ترمینځه دے ، دغه شان د **Robins**په خیال دا یو تجرباتي سائینس دے۔ او په دې کښې دا یو ټولنیز سائینس دے ځکه چې د دې مواد ټول انساني دي او دا د سوچه سائینس نه ډېر مختلف دے۔ ([1])

آخر مونږ په دې نتیجه رسو چې ژبپوهنه د ژبې سائینسي مطالعه ده دا استقرائي یا استخراجي کېدے شي خو په دواړو حالتونو

([1] )Tarni prasad, A Course in Linguistics,( New Delhi: PHI Learning private Limited 2009),Page No:4.

کښې د ژبپوهنې تجزیه معروضي، تجرباتي او منظمّه وي ـ دا د حقائقو طریقو او اُصولو سره تعلق لري دا د مشاهدو ، مفروضو ، تجربو ، ټسټونو ، بیاناتو او نتیجو په ذریعه کار کوي۔([1])

په دې وجه ژبپوهنې ته سائینس هم وئیلے شي او اکثر ورته آرټس یا **Humanities** هم وئیلے شي ـ ولې د پورتني بحث نه مونږ ته دا حقیقت څرګند شو چې ژبپوهنې د آرټس او سائینس دواړو په دائرو کښې ښېې اېښې دي ـ د آرټس د غاړې سره د دې تعلق د ژبې د تاریخ او فلسفې او په پوهنتونونو کښې د زړو او نوؤ ژبو د تدریس د وجې دے۔ دغه شان سائینسي اړخ ته د دې یوه غاړه د سوشل سائنسز لکه سوشیالوجي ، سائیکالوجي ، ایتهراپالوجي او آرکیالوجي سره لګیدلې ده او بله غاړهٔ ئې بېخي سُوچه سائینسونو لکه بیالوجي فزیالوجي فزکس او ریاضۍ سره لګیدلے ده د دې ګڼ اړخیز تعلق د وجې د دې علم اهمیّت او ارزښت نن سبا نور هم سېوا شوے دے۔

## د ژبپوهنې ساحه :

د ژبپوهنې ساحه ډېره فراخه ده د دې د منځ توکي فونیټکس، فونولوجي ، علم نحو او معنیات دي ـ بیاچې څومره ډېرې دې څانګې سپړدلې دي هغه هومره دې د انساني ژوند اړخونه راګېر کړي دي د انسان د ذات او د دهٔ د تاریخ نه واخلې تر د دهٔ د نفسیاتو او د دهٔ د

([1] )Tarni prasad, A Course in Linguistics,( New Delhi PHI Learning private Limited 2009),Page No:4.

حیرانونکي ایجاد کمپیوټر پورې د دې ځانګې خورې دي چې ځان سره د انسان د ژوند ارزښت ناک اړخونه لکه ژبه ، ادب، ټولنه ، نفسیات ، بشر پوهنه فلسفه او منطق هر څۀ رانغاړي ۔

که چرې مونږ ژبپوهنې ته په یو**magnifying glass** کښې اوګورو نو مونږ ته به د دې فونیټکس، فونولوجي ، صَرف ونحو، معنیات او **Pragmatics**غوندې اړخونه ښکاره شي دا یو قسم له د ژبپوهنې ژوره مطالعه ده۔ او د دې برعکس که مونږ د دې فراخه مطالعه اوکړو، نومونږ به د دې هغه اړخونه اووینو د کومو پولې چې د نورو علمونو سره لګیدلي دي ۔ لکه ټولنیزه ژبپوهنه، نفسي ژبپوهنه، دماغي یا اعصابي ژبپوهنه ، اسلوبیات **Computational Linguistics** **Cognitive Linguistics**او**applied Linguistics** ۔ ژبپوهان د هغه ژبو مطالعه او څیړنه هم کوي کومې چې د خطرو سره مخ دي او مرګونې حالت ته نزدې دي۔ نن سبا انټرنیټ د زمکې تناؤ نه رالنډ کړې دي او د زمکې نه ئې د شیشې یو کورکے جوړ کړے دے ۔ ټوله نړۍ یو کلچرل وحدت **Cultural uniformity**او **Lingua franca** طرف ته روانه ده ۔

دا وخت په نړۍ کښې څۀ د پاسه شپږ زره ژبې وئیلے شي په دې کښې د پینځویشت فی صده ژبو ویونکو شمېره د یو زر نه کمه ده ، او راتلونکے پیړۍ کښې به د نړۍ په مخ صرف یو زر ژبې پاتې شي ، نو تربیت یافته ژبپوهان هغه ژبو ته زیاته توجه کوي کومې چې

مرکوني حالت کښې دي ، د دې ژبې د ګريمر ، ذخيرۀ الفاظ او په دې ژبه کښې چې د نړۍاو د انسان د تاريخ په حواله څۀ هم معلومات دي د هغې د خوندي کولو کوښښ کوي۔ ([1])

د تاريخ نه دې ډکې زمکې باندې د ختمېدو نه وړاندې د وړو ثقافتونو او وړو ژبو د خوندي کولو کوښښ کول اصل کښې د هغه قيمتي څيزونو د خوندي کولو کوښښ دے کوم چې زمونږ نه انسانان جوړوي۔ ([2])

ژبپوهنه د ژبې مطالعه ده ، ولې په دې کښې يوه مخصوصه ژبه نه بلکې په عمومي توګه ټولې ژبې مطالعه کولے شي ۔

يو ژبپوهان د دې مسئلو سره کار لري :

(۱)ژبه څۀ شے دے او دا څرنګې نظام لري ۔

(۲)د دې تجزيه څرنګه کېدے شي او د دې بنيادي اکاياني څرنګه معلومولې او ټسټ کولے شي ۔

(۳)په مزغو کښې هغه کوم ځاے دے چې ژبه پکښې ذخيره کولے شي ۔ او د ژبې زده کړه څنګه کېږي ۔

(٤)په ټولو ژبو کښې څۀ شے مشترک دے او دا خاصيتونه مونږ ته د يوې ژبې د ادراک په حقله څۀ ښائي ۔

---

([1]) http://www.meriam.webster.com/dictionary/linguistcs(accessed on December 26-2014).

([2]) David Crystal, Language . Death,( Camridge: Cambridge university press, 2000)Page No: 67. Bookfi-e-book .

(٥)ژبه څنګه پيدا شوه د ځناورو او د انسان په ژبه کښې څۀ مشترک دي او څرنګې د يوبل نه توپير لري ـ

(٦)په نړۍ کښې چې کومې شپږزره ژبې وئيلې شي نو هغه کومه ژبه ده چې نورې ژبې ترې راوتي دي يا وخت سره سره ژبو کښې بدلون څنګه راځي ـ

(٧)په ژبو کښې د لهجو توپير ولې دے ، او ټولنيز او لهجوي توپير مونږ ته د ژبو په حقله څۀ ښائي ـ او دې توپير په ټولنيز، سياسي او تعليمي پاليسو څۀ فرق پرې باسلے دے ـ

(٨)د ژبې او ثقافت ترمېنځه څۀ تعلق دے دغه شان د ژبې او خيال يا سوچ ترمېنځه څۀ تعلق دے۔([1])

د ژبپوهنېFocus د ژبې په ساخت، جوړښت، استعمال او نفسياتو په عمومي مطالعه دے ـ د ژبپوهنې کار د ژبې د فطرت او ابلاغ سره دے۔ د دې کار د يوې خصوصي ژبې مطالعه کول هم دي او هغه عمومي خصوصيات هم دي ـ چې ټولو ژبو يا د ژبو لويو ډلو سره تعلق لري ـ([2])

په ژبپوهنه کښې د ليکلې ژبې نه زياته د ويناوي ژبې مطالعه کولے شي او د هغې درې وجې دي۔

(١)د انسان د تهذيب په ارتقاء کښې ژبه وئيل مخکښې شروع شوي دي او ليکل وروستو۔

([1] ) http://linguistics.wfu.edu/somebasicn.html(December26,2014.
([2] )) http://linguistics.wfu.edu/somebasicn.html(December26,2014.

(۲)د پېدائيش نه پس ماشوم اول ژبه وئيل زده کوي۔ وروستو ژبه ليکل زده کوي۔

(۳)ډېرداسې څيزونه دي چې هغه د ليک په ژبه کښې نۀ راځي لکه د آوازونو بدلون، د آواز اُتار چړهاؤ، د لهجې اونچ نيچ او د خبرې نوعيّت او د جذباتو اظهار۔ د داسې قسمه خصوصياتو تجزيه صرف په وينا وي ژبه کښې کولے شي۔

د ويناوي ژبې د تجزيې او څېړنې په حقله د ژبپوهانو د تحقيقاتو او د تجسّس تاريخ څۀ شپاړس سوه کاله قبل مسيح د بابل نه شروع کېږي ۔ او د هغه وخت نه زمونږ په علم کښې د ژبو په حقله ډېره اضافه شوې ده ۔ ژبپوهانو يو څو حقيقتونه په ګوته کړي دي ، چې په ټولو ژبو کښې شريک دي۔ د دغه حقيقتونو لنډو پېژندګلو دلته ورکولے شي۔

(۱)چرته چې بنيادمان اوسي هلته به ژبه خامخا وي ۔

(۲)يوه ژبه هم لرغوني نه ده ۔ ټولې ژبې يو شان پيچيده دي او ټولې ژبې دا خاصيّت لري چې په هغې کښې دې د کائنات د څۀ هم خبرې اظهار اوشي ، دغه شان په هره ژبه کښې د لفظونو ذخيرې هر وخت نوؤ ټکو او نوؤ خيالاتو قبلولو ته تيارې وي

(۳)ټولې ژبې وخت سره بدلېږي

(٤)په هره ژبه کښې د غږونو يا لفظونو او معنو ترمېنځه تعلق زيات تر بې قاعده يعني **arbitrary**دے ۔

(٥)ټولې انساني ژبې د غږونو يو محدود شمېرلري او د دې غږونو نه د لفظونو بامعني حصې جوړيږي او د دې لفظونو نه بيا بې شمېره تعداد کښې جملې جوړيږي ۔
(٦)ټولې ژبې د ټکو او جملو جوړولو ګرامري قواعد لري۔
(٧)په ټولو ژبو کښې واولز او کانسونينټ موجود وي ۔
(٨)دغه شان په ټولو ژبو کښې ګرامري ټولګي لکه اسمونه او فعلونه هم وي۔
(٩)د معني په لحاظ په ټولو ژبو کښې مذکر، مؤنث، څناور او د انسانانو ټولګي هم موجود وي ۔
(١٠)په هره ژبه کښې د ماضي زمانې، نفي، مثبت سواليه او حکميه خبرو د پاره يوه طريقه وي۔
(١١)په هره ژبه کښې د جملې د جوړولو خپل خپل قواعد وي ۔
(١٢)يو نارمل ماشوم که د دُنيا په هرګوټ کښې پيدا شي او هر قوم سره تعلق لري ، او هغه ته په وراثت کښې هر رنګه معاشي، معاشرتي او جغرافيائي حالت ملاؤ شوي وي هغه خو د هرې هغه ژبې د زده کړې جوګه وي کوم کښې چې هغه واچولے شي۔ په ژبو کښې اختلاف د حياتياتي اختلاف د کبله نه دے۔([1])

([1] ) Victoria Fromkin et-all, An Introduction to Language 4rth Edition (Austrailia:Nelson Thomson Learning pvt Limited, 2002) P.No:21-22

## د ژبپوهنې اهميّت :

ژبپوهنه د ژبې سائينسي مطالعه ده او ژبه داسې څيز دے چې د انسان هر وخت دے سره کار وي ، زيات تر خلق د خپل ژوند لويه برخه په خبرو کولو، او اورېدو کښې تيروي او په ايډوانس ټولنو کښې په ليک او لوست کښې هم ـ په نارمل توګه يو بنده د څلورو زرونه واخله تر پينځو زرو پورې الفاظ په يوه ګهنټه کښې استعمالوي۔ يو ريډيو اتۀ يا نهه زره لفظونه په يوه ګهنټه کښې نشر کوي۔ يو بنده چې په نارمل سپيډ لوستل کوي نو هغه د څوارلس زرو نه واخله تر پينځلسو زرو لفظونو نه په يوه ګهنټه کښې تيريږي۔ نو چې يو بنده يو ګهنټه **Chat** کوي يوه ګهنټه ريډيو اوري او يوه ګهنټه لوستل کوي نو هغه د پنځويشت زره لفظونو سره مخ کيږي او په يو ورځ کښې دا شمېر يو لاکهـ ته هم رسي۔([1])

د لفظونو د دې شمېر نه پته لګي چې مونږ په ژبه څومره انحصار کوؤ او ژبه زمونږ په ژوند کښې څومره غټ کردار لوبوي ، په امروزه استعمال کښې د لفظونو د دې ګڼ شمېر نه علاوه په نړۍ کښې په زرګونو ژبې وئيلے شي۔

صرف د سوئيلي ايشيا که د ژبو اندازه اولګوؤ نو څۀ په دې ډول ويش دي:

انډيا**438**

---

([1] ) Jean Aitchison, Linguistics, (Uk:Teach your self ,2003)Page,No-4

نیپال:**126**

پاکستان:**72**

بهوټان:**24**

بنګله دېش:**39**

مالدیپ:**1**

د دې نه علاوه په نړۍ کښې شپږ زره نهه سوه دولس (**6912**) ژبې وئیلے شي۔([1])

ښاغلې طارق رحمان صېب د نړۍ په سطح د ژبو شمېره (**6912**)ښائي ولې دا شمېره د **Ethenologue**د آخري ایډیشن مطابق اووۀ زره (**7000**) ده۔ مغربي لیکوال ولیم بي ایم سي ګریګر **William B Mcgregor**په خپل کتاب کښې لیکي چې :

د ژبو اوسنۍ شمېره اوو زره ده ۔ اود **Ethenologue** د آخري ایډیشن مطابق دا شمېره شپږ زره نهه سوه او دولس ده چې د سلو نه زیاتې پکښې صرف اشاراتي ژبې دي ۔ او د تېر ایډیشن نه یو سل درې ژبې زیاتي دي ۔ او د یوولسم ایډیشن نه **700** ژبې زیاتي دي کوم چې په **1988**ء کښې چاپ شوے وو۔ او په یوولسم ایډیشن کښې د ژبو شمېره **6170** ښودلے شوے وه ۔ هم د دغه وخت یعني **1987**ء نه **Ruhlen**د نړۍ د ژبو شمېره **5000** ښودلې ده۔([2])

([1] ) Tariq Rahman, Linguistic for Begginers Basic Concepts (Karachi:oxford university press/2010)P.No:1

([2] )William B . Mcgregor, Linguistics An introduction, Reprint (London:Continuum International publishing group, 2010)P.No-301.

د بره ورکړې شوې حوالې نه خو مونږ په دې نتيجه رسو چې وخت تيرېدو سره د نړۍ د ژبو شمېره سېوا کېږي نو آيا دا خبره صحيح ده ؟ نه بالکل نه ـ د ژبپوهنې تفاوت د حياتياتي تفاوت او رنګارنګۍ په شان دے او دا زياتيږي نه بلکې کميږي ـ نو بيا څۀ وجه ده چې په 1988ء کښې ژبپوهان د ژبې شمېره کمه ښائي او په 2010ء کښې ډېره د دې اصل وجه دا ده چې د نړۍ په زرګاؤ لکهاؤ زنده سرو کښې د ټولو نه ډېر هوموسپينسز يعني بنيادمان خوارۀ وارۀ دي ـ د اول ورځې نه دوي په نړۍ کښې په هر اړخ خوريږي ، سمندرونو او ځنګلوته رسي څومره چې دوي خوريږي دومره ډېرې سوسائيټۍ پېدا کېږي او څومره چې دوي د يو بل نه لرې کېږي هغه هومره د ژبو لهجې سېوا کېږي ـ او نورې نورې ژبې ترې نه وجود مومي هم دغه خبره ښاغلے Mcgregorهم کوي هغه په خپل کتاب کښې ليکي چې :

عالمان دا يقين لري چې د ماډرن او مکملې ډهانچې بنيادمان په مشرقي افريقه کښې د يو نيم لک نه واخلې دوۀ لکو کالو پورې اوسېدل ، او د دغه ځاے نه دوي مغربي افريقې ، ايشيا او آسټريليا ته څۀ تقريبًا شپېتۀ زره کاله وړاندې منتقل شول او امريکې ته ديارلس زره کاله اګاهو يا څۀ د پاسه شل زره کاله وړاندې ، ژبې وخت سره سره بدليږي او د نړۍ د آبادۍ د خورېدو په وجه ژبې په لهجو کښې تقسيم شوې او دا لهجې بيا په نورو نورو ځان له مکملو ژبو کښې بدلې شوې که مونږ په نړۍ کښې د بنيادم تاريخ ته اوګور نو د انسانانو شمېره ډېره

ده او دا ژبې کمې دي په دې وجه مونږ له دا سوال کول پکار دي چې دا ژبې دومره کمې ولې دي ـ([1])

خو مونږ ته چې د ژبو دومره کمه شمېره معلومه ده د هغې یوه وجه د علم او د مواصلاتو د ذرائعو کمے هم دے ډېرو لرو لرو جزیرو او ځایونو ته زمونږ رسائي نشته او د هغه ځاے د خلقو د ژبې مونږ ته علم نشته بله خبره دا ده چې کومه ژبه لږ ډېر لیکلے مواد لري۔ لغتونه لري نو هغه په نړۍ کښې اوپېژندے شي ولې په علمي توګه روستو ژبې د عالمانو د سترګو نه پناه وي ـ

د دې دومره اوږد بحث نه زما مطلب دا دے چې چرته انسانان وي هلته به ارومرو ژبه وي ـ ځکه چې انسانان ګونګیان نۀ شي کېدے او څومره چې د دنیا په مخ په زرګونو قومونه آباد دي دومره ژبې هم دي۔ د ژبې د اهمیّت ثبوت نه صرف دا شمېره ده بلکې دا حقیقت هم دے چې انسانان خپل پېغام بل بنده ته رسوي او په علامتونو کښې ئې لیکلے هم شي ـ

که ژبه نۀ وه نو نۀ به څۀ خبرې اترې وې نۀ به سندرې وې نه به قیصې وې نۀ به ټوقې ټقالې وې ، نۀ به دا په درنګو کتابونه او اخبارونه وو او نۀ به د تهذیب په دې موړ ولاړ وو۔ یوانسان دومره بل څۀ نۀ کوي څومره چې هغه خبرې کوې چې کله ورسره بل څوک نه وي نو د ځان سره خبرې کوي۔

---

([1] )William B . Mcgregor, Linguistics An introduction, Reprint (London:Continuum International publishing group, 2010)P.No:303

د دې بحث نه مونږ دا نتيجه را اوباسو چې ژبه زمونږ په سوچونو، زمونږ په خوبونو، زمونږ په ټولو کارونو، په درس وتدريس، په خوشحالۍ او غم لنډه دا چې ژبه زمونږ په ټول ژوند حاوي ده انسانان خپل جذبات او احساسات خواهشات او ضروريات هم د ژبې په ذريعه يو بل ته رسوي ـ زمونږ په ژوند کښې د ژبې د دے بې کچه اهمیّت په وجه د ژبې په سائنسي توګه مطالعه کول ډېر ضروري دي ـ

د ژبې د ماهيّت او د دې د ارتقاء په حقله غوروحوض په هره زمانه کښې شوے دے ـ د ژبې د قواعدو د تعلق جستجو د قبل مسيح زمانې راسې په هندوستان او يونان کښې د ارسطو او افلاطون راسې جاري ده ـ

نن سبا په ترقي يافته ملکونو کښې د ژبپوهنې په مدد تاريخ ، تهذيب او د معاشرت ډېرې کشالې حل کولے شي ـ د دې د څېړنې په نتيجه کښې د مختلفو نسلونو او ژبو ترمېنځه يو شان والے او بېلتون معلومولے شي ـ د دې د مطالعې نه د قومونو او ژبو د عمر سره سره د دې د زيږون د ځاے په حقله هم معلومات حاصلولے شي ـ اوبيا دا هم معلومولے شي چې يو قوم يا ژبې دکومې کومې سيمې سفرکړے دے ـ دے په نورو ژبو يا قومونو څومره اثر غورزولے دے ـ اوپخپله دا ژبه د نورو ژبو نه څومره متاثره شوے ده ـ

دغه شان د لرغونې او مړو ژبو د رسم الخط او ادب پوهه هم د ژبپوهنې په وجه ممکنه شوې ده او صِرف دا نه بلکې چې د کومو ژبو

خپل رسم الخط نهٔ وي ژبپوهنه د هغې د پاره رسم الخط هم جوړوي او په موجوده رسم الخط کښې چې کومې خامیانې دي هغه هم لرې کوي۔

په ادبي تحقیق کښې د لرغونو مخطوطاتو زمانه ټاکل هم ډېر ارزښت لري ۔ او په یو دور کښې د ژبې د استعمال په مدد د هغه مخطوطې زمانه درسته معلومولے شي ۔

د ژبپوهنې په مدد داسې قاعدې هم جوړولے شي چې د هغې په ذریعه ډېره کمه موده کښې بله ژبه زده کولے شي ۔

نن سبا د ژبپوهنې نه د فوج په شعبه کښې هم مدد اخستے شي۔ د دې په ذریعه خفیه کوډونه جوړول او د دُښمن ملکونو خفیه کوډونه د معلومولو کوښښ هم کولے شي ۔

د امریکې د فوج درې واړه شعبې بحري ، برّي او هوائي د صوتیاتو شعبه لري۔ په دې شعبو کښې په صوتیاتو مسلسل څېړنې کېږي ۔ مغربي ملکونه د ژبپوهنې نه د فوج د پاره ډېر کارونه اخلي۔ په فوج کښې د ژبپوهنې د قائمولو واحده وجه د جاسوسۍ د فن تکمیل دے د جاسوسي د پاره دُښمن ملکونو ته لېږلو شوؤ فوجي افسرانو ته د هغه ملک ژبې ښودلے شي ۔ د نړۍ هرملک خپلو سفیرانو او فوجیانو ته د پېغام لېږلو د پاره کوډ ورډز استعمالوي چې اکثر بدلېږي رابدلېږي په فوج کښې د صوتیاتو د شعبې دوه اهم کارونه دي د خپل حکومت د پاره د ورځې ورځې داسې کوډونه تیارول چې نور خلق ئې

نۀ شي معلومولے ـ او د نورو حکومتونو د کوډونو د معلومولو کوښښ کول د کوډونو د ښکاره کولو طريقې هم هغه دي په کومو چې د ماضي د مړو ژبو مجهول رسم الخطونه د لوستو کوښښ کولے شي۔

د ژبپوهنې مطالعه يو شمېر فائدې لري او هر څوک ترې د خپل خپل مطلب او غرض مطابق فائده اوچتولے شي ـ ژبپوهنه د يو طالب علم ، د يو اُستاذ او يو څېړن کار د پاره يو شان ارزښت لري۔

(۱)يو طالب علم به د ژبپوهنې دلوستونه پس د ژبې په عمومي خصوصياتو پوهه شي نو دے به د انساني ژبې په حواله د بې معنې سوالونو نه بچ شي ـ

(۲)يواُستاذ د ژبپوهنې د مطالعې نه غټه فائده اوچتولے شي۔ دې به نۀ صرف د ژبې په ساخت او تلفّظ پوهه شي چې د يوې ژبې ښودنه طالبعلمانو ته څرنګې پکار ده۔ دے به د ژبني نظام په مختلفو درجو پوهه شي او د ژبې د مختلفومظهرونو او شيانوسره په تعلق به پوهه شي ـ لکه ژبه د دماغو يا د انسان د نفسياتو سره څۀ تعلق لري ژبه څرنګه زده کولے شي او څرنګه وده مومي۔ دغه شان د ژبې د ټولنې سره څۀ تعلق دے او ژبه د يوې ټولنې او د هغې د تاريخ او ثقافت په وده کښې څۀ کردار ادا کوي ـ

(۳)دغه شان د يو څېړن کار د پاره هم د ژبپوهنې علم ډېر ارزښت لري۔ د ژبپوهنې ګڼې څانګې دي او هره څانګه ئې ځان ځان له څېړنې ته احتياج لري۔ دويمه دا چې د ژبپوهنې څېړنه څومره چې ژوره

کېږي، دومره خبره د بحث نه منطقي او د منطقي نه فلسفیانه تفصیلاتو ته رسي۔ د ژبپوهنې مطالعه او په ژبپوهنه کښې سرټیفیکېټ یا د ډګرۍ د حصول نه پس یو بنده ته د کار کولو لاندینۍ موقعې په لاس ورتلے شي۔ په کمپیوټر انډسټري کښې په سرچ انجن **artificial intelligence speech recognition.** کښې کار کولے شي ، په یو پوهنتون کښې ژبپوهنه تدریس کولے شي په نصاب سازۍ کښې اهم کردار ادا کولے شي په هسپتالونو عدالتونو، په قومي او بین الاقوامي توګه په ایمبیسو او د حکومت د چارواکو څخه د ترجمان کردار ادا کولے شي۔ په فیلډ کښې د یوې ژبې په لهجو یا غږونو څېړنې کولے شي په پریس کښې د ټیکنیکل لیکوال په حېث کارکولے شي د دې نه علاوه د یوې ژبې په لغاتو راټولولو او لغت سازۍ کښې هم ښهٔ کردار ادا کولے شي ۔

## د ژبپوهنې طریقه کار

ژبپوهنه د ژبې د جوړښت ترتیب واره تجزیه کوي ،مختلفو ژبپوهانو دا په مختلفو طریقو بیان کړیده لکه رابرټ هال **Robert Hall**درې اړخونه ټاکلي دي ، غږ پوهنه ، صرف او نحو **R H Robins** هم درې اړخونه ټاکلي دي، غږپوهنه ، ګریمر او معنیات ، ولې**Hocket** پینځهٔ مېدانونه ټاکلي دي چې ورته ذیلي نظامونه وئیلے شي چې پکښې درې مرکزي اهمیّت لري او نور دوه نسبتًا کم اهمیّت لري ۔

(۱)ګرامري نظام :

دا د مارفیمونو ذخیره او د هغې د ترتیب سره تعلق لري ـ

(۲)د غږپوهنې نظام: (**Phonological system**):

دا د فونیمز مجموعه ده اود هغه ترتیب مطالعه ده چې په کوم ترتیب شوے وي ـ

(۳)(**The morphophonemic System**):

دا د کوډونو یو داسې نظام دے چې ګرامري او غږئیځ نظام خپلو کښې تړلے ساتي۔

د دې نه علاوه دوه نور ذیلي نظامونه څۀ په دې جوړ دي

(۱)معنوي نظام :(**The Semantic System**)

د دې تعلق د ګڼو مارفیمونوسره دے ـ او د دې د نورو څیزونو د مختلف قسمه حالاتو سره دے ـ

(۲) غږئیځ نظام :(**The phonetic system**)

دا هغه طریقو سره تعلق لري ، په کومو چې فونیمونه یا غږونه د یو ویونکي د وېنا په وجه د غږ په چپو کښې بدلولے شي او د اوریدونکي د اعضاؤ په وجه په وینا کښې دوباره بدلولے شي ، بره ورکړي شوي ټول**levels** د یو ژبپوهان د ژبې په موادو او مطالعه اړه لري ـ خو د ژبنۍ سرګرمو د دې ټولو اړخونو نقطۀ اتصال یو دے۔خالي نومونه ئې بدل دي دا ټول د ژبې په دریو بنیادي اړخونو مشتمل دي مادي، ساختیاتي او ماحولیاتي۔

## د ژبپوهنې د نورو علومو سره اړيکې

ژبپوهنه يو فراخه علم دے چې د نورو ډېرو علومو سره تعلق لري چې يو څو پکښې لاندې ورکولے شي :

**(۱)ژبپوهنه او بشر پوهنه :**

بشر پوهنه په اصل کښې د انسان او د کلچر مطالعه ده د دې دوه غټې څانګې دي فزيکل انتهراپالوجي او کلچرل انتهراپالوجي ، ژبپوهنه په اصل کښې د کلچرل انتهراپالوجي يوه څانګه ده ـ په کلچرل انتهراپالوجي کښې چرته چې د کلچر مطالعه کولے شي ـ ځکه چې ژبه د کلچر يا ثقافت يو بنيادي توکے دے ـ د کلچرل انتهراپالوجي غټه فائده دا ده چې د ژبپوهانو مطالعه ئې فراخه کړې ده چې دوي دې ژبو سره سره مختلف ثقافتونه هم مطالعه کړي ـ دې خبرې دا غلط فهمي لرې کړې ده چې يوه مخصوصه ژبه د نورو ژبو نه اعلي ده بلکې ټولې ژبې په خپل خپل ځاے يو پيچيده نظام لري ، او د هرې ټولنې د سماجي معاشي او نفسياتي ضرورتونو مطابق وي دے ژبپوهانو دا خبره هم واضحه کړې ده چې ثقافتونه**Primitive**کېدے شي ولې ژبې **Primitive**نۀ شي کېدے او دا چې که يوه ژبه د ليک نظام نۀ هم لري نوهغه بيا هم ژبه وي .

بل طرفته ژبپوهنې هم د بشر پوهنې د څېړنې طريقه کار زيات تر سائينسي کړے دے ژبپوهنه د يو بنده يا يو سوشل ټولګي د ژبې د زده کړې په سلسله کښې هم د بشر پوهنې مدد کوي او دا چې د

ژبپوهنې او وراثت په خپلو کښې ځومره تعلق دے ۔ ژبپوهنه دا خبره هم جوتوي چې د يو انسان لهجه د هغهٔ د کلچر آئينه ده ۔

د ژبپوهنې د څېړنې مواد ژبه ده او ژبه د انسان د ټولو نه غټه د ابلاغ ذريعه ده ۔ د ژبې په ذريعه يو انسان بل انسان ته خپل خيالات رسوي۔ او هم ژبه هغه آله ده د کومې په ذريعه چې يو انسان يا يوه ټولنه خپله ثقافتي ورثه خپل نوي نسل ته منتقل کوي ۔ د بشر پوهنې د څېړنې مواد انسان دے ۔ بشرپوهنه دا مطالعه کوي چې د انسان د ژوند محور اوس څهٔ دے او پخوا څهٔ وو۔ بشر پوهنه د انسان روېّه او د هغهٔ د روېّو د هغهٔ په هم جنس ملګرو او نور ماحول څهٔ فرق دے ۔د انسان د روېّې د څرګندونې غټه ذريعه د هغهٔ خبرې يا آواز دے او خبرې او غږ د ژبپوهنې د څېړنې بنيادي مواد دے۔ دغه شان ژبپوهنه او بشر پوهنه د څېړنو د پاره په يو بل انحصار کوي۔ ([1])

## ژبپوهنه او نفسيات:

ژبپوهنه انساني ژبه مطالعه کوي ، ژبه يوه روېّه او يو ذهني استعداد دے۔ دا خبره واضحه ده چې نفسيات د انساني روېّو او ذهن مطالعه ده ۔ ژبپوهنه او نفسيات په خپلو کښې ډېر نزدې تعلق لري۔ د نفسياتو ځينې سوالونه د ژبپوهنې مدد کوي دا چې :

(۱)د زده کړې اُصول څهٔ دي ۔

([1] ) Norman A Mcquown, Language , Culture and Education (Selected and introduced by Anwar S.Dil) (California:Stanford university press,1982)P.No:1

(۲)یوماشوم یوه ژبه څنګه زده کوي ـ

(۳)آیا هغه یوه ژبه صرف د غږونو د نقل کولو په طریقه زده کوي ، یو ماشوم صرف هغه غږونه منتخب کوي کوم چې هغهٔ سره تعلق لري او نور پرېږدي ـ

(٤)آیا دویمه ژبه هم په هغه طریقه زده کېږي په کومه طریقه چې مورنۍ ژبه زده کولے شي ـ

(٥)آیا ژبه په عمل ردّ عمل (**Stimulus-response**) یا د نقل او تکرار (**imitation and Repetion**) په طریقه زده کولے شي ـ

(٦)آیا یو ماشوم یا انسان چې د هغه دماغ په حادثه کښې خراب شي هغه یوه ژبه په دوباره زده کولے شي .

(۷)آیا د ژبپوهنې مهارتونه په نورو مهارتونو باندې اثر غورځولے شي؟

(۸)د یوې ژبې په زده کړه کښې تحریک ، عمر، حافظه او ذاتي رجحان څهٔ کردار ادا کوي او که نه ، د ژبې او نفسیاتو تعلق په هېڅ جوړله د نظر انداز کېدو نهٔ دے۔ د ژبپوهنې د سائینس تعلق نېغ په نېغه د ذهن او نفسیاتي روېّو سره دے ـ ژبني اظهاراکثر د انسان په ذهني حالت انحصار کوي لکه مینه ، غصه ، نفرت ، حېرانتیا یاخفګان ـ د لفظونو مطلب یعني معنیات هم په نفسیاتو انحصار کوي ، په ځنې موقعو په غږ کښې بدلون د نفسیاتو د بدلون د وجې وي ـ د ژبې ابتدا او وده هم نېغ په نېغه د نفسیاتو سره تعلق لري۔ ژبپوهنه په ذهني توګه روستو او په ژبه کښې د کمزورو ماشومانو د نفسیاتو د لوستو هڅه هم کوي ـ

د دې نه علاوه ژبپوهنه هم د نفسیاتو په ډېرو ځایونو کښې مدد کوي۔ د یوې ژبې د امروزه خبرو اترو، متلونو، او عوامي او عالي ادب نه د هغه قوم د نفسیاتو اندازه په ډېره ښه توګه لګولے شي د ژبپوهنې او نفسیاتو په خپله کښې د دومره ژور تعلق د وجې دا په یوه بېله څانګه **Psycholinguistics** کښې مطالعه کولے شي۔

**ژبپوهنه او ټولن پوهنه :**

ژبه یو ټولنیز فعل دے ۔ او د ژبې وجود د ټولنې نه بغېر ممکن نۀ دے ۔ یو سړے هم ځان له ژبه نۀ شي جوړولے ۔ ژبه په یوه ټولنه کښې په ګډه سره جوړېږي۔

ژبه د نورو کلتوري ارزښتونو په شان یو ستر کلتوري ارزښت دے چې په ټولنه کښې موجودیت لري او د ټولنې څخه جدا او په ځانګړي ډول هېڅکله هم وجود نۀ لري ۔ ژبه د ټولنې سره جوخت پرمختګ کوي ، د ټولنیزو تغیّراتو سره سم تغیّر کوي ۔ او مرګ او ژوند ئې په واقعیّت کښې د ټولنې د مرګ او ژوند سره تړلي دي۔([1])

ژبه په یوه ټولنه کښې جوړېږي ، وده مومي عروج ته رسي او د زوال سره مخ کېږي۔ دغه شان ټولنه د ژبې د پاره د یو **language laboratory** حېثیت لري۔کله چې یو ټکے د بهرنۍ ژبې نه یوې ژبې ته راننوځي نو دا د اولس خوښه ده چې هغه ټکے قبلوي که رد کوي او

---

( [1] ) خېړنوال مولا جان تنیوال ، ژبه او ټولنه، (افغانستان: مومند خېړندویه ټولنه ننګرهار ، **2015**) ص:**12**

چې کله قبول شي نو په ټولنه کښې په وئيلو وئيلو دومره اوسوليږي چې بيا خپل ښکاري ـ دغه شان په دې ټکي د دې ټولنې خلق خپل ګرائمر اوخيژوي۔ او د خپلې ژبې د قواعدو مطابق ئې استعمالوي ـ

ژبه د کلتور سره هم ټينګې رشتې لري۔ بلکې انساني کلتور هم د ژبې سره شروع کيږي انساني کلتور او ژبه دواړه څنګ په څنګ درومي او په دواړو کښې د يو بل اثر ليدے شي ـ

دغه شان يوه ټولنه خامخا په مختلفو ټولګو کښې ويشلے شوي وي د پيسې په لحاظ ، د نارينه زنانه په لحاظ د کسب او پيشې په لحاظ او د هرې طبقې به خپله خپله ژبه وي ـ دغه شان په يوه ټولنه کښې به د يوې ژبې مختلفې لهجې هم وي ژبپوهنه او ټولن پوهنه خپلو کښې دا ټول څيزونه مطالعه کوي ـ د ژبپوهنې او ټولن پوهنې دومره نزدې او ژور تعلق دے چې دواړه په يوه بېله څانګه Sociolinguistics کښې مطالعه کولے شي۔

## ژبپوهنه او فطري سائينسونه :

د ژبپوهنې د فطري سائينسونو سره هم ډېر ژور تعلق دے۔لکه فزکس، فزيالوجي، بيالوجي او زووالوجي ، غږ څرنګه پېدا کيږي ، د کومو اعضاؤ نه پېدا کيږي ـ دا مطالعه په Accoustics کښې کولے شي چې د فزکس سره تعلق لري بيا آواز د توانائۍ يو شکل دے او د چپو په شکل کښې د يو ځاے نه بل ځاے ته رسي ـ دا هم د فزکس علاقه ده بيا انساني اوريدونکے عضو غوږ، د غوږ جوړښت او کار دواړه د

فزیالوجي سره تعلق لري په مختلفو ځناورو کښې (Communicative System)د زووالوجي سره تعلق لري۔ د آوازونو چپې څنګه پېدا کېږي څنګه په هوا کښې خورېږي او څرنګه ئې اوریدونکي اعضاء رانیسي او دماغو ته ئې د پېغام په شکل کښې لېږي ۔ دا ټول علم او تحقیقات د سائینس سره تعلق لري ۔

د دې نه علاوه چې د غږئیځ تارونو د رپېدو نه غږ څنګه پېدا کېږي په پهیپهړو کښې هوا څنګه تیرېږي او بیا څنګه د حنجرې په لار د خلې یا پوزې نه خارجیږي ۔ تالو، غاښونه ژبه او شونډې په یو آواز څۀ اثر پرې باسي ۔ د دې ټولو خبرو سره د یو ژبپوهان ډېر کار وي۔ او هغه د دې ټولو سوالونه جوابونه د یو بیالوجسټ نه اخلي ۔

## ژبپوهنه او تاریخ:

ژبپوهنه او تاریخ هم خپلو کښې ډېر نزدې تعلق لري ۔ د تاریخ ډېرې غوټې د ژبې ماهرانو پرانستي دي ۔ ځاے په ځاے د موندلو شوؤ کتبونه د تاریخ کړی سمیدے شي چې کله یو قوم په بل قوم حکومت کوي نو د هغوي په ژبه او کلچر به خامخا اثر غورځوي ۔ دغه شان که دوه قومونه یو بل سره تجارت کوي نو هم به د یو بل په ژبه اثر غورځوي ۔ په یورپ او په ویلز کښې د جپسي خلقو په ژبه کښې د هندوستاني لفظونو کثرت دا ښائي چې دا خلق به پخوا زمانه کښې په هندوستان کښې اوسېدل او بیا دغه علاقو ته اوکشېدل ۔

د پروټو انډویورپین دوباره رغ شوؤ لغاتو نه دا اندازه لګي چې

د دې ويونکي د سرو او سپينو، اسونو، سپي، غوا ګډې او بيزو سره اشنا وو ولې د خر او کورني چرګانو سره نۀ وو اشنا۔ د دې لغاتو نه دا هم پته لګي چې دوي به وړې ريشله ۔ د يوې او د ګاډې استعمال ئې کوؤ او اوربشې به ئې کرلې د قبيلې مشر به ئې سردار وو۔ او دوي به د نمر د رڼا، د نمر، د سحر او د زمکې د ديوتاګانو بندګي کوله۔ ([1])

## ژبپوهنه او جُغرافيه:

جُغرافيه هم په ژبه ډېر ژور اثر غورځوي د مېداني او مهينو علاقو ژبه تر لرې لرې خوره وي ، په دې وجه به په دې ژبه کښې د نورو ژبو لفظونه خامخا راننوتي وي۔ دغه شان د دوي په ژبه به د ميډيا د سائينس او ټيکنالوجي اثر هم وي ولې د غرئيزو او سختو علاقو ژبه د مواصلاتو د کمۍ په وجه د يوې علاقې پورې محدوده وي ۔

د جغرافيې ماهران وائي چې د يو ځائے مخصوص نوم د هغه ځائے د لرغونو خلقو په حقله د معلوماتو يوه کوټلې زريعه کېدے شي۔ د ځايونو نومونه ډېر مشکل وي او په مشکله بدليږي عن تر دې که د دغه ژبې ويونکي خلق ختم هم شي خو د ځائے نوم باقي وي او دا په هغه سيمه کښې د اهمو غرونو او دريابونو د نومونو د وجې ده۔([2])

([1] ) Theodora Bynon, Historical Linguistics Reprint (Cambridge: Cambridge university press, 1990)P.No:278.
([2] )Theodora Bynon, Historical Linguistics Reprint (Cambridge: Cambridge university press, 1990)P.No:273.

دغه شان د ژبپوهنې ماهران وائي چې هر اتۀ میله پس ژبه بدلیږي او چرته چې ژبه بدلیږي هلته کلچر کښې هم بدلون راځي د یوې ژبې په لغاتو، متلونو، فولکلور او ادب باندې د جغرافیې اثر هم وي لکه د مثال په توګه هندوستاني ژبو کښې د آسمان نه راوریدلې واورې د پاره او کارخانو کښې جوړې شوې واورې د پاره یو لفظ استعمالیږي، په انګریزۍ کښې د قدرتي او مصنوعي واورې د پاره دوه لفظونه دي۔ ولې په اسکیمو ژبه کښې د ترخو اوبو د واورې د پاره بېل، د خوږو اوبو د واورې د پاره بېل ، د آسماني واورې د پاره بېل او د بهیدونکې واورې د پاره بېل بېل لفظونه استعمالولے شي دا ټول د جغرافیې اثر دے۔

د یوې لرغونې ژبې لغات د هغه ژبې د ویونکو خلقو په حقله نۀ صرف د طبعیاتي ماحول په حقله معلومات ورکوي ( یعنې د هغوي جغرافیه او آب وهوا ) بلکې د هغوي د مادي او رُوحاني ثقافت په حقله هم کوټلې معلومات ورکوي۔([1])دغه شان د یوې ژبې لغات د جُغرافیې په پوهنه کښې ډېر لاس کوي ۔

## ژبپوهنه او لرغون پوهنه (آرکیالوجي ):

آثار قدیمه د زړې ژبې نمونې محفوظې کړې وي۔ او ژبپوهان په لرغوني کهنډرو کښې د موندلو شوؤ کتبو اوسیکو د لیک نه د یو دور تعیّن کوي۔ دغسې ژبپوهنه آثار قدیمه سره د تاریخ په لیکلو کښې

([1] )Theodora Bynon, Historical Linguistics Reprint (Cambridge: Cambridge university press, 1990)P.No:278.

ډېر زيات لاس کوي. او آثاريات هم ژبپوهنې ته د يو قوم د ژبې مطالعه کولو د پاره ډېر مواد ورکوي.

## ژبپوهنه او ادب:

ژبه د ادب د طالبعلمانو د پاره ځکه ډېره ضروري ده چې ژبه د ادب د اظهار يوه ذريعه ده. يوليکوال چرې هم د خپل کلچر او خپلې لهجې نه ځنګ نۀ شي کولے ، هرليکوال د خپلې معاشرې پېداوار وي د هغۀ په ليکونو کښې به د هغه وخت تاريخ د هغه وخت کلچر او د هغه ځاے لهجه ضرور بريښي.

د ژبې د آغاز او ارتقاء تعلق د ژبپوهنې سره دے ، او د ژبې نه بغېر د ادب مطالعه ناممکنه ده . بعضې وخت د لرغونو ژبو رسم الخط هم د لسانياتو ماهران واضحه کوي . دغه شان د ادبي مخطوطو د زمانې تعيّن هم ژبپوهنه کوي .

لکه د مثال په توګه د فارسۍ ژبې عالمانو ته پته ده چې د لسمې پېړۍ تر آخرې پورې په فارسۍ کښې د دال (د) او ذال (ذ) دوه بېل بېل توري نۀ وو. بلکې متبادل آوازونه وو او د ضرورت مطابق به بدليدل په خدابخش لائبريرۍ بانکي بور کښې چې د کيميائے سعادت کومه مخطوطه ده . د هغې په حقله دا مشهوره وه چې دا د امام غزالي د لاس ليکلے ده . خو چې کله ډاکټر نذيراحمد د دې مطالعه اوکړله نو د اوذ هغه فرق ئې پکښې اونۀ موندو کوم چې د هغه زمانې په کتابت

کښې به موندے شو ۔ په دې وجه هغۀ دا خبره غلطه ثابته کړه چې دا مخطوطه د امام غزالي د لاس ليکلې ده۔([1])

دغه شان اسلوبيات (Stylistics) د ژبپوهنې يوه بېله څانګه ده چې د ژبپوهنې او ادب د تعلق مطالعه پکښې کولے شي د دې نه علاوه اديبان او شاعران د نوې نوې تشبيهاتو ، استعاراتو او د الفاظو په استعمال د يوې ژبې څنګه سترګه کوي ۔

**ژبپوهنه او فلسفه :**

د فلسفې او ژبپوهنې هم خپلو کښې تعلق ښځوا راسې دے۔ حقيقت کښې د ټولو نه اول فلسفيانو په ژبه باندې توجه کړېده د افلاطون په تقريرونو کښې په ژبه ډېر څۀ وئيلي شوي دي د معنوياتو په مېدان کښې فلسفه د ژبپوهنې ډېر لاس کوي ۔ساختياتي ژبپوهان د لفظ معني نظر انداز کوي ، د هغوي وينا ده چې د لفظ نه اصطلاحي معني ويستل د فلسفيانو کار دے ۔ خو د دې نه علاوه په فلسفه او ژبپوهنه کښې ډېر غټ فرق هم شته ۔ د فلسفې کار په يوه معاشره کښې د يو خاص مقصد د پاره د ژبې د استعمال سره دے ۔ د هغه ژبې د تفصيلي مطالعې سره څۀ کار نۀ لري ولې د يو ژبپوهان کار صرف او صرف د ژبې سره دے ۔

---

([1])صفدر علي، اُردو لسانيات، (لاهور:فاروق سنز16، الکريم مارکيټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد) ص:54-55

## دريم باب

# "د ژبپوهنې تاريخ"

لنګوسټکس يا ژبپوهنه يوه نوې اصطلاح ده خو که نړيوال تاريخ وروسي اولټوؤ نو جرړې ئې ډېرې لرې پورې تلي دي ـ هرهغه علم چې اوس سائينسي حېثيت لري ـ نو ابتدائي خامخا د روايت نه شوې ده ـ لکه د نورو علمونو دا حال د ژبپوهنې هم دے ـ ولې د ژبپوهنې روايت د نړۍ د هغه ټولنو په زړو آثارو کښې مونده شي چې د ليک روايت ئې لرلو ـ

د ژبپوهنې د روايت نه ترننۍ زمانې سائينسي حېثيت پورې سفر په کرونو لوجيکل ترتيب يعنې د زمانې په لحاظ ترتيب وار وړاندې کولے شي ـ

**(۱)بابل (4000 قبل مسيح نه تر 1500 ق م پورې)**

اولنے ژبپوهنې متن په **Cuniform** کښې د خټو په تختو ليکلے شوے په بابل کښې مونده شوے دے چې د نن نه څلور زره کاله وړاندې زمانې سره تعلق لري ـ د انټرنيټ يوه ويب پاڼه د دې په حقله ليکي:

لرغوني ژبني متنونه د خټو په تختو په **Cuniform** طرز کښې د نن نه څلور زره کاله آګاهو ليکلي شوي وو۔([1])

د دويم زرم قبل مسيح په اولنو پېړو کښې په جنوبي عراق کښې د ګرامر د ليکلو روايت جوړ شو چې تقريبًا دوه نيمو زرو کالو پورې جاري وو۔([2])

په روايت کښې د ټولو نه لرغونې ژبنې متنونه په سُميري ژبه کښې د اسمونو فهرستونه وو ۔ چې د هغه وخت د مذهب او د قانون ژبه وه۔ بيا روزمره عامه سُميري ژبه په يوه بله ژبه اکاډين کښې بدله شوه او سُميري ژبه د مذهب او قانون تر حده پاتې شوه ۔ ([3])

سُميري ژبه ځان له يوه ژبه ده او د ژبو يو خاندان سره هم تعلق نۀ لري او اکاډين ژبه د دې نه بېخي بدله وه۔ سُميري ژبه تر ډېره وخته يوه معزّزه مذهبي او قانوني ژبه ګڼلے شوه ۔ او د هغه وخت په مذهبي او قانوني متنونو کښې به استعماليده ۔

دا به د يو بهرنۍ ژبې په توګه تدريس کولے شوه او د دې تدريس د آسانتيا د پاره د بابليانو متعلق ټول معلومات په سُميري ژبه کښې اوليکلے شول د سُميري ژبو د اِسمونو چې کوم فهرست ليکلے شوے وو ډېرې پس دا معياري اوګرځولے شو او د سُميري لفظونو په

([1] ) mcgregor, Continuumbooks,net/media/1/history- outline, pdf(accessed februray 8,2015)
([2] )) mcgregor, Continuumbooks,net/media/1/history- outline, pdf (accessed februray 8,2015)
([3] ) ibid.

اکاډین کښې ترجمه اوشوه د نتیجې په توګه داسې متنونه تیارشول چې د سُمیري ژبې یو لفظ د پاره به د اکاډین ژبې یو لفظ ورکړے شوے وو۔بلکې د اسم او فعل د مختلفو حالتونو ټول ګردان به په اکاډین ژبه کښې ترجمه شوے وو۔ د مثال په توګه د یو فعل **(place to gar)** دوه سوه اوویشت (**227**)حالتونه ورکړي شوي وو۔([1])

**<u>هندوستان 1500 ق م نه تر 200 ق م پورې :</u>**

که د ژبپوهنې نړیوال تاریخ ته پام اوکړو نو د ژبپوهنې باقاعده ابتدا د هندوستان نه کیږي ځکه چې د نړۍ د نورو سیمو په نسبت د ژبپوهنې روایت په هندوستان کښې ډیر زوړ او بشپړ دے ۔هندومت د هندوستان ډیر زوړ مذهب دے ۔ د هندومت د ټولو نه زاړهٔ مذهبي کتابونه څلور ویدونه دي چې د دیارلس سوه قبل مسیح (**1300** ق م) نه واخلې تر اته سوه قبل مسیح (**800** ق م) پورې لیکلي شوي دي، دې ټولو کښې د ټولو نه ادبي حېثیت رګ ویدا ته حاصل دے ۔ رګ وید د وړو وړو نظمونو مجموعه ده چې سرلیکونه ئې د کائنات د تعریف نه واخلې تر جنسي مسئلو پورې خوارهٔ دي ۔ په رګ وید کښې د واک د عنوان د لاندې یو حمدیه نظم ورکړے شوے دے چې پکښې د موجوده لسانیاتو د نظریو سره ډیر مماثلت یعنې یو شان والے موندے شي۔

د دغه نظم پښتو ترجمه څهٔ داسې ده:

([1] mcgregor, Continuumbooks,net/media/1/history- outline, pdf (accessed februray 8,2015)

کله چې په لرغوني زمانه کښې روښان ضميره مهارشي برهسپتي د خلې نه وړومبنو ايستو شوؤ آوازونو له د لفظونو شکل ورکړو نو هغه پاکې جذبې چې د مودو راهسې انسان په خپله سينه کښې پټې ساتلې وے ، ټولې ښکاره شوې، د عقل خاوندانو د سوچ فکر نه کار واخستو نو لفظونه ئې داسې سم او پاک کړل لکه چې څوک د غلبېل نه غله چاڼوي او ګند ترې نه اوباسي ـهغوي د لفظونو تلاش ډېر په محنت سره اوکړو ـ اود لرې لرې د مهارشيانو نه ئې لفظونه راټول کړل او په دنيا کښې ئې هر طرف ته خوارۀ کړل او اوؤ مهارشيانو دا د سندرو په شکل کښې اووےـ([1])

که چرې په دې حمديه نظم کښې مونږ ذکر شوې هستي مهارشي برهسپتي داسې اوګڼو چې هغه په خپل عهد کښې د ټولو لفظونو چاڼ کړے وي او بيا ئې هغه ترتيب کړے وي نو دا بيان بيا حقيقت ته نزدې ښکاري بل خوا په رګ ويد کښې **Voc**د ژبې د پاره استعمال شوے لفظ دے ـ اودې لفظ له د يوې ديوي سره تشبيه ورکړے شوې ده

لفظ **Voc**له د ديوي سره تشبيه د رګ ويدا په لسم نمبر (**10.125**) نظم کښې ورکړے شوې دهـ دا ديوي خپل ځان څۀ داسې ستائي ـچې د دنيا په سرما ''ابا'' ديوتا او زيږؤ ـ زما بچه دانیِ په اوبو

( [1]) پروفېسر صفدرعلي، اُردو لسانيات، (لاهور: فاروق سنز**16** الکريم مارکيټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد )ص:**12** ـ

کښې د سمندر په ویخ کښې ده ـ د هلته نه ماهر ذي روح پيدا کړو او د خپل سر په تاج تر آسمانه اورسېدم زۀ لکه د هوا غوندې يمه هر ذي رُوح ته رسمه د آسمانونو نه بره او د زمکې نه لاندې دومره زۀ عظيمه يمه ـ([1])

په اصل کښې په زوړ هندوستان کښې د رګ ويدا د مذهبي او تعليمي اهميّت د وجې د ژبپوهنې جرړې ټوکېدلې دي ـ د رګ ويد لوستلو يوه مذهبي او مقدّسه درجه حاصله کړې وه ـ او هم د دې د لوست نه د سنسکرت ژبه په لفظونو يا صوتي اکائيانو کښې تقسيم شوه ـ او دې تقسيم په راتلونکو پېړيو کښې د**morphology** يعني صرف او **phonetics**يعني د غږ پوهنې په علم کښې ډېره تُنده تيزي راوسته لفظ د اکائۍ په توګه وده اومونده او تر دريمې پيړۍ قبل مسيح پورې ترې الفبائي د حروف تهجي نظام جوړ شو ـ

په لرغوني هندوستان کښې د ويدي متنونو د قرأت د ضرورت د وجې ژبپوهنې ډېره وده اومونده د رګ ويدا واک **Voc** د اُلوهيت تر درجې پورې اورسولے شوه ـ

تر دولسمې پيړۍ قبل مسيح پورې د دې متنونو په ياده يادول معيار ګرځېدلے وو ـ اود دې متنونو د قرأت د رواج په حقله چې کومې رسالې يا صحيفې ليکلې شوې وې د هغه رسالو دا تجويز وو چې د سنسکرت ژبې جملې دې په لفظي او غږئيځو اکائيانو کښې اوويشلے

([1]) I token Esa, universal History of Linguistics India, China, Arabia, Eurupe, (Amesterdon:John Benjamin Publishing Company,1991)P:6

شي او دې ويش په راتلونکو پېړو کښې د صَرف او غږ پوهنې يعني فونيټکس د پاره لاره هواره کړه ۔([1])

په هندوستان کښې د ژبپوهنې د تاريخ په لړ کښې د رګ ويد نه پس زمونږ مخې ته درې نومونه راځي د ساکاتايانا، ياسکا او پانيني، د دوي پېژندګلو لاندې کولے شي ۔

ساکاتايانا:

ساکاتايانا په معنياتو کښې اولنے سنسکرت ګرامر پوهان وو۔ دے د پينځۀ سوه پېړۍ قبل مسيح (**500** ق م) نه وړاندې تېر شوے دے۔ د دۀ په خيال فعل د اسم نه زيات بشپړ حېثيت لري او وائي چې ټول اسمونه د فعلونو نه په اشتقاقي توګه راوتي دي۔([2])

ياسکا:

د ساکاتايانا نه پس مونږ ته د علمِ صَرف ماهر ياسکا مخې ته راځي ، دے په دې خبره يقين لري چې معني په جمله کښې موجوده وي، او د لفظ معني د جملې د ساخت مطابق را ايستې شي ، د دې نه علاوه دۀ لفظونه په څلورو قسمونو کښې تقسيم کړي دي۔ اسمونه، فعلونه **Pre-verbs**، او نۀ بدليدونکي جُزونه يعني **Particles**او د مقرون او مجرد اِسم د پاره ئې يو ټسټ هم جوړ کړے وو۔([3])

([1] ) http://en.wikipedia,org/wiki/History-of-linguistics(accessed January 1st , 2015)
([2] ) ibid
([3] ) ibid

<u>پانیني :</u>

پانیني د ژبپوهنې په تاریخ کښې یو نوموړے نوم دے ، دے د سنسکرت ژبې ماهر وو ، دۀ د سنسکرت ژبې یو ګرائمر لیکلے وو چې تر اوسه پورې د سنسکرت ژبې او ژبپوهنې په تاریخ کښې یو بنیادي اثر ګڼلے شي۔ د پانیني د زمانې او ځلي کور په حقله اختلافات شته خو د ډېرو پوهانو په حقله د دۀ زمانه څلور سوه کاله قبل مسیح ټاکلے شوے ده۔ څیړنیار رفیع الله نیازي د پانیني د زیږدنې د ځاے په حقله سپینه خبره کړې ده ۔ هغه په خپل اثر ''په پښتو کښې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر'' کښې د څیړنکار اروابناد اکاډیمسن پوهاند عبدالشکور شاد په حواله لیکي چې د پښتونخوا په شمالي شرقي څنډو کښې اټک د هغه ځاے نوم دے چې هلته د کابل سیند د لنډي په نامه د پښتنو په اباسین ګډیږي د اټک څخه د شمال خوا ته پینځلس شپاړس میله لرې د اباسین په لویدئیځه غاړه د صوابۍ په سیمه کښې د پښتنو یو لوئي کلے پروت دے چې هنډبالۀ شي د اوسني هنډ په لوئیدیځ کښې لږ څۀ شمال لور ته څلور میله لرې یو کلے پروت دے چې اوس ئې پښتانۀ لاهور بولي ۔ د دغه لاهور شاؤخوا ته هم د خاورو غونډۍ او کنډوالي شته مشهور ختیځ پوه کننګهم په خپل اثر **Ancient Geography of India** کښې په اوؤ شپېتۀ **(67)**مخ کښې دغه کنډوالي د

هغه**Salatura** نومې ځاے پاته شوې ښځې بللې دي چې مهار شي پانيني هلته زيږيدلے وو۔([1])

دا ښاغلے ليکوال وړاندې ليکي چې : اټک صوابۍ او لنډې لاهور د پښتونخوا هغه سيمې دي چې له زرګونو کلونو راهيسې دغلته پښتانۀ اريايان آباد دي او ژوند کوي ، نو په يقين سره وئيلے شو چې مهارشي پاني ني پښتون وو او دغه پښتون عالم په نړۍ کښې د لومړي ځل لپاره د سنسکرت ژبې لپاره دوديز ګرائمر ليکلے وو۔ ([2])

د پانيني د ګرائمر نوم اشټ ادهيائے وو ، لکه څنګه چې د دې ګرائمر د نوم نه واضحه ده اشټ ادهيائے په اتو بابونو اډانه لري ، هر يو باب په څلورو برخو مشتمل دے چې پادا (**Pada**)ورته وئيلے شي۔ او هريو پادابيا په قاعدو مشتمل دے چې سُترا (**Sutra**) ورته وئيلے شي چې شمېره ئې د اته ديرش (**38**)نه واخله تر دوؤ سوؤ ديريش (**223**)پورې ده او دغه شان په ټول ګرائمر کښې تقريبًا څۀ کم څلور زره قاعدې دي او دا درې مخيزې جوړښت د شارحينو ايجاد دے۔([3])

د پانيني دا سُترا د مقولو او ضرب المثل درجه لري او لاندينې درې خصوصيات لري :

---

([1]) خيرنيار رفيع الله نيازي ، په پښتو کښې دَ ګرامر ليکنې تاريخي بهير ، (افغانستان : دَ علومو دَ اکاډمۍ دَ څېړونو رياست ، **1390** لمريز) ص:**60**

([2])ايضًا

([3]) Itokonen Esa, universaly History of Linguistics India China, Arabia, Europe, (Amesterdam: John Benjamin Publishing Company, 1991)P:5

(۱)د فعل معني د نفس مضمون مطابق اخذ کول ـ
(۲)د فعل د اصلي او فرضي حالتونو د جوړولو د پاره صرفي او نحوي قاعدې جوړول۔ د فعل حالتونو ته کاراکا وئیلے شي چې صرف ترې نه جوړیږي ـ
(۳)د صرفي ساخت په تناظر کښې فونولوجي او فونولوجۍ اکائیانې را اوباسل ـ([1])

پانیني د یاسکا د دې خبرې مخالفت اوکړو چې جملې بنیادي حیثیت لري او د مارفیم نه ئې د معنو اخذ کولو د پاره خپل ګرائمراشټ ادهیائے ترتیب کړو د لیکلي تاریخ ترمخه د پانیني ګرامر د هندوستان د ژبپوهنې بنیاد ګڼلے شي ـ او د هغۀ نه پس چې په هندوستان کښې په ژبپوهنه کوم کار شوے دے هغه د پانیني د سُترا تکمله او تشریح ده۔ ([2])

د پانیني د ګریمر تشریح کونکے کتیایانا وو چې دوه نیم سوه کاله قبل مسیح تېر شوے دے ـ او دویم شارح ئې پتن جلي وو چې یو نیم سل کاله قبل مسیح تېر شوے دے د کتیایانا تشریح په څلور زره درې سوه (**4300**)مقولو مشتمله وه چې ورتیکا ورته وئیلے شي دا د پانیني د یوزر (**1000**) قاعدو یعنې سترا تشریح ده ـ

---

([1] ) http://en.wikipedia.or/wiki/Hisfory-of-linguistics (accessed Januray 1st ,2015)
([2] )Itokonen Esa, universal History of Linguistics India China, Arabia, Europe, (Amesterdam John Benjamin Publishing Company, 1991)P:5

د یو کمال یافته ګرامر پوهان په حیث پانیني په ژبني ساخت او خاص کر په صرف زور راوړي ، ولې کتیایانا او پتن جلي د ژبې په فلسفه او معنیاتو کښې هم دلچسپي لري ـ پانیني کتیایانا او پتن جلي درې واړه د هندوستان رشي مني (**Seers**)ګڼلے شي .

د پانیني د ګریمر تشریحات د کتیایانا او پتن جلي نه پس هم تر ډېره وخته په هندوستان کښې جاري وو چې د پانیني د کار اهمیّت ترې نه څرګندیږي ، د شپږمې پیړۍ عیسوي نه واخله تر اتلسمې پیړۍ عیسوي پورې د پانیني د ګرائمر روایت**Bhartrhari** (**500** ء) **Kaiyata**(**1000** ء) **Bhattoji Diksita** (**1600**ء)او **Nagesa** (**1755**ء) ټولوبرقرار ساتلے وو ـ

پانیني د خپل وخت د تعلیم یافته طبقې د ویونکې ژبې (**bhasa**) په حقله څیړنه کړې وه ، لکه څنګه چې هغه پخپله وائي چې کلاسیکي سنسکرت د دوو زرو کالو راهسې د هندوستان د ادبي کلچر ژبه پاتې شوې وه ـ

د پانیني ګریمر کم از کم تر دوؤ سوؤ کالو پورې لیکلے شوے نه وو دا به خلقو زباني یادو او د یو نسل نه به بل نسل ته خولهٔ په خولهٔ منتقل کېدو ، دا خبره هم د دلچسپۍ نه خالي نهٔ ده چې د پانیني ګریمر همېشه د برهمن تعلیم یوه اهمه برخه پاتې شوې ده ـ یو چیني بدھ چې **671**ء نه واخله تر **695**ء کښې ئې د سماټرا او

هندوستان سفر کړے وو ، د هغه وخت د برهمن تعليم په نصاب کښې د پانيني د ګريمر د ارزښت په حقله ليکي :

چې کله ماشومان د شپږو کالو شي نو هغوي ته تدريس شروع شي ، د اتو کالو په عمر کښې هغوي د پانيني ګريمر يادول شروع کړي چې اتۀ مياشتې پرې لګي بيا هغوي ته د يو څو کالو د پاره اشتې ادهيائے ښودلے شي ـ د پينځلسو کالو په عمر کښې هغوي ته د پانيني لړه ګرانه تشريح کاسيکاورتي ښودلے شي او په دې پينځۀ کاله اولګي ، د منطق او مابعد الطبعيات د اضافې زده کړو نه پس دوي داسې ځايونو ته اوليږلے شي چې مونږ ورته يونيورسټي وئيلے شو ـ آخر دوي د بادشاه دربار ته لاړ شي او هلته خپلې زده کړې اوښائي چې څوک کامياب شي هغوي ته اوچتې سرکاري عهدې او جاګيرونه ورکړے شي په دې دوران کښې قابل سکالران د ګرامر زده کړه جاري ساتي ، دوي اول د پتن جلي تشريح مهابهاشيا او بيا د بهار ترې تشريح سره سره وکاپادتيا هم زده کړي ـ په دې پنځه کاله اضافي اولګي ، او صِرف په دې مرحله هغوي ځان ته ښۀ پوهه وئيلے شي او دا هغه مرحله ده چې يوکس وئيلے شي چې هغه د ګرامر سائينس پوره زده کړے دے ـ ([1])

تردې پورې بحث نه مونږ په دې نتيجه اورسېدو چې د ژبپوهنې روايت د زمانوراهسې په هندوستان کښې راروان وو،

([1] ) http://en.wikipedia,org/wiki/History-of-linguistics(accessed January 1st , 2015)

ساکاتایانا، یاسکا، پانیني او بیا په تېره تېره کتیایانا ، او پتن جلي د دې کاروان نوموړي غړي وو دې ټولو په خپل خپل وخت په ژبپوهنه کښې هغه څۀ د بحث لاندې راوستي وو چې د یورپ خلقو پرې په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کښې کارونه اوکړل ، لکه جدیده تشریحي ژبپوهنه ، معنیات ګرامر ، فونولوجي او فونیټکس ، او د فونیټکس او ګرامر په ځنې اړخونو کښې خو هندوستاني نظرې او کارونه یقینًا چې د یورپ نه ډیر ایډوانس وو۔ ([1])

د دې نه پس هم د ګرائمر لیکلو روایت په هندوستان کښې تر ډېره وخته جاري وو **M.D Pandit** په خپل کتاب

**A Comparative study of All Sanskrit grammers (with special Rafrence to past passive participal Formations)**

کښې د دې ټولو ګرائمرونو نومونه ورکړي دي لکه :

**1.Sarvavarman's Katantra (50-150 AD)**
**2.Candragomin,s Candra Vyakarana (450-500AD)**
**3. Devanandins,s Jainendra Vyskarana (450-500AD)**
**4. Sakatayan,s sakatayansx vyakaransa(750-850 AD)**
**5. Bhoja,s Sarasavatikan bharana (1000-1050AD)**
**6. Hema Cndracaya,s Srisiddahem angcadra vyakara (1050-1100 AD)**
**7. Anubhutis varupa Grya Sarasvata Vyakarana (1200-1250 AD)**
**8. Vopadeva,s Mugdhabodha Vyakarana(1200-1250 AD)**
**9. Jaumara,s Jaumara Vyakarana (1200-1250 AD)**
**10. Saupadna,s Sakpadna Vyakarana (1300-1350AD)**

---

([1]) http://en.wikipedia,org/wiki/History-of-linguistics(accessed January 1st , 2015)

ویاکرانا په سنسکرت ژبه کښې ګریمر ته وئیلے شي ۔

## <u>یوناني دور (500 ق م نه تر 175ء پورې)</u>

په لرغونې یونان کښې ژبنۍ څېړنې د هند د ژبنو څېړنو نه په دې فرق لري چې هندي ژبپوهنه په تجربې ستنو ولاړه ده او یوناني ژبنۍ څېړنې په فلسفه او منطق باندې اډانه لري۔ د یوناني ژبني څېړنو مرکزي او مهمې نقطې د ژبې ابتدا ، د ویناوي ژبې برخې د ژبې او سوچ ترمېنځه تعلّق او دے سره سره دا هم مطالعه کول دي چې آیا د غږ او څیز ترمېنځه تعلق قدرتي دے که روایتي او که غېر اختیاري سقراط (**469** ق م تا **399** ق م ) او افلاطون (**427** ق م تا **327** ق م) د قدرتي تعلق پلودي او ارسطو د دوي خلاف د قدرتي په ځاے د روایتي تعلق حامي دے۔([1])

د افلاطون کتاب **Cratylus**د ایتمالوجي سره تعلق لري او د **Analogy**او **Anomaly**ترمېنځه شخړه را اوچتوي **Anologist**د دې په حق کښې وو چې ژبه یو باقاعده څیز دے او د منطق سره تعلق لري د افلاطون تعلق د دې ډلې سره وو ، ولې د اناملسټانو دا خیال وو چې د یو څیز خصوصیات د هغه څیز د نوم سره هېڅ تعلق نۀ لري او دا چې په لفظونو کښې بې قاعده بدلونونه واقع کېږي ، دا خیال په یونان

---

([1] )[http://en.wikipedia,org/wiki/History-of-linguistics(accessed](http://en.wikipedia,org/wiki/History-of-linguistics(accessed) January 1st , 2015)

کښې د فلسفیانو د یوې ډلې وو چې د **Stoics**یاررواقعیت پسندو په نوم پېژندے شي۔(1)

په یونان کښې د څو کالو راهسې په دې بحث روان وو چې آیا د کلمو ، د څیزونو او د هغوي د نومونو ترمېنځه د تعلق حقیقت څۀ دے ۔

افلاطون ژبه او وینا په دوؤ ډلو کښې ویشي نوم او فعل، نومونه هم کلمو ته وئیلے شي چې د هغې په باره کښې څۀ وئیلے شي یعنې هغه کلمې چې د مسند او مسند الیه د پاره په صفت کښې وئیلے شي هغه د نومونو په ډله کښې راځي او هغه صفتونه چې د خبر او مسند په شکل کې استعمالیږي د افعالو په ډله کښې راځي ، د دۀ په نظر کښي فعلونه دا ښائي ، چې د نومونو په باره کښې څۀ شے تائیدیږي ، او له همدې کبله خبر او مسند په عمومي ډول فعلونه وي او د فعل په بڼه څرګندونه کوي۔(2)

افلاطون اولنے سړے وو چې په نوم او فعل کښې ئې فرق کړے وو۔ (3)

دغه شان د یونان یو بل فلسفي ارسطو هر کلام په لاندینو برخو کښې ویشي

۱:عنصر

۲:هجا

(1) Pushpinder syal and D.V Jindal, An Introduction to linguistics (Delhi: PHI Learning Private Limited, 2013)P:41.

(2) خېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد ، "دَ ژبپوهنې لنډ تاریخ" مشموله دَ زیري کالنۍ(افغانستان: دَ علومو اکاډیمي دَ ژبو او ادبیاتو انستیوټ، **1357** ھ )ص:**11**

(3) Jean Aitchison, Linguistics, (uk:Teach yourself, 2003)P:26

**۳:ربط**

**٤:نوم**

**٥:فعل**

**٦:جمله**

**(۱)ارسطو عنصر هغه تجزیه کېدونکي غږ ته وائي چې د هغې په مرسته او ګډون یوه معقوله کلمه او لغت جوړیږي ، عناصر داسې ترکیبونه هم جوړلے شي چې مستقلې معنې نۀ لري ۔**

**(۲)د ارسطو په خیال هجا هم ځانګړې او مستقله معني نۀ شي وړاندې کولے۔او هجا یو داسې غږ دے چې د جملې ویشنه او پلټنه بنۍ ۔**

**(۳)هغه ربط هم غږ ګڼي چې په مستقله او ځانګړي ډول معني نۀ شي ورکولے ، او که د څو آوازونو سره یو معني لرونکے ترکیب جوړ هم شي نو ربط ئې نۀ ممانعت کوي۔ او نۀ ورسره د مرستې خیال ساتي ربط په عمومي توګه یا په سر کښې راځي او یا په مېنځ کښې ۔**

**(٤)ارسطو د کلام بنیادي اجزاء نوم او فعل ګڼي د دۀ په خیال نوم هغه مرکب غږ دے چې په ځانګړي ډول یوه مستقله معني وړاندې کوي، خو د زمانې خصوصیت او رنګ نۀ لري ۔ او د زمانې د قېدونو نه خلاص وي ولې په فعل کښې د زمانې خصوصیت او رنګ لیدلے کېږي۔([1])**

---

([1]) خېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد"دَ ژبپوهنې لنډ تاریخ " دَ زیري کالنۍ(افغانستان : دَ علومو اکاډیمي دَ ژبو او ادبیاتو انسټیوټ،**1357** هـ )ص:**12-13**

د کلام په ډلو کښې ارسطو هم معني يا يک معني **(Synonymous or univocal)**او ذو معني ( **homonymous or equivocal**)لفظونو تعريف او فرق هم ښائي ـدغه شان هغه د رسمي لفظونو (**Denominative or Paronymouxs**)معنې هم ښائي ـ هغه د وينا حالتونه هم په دوه ډلو کښې ويشي يوه ساده او بغېر د څۀ ګرامري جوړښت نه ده لکه سړے ، اس او جنګ کول او دويم حالت د ګرامر او ساخت سره لکه سړے جنګ کوي ، اس منډه وهي وړاندې هغه فاعل هم په دوه ډلو کښې ويشي ، يوته **Subject of predication**وائي يعنې په هغې کښې د يو څيز ثبات يا نفي ته ميلان يا رجحان وي ، او دويم ته **Subject of inhesion** وائي ، د دې مطلب دا دے چې يو څيزپه فاعل کښې په جبلي يا خلقي توګه موجود وي ، اګر چې دا د فاعل برخه نۀ وي ولې بغېر د فاعله پاتې کېدے هم نۀ شي لکه په يو شکل کښې داسې شکل چې شکل لري ، ارسطو د اقوالو د ډلو تجزيه هم کوي ، او دغه شان د بنيادي لساني‌اتي حالتونو ويش او تعريف هم کوي ، لکه ساده اقوال، اسمونه، فعلونه ، منفي اقوال، د ساده قول شمېره چې په جديد علامتي منطق کښې ورته **Quantifiers** وئيلے شي ـ([1])

د ارسطو نه پس د **Stoico**يعنې رواقينو مکتب مخې ته راځي، رواقينو ژبپوهنه د نړۍ او د انسان د نظام يوه مهمه برخه اوګرځوله،

([1] )http://en.wikipedia,org/wiki/History-of-linguistics(accessed December 26 , 2014)

رواقينو د ژبپوهنې د علامتي اصطلاحاتو په تعريف کښې غټ کردار ادا کړو ، کوم چې وروستو فرډيننډ ډي ساسور د **Signifior**او**Significant** په نامه اختيار کړل ، رواقينو د صوتياتو، ګرامر او ايتمالوجي مطالعه اوکړه په فونيټکس او فونولوجي کښې د **articulators**تعريف اوشو، او په ويناوي نظام باندې د پوهه کېدو د پاره سليبل يو اهم ساخت جوړ شو ، د سليبل اصطلاح ډېره روستو په جديده ژبپوهنه کښې استعمال شوه۔ رواقينو کلام په پينځو برخو ( فعل، ربط، ارټيکل خاص نوم او عام نوم ) کښې اوويشلو، رواقينو د ارسطو په خلاف د کلام ټول اجزاء معني لرونکي او بلل او د حالت په حقله هم د دوي څېړنې او پلټنې د توجّه وړ دي ، دوي حالت يواځې په نومونو کښې ليدو او هم دارنګه اصل او غېر اصل حالتونو ته ئې په داسې حال کښې اشاره کوله چې د ځينو بېلو بېلو حالتونو نومونه ئې هم اخستل ، د رواقينو دې ګرامرې حالتونو وروستو په يونان او لاطيني ګرامرونو کښې هم ځائے پېد اکړو ، او په وروستنو پېړو کښې ئې د نورو ژبو په ګرامرونو کښې هم ځائے اونيسو ، رواقينو د ژبنيو کلمو په ذاتيت او شرطيّت هم بحثونه کړي دي ، او دا رائے ئې لرله چې کلمې له اوله ربښتينې او واقعيّت سره سمون خوري ، د دوي دا خيال هم وو چې ژبنۍ کلمې د خپل موسوم او مدلول طبعي او ربښتياني واقعيّت

ځرګندوي ، دې فلسفې ډلې د لرغونې ژبپوهنې په منځ کښې د ژبنيو کلمو د رښتياني حقيقت او طبعيت مسئله هم رامنځ ته کړه ـ ([1])

په يونان کښې د ګرامري تحقيقاتو دويم پړاؤ د اسکندرې د ګرامري مکتب**Alcxanderian School** نه شروع کېږي د دوي څېړنې عملي او تجرباتي وي ، دوي هم د لرغونو هندي ګرامر پوهانو په شان د يوناني ادبي ژبې د ژوندۍ ساتلو هڅې کولې ولې د دې هڅو په وجه ګرامر د فلالوجي نه په يوه خاصه او ټاکلي معني کښې رابېل شو ، ولې بيا هم د دې مکتب غړو په ژبه فلسفيانه څېړنې کولې ، سکندريه د ګرامري څېړنو يو مهم مرکز وو۔

د سکندرې د مکتب ګرامر پوهانو د رواقينو په شان د انومالي (**Anomaly**)يعني د فورم او معيار نه انحراف مسئله د خپلو څېړنو مرکزي نقطه اوګرځوله او د **accoustical**نه ئې مطلب دا وو چې اسم او د هغې معنې هېڅکله سره انډول کېدے نه شي او د هغې د نومونو کلمه دې سره برابر او بې توپيره وي ، د دې مسئلې د توضيح د پاره د (ورګه) مثال راوړلے کېږي چې د شکل له مخې مؤنث او د معنې له مخې په نر او ښځه دواړو باندې دلالت کوي انومالستان دې پيښې ته **Anomaly** وائي کله چې دا بحث د فلسفيانو نه ګرامر پوهانو ته منتقل شو نو د انومالي ترځنګه د انالوجي اصطلاح هم رامنځ ته شوه ، د انا

([1]) څېړنوال دوکتور سيدال شاه پولاد"دَ ژبپوهنې لنډ تاريخ " دَ زيري کالنۍ(افغانستان : دَ علومو اکاډيمي دَ ژبو او ادبياتو انسټيوټ،**1357** ه )ص: **13**

ملستانو او انالوجستانو بحثونو دوه ځانګړي ګرامري استقامتونه راپیدا کړل ، دې استقامتونو د ژبې ژوره مطالعه اوکړه او په دې بحثونو کښې دومره مواد راټول شول چې د یو منظم ګرامر د ترتیب او جوړولو په کار راغلل ، د دې موادو راپیدا کېدو سره داسې ګرامرونه اولیکلے شول چې ډېرو منظمو ګرامري اصولو او قاعدو انالوجیو او انومالیو ځان ځان ته خپل مقامونه اوټاکل ۔[1]

د سکندرې د ګرامري مکتب تعلیمات د ارستارح نومې ګرامر پوهان د لیکونو نه شروع کېږي۔ او د دۀ کار د دۀ نومورړي شاګردان په مخکښې بیائي ولې د بدقسمتئ نه د دې ګرامر پوهانو لیکلي آثار پوره نۀ دي موندلي شوي ، او څۀ نیمګړې نمونې ئې په لاس راغلي دي ، چې هغه تر اوسه خوندي دي ۔

د پورتنو موادو د وجې د سکندرې ګرامري مکتب ځینې داسې ګرامرونه لیکلي شوي دي چې د لرغونو ګرامري نظریو په نسبت د سکندرې د ګرامري مکتب د ژبې د غږئیځ اړخ څېړنه ډیره وړاندې ده او د پخوا نه ورته زیاته توجه شویده ۔که هر څومره د سکندرې د ګرامري مکتب غږ څېړنه د **accoustics** په اُصولوولاړه ده ، ولې د دوي په څېړنو کښې د غږونو د فزیالوجیکل څېړنو بنیادونه هم لیدلے کېږي ۔ او ځاے په ځاے ورته اشارې شویدي د اسکندرې ګرامري

( [1]) څېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد"دَ ژبپوهنې لنډ تاریخ " دَ زیري کالنئ(افغانستان : دَ علومو اکاډیمي دَ ژبو او ادبیاتو انسټیوټ،**1357** ھ )ص : **15**

مکتب غږ او توري په خپلو کښې نۀ بېلوي ـاو په غږيځو او بې غږه آوازونو کښې ئې ويشي ، غږئيځ توري هغه تورو ته وائي چې په ځانګړي ځان يو بشپړ غږ جوړولے شوي او دارنګې غږونه په دريو قسمونو کښې ويشي اولني هغه آوازونه چې اوږدۀ ادا کېږي دويم هغه چې لنډ ادا کېږي او دريم هغه مخلوط قسم دے چې هم اوږدۀ او هم لنډ ادا کېدے شي بې غږه ژبني عناصر هغه دي چې په يواځې ځان يو بشپړ غږ نۀ شي جوړولے او تر څو چې د غږيځ د ژبني عنصر سره يو ځاے نۀ شي نو تلفّظ کېدے نۀ شي۔([1])

دا مکتب د کلمې پېژندګلو داسې کوي چې کلمه د تړلې خبرې او بيان وړې برخې ته وئيلے شي او جمله يا خبره د کلمو هغه مجموعه ده چې يوه بشپړه معني او فکر ښکاره کوي ـ د دې مکتب ګرامر پوهانو د کلام اجزاء مورفولوجي په مفصّل ډول د وړاندې کولو هڅه کړېده ، او د دوي د آثارو د دقيقې مطالعې نه د دې هڅې اندازه په ښۀ توګه کېدے شي ، د سکندرې د ګرامري مکتب سرکښ ارستارح کلام او وينا په اتو برخو کښې ويشي ، نوم ، فعل ، فعلي صفت، غړي ، ضمير ، مخ وند ، قېد او ربط ( لرغونو روميانو د غړي په ځاے چې په لاطيني ژبه کښې نشته د ندا حَرف راوړے دے۔) ([2])

---

([1]) څېړنوال دوکتور سيدال شاه پولاد"دَ ژبپوهنې لنډ تاريخ " دَ زيري کالنۍ(افغانستان : دَ علومو اکاډيمي دَ ژبو او ادبياتو انسټيوټ،1357 ھ )ص :16

([2]) ايضًا ص:17

د سکندرېـ د مکتب تکړه ګرامر لیکونکے دیونیسیۍ تریکس (Dionysium thrax)دے،د دیونیسي تریکس ګرامر **Techne grammatike** د یورپي ژبو اولنے پاتې شوے اثر دے ، دا د یونانۍ ژبې ګرامر دے چې په **100** ق م کښې لیکلے شوے دے ، په دې اثر کښې په صوتیاتو او صرف بحث شوے دے ، چې پکښې د کلام اتۀ برخې هم شاملې دي ، او په وروستنو ګرامرونو ئې ډېر اثر غورځولے دے۔([1])

د دیونیسي دا ګرامر د یونانیانو د پاره د پانیني د ګرامر په شان د یو تعلیمي ګائیډ حېثیت لري ، په دې کښې د یونانۍ ژبې صرف او د کلام د اتو برخو نه علاوه په اوقافو او عروضو هم خبره شوې ده۔([2])

د یونیسي تریکس د سکندرېـ د ګرامري مکتب تکړه او سرکښ محقق دے، دے لیکي چې نوم د کلام هغه تعریف کېدونکے برخه ده چې په جسم اوشي باندې دلالت کوي ، دمثال په توګه جسم لکه کاڼے ، شي لکه تربیه یا روزنه او داسې نور ، او همدارنګې عمومي او خصوصي ښائي ،د مثال په توګه عمومي لکه انسان او خصوصي لکه سقراط ۔

د دیونیسي تریکس په ګرامري تحقیقاتو کښې د نوم د ډلې لاندې صفتونه هم راځي ، او په نتیجه کښې نوم او صفت د یوې ډلې غړي ښائي ۔ په دې څېړنه کښې دے ته هم اشاره کوي چې نومونه د حالت او عدد له مخې تغیّر کوي ۔ او دا تغیّر او بدلون قانوني او منطقي

([1] ) mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf(accessed February 8/2015).

([2] )http://en.wikipedia.org/wiki/history-of-linguistics(accessed December26/2014)

**دي ـ د فعل په برخه کښې دا نظريه وړاندې کوي چې :**

**فعل د کلام او وينا هغه بې حالته برخه ده چې د زمانې، شخص او عدد سره اړيکې لري او يو عمل وړاندې کوي ـ دے د خپلو تحقيقاتو په لړ کښې پينځهٔ فعلي وجهې ليکي لکه اخباري وجه امري وجه، تمنّائي وجه، تابع وجه او ناټاکلې او مبهمه وجه ښائي ، او په دې برخه کښې ګڼ مثالونه راوړي ، د فعل، د فاعل ، او مفعول بېل بېل ارتباطات چې د Vice يا Diathesis اصطلاح ورته ورکړې شوې ده، درې قسمه بيانوي لکه کار او فعاليت دردوالم او د کار او فعاليّت او درد والم ترمېنځه ګډ او مشترک ارتباط دغه شان دا نوموړے ګرامر پوه دريو عددونو واحد، برغ او جمعې ته اشاره کوي ، او همدغه شان د فعل په څېړنه کښې درې کسان ټاکي يو هغه چې وينا کوي ، بل هغه چې وينا اوري او دريم هغه چې د هغهٔ په باره کښې خبرې کېږي**

**دې زمانه هم په دريو برخو ويشي حال، ماضي او مستقبل او د ماضي زمانې څلور قسمونه په خپلو تحقيقاتو کښې بيانوي ، اوږده زمانه، لرې تېر مستقبل، لرې مطلقه ماضي او ناټاکلې او نامحدوده تېره زمانه د ديونيسي په خيال حال زمانه د اوږدې سره،لرې تېر مستقبل د لرې مطلقې ماضي سره ، او ناټاکلې لا تعيّنه ماضي د راتلونکو زمانې سره قرابت او نزدې والې لري۔(1)**

---

( 1) څېړنوال دوکتور سيدال شاه پولاد"دَ ژبپوهنې لنډ تاريخ " دَ زيري کالنۍ (افغانستان : دَ علومو اکاډيمي دَ ژبو او ادبياتو انسټيوټ،**1357** ه )ص: **17-18**

د ديونيسي مطابق د فعلي صفتونو په ډله کښې هغه کلمې راځي چې د فعل او نوم دواړو خصوصيتونو نه ئې په ځان کښې رانغښتي وي ، فعلي صفت **Participle** هغه کلمې ته وائي چې د فعل او نوم ګډ او مربوط خصوصيات او نښې پکښې وي ، د کلام د نورو برخو تعريف داسې کوي :

(۱)غړي د کلام هغه تعريف کېدونکے برخه ده چې د تعريف کېدونکو اسماؤ نه مخکښې يا وروستو راغلي وي او د جنس د عدد او حالت پته ترې هم لګي ـ

(۲)ضمير هغه کلمې ته وائي چې د نوم په ځاے راغلے وي او په يو ټاکلي شخص دلالت کوي۔

(۳) لاحقه يا سابقه د کلام هغه برخه ده چې د کلمې يا جملې په جوړښت کښې د کلام د ټولو اجزاؤ نه مخکښې او په قِسم قِسم نحوي يا صرفي جوړښتنو کښې څرګندونه کوي۔

(٤) قيد د کلام هغه جُز دے چې نۀ تعريف کېږي د کلام دا برخه د فعل او يا په هغې باندې د اضافه شوي ګرامري عنصر په باب خبرې کوي۔

(٥)ربط هغه کلمه ده چې فکر او معني سره يو ځاے کوي، او د معناؤ او فکرونو ترمنځ خالي ځايونو ته اشاره کوي۔([1])

د سکندرې د مکتب بل نوموړے سکالر اپولونئيس ډسکولس دے۔

---

([1]) څېړنوال دوکتور سيدال شاه پولاد"دَ ژبپوهنې لنډ تاريخ " دَ زيري کالنۍ(افغانستان : دَ علومو اکاډيمي دَ ژبو او ادبياتو انسټيوټ،**1357** هـ )ص :**19**

د ديونيسي نه دوه پيړۍ وروستو اپولونئيس ډسکولس (Appolonius Dyscolus)(110 ء ـــــ175ء)په يوناني نحوه باندې کتاب اوليکلو۔([1])

اپولونئيس په نحو، معنياتو، صَرف، عروضو، املا او د لهجو په مطالعه د ديرشونه سېوا رسالې ليکلې وې۔ او د خوش قسمتۍ نه په هغې کښې څلور محفوظې پاتې شوي دي ،په دې کښې يو کتاب په نحو او باقې درې مونوګراف په ضميرونو (Pronouns)،adverbsاو ربط (Connectives )باندې مشتملې دي۔([2])

د ديونيسي تريکس او ايولونئيس ډسکولس ليکونه په ليکلې يوناني ژبه باندې اډانه لري۔ او دوي ګرامري عنصرونه په مختلفو ډلو کښې ويشي ۔ او داسې تشريحي اصولو نه او تعريفونه ورته ټاکي چې تر اوسه پورې معيارې ګڼلے شي ۔ په هغو کښې د څۀ ذکر لاندې کولے شي ۔

(۱)د کلام د برخو تجزيه او پېژندګلو:

تريکس لفظونه د ژبني اکائيانو په توګه په اتو برخو کښې اوويشل اسمونه، فعلونه ، فعلي صفت ، آرټيکل ، ضميرونه ، حروف جارadverbsاوConjunctionsاو وړاندې دا په infleeted (هغه لفظونه چې بدلون پکښې راځي لکه اسمونه او فعلونه )او

([1] )mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).

([2] )http://en.wikipedia.org/wiki/history-of-linguistics (accessed December26/2014)

**uninfleeted**(هغه لفظونه چې بدلون سره نۀ مخ کېږي لکه آرټیکل او حروف جار) دیونیسي تریکس د اسم د حالت او**gender** او د فعل زماني هم بیانوي.

(۲) جمله د بیان یوه لویه اکائي ده او پېژندګلوئې داسې کوي ''د یو مکمل سوچ بیان '' په جملو کښې اسمي ( نوم یا اسم سره تړلے) او فعلي (فعل سره تړلے) اجزاء ډېر بنیادي او د اهمیّت وړ دي ـ

اپولینئیس د یوناني جملې جوړښت د اسم او فعل په خپلو کښې په تعلق اډانوي ، او د باقي لفظونو د دې دؤوعنصرو سره تعلق ښائي ، د اسم او فعل جزونو د کار تجزیه شوې ده چې په فاعل او باقي جمله **Predicate**کښې فرق پیدا کړے شي ، اپولونئیس د نورو اجزاؤ ساخت هم بیانوي ـ

(۳)لرغوني یوناني غړ پوهان د یونانې ژبې حروف تهجّي د غریځ اهمیّت پېژندګلو کوي او هغه امتیازي غړونه هم ښلوي چې د وینا بنیادي عنصرونه ګڼلے شي ـ د هغوي مطابق یو توري درې اړخونه لري د دې غړئیځ اهمیّت لکه/**a**/ د دے لیکلے شکل لکه **a**او د دې نوم لکه الفا، دیونیسي تریکس په یونانۍ ژبه کښې اهم **Consonants**هم اوپېژندل ـ د هغۀ نه مخکښې رواقینو د یوناني سلیبل په ساخت او غړ هم خبره کړیده ـ(1)

(1) Pushpinder syal, D.V.Jindal, An Introduction to Linguistics, (Delhi: PHI Learning Private Limited, 2013)P.41-42.

سیکټس ایمپریکس (**Sextus Empiricus**) په مذکر ، مؤنث او **neuter** کښې فرق اوکړو ، هغه وخت دا زښت ویش وو ولې دا خبره نوټ کول پکار دي چې په شیانو کښې د انساني**gender** په بنیاد ویش یوه غوره طریقه نۀ ده۔ ځکه چې هغه اسمونه چې په مؤنث ټولګي کښې راځي ضروري نۀ ده چې ښځینه خصوصیات دې لري ، لکه د مثال په توګه د جنګ د پاره**helmet** لفظ مؤنث دے۔ ([1])

## <u>رومن دور:(**100** ق م نه **500**ء )</u>

ځنګه چې د یونانیانو څېړنې د یونانۍ ژبې نه چاپېره چورلي دغه شان د رومیانو ژبنۍ څېړنې په لاطینۍ ژبه اډانه لري ۔ځکه چې لاطیني ژبه هغه وخت د یوکلاسیک ژبې حېثیت لرلو ۔ لاطیني ژبه په ډېرو طریقو د سنسکرت ژبې سره لګي ، او د هغه وخت د ژبپوهانو توجّه ئې ځان طرفته را اوګرځوله ۔ د لاطینۍ ژبې ګرائمر د لاطینۍ ژبې په کلاسیکي متنونو اډانه لري رومني ژبپوهانو د یوناني ژبپوهانو په طرز خپلې څېړنې جاري اوساتلې او د دې د توجه بنیادي مرکز او په خصوصي توګه د کلام اجزاء او د اسم او فعل حالتونه وو ، ولې نحو ته دوي څۀ خاص توجّه نه وه کړې۔([2])

په رومن کښې مشهور ژبپوهان مارکس ټیرینش ویرو**Marcus Tercntius Varro (116Bc---127Bc)** وودۀ د

---

([1]) http://www.ttt.org/linglinlcr/events.html.(access January 1st ,2015).
([2]) mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).

لاطینۍ یو ګرامر لیکلے وو چې نوم ئې دي لینګوالاتینا( **De Langua Latina**)وو۔([1])

ویرو د ژبې ایمتالوجیکل او صرفي مطالعه اوکړه، او د انالوجسټ او اناملسټ په اختلاف باندې ئې بحث اوکړو، د ویرو مطابق د لفظونو په جوړښت کښې څۀ باقاعدګي هم شته ولې بدلون هم ممکن دے ۔ او دے خیال وروستو د لانګ**langue** اوپارول **Parole**تصوّر ته ترقي ورکړه۔

په څلورمه عیسوي پېړۍ کښې ایلئس ډونیټس **Aelius Donatus**د لاطینۍ ژبې ګرامر د **Ars Grammatica**په نوم اولیکلو۔ د دې وړوکي **Version**د وینا یا کلام اتوبرخو سره تعلق لري، دا کتاب په وسطي زمانه کښې د سکولونو په نصاب کښې شامل وو او کله چې په پینځلسمه پېړۍ عیسوي کښې چاپه خانې جوړې شوې نو دا کتاب د ټولو نه اول چاپ شو۔ ([2])

د دې دور بل نومړے ګرامر پوهـ پرسکن**Priscan** دے چې د شپږمې پېړۍ عیسوي سره تعلق لري ۔ د لاطیني ګرامرپوهانو د کارونو خلاصه لاندې ورکولے شي ۔

(۱)د لفظونو د مختلفو ډلو تعریفونه د کلاسیکي متنونو نه د مثالونو سره ورکړې شوي وو۔ اود **interjection** یوې بېلې ډلې په توګه شوے

---

([1] ) Tariq Rahman, Linguistics for Beginners Basic Conepts,(Karachi :oxford university press, 2010) P:13.

([2] ))http://en.wikipedia.org/wiki/history-of-linguistics (accessed December26/2014)

وو.د یوناني ګرامرپوه دیونیسي تریکس په شان دا تعریفونه په معنوي یا د کوالټۍ په بنیادونو اډانه لري ، د مثال په توګه یو اسم یو څیز یا مفعول ته اشاره کوي او فعل عمل ته اشاره کوي.

(۲)د بنیادي حالتونو صرفي بیان ئې اوکړو ، د اسمونو په حالت کښې **nominative**د اسم واحد حالت دے کوم چې بنیاد دے . او د فعلونو په حالت کښې دا **first person**ضمیر دے چې واحد حاضر او دے کوم چې بنیاد دے په فعل کښې **aspcet**هم بیان شویدے او په معروف او مجهول ، او فعل لازم او فعل متعدي هم خبره شویده.

(۳)د یوناني ګرامر په شان د جملې اهم قسمونه ئې بیان کړي دي او په **Subordinate clauses**کښې په **relative pronoun**خصوصي خبره کړیده ، د پرسکن په لاطینۍ ګرامر په زرګونو مخطوطې په ژبه د یوناني او رومني سکالرز د وحدت ثبوت ورکوي.([1])

**<u>چائینا: (3 ق م نه 100 ق م پورې)</u>**

د هندي روایت په شان چیني فلالوجي **xiaoxue**بنیادي مطالعه ده چې د کلاسیک د پوهېدو د پاره ځُن دُور (3 ق م)کښې شروع شوه ،**xiaoxue** په دریو څانګو کښې ویش ده .

**(exegisis) Xungu** (۱)

**(scrpt analysis) wenzi**(۲)

---

([1] )Pushpinder syal and D.V Jindal, An Introduction to Linguistics, (Delhi: PHI Learning Pvt Limited 2013)P:42.

**(study of sounds) yinyan**(۳)

**Xiaoxue** په اولسمه پېړۍ کښې خپل زرّين دور ته را اورسېده په دريمه پېړۍ قبل مسيح کښې **erya** د هندۍ **Nighantu** د مقابلې په چيني ژبه کښې وړومبنے ژبنے کار دے ۔

په هُن دور کښې دوه نور مهم کارونه د **Fangyan** د چائيني لهجو باندې کار او د **Shiming** په ايتمالوجي باندې مشتمل دے ۔

د لرغوني يونان په شان د چين مفکران هم د نومونو او د هغې د حقيقتونو په حقله څېړنې کوي ۔

کنفيوشس (**Confucius**)(شپږمه پېړۍ قبل مسيح ) په يو اسم کښې د اخلاقو په مضمر کېدو زور ورکوي چې ورته **Zhengming** وئيلے شي ۔ دے وائي چې اخلاقي پستي په کردار کښې د موروثي اخلاقو په رويّو کښې د څرګندولو د ناکامۍ په وجه وي۔ دے وائي چې يو باچا کښې به په حېث د يو باچا بنهٔ باچائي وي ، دغه شان وزير کښې وزيري ، پلار کښې پلارتوب او په زوي کښې زوي توب ، که چرې نومونه صحيح نهٔ وي نو ژبه به د څيزونو د صداقت مطابق نهٔ وي وروستو **Mohists** يا هغه ټولګي چې **School of Names** يا **Ming Jia (479-221** ق م) به ئې ورته وئيل ، د دوي دا خيال دے چې **ming** يعنې نوم د **shi**(حقيقت ) دريو قسمونو ته اشاره کوي :

(۱) **horse) type universal)** اس

(۲) **John) individual)** جان

(۳) **unrestricted (thing)**څيز

فلسفي روايت ته **Coundra**وئيلے شي ، چې د **sophists**سره مشابهت لري۔ د مثال په توګه چې کله **Gongsun Longzi**(4 ق م ) دا سوال پورته کړو چې په دې بيان (**x is y**) کښې**x** او **y**يو شان دي که**x** د**y**يو ذيلي کلاس دے**Xunzi** (3ق م) د **Zhenminy**اُصول بيا مخې ته کړو ، خو ولې دۀ د رويّې په ځاے د ژبې په صحيح کولو زيات زور واچوؤ ، په چين کښې د غږ پوهنې مطالعه ډېره روستو شروع شوه ، په چين کښې د بدهِ ازم د خوريدو نه پس پوهان د هندي غږ پوهنې روايت نه زيات متاثره وو .

د **rime**لغت يو داسې لغت دے چې د **tone** او **rime**په لحاظ ترتيب شوے وو ، او چې د لفظونو تلفّظ پکښې د **fanqie**يعني **Spellings**نه ښودلے شوے دے ، روستو په**Fanqie** د پوهېدو د پاره**Rime Tables** هم جوړ شول .

د **Qing Dynesty**په دوران کښې **Duanyucai**او **wang Niansun**په فلالو جيکل څېړنو کښې نومورې نومونه وو ، د دې دور آخرنے نومورے فلالوجسټ**Zhang Binglin** وو چا چې د جديدې چيني ژبپوهنې بنياد اېښودے وو .

مغربي تقابلي طريقه چين ته **Bernrrd Karl gren**راوړه ، دا اولنے سکالر وو چې په زړه چينۍ ژبه او د وسطي دور چيني ژبه ئې د لاطينۍ حروف تهجّي په مدد دوباره وضع کړه .

د چینۍ ژبې په اهمو ژبپوهانو کښې **y.R.Chao Li Fanggui ,** **Luo , Changpei**او **Wang Li**دے۔ د چیني ژبې لرغونې ژبپوهانو په نحو باندې ډېره توجّه کړې وه ، خو ولې وړومبنے جدید چیني ګرامر **Ma Jianzhong** د نولسمې پیړۍ عیسوي په آخر کښې لیکلے دے ۔ د دۀ ګرامر د لاطینۍ ژبې په نمونه اډانۀ لري۔ ([1])

<u>عرب دور (**5**ء تا **8**ء)</u>

د اسلام د خلافت په دور **8**ء ۔ **12**ء پیړیو کښې عربي ژبپوهنو او ژبنیو تحقیقاتو دومره پرمختګ اوکړو چې ډېر محققین ئې په حېرانتیا کښې واچول۔ په عربو کښې هم د ژبنیو څېړنو وجوهات د لرغونو هندي ژبپوهانو په شان وو ځکه چې د محاورې او مذهبي مقدسې ژبې ترمېنځه ورځ تر ورځه توپیرونه راپېدا کړل ، ځکه چې په اتمه پیړۍ کښې د اسلام د خورېدو نه پس خلقو عربي د یو **Langua franca**په توګه زده کوله په دې وجه ډېر ګرامرونه د عجمي خلقو له اړخه اولیکلے شول ، د عربي ژبې د ګڼو لهجو او غېر عربو ګډوډو تاثیرونو د وجې عرب ژبپوهان په دې هڅه کښې شول چې خپله کلاسیک ژبه د دې ګډوډو تاثراتو نه پاکه اوساتي ، دغه شان عربي ژبپوهنه د عملي ضرورت په جواب کښې را اوزیږېده ۔

عربي ژبه د خپلو دقیقو فونیټکي مورفولوجیکي او لغوي تحقیقاتو له مخې د نورو ژبو د ژبنیو پلټنو څخه یو څرګند امتیاز لري او

---

([1] )http://en.wikipedia.org/wiki/history-of-linguistics (accessed December26/2014)

په دې ساحه کښې پکښې ډېرې ژورې او کټورې پلټنې سرته رسيدلي دي ، خو بيا هم عربي ژبپوهنه د خپل پرمختګ سره سره بيا هم د يوناني او هندي ، ګرامرونو د اغيز لاندې وه ، او د عربو ژبنو څېړنو په لړ کښې د نومورړو نظامونو کردار او تاثير جوت ښکاري ، عربۍ ژبې د هندۍ ژبپوهنې نه د فونيټکس او د يوناني ژبپوهنې نه ګرامر او منطق کښې پوره استفاده کړے ده ـ

په عربو کښې کوفه او بصره د ژبنيو تحقيقاتو مرکزونه بللے کېدل ، او په دې دوؤ ښارونو کښې دوه بېل او ځانګړې ګرامري مکتبونه وو ، چې ژبپوهنې څېړنې ئې کولې ، الکتاب د بصرې د ګرامري مکتب يو مهم او غوره اثر دے ، چې د عربۍ ژبو ګرامرې په پوره او بشپړ ډول وړاندې کوي ، الکتاب د اوږدو او مفصّلو بحثونو په ترڅ کښې په هر اړخيز او بشپړ ډول ټول ممکنه ګرامري جزئيات او باريکۍ رانغاړي ، او د هغې د ثبوت د پاره د قرآن مجيد او لرغونو عربي شعرونو مثالونه راوړي ، په الکتاب کښې د زرونه زيات شعرونه د مثالونو په ډول راغلي دي ، الکتاب د کلاسيکي عربي ژبې د ګرامري نظام يو منظم اثر دے ، چې د خپل تحقيق قوّت له مخې د کلاسيکي عربۍ د مطالعې او زده کړې د عملي ضرورت د پاره غوره او کټوره لار ښئ او په عربي ګرائمر څېړنې کولو د پاره يو غني او معتبر مآخذ دےـ(1)

(1) څېړنوال دوکتور سيدال شاه پولاد ، "دَ ژبپوهنې لنډ تاريخ" مشموله دَ زيري کالنۍ (افغانستان: دَ علومو دَ اکاډيمي دَ ژبو او ادبياتو انسټيوټ ، 1357 هـ) ص:26-27 ـ

د الکتاب د مؤلف د مرګ نه پس د الکتاب اولنۍ اصلاح او سمونه الاحفش سرته رسولے ده ـ او ورپسې د نومورې اثر نه د استفادې په صورت کښې د (المتسیز ، المبرد ، العنبري د زمخشري نه او داسې نور ) تالیفات اضافي او بشپړه درسي مواد او کتابونه پرله پسې اولیکلے شول ، دې ځاے کښې ضروري معلومیږي چې د عربي ژبپوهنې د لرغونې یوناني او رومي ژبپوهنې سره توپیرهم اوښائیلے شي ، او هغه دا چې عربو د ''توري'' او ''غږ'' ترمېنځه دقیق، واضح او ډېر روښانه بېلتون څرګند کړے دے او هغه ئې په منظّم او مرتّب ډول په خپلو لیکنو کښې وړاندې کړے دے ، او همدارنګې د عربي ګرامر پوهانو د غږ طبعي بڼه او د غږ خطي (لیکلي بڼه ) باندې ژور تحقیقات اوکړل ، او د غږ او د غږ د علامت یا **Symbol** په برخه کښې د لرغونو یونانیانو او رومیانو نه هم وړاندې لاړل ، او دا ئې اوښودل چې غږ او د غږ لیکلي شکل هېڅکله یو بل سره نۀ شي انډولیدے ، لیک د غږ ټول اړخونه د ځان سره نۀ شي رانغاړلے او په کلي توګه ئې بې فائدې کولے نۀ شي ، په دې وجه عربي ژبپوهنه د آوازونو او غږونو تشریح په فزیولوجیکي بنیادونه بِنا کوي ، او د غږونو په تعیّن اوټاکنه کښې د فیزیولوجیک اصول په څنګ کښې اکاؤسټک اُصول هم نۀ هېروي ، او غږونه په دې ډول ویشي

(۱)غږئیځ او بې غږه آوازونه

(۲)قوي او سست آوازونه

(۳)تړلي او خلاص آوازونه

(٤)جګ او ټیټ آوازونه.([1])

د''الکتاب'' مؤلف د عربۍ ژبې د آوازونو د ایجاد او جوړښت ځایونه شپاړس لیکي او د دې سره د ارتباط په صورت کښې د عربۍ ژبې د آوازونو په منظم ډول طبقه بندي کوي ، د کلام او وینا د بېلو بېلو برخو په باره کښې عربي ژبپوهان په ارسطو پسې ځي او وینا په دریو برخو کښې ویشي ، فعل **verb** ،نوم **Noun**او ادات **Particles** د دې نه علاوه عربي ژبپوهانو په ځانګړې وضاحت سره وښودله چې په عربۍ ژبه کښې داسې ریښه هم شته چې د دریو بې غږه آوازونو څخه جوړېږي لکه (ک + ت+ ب=کتب) او دا پیښه ئې د دې ګروپ ژبو یو خاص خاصیّت اوبالۀ ، د دې ډلې ګرامر پوهانو د عربۍ ژبې په ریښه کښې د واولونو **Aftixation**او **inflexion**ته پوره پاملرنه لرله او په ریښه کښې ئې د واولونو تعریف تغیّر او اوښتي په واردو او مناسبو مثالونو باندې توضیح کړي دي ،د عربو ژبپوهانو په عربي ژبه کښې د ادغام او مشابهت **analogy**مسئله ډېره ژوره څېړلې او د دې پېښې رول ئې د غږئیځ اساس له مخې په ګوته کړي دي.([2])

([1]) څېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد ، ''دَ ژبپوهنې لنډ تاریخ '' مشموله دَ زیري کالنۍ (افغانستان: دَ علومو دَ اکاډیمي دَ ژبو او ادبیاتو انستیټوټ ، **1357** ه) ص :**28-29** .

([2]) ایضًا ، ص: **29** .

عربي ژبپوهانو نۀ صرف عربي ژبه بلکې ځينې نورې ژبې لکه ترکي ، منګوليائي ، فارسي او نورې ژبې هم د خپلې څېړنې د لاندې راوستي دي ـ

د عربي ژبپوهانو څېړنې صرف د فونيټکس او ګرامري مسئلو پورې محدودې نۀ دي بلکې دوي د لغت پېژندنې او قاموس ليکلو کوښښونه هم کړي دي.

عربي ژبپوهانو د عربۍ ژبې ډېر زيات لغات راټول کړي دي ، او قاموسونه ئې ترې جوړ کړي دي ، او د عربۍ ژبې شتمنې او غنائي ئې نړۍ ته ښودلې ده ، عربو ژبپوهانو د زمري د کلمې پنځه سوه او د اوښ د کلمې يوزر او داسې نور **Synonymous**هم وړاندې کړي دي

د قاموس اصطلاح په اولني ځل د الفېروز آبادي له خوا وضع شوه او د (قاموس) په نوم ئې يو غټ اثر مخې ته کړو ـ

بل مشهور قاموس د "الجوهري"د "صحاح" په نوم شهرت لري چې څلوېښت زره لغتونه لري ، يو بل قاموس د "الهروي" دے چې په لسو ټوکو کښې ليکلے شوے دے ، دې قاموسونو کښې ټول مواد د الفبا په ترتيب ورکړے شوے دي ـ

د عربي ژبپوهنې په تاريخ کښې د محمد الکاشغري ډېر ټوکيزه اثر چې د ترکي ژبو د ديوان په نوم شهرت لري ـ په**74-1073** ء کښې ليکلے شوے وو، تر ډېره وخت ورک وو او بيا د علي امير په کتابتون کښې پيدا شو ـ او په **47-1912**ء کښې په استنبول کښې سمدستي چاپ شو ، د

الکاشغري دا اثر یوه ربښتینې ترکي انسائیکلوپیډیا ده ، په عربۍ کښې د ګرائمر لیکلو محرک خاص کر د قرآن کریم د ژبې خوندي کول وو۔ او د اتمې پېړۍ نه پس په رسمي عربي ژبه کښې هېڅ بدلون قابل قبول نۀ وو ، په اتمه او نهمه پېړۍ کښې په عربي ژبه کښې بدلون ته خنډ اچول د عربي ګرامري مطالعو اصل محرک وو ۔ او ابوالاسود او دُعالي (وفات **688**ء)د دې ګرامري روایت سرخېل وو، او د دې ګرامري روایت ابتداء د الخلیل (وفات **791**ء)او سیبوائي (وفات**804**ء )په لیکونو کښې کېږي۔(1)

په حقیقت کښې د عربۍ ژبې د ژبپوهنې ابتداء د ابوالاسود ادعالي(**608-688**ء)نه کېږي۔(2)

سیبوائې د عربۍ ژبې یو مشهور ژبپوهان وو، دۀ په **760**ء کښې خپل مشهور او یادګاري کتاب الکتاب في النحو اولیکلو، دې کتاب کښې دۀ فونیټکس او فونولوجي خپلو کښې بېل کړل۔(3)

سیبوائي د خلیل شاګردوو، دے د عربۍ ژبې د لغت سازۍ پلار ګڼلے شي او د عربي ژبې د ګرائمر نومورړے پوهان بللے شي ابن خالقان وائي چې دۀ د ژبپوهنې په سائنس کښې د اولنو او روستنو ټولو خلقو نه نمبر وورړے وو۔ د دۀ د کتاب " الکتاب في النحو" ثاني نۀ وو، نومورړي فلالوجسټ او ګرامر پوه الجاهز وائي چې د سیبوائي د کتاب په شان کتاب په

(1 )http://www.blackweel refrence.com/subscriber/uid/=532/to C node/2id=g9781405102520…(accessed February 8,2016).
(2 )mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).
(3 )http://en.wikipedia.org/wiki/history-of-linguistics (accessed December26/2014)

عربي ګريمر کښې نۀ دے ليکلے شوے ، او دا چې وروستني خومره هم خلق چې کامياب دي ټولو د سيبوائي د کتاب نه نقل کړے دے۔(1)

د عبرانۍ ژبې د ژبپوهنې روايت ټول په ټوله د عربۍ ژبپوهنې نه مستعار دے۔ د عبرانۍ ليکوالانو د عربۍ ژبې په تاثر کښې د صرف د تجزيې نظام وضع کړو، د 900ء نه واخله تر 1550ء پورې يو نوي (91)ليکوالانو څۀ 145 يو سل پينځۀ څلوېښت کتابونه په ګرامر ليکلې شوي وو۔(2)

سعديه بن جوزف الفيّومي (882ء 942ء )د عبرانۍ ژبې اولنے ګرامر او لغت اوليکلو۔(3)

دغه شان د Cordovaابن جاناJudes-Arabic په کښې کتاب ال لُوما (Kitab al luma) ليکلے وو چې د عبرانۍ ژبې اولنۍ مکمله تشريح ګڼلے شي۔(4)

د عبرانۍ ژبپوهنې روايت په ديارلسمه پېړۍ کښې د داؤد قيمي (1160ء 1235ء)د کارونو د وجې عروج ته اورسېدو ، او د دۀ کارونو روستو په يورپي ژبپوهنه ډېر اثر پرې باسلو۔(5)

---

(1 )www.arabiclegends.Com/Sibawaih.html(acceseed February 10,2015.
(2 )http://www.blackweel refrence.com/subscriber/uid/=532/to C node/2id=g9781405102520…(accessed February 8,2016).
(3 )mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).
(4 )http://www.blackweel refrence.com/subscriber/uid/=532/to C node/2id=g9781405102520…(accessed February 8,2016).
(5 )mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).

د داؤد قیمي د ګرامر نوم سیفر میخلول وو چې ښکاره خصوصیات ئې د فعلي حالتونو تجزیې سره سره د سابقو او لاحقو او رینښو یوسیټ هم وو۔ دې قسمه تجزیو په یورپي ژبپوهنه هم اثر پرې باسلو۔([1])

سینټ آئي سي ډور (**650**ء ـ **636**ء) په اوؤمه پیړۍ کښې په ایتمالوجي او لغت پوهنه باندې کار اوکړو۔([2])

د شپږمې پیړۍ په شروع د لاطینۍ ژبې د ټولو نه مفصّل کتاب "د ګرامر مقولې" په نامه د پریسکیانوس له خوا په شل جلده کښې چاپ شو، چې دوه جلده ئې د نحوي او اتلس جلده ئې د ګرامر په اړه وو، دا کتاب ترمینځنو پیړیو پورې تر ټولو معتبر کتاب وو۔([3])

## Middle Ages (**10**ء ـــ **14**ء)

په دې دوره کښې د ژبپوهنې زیات ترکار د لاطینۍ او یونانۍ ژبې په ګرامر کښې اوشو۔

لاطینۍ ژبه د زدکړې مرکز اوګرځېدو۔ اود مسیحي پادریانو د ادب سره د تړون او د رومن چرچ د انتظامیې د وجې د دې اتهارټۍ نوره هم سېوا

---

([1]) http://www.blackweel refrence.com/subscriber/uid/=532/to C node/2id=g9781405102520…(accessed February 8,2016).

([2]) http://www.ttt.org/linglinlcr/events.html.(access January 1st ,2015).

([3]) پوهیالي محمود مرهون، دَ ژبپوهنې بنسټونه ، (افغانستان: کائنات خېړنیز او دَ ژباړې مرکز، **1394** ھ) ص:**26** ۔

شوه ، د دې وجې د لاطينۍ ژبې اهميّت نور هم سېواشو، او د دې دورې په وړومبنو کلونو کښې صرف د لاطينۍ ژبې ګرامرونه اوليکلے شول۔([1])

د دې وجوهاتو د وجې لاطيني ژبې د خپل عملي استعمال په زور ځان يو معنوي هستۍ ته اورسؤو ، او د دې نه د لاطينۍ ژبې د ګرامر عمومي هدف او مرام په ښهٔ ډول څرګنديږي او هغه دا چې په دې دور کښې ګرائمر يوازې تعريف کونکے او تشريح کونکے نه بلکې حکم کونکے دستور ورکونکے درجه لرله ، د ګرامر دا خاصيّت د اولنو پېړو د ګرائمر د تعريفونو نه ښهٔ څرګنده ده چې ګرامر د سمووئيلو او سمو ليکلو فن دے ۔"

په دې دور کښې لاطيني قاموسونه هم د ګرامري معيارونو او اُصولونو په بنياد ليکلے کېدل او د هغې وجه دا وه چې لاطيني کلتور اولاطيني ژبې په منځنو پېړو کښې ډېر اوچت مقام لرلو۔ دا ژبه د علم ژبه وه ځکه ئې د ژبنيو مطالعاتو د پاره زده کړه حتمي وه ۔

د ژبپوهنې په تاريخ کښې دا دوره د دولسمې پيړۍ نه واخله تر دې دور آخري پورې ډېر ارزښت لري ۔ دا د ژبپوهنې په فلسفي توګه د مطالعې دوره وه ، او دې کښې يوشمير ارزښت ناکې ژبپوهنې څېړنې اوشولې ، په دې دور کښې د انګلستان الفرک (**955**ء **ـــ 1020**ء) د

---

([1]) R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman Publishers, 1997)P:82.

انګرېزۍ ژبې یو تعارفي ګرامر اولیکلو دۀ په لاطینۍ او زوړ انګلش په ګرامري خصوصیاتو کښې ډېر فرقونه په ګوته کړل۔([1])

هم په دې دور کښې په دولسمه پیړۍ کښې وړومبنۍ ګرامري رساله د **Iceland**یو نامعلوم لیکوال اولیکله ، په دې کښې د آئیس لېنډ په لاطینۍ طرز لیکونو کښې د **spelling**د غلطو د اصلاح کولو کوښښ شوے وو۔([2])

دې رساله کښې د آئیس لېنډ د غړپوهنې په مختصره توګه بیان شوے وو۔ دا رساله تر **1818**ء پورې چاپ نۀ وه ، خو اتۀ سوه کاله پس دې رسالې د شلمې پېړۍ په فونولوجۍ کښې ډېر پرمختګ راوستو۔

په دولسمه پیړۍ کښې د ګرامر د آفاقي خصوصیّت خبره هم رامخښې ته شوه۔ اودے له وروستو راجربیکن **Roger Bacon**(**1214**ء ـــ **1294** ء) غوندې سکالرانو ترقي ورکړه ، بیکن اووے چې ګرامر په بنیادي توګه په ټولو ژبو کښې یو شان دے او فرقونه ډېر سطحي دي۔([3])

د جرمني تهامس اِرفرټ د اسم په **nominative case** او په اسمِ صفت کښې فرق بیان کړو.

سینټ جیروم د بائیبل په لاطینۍ ژبه کښې ترجمه اوکړه ، او هغه د لفظ د پاره د لفظ د ترجمې په ځائے د مفهوم د پاره مفهوم قائل وو.

---

([1] )R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman Publishers, 1997)P:85

([2] )mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).

([3] )ibid

د Dante Alighieri(1265 ء ـــ1321 ء)د اطالوي ژبې د ډېرو لهجو د ګڼو اړخونو نه يوه باقاعده فلسفيانه ژبه جوړه کړه William of okhamداخبره په ګوته کړه چې نومونه آفاقي دي۔اود ژبې نه بهر هېڅ وجود نۀ لري ۔

Peter Heliasهم د دې دور يو نومورے ګرامر پوه وو۔([1])

د دوي نه علاوه د انګلستان Robert Grossetests (1170ء ـــ1253ء)، او د اټلي Thomas Aquinas (1225ء1274ء) او Duns Scotus(1266ء ـــ1308ء)،هم د دې دور ژبپوهان وو۔

## نشأة ثانيه دور The Renisassance Period

**(1500ء ـــــ 1800ء)**

د پينځلسمې پېړۍ نه کالونائيزيشن يورپ د نړۍ د ډېرو ژبو سره اشنا کړو ، لکه افريقه، امريکه، ايشيا او بحرالکاهل ۔ په دې کښې د انتظامېي خلقو ، سيّاحانو او عيسائي مشنريانو ډېر لوے کردار ادا کړو۔ سکالرانو د ډېرو ژبو د ټکو لفظونه او لسټونه راټول کړل ۔اود هغې ئې يو بل سره موازنه اوکړه او داسې د ژبو د تقابلي مطالعې ابتدا اوشوه ۔ يورپ په منځنو پېړو کښې د لاطينۍ ژبې د روزنې او پالنې زانګو وه ۔خو کله چې يورپ کښې منځنۍ پېړۍ ختميږي او د نشاة ثانيه دور غزونې کوي نو لاطينۍ سره سره د يونانۍ ژبې سره مينه هم خېرن کار خېړنو ته راپاروي ۔ پوهان او خېړن کاران هڅه کوي چې د

([1] )http://www.ttt.org/linglinks/events.html.(access January 1st ,2015).

یونانۍ ژبې په وسیله سره حقیقتونه را اوسپړي ـ او د دې لارې نه په علومو کښې ورننوځي ، د نشأة ثانیه د دورې په شروع کېدو سره د کلاسیکې ادبي آثارو فلالوجیکل مطالعه او څېړنه د سکالیګر رابرټ او ستیفانوس په کوښښونو شروع کېږي دے پوهانو د کلاسیکل ادیبانو په فلالوجیکل څېړنه کښې ډېر زیار او کوښښ کړے دےـ او ارزښتناک آثار ئې د څېړن کارانو د پاره پرېښودي دي ـ په دې دوره کښې د یورپ پوهانو د **Theological**تمائلاتو له مخې د سامي ژبو څېړنه هم اوکړه لکه لرغونې یهودي ژبه د څېړنې لاندې راغله او په هغې په ګڼ اړخیزې ډول څېړنې اوشوې چې پکښې د **Joseph Justus Scaligar**څېړنې د قدر وړ دي څۀ مودو وروستو "ریحلین" نومې یوې یورپې پوهانې یورپي پوهان د سامي ژبپوهنې **Theoritical**هلو ځلو ته متوجه کړلـ([1])

په دې کښې شک نشته چې یورپي پوهان د سامي ژبو د مطالعاتو او څېړنو د تاثیر لاندې ووـ

جغرافیائي انکشافاتو، استعماري قوتونو نوؤ اولسونو ته د عیسائیت تبلیغونو او د چاپ د وسیلو د اختراع سره یورپي پوهان ډېر په مخه لاړل ـ ژبپوهانوله هم دا موقع په لاس ورغله چې په پوره ډول ارزښت ناک آثار راتلونکو نسلونو ته په میراث کښې پرېږدي ـهمدا

---

( [1]) څېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد، "دَ ژبپوهنې لنډ تاریخ " مشموله دَ زیري کالنۍ (افغانستان: دَ علومو اکاډیمي دَ ژبو او ادبیاتو انستیوټ،**1357** هـ ) ص:**38**

سبب دے چې شپاړسمه ، اولسمه ، او اتلسمه پېړۍ د ژبنيو موادو د ذخيرې او پانګې دوره بللے کېږي ، په دې دوره کښې د بائيبل په مختلفو ژبو کښې ترجمې هم اوشوې۔

**Manuel Chrysoloras** په مغربي يورپ کښې د يونانۍ ژبې اولنے د ګرامر کتاب اوليکلو۔([1])

مګسيراولنے سړے وو چې د "څلوېښتو ژبو څخه د نمونې" په نامه کتاب ئې چاپ کړو۔ او د هغه نه وروستو سلګونه نور کتابونه د ژبې او ژبپوهنې په اړه اوليکلې شول په دې توګه په اولسمه پېړۍ کښې ګوشار په ژبپوهنه کښې د ريښې پېژندنې په اړه کار اوکړو۔ ([2])

په کال **1635**ء کښې د **Academie Francaises** په نوم يوه اکيډمي پرانستے شوه ، چې پکښې په فرانسيسي ژبه کارونه اوشول دغه شان په کال **1660**ء کښې د برټش رائل سوسايټۍ **British Royal Society** په نامه هم يوه سوسائيټي جوړه شوه چې په ژبپوهنه ئې ډېر کار اوکړو۔

د **Cardinal Ricci** رسالې په مغربي او چيني ژبه کښې توپيرونو باندې کار اوکړو ، لکه د صرف عدم موجودګي ، غږ او د

---

([1] )http://www.ttt.org/linglinks/events.html.(access January 1st ,2015).

( [2])پوهيالي محمود مرهون، دَ ژبپوهنې بنسټونه (افغانستان: کائنات څېړنيز او دَ ژباړې مرکز، **1394** ه) ص:**26**

چینی ژبې د لیک نظام فرانسس یونې تورات او انجیل په ګوتي ژبه کښې په کال **1655**ء کښې ترجمه کړل ـ ([1])

په اولسمه پېړۍ کښې په فرانس کښې یو مشهور تعلیمي تنظیم د **Port Royal School of Grammer**په نامه پرانستے شو ، د دې تنظیم دوؤ نومړو غړو**Antoine Arnauld** (**1612**ء **1694** ء)او **Claude Lancelot**(**1612** ء ــ**1695** ء)یو نوې فرانسیسي ګرامر د **Gramnani generale et raisonee** په نامه په **1660**ء کښې اولیکلو، دا ګرامر د تدریس په بنیادي اُصولونو لیکلے شوے وو۔([2])

د پورټ رائل نومې ګرامر هدف د وینا د مهارت او فن طبعي بنیادونه تشکیلوي او هغه اُصول جوړوي چې د ټولو ژبو د پاره عمومي بللے کېږي۔([3])

په دې دوران کښې په یورپ کښې هم د انګرېزۍ ژبې ګرامرونه لیکلے کېدل چې د هولډر د **Elements of Speach**چې په کال **1669**ء کښې د رائل سوسایټۍ له اړخه چاپ شوے وو ، نه ئې

---

([1]) خېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد، "دَ ژبپوهنې لنډ تاریخ " مشموله دَ زیري کالنۍ (افغانستان: دَ علومو اکاډیمي دَ ژبو او ادبیاتو انسټیوټ،**1357** هـ ) ص:**40**

([2]) The Routledge Companion to Semiotics and Linguistics Paulcobely (ed) (london:and New York: Routtedge Taylor and Francis Group 2001)p:238.

([3]) خېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد، "دَ ژبپوهنې لنډ تاریخ " مشموله دَ زیري کالنۍ (افغانستان: دَ علومو اکاډیمي دَ ژبو او ادبیاتو انسټیوټ،**1357** هـ ) ص:**37**

هم نمبر اوړو ، هولډر د انګریزۍ ژبې د تجرباتي روایت(**empiricist**) نه متاثره وو، او د فونټیکس ، تلفّظ او د کانسونینټ او واول توپیرونه ئې اوپېژندل۔([1])

په اولسمه پېړۍ کښې انګرېز فلاسفر **John Lock**(**1632**ء **1704**ء)په کال **1690**ء کښې خپل اثر " **Essays Concerning Human underStanding**" اولیکلو او په دې کښې ئې د **Semiotrcs** په لفظ بحث اوکړو **Semiotics**د انګریزۍ لفظ دے چې د لاطیني لفظ **Semiotics**متبادل دے ، او د یونانۍ اصطلاح **Ehmiatikh**وران شوے شکل دے ، د دې اصل لفظ تعارف جان لاک اوکړو ، چې هغه ورته **The Doctrine of signs** هم وائي۔چې د لاطینۍ ژبې **Doctrina singorum**نه اخذ شوے دے۔([2])

جارج برکلے **George Berkely**(**1685**ء **1753**ء)د برطانیې سره تعلق لرلو ، چې د تجربیت په حامیانو کښې دویم نمبر مشهور سړے وو ۔ د دۀ دا خیال وو چې صرف د حواسو تجربه کېدے شي او سِوائے د خیالاتو نه هېڅ هم نۀ محسوسیږي ۔ برکلے په دې نتیجه اورسېدو چې صرف څیزونه او ذهن وجود لري ، د هغه دعوي وه چې مونږ سره صِرف د خیالاتو خیالات وي نۀ چې د هغه څیزونو چې د

(1 )Pushpinder syal and D.V. Jindat, An Introduction to Linguistics, (Delhi: PHI Learning Pvt Ltd, 2013)P:43.

(2 ) The Routledge Companion to Semiotics and Linguistics Paulcobely(ed)(london:and New York Routtedge Taylor of Francis Group 2001)p:238.

مزغو نه بهر وي هغه د مجردو خیالاتو نه انکار اوکړو ، هغۀ اووئیل چې مونږ اصل تجربه د خیالاتو نه بېلولے شو ، او ډېوډ هیوم (**1711**ء **1776**ء)د برطانیې سره تعلق لرلو۔ دوي په تجربیت یقین لرلو۔

په اتلسمه پیړۍ کښې دې خبرې زور نیسلے وو چې د ژبې ابتداء په مافوق الفطرت طریقه نه بلکې په فطري توګه شروع شوې ده، په دې حقله مشهور انقلابي انشاء پرداز روسو (**1712**ء **1772**ء) اثر ''زبانوں کي ابتدا'' خاص اهمیّت لرلو۔ د اتلسمي پیړۍ د ټولو نه اهمه واقعه د ارتقاء نظریه وه ، دې نظریې نۀ صرف ټول علمونه بلکې انساني تصوّرات هم تر ډېره حده متاثره کړل ۔ د دې نظریې نه پس انسان سترګې اوغړولې او په دې پوهه شو چې دا دنیا د حادثو او کرشمو نتیجه نۀ ده بلکې د دې شاته یوه داسې مادي قانون جاري او ساري دے ۔چې د هغې په وجه مونږ د غار د زمانې نه راوتي یو او مخ په ترقۍ روان یُو او د ترقۍ تر دې حده رارسیدلي یو۔د دې په نتیجه کښې انسانانو په هره شعبه کښې څېړنې شروع کړلې چې نتیجه ئې دا شوه چې انسان دومره ترقي په زرګونو کلونو کښې نۀ وه کړې ، څومره چې ئې په دې دوؤ پیړو کښې اوکړه۔ زمونږ موضوع اګر چې په ارتقاء بحث کول نۀ دي خو د ژبې علم براه راست د نظریۀ ارتقاء نتیجه ده ، په دې وجه مونږ دا نظر انداز کولے نۀ شو۔ د ارتقاء نظریه په عامه توګه په الفریډوالز (**Alfred walls**)او چارلس ډارون سره تړلې ده ولې حقیقت دا دے چې د دې خیال ابتدا ډېره مخکښې شوې وه ۔ او د

اراسمس ډارون (1731ء ـــ1804ء) بوفان (1707ء 1788ء)لامارک (1744ء 1804ء) هرډر او د ګوئيټے د ليکونو نه دا ظاهريږي چې خاصکر په جرمني کښې دے نظريې ته ښۀ کافي مقبوليت حاصل شوے وو۔

امانيول کانټ د اتلسمې پيړۍ يو مشهور فلسفي دے چې په شروع شروع کښې يو سائنسدان او رياضي دان وو، د دۀ دا خيال دے چې ذهن د ذهني کېفياتو د سلسلوتجريدي نوم دے ۔ په اصل کښې ذهن يو فعال او کارفرما عضو دے چې احساسات مرتّب کوي او د تصوراتو په سانچه کښې ئې جوړوي ذهن هغه آله ده چې د احساساتو او تصوراتو خلل پذير او منتشر کثرت د فکر په وحدت کښې منظم کوي۔([1])

هرډر د مشهور سائنسدان فلاسفر کانټ شاګرد او د سائنسدان او فلسفي شاعر ګوئټے دوست وو۔که چرې مونږ د هغه تاريخ پته لګول غواړو چې کله د ژبې متعلق د سائينسي څېړنو بنياد کېښودے شو نو هغه کال 1772ء دے ۔ چې کله Gohann Gottfried Herdor (1744ء 1803ء) مشهور اثر "د ژبې مآخذونه" چاپ شو۔([2])

([1])ارباب سکندرخان خليل، فلسفه زړه او نوې دَ ماضي فلسفيانه او سائنسي جائزه، (پېښور:دارالتصنيف عقب ډاک خانه قصه خواني بازار، 1966ء )ص:216۔

([2])پروفېسرصفدرعلي، اُردو لسانيات، (لاهور:فاروق سنز16 ، الکريم مارکيټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد )ص:16

جارج وهلم فریډرک هیګل (**1770**ء ، **1831**ء)یو جرمن مفکّر وو، او د دې پېړۍ یو نوموړے فلسفي هم وو چې **triadic dialectic method**د پاره مشهور وو ، د هیګل فلسفې مارکسزم او نورو یورپي فلسفو ته وده ورکړه او ډېر امریکي فلاسفران لکه **Royce, Dewey** او **Pierce**ترې هم متاثره وو۔ ([1])

جون هیکس د اینګلوسیکسن د لرغونو آثارو په برخه کښې ډېر آثار وړاندې کړل۔ او همدارنګې لامبرت، تین کاتي په اتلسمه پېړۍ کښې د جرمني ژبو مقائیسوي ګرامر د اولني ځل د پاره د ژبنیو څېړنو په لړ کښې ورزیات کړل۔ د ژبپوهنې دے دورې د **Theoritical** څېړنو د پاره لاره هواره کړه ۔ او ډېر ژبني قاموسونه په مقائیسوي ډول اولیکلے شول ۔ اولنے قاموس په څلورو ټوکو کښې د یو روسي سیلاني پ، س ، پلاس له خوا په **1786**ء_ **1791**ء کښې پیټربرګ کښې چاپ شو، دا قاموس د **276** ژبو او لهجو لغتونه لري۔

دغه شان هسپانوي راهب لورینځوارو اس اي پاندور په ایتالوي (**italian**)او هسپانوي ژبه په **1800**ء _ **1804**ء کښې د ژبو په برخه کښې یو اساسي اثر د فهرست په ډول چاپ کړو۔ او په هغې کښې د ژبو او لهجو محاسبه او ویش په مستند ډول څېړنې دي۔([2])

([1] )The Routledge Companion to semiotico and Linguistics ,Paul Cobely (ed) (London:Routtedge 11 New fetter Lane, 2001)P:238.

([2]) څېړنوال دوکتور سیدال شاه پولاد، "دَ ژبپوهنې لنډ تاریخ " مشموله دَ زیري کالنۍ (افغانستان: دَ علومو اکاډیمي دَ ژبو او ادبیاتو انسټیوټ، **1357** هـ ) ص:**39-40**

په اتلسمه پېړۍ کښې يو ځل بيا د ژبې په حقله فلسفيانه بحثونه شروع شو **George Dalgarno**او**John wilkins** په ژبو فلسفيانه کارونه اوکړل۔([1])

په دې دوره کښې دا نظريه هم پېدا شوې وه چې د يورپ ډېرې ژبې يو خاندان جوړوي (چې **Daughter languages**ورته وئيلے شي۔)او دا ټولې د يو لرغونې ژبې نه راوتې ښکارې ۔

**Andreas Jager**(**1660**ء _ **1730**ء)په کال **1686**ء کښې دا تجويز وړاندې کوچې د دې لرغونې ژبې وطن د کاکيشيا غرونه دي چې يورپ او ايشياء ته ترې نه د هجرت په چپو کښې ژبې خورې شوې ([2])

په اتلسمه پېړۍ کښې په هندوستان باندې د فرانس او برطانيه رسه کشي جاري وه ، په دې دوران کښې ډېر شے فرانسيسي او انګريزي طالب علمان د فوجي يا غېر فوجي خدماتو په سلسله کښې هندوستان ته راغلل ، دلته په قدرتي توګه دوي سنسکرت ژبې سره اشنا شو د ټولو نه اول يو فرانسيسي يسوعي پادري **1767**ء کښې د فرانس مرکزي تعليمي ادارې ته يو ياداشت اوليکلو په دې ياداشت کښې ليکلي وو چې د فرانسيي او سنسکرت ډېر لفظونه خپلو کښې يو بل سره لګي خو دے ادارې دې خبرې له هغه وخت څۀ خاص اهمیّت ورنۀ کړو او څۀ خلوېښت کاله پسې دا ياداشت هغه وخت چاپ شو

([1] ))http://www.ttt.org/linglinks/events.html.(access January 1st ,2015).
([2] )mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).

چې بیا په یورپ کښې د سنسکرت په حقله ډېره دلچسپي پېدا شوې وه ، یورپ سره د سنسکرت د اشنا کولو وړومبنے سړے سروليم جونز(**1746** ء_**1794**ء)دے۔ دۀ په آکسفورډ کښې د خپلې طالب علمۍ دوران کښې په مختلفو ژبو کښې دلچسپي اخستل شروع کړل او چې څو د څلريشتو (**24**)کالو کېدو نو په لسو ژبو ئې عبور حاصل کړے وو۔چې پکښې یوناني لاطيني ، عبراني، عربي او فارسي هم شاملې وې ۔

د دۀ ذريعهٔ معاش وکالت وو او په **1788**ء کښې دے په کلکته کښې د سپريم کورټ جج مقرر شو۔ دلته دۀ سنسکرت ډېره په شوق زده کړه ۔ او سرچارلس ولکنز **Sir Charles wilkins**(**1749**ء - **1836**ء)سره ئې په شريکه د ايشياټک سوسائيټۍ کلکتې بنياد کېښودوچې هغه وخت په مشرق کښې د خپل نوعيّت واحده اداره وه ۔ د ايشياټک سوسايټۍ کلکتې په دريم سالانه اجلاس کښې په خپله خطبه صدارت کښې دۀ په **27** ستمبر **1786**ء کښې دا تاريخي الفاظ اووئيل چې:سنسکرت د لرغونتيا نه علاوه يوه ډېره ښه او مکمله ژبه هم ده۔ دا د يونانۍ نه زياته مکمله او د لاطينۍ نه زياته جامعه ده۔ او د دې دواړو په نسبت لطيفه او ښائسته هم ده۔خوبياهم د دې دواړو سره ډېر زيات يوشان والے لري۔ د افعالو، د مخارجو او د صرف ونحو په لحاظ دا ژبې دومره يوشان والے لري ۔ چې دے ته محض اتفاق نۀ شو وئيلے که څوک څېړن کار هم د دې ژبو په ژور نظر مطالعه اوکړي نو په دې

نتیجه به اورسي چې د دې دریو واړو ژبو سرچینه یوه ده۔ اګر چې هغه سرچینه اوس بڅپله نشته خو د دې خبرې د منلو د پاه هم کافي شهادتونه موجود دي۔ چې د ګاتهِ قوم ژبه او سیلتي د دې سرچشمې نه راوتي دي او بیا د لرغونې فارسي رشته هم دے سره یو ځاے کېدے شي۔([1])

دا یو دومره زړۀ راښکونکے آواز وو چې تر یورپه اورسېدو چرته چې د هغه وخت د تکړه مزغو خاوندانو د دې ژبې د درس وتدریس د پاره خپل ژوندونه وقف کړل ۔ او د هغې نتیجه دا شوه چې نۀ صِرف د پېړو راهسې دا مړه ژبه را ژوندۍ شوه بلکې د مقائیسوي یا تقابلي ژبپوهنې بنیاد هم کېښودے شو۔

په دې دوره کښې د ولیم جونز نه وړاندې هم د نورو ژبو په تعلق او رشتو باندې هم څېړنې شروع شوې وې ۔لکه په کال **1706**ء کښې **Andrean Reeland**(**1676** ء–**1718**ء) دا تجویز وړاندې کړو چې د مداګاسکر**Madagascar**او د انډونیشیا د جزیرو ژبې یو بل سره تعلق لري۔**Janos Sajnovics** (**1735**ء–**1785**ء)د هنګرئین فنش، او سامي ژبو تعلق په **1770**ء کښې اوښودلو۔ په **1776**ء کښې **Abbe Lievain Proyart**(**1743**ء - **1808**ء) دا مشاهده اوکړه ، چې د افریقنو ژبو **Kakongo**، **Laongo**او**Kikongo**په خپلوکښې تعلق شته ۔

( [1]) پروفېسر صفدرعلي، اُردو لسانیات، (لاهور:فاروق سنز**16** ۔الکریم مارکیټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد)،ص:**17**

او په **1787**ء کښې جانتهن ایډورډ **Jonthan Edwards** (**1745**ء-**1801**ء) اووے چې د شمالي امریکې د **Al gonquan** ژبو خپلو کښې تعلق دے۔([1])

## نولسمه پیړۍ(**1801**ء - **1900**ء پورې )

په نولسمه پیړۍ کښې د ژبپوهنې په تاریخ کښې ډېر د قدر وړ کارونه اوشو چې په شلمه پیړۍ کښې ئې د جدیدې ژبپوهنې د پاره لاره هواره کړه، د ژبو په تاریخي او تقابلي څېړنو کښې د خلقو دلچسپي یو په دوه شوه د سکالرانو دې پله مخه شوله چې څرنګې مختلفې ژبې د یو بل سره تعلق لري او مختلف خاندانونه جوړوي۔ د سرولیم جونز د سنسکرت ژبې او د یورپ د غټو ژبو ترمینځه د تعلّق دریافت د یورپ سکالرانو ته د ژبو په حقله تاریخي او تقابلي څېړنو ډېر غټ تحریک ورکړو چې نتیجې ئې ډېرې سودمندې را اووتې۔

د نولسمې پیړۍ د شروع ژبپوهان د سنسکرت ژبې ماهران وو۔ لکه **A.w** (**1767**ء- **1845**ء) **F.Shlegel**(**1772**ء -**1829**ء)فرانزبوپ (**1791** – **1867**ء)او **A.F. pott** (**1802**ء – **1887**ء) په **1808**ء ایف شلیګل خپل کتاب "**On the language, of the learning of the indians**" چاپ کړو۔ او دې کتاب کښې هغهٔ د ژبو په دننې ساخت یعنې صرف باندې زور ورکړو، ځکه چې په دننې ساخت رڼا اچولو باندې به د ژبو د جینیاتي تعلق پته لګي، د دې نه دا هم واضحه شوه چې :

---

([1] ) mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).

**Comparative** یعني **Vergleichende Grammatik grammar** شلیګل شروع کړے وو۔([1])

په دې کتاب کښې دهٔ د سرولیم جونز د تجویز مطابق د یورپي ژبو د سنسکرت سره تفصیلي موازنه کړے وه۔ د دې ژبو د لفظونو او صرف ونحو د یوشان والي د مطالعې نه پس ئې په دې خبره زور ورکړے وو۔چې سنسکرت او یورپي ژبو خاص کر یوناني اولاطیني او جرمن ترمېنځه یوه ژوره رشته ده او یوشان والے موجود دے۔ دا وړومبنے هغه کس وو چې د تقابلي ژبپوهنې بنیاد ئې کېښود۔([2])

د نولسمې پېړۍ په شروع شروع کښې د دې ژبپوهانو نومونه مشهور دي . **DaneR.Rask**(**1787**ء – **1832**ء) **Jakob Grimmn**(**1785**ء_ **1863**ء)فرانزبوپ (**1791**ء __ **1867**ء)او**W. Von Humboldt** (**1767**ء _ **1835**ء)

رسک او ګرِم د انډویورپي خاندان تقابلي تاریخي مطالعه په باقاعده توګه شروع کړې ده ، د انډوجرمن اصطلاح په اول ځل په **1823**ء کښې ښکاره شوه ۔ او په **1833**ء کښې **Pott**شروع کړه ۔که دا اووایو چې **Grimm**, **Rask** او **Bopp**د سائینسي تاریخي ژبپوهنې بنیاد ایښودے دے ۔ نو غلطه به نهٔ وي ۔ فلالوجسټ **Rasmus Rask**(**1787**ء _ **1832**ء )او جیکوب ګرِم

---

([1] ) R.H.Robins, A short History of Linguistics (New York :Longman Publishers,1997)P:170.

([2]) پروفېسر صفدرعلي، اُردو لسانیات، (لاهور:فاروق سنز**16** ۔الکریم مارکیټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد)،ص:**18**

(**1785**ء _ **1863**ء)د ژبو دغه تقابلي مطالعه جاري اوساتله او په مختلفو ژبو کښې د لفظونو او د غړونو د مقابلې د ژورې مطالعې نه پس ئې يوه فارمولا جوړه کړه۔ چې په **Grimm,s law** يادېږي ۔ د دې **law**مطابق که چرې د دوؤ ژبو د لازمي لفظونو په جوړښت کښې تر دې حده يو شان والے وي ، چې د يوې ژبې نه د بلې ژبې ته د اوړېدو د پاره د تورو د بدلون قاعدې پکښې موندلے کېدے شي۔ نو د دې ژبو ترمېنځه يو بنيادي تعلق دے۔([1])

رسک د لرغونې**Norse** او انګرېزۍ ژبې ګرامرونه اوليکل، دهٔ په **1818**ء کښې يو کتاب "**Investigations on the origin of old Norse or icelandic Languages**" په نوم چاپ کړو۔([2])

جيکوب ګرِم د جرمن ژبې ګرائمر"**Deutshe Grammatik**" اوليکلو، د دې ګرامرنه د جرمن ژبپوهنې ابتدا کېږي۔([3])

جيکوب ګرِم د جرمن ژبپوهنې **Founder**يعني باني ګڼلے شي۔ د دهٔ د جرمن ژبې ګرائمر د **1822**ء نه واخله تر **1836**ء پورې چاپ شويدے۔([4])

د هغهٔ يو اهم کار د کمزورو او طاقتورو **Inflexions**فرق د پاره د تکنيکي اصطلاحاتو خورول وو، اودغه شان هغه په**ablaut** (واول

---

([1]) Pushpinder syal and D.V. Jindel, An Introduction to Linguistics, (Delhi: PHI Learning Pvt Ltd, 2013)P:44.

([2]) Tariq Rahman, Linguistics for Beggibers Basic Concepts, (Karachi :oxford university press,2010)P:14

([3]) R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman publishers, 1997)P:170-171.

([4]) Ferdinand de Saussure,course in General Linguistics Edited and Annoted by Roy Harris, (London:Blooms-byrry,2013),P:3.

**gradation**) او**umlaut** يعني د ماحولياتي حالاتو د وجې د واول د بدلون د پاره ئې هم اصطلاحات وضع کړل ـ ([1])

په دي دور کښې د پرشيا يو ډپلومېټ سکالر **Willheclm von Humboldt** (**1767**ء - **1835**ء )هم د دې دور يو نوموړے ژبپوهان وو د هغهٔ دا خيال وو چې ژبه په انساني ذهن د پوه کېدلو کُنجي دهـ ([2])

دهٔ په ډېرو ژبپوهنې غوښتنو او سوالونو ليکونه اوکړل ـ دهٔ ډېرې ژبې مطالعه کړې۔ او يوه نظريه ئې جوړه کړه چې د انساني ژبې تخليق په ټولو انسانانو کښې يو شان دے ولې د هرې انفرادي ژبې د مرّوجه جوړښت ترکيب د هغې ژبې د ويونکو پورې مخصوص دے ، د ژبې دننے شکل د يوې ژبې ګرامري او معنوي جوړښت دے چې په ويناوي خام موادو قاعدې **impose** کوي ـ په يو لحاظ په ټولو ژبو کښې يوشان دے۔ او په بل لحاظ په ټولو ژبو کښې مختلف دے۔**Humboldt** د لفظونود جوړښت د بدلون مطابق په **Isolating** **agglutinating**او **Inflexional** ژبو کښې هم بيلتون اوکړو۔ ([3])

---

([1]) Pushpinder syal and D.V. Jindel, An Introduction to Linguistics, (Delhi: PHI Learning Pvt Ltd, 2013)P:44.

([2])The Routledge Companion to Semiotics and Linguistics , Paul Cobley ed) (London: Routtedge Taylor and Francis Group of New York 2001)P:202

([3])Pushpinder syal and D.V. Jindel, An Introduction to Linguistics, (Delhi: PHI Learning Pvt Ltd, 2013)P:44.

د دهٔ مشهور اثر "**On the kawi languagcs of the island of Java**" دے چې د دهٔ د مرګ نه پس په **1836**ء کښې چاپ شو۔([1])

د جرمن سکالرفریډرک شلیګل د کتاب نه په متاثره سکالرانو کښې یو د جرمني سکالر فرانزبوپ هم وو، دهٔ په خپل قابلیت د خپل حکومت نه وظیفه حاصله کړه۔ او په **1812** ء کښې پیرس ته د سنسکرت مطالعې له لاړو ، چرته چې په کال **1816**ء کښې یو کتاب د "**On the Conjugation system of the Sanskrit Language in comparison with those of the Greek, Latin, Persian, of Germanic Languages.**" په نوم اولیکلو۔([2])

په دې کتاب کښې بوپ په دلیلونو دا خبره ثابته کړه چې د سنسکرت ، فارسي، او د مشهورو یورپي ژبو سرچینه یوه ژبه ده۔چې ورته لرغونې آریائي ژبه وئیلے شي

د بوپ سره سره په دغه وخت کښې د ژبپوهنې نومورې سکالران راپورته شو چې یو پکښې آګسټ پوټ (**1802**ء _ **1887**ء)

([1]) The Routtedge Companion to semiotics of Linguistics,Paul cobley(ed) (London of: Routledge New York Fraancis of Taylor Group , 2001),P:202.
([2])Tariq Rahman, Linguistics for Beggibers Basic Concept,s, (Karachi :oxford university press,2010)P:14

هم دے د دۀ ایتمالوجیکل څېړنو ژبپوهنې ته ډېر څۀ ورکړل دغه شان Kuhnهم په ژبپوهنه او تقابلي مائیتهالوجي کار اوکړو۔([1])

په **1822**ء کښې بوپ په برلن یونیورسټۍ کښې د سنسکرت او تقابلي صَرف ونحو پروفېسر مقرر کړے شو۔ په **1866** ء کښې د دۀ د اولني کتاب د ګولډن جوبلي په موقع د دۀ د خدماتو په اعتراف کښې دنیا د هرې حصې نه د اهل علم په چنده په برلن کښې د سنسکرت ژبې او تقابلي صرف ونحو د تعلیم د پاره یوه بوپ اداره جوړه کړے شوه ، او د دې ادارې په برکت ژبپوهنه اولني صف په سائنسي علومو کښې اوشمارلے شو۔([2])

د دې ادارې نه یو خوا میکس مولر تعلیم حاصل کړو او په برطانیې کښې ئې ژبپوهنې ته وده ورکړه او بل خوا د مولر همعصر د امریکې ولیم وهټنے ترې تعلیم حاصل کړو چې په امریکه کښې ئې د ژبپوهنې په وده کښې اهم کردار ادا کړو۔

د ژبپوهنې د تقابلي سکول په آخرنو نمائینده ګانو کښې د میکس مولر، ولیم وهټنے ، جي کرټئیس او اګسټ شلیکر نومونه د قدر وړ دي۔ ټولوپه خپل خپل ځائے د قدر وړ کارونه اوکړل۔ اینګلوجرمن فلاسفراو ژبپوهان میکس مولر (**1822** ء - **1903**ء)او امریکنے

([1] ) F.D. Saussure, Course in general Linguistics, Edited and Annotated by Roy Harris , (London: Blooms burry, 2013),P:3

( [2]) پروفېسر صفدرعلي، اُردو لسانیات، (لاهور:فاروق سنز**16** ۔الکریم مارکیټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد)،ص:**19**

ژبپوهان ولیم ویټنے (**1827**ء-**1894**ء) دواړه د بوپ شاګردان وو، په تېرو اویاکلونو کښې چې د ژبپوهنې په حقله څۀ هم لیکلي شوي وو، دوي جمع کړل۔ او د ښۀ چاڼ بېن نه پس ئې ترې نه نتیجې رااویستې او عوامو ته ئې مخې ته کېښودې د دې په نتیجه کښې د ژبپوهنې غوندې وُچ کړس مضمون هم د خلقو د پاره زړۀ راښکونکے شو۔

میکس مولر د خپلو لیکچرو په زریعه دا مضمون په خلقو کښې مشهور کړو۔ د دۀ لیکچرې ''**Lectures on the science of Language**'' په نوم په **1861**ء کښې چاپ شوے۔([1])

امریکي ژبپوهان ولیم ویټنے د**yale** یونیورسټۍ نه د سنسکرت ژبې تعلیم حاصل کړو۔او په کال **1850**ء کښې په برلن یونیورسټۍ کښې داخل شو۔د دریو کالو د مطالعې نه پس دے امریکې ته واپس لاړو۔ چرته چې دے د سنسکرت ژبې پروفېسر مقرر شو۔په ژبپوهنه کښې د ارزښتناکو خېړنو له کبله دۀ ته د بوپ ادارې له اړخه اولنے انعام ورکړے شو۔ د دۀ دوه کتابونه ''زبان اور اس کا مطالعه '' او ''زبان کي پېدائش اور اس کي نشونما '' ډېر مشهور دي، او د خپل بې کچه ارزښت له کبله د نړۍ په غټو غټو ژبو کښې د دې ترجمې شوے دي ۔

جي کرټئیس یو ځانګړې فلالوجسټ وو چې د خپل اثر ''**Principles of Greek Etymology**''(**1879**ء)د پاره مشهور

([1] ) F.D. Saussure, Course in general Linguistics, Edited and Annotated by Roy Harris , (London: Blooms burry, 2013),P:3

دے۔دے اولنے ماهر دے چې تقابلي ګرائمر او کلاسیکل فلالوجي ئې یو ځائے کړي دي۔[1]

آګسټ شلیکر (1825ء - 1868ء) یو جرمن سکالر وو چې د **Family tree theory**نظریه ئې وړاندې کړې وه ، د دې نظریې مطابق د یو خاندان ژبې د یو مشترک **ancestor**یا جدنه راوتي دي۔[2]

د دۀ مشهور اثر" **Concise Comparatire Grammar of indo-Germanic Languge**"

دے چې په **1861**ء کښې چاپ شوے دے۔[3]

په تقابلي سکول کښې یو مائیکل برئیل **Michael Brcal**(**1832**ء -**1915**ء)وو چې په فرانس کښې ئې د تقابلي تاریخي ګرائمر متعارف کړو۔ دے هم د فرانزبوپ شاګرد وو۔ په دې وجه اول اول د جرمني روایت نه متاثره وو ولې دۀ د شروع نه په دې خبره زور ورکوؤ چې ژبپوهنې ته د فطرتي سائینس کوم اپروچ دے هغې ته په بشري او ثقافتي زاویه کتل پکار دي۔[4]

هنري سویټ (**1845**ء -**1912**ء)د نولسمې پیړۍ په دویمه نیمائۍ کښې د صوتیاتو او د زړې ، منځنۍ، او نوې انګرېزۍ د مطالعې

[1] F.D. Saussure, Course in general Linguistics, Edited and Annotated by Roy Harris , (London: Blooms burry, 2013),P:3
[2] Tariq Rahman, Linguistics for Beggibers Basic Concept,s, (Karachi :oxford university press,2010)P:15
[3] F.D. Saussure, Course in general Linguistics, Edited and Annotated by Roy Harris , (London: Blooms burry, 2013),P:3
[4] The Routledge Companion to Semiotics and Linguistics , Paul Cobley ed) (London: Routtedge Taylor of Francis Group of New York 2001)P:166

سرخېل وو. هغه د ژبپوهنې په **Synchronic** تشریح او مطالعه کښې دلچسپي لرله.([1])

د نولسمې پېړۍ په آخر کښې د روس غېر یورپي ژبو د تحقیقاتو فنش (**Finnish**)پروګرام هم د یادونې وړ دے . دا تحقیق چې په فیلډواک او سروې اډانه وو د **Samoyedic , Finno-urgic**ترکي، منګولین، پیلیوسائیبریا او **Tungusic** ژبو ډېر لغتونه، ګرامرونه او متنونه ئې اولیکل.([2])

د نولسمې پیړۍ په آخري څلورمه کښې په **Leipzig** کښې څۀ سکالران راغونډ شو چې اول اول کښې د**young grammarian** په نامه یاد کړے شو او روستو د نیوګرامرین په نامه یاد شو. د ژبپوهنې دے سکول کوښښ اوکړو چې تاریخي ژبپوهنې ته کوټلې سائینسي بنیادونه ورکړي. دوي د **Theorizing** خلاف د اصلي ژبونه د زیاتو موادو معطیاتو راټولولو په حق کښې وو. د دې سکول ژبپوهانو نه امریکي ژبپوهان بلوم فیلډ او سیپرمتاثره وو**Neogrammarians** د ژبپوهنې دؤو اړخونو غږ پوهنې او ګړدود پوهنې یعني**dialectology** له اهمیت ورکړو.([3])

([1] ) R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman publishers, 1997)P:203
([2] ) mcgregor. Continuumbooks. Net/media/1/history-outline.pdf (accessed February 8/2015).
([3] )R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman publishers, 1997)P:180

دوي دا دعوي اوکړه چې ژبنے بدلون باقاعده دے د دوي دا دليل وو چې که چرې د يوې لهجې په يو لفظ کښې يوغږ له بل غږ کښې بدل شو۔نو دا بدلون به په دغه چاپيريال کښې په نورو لفظونو کښې هم دغه غږ متاثره کوي۔([1])

په دې وخت کښې **Neogrammarian**د ژوندو ژبو نه د اغستې شوؤ موادو په بنياد توضيحي غږپوهنه او د ژبې د بدلون د وجې د مختلفو لهجو راپېدا کېدل مطالعه کړل ۔ او لهجوي اطلسونه جوړول او سروے کول شروع شول۔([2])

د **Neogrammarians**نوموړي ژبپوهان ټول جرمنيان وو۔ چې پکښې **Heruan osthoff, Karl Brugman** د جرمن ژبې ماهر **Edward Sievers,W.Braune Herman paul**او **Leskien**وو۔ کارل برګ مين په غږ او ساخت باندې دوه جلدونه په "**Out line of Comparative Indo-Europen Grammar**"(**1886**ء نه **1893**ء)پورې په پينځو جلدونو کښې چاپ شو دا يو معياري کار وو۔([3])

که مونږ د ژبپوهنې په تاريخ کښې په دے پېړۍ نظر واچوؤ نو د نشاة ثانيه نه پس دا يو جديد دور وو په دې کښې يورپي ژبې

---

([1]) Jean Aitcheson, Linguistics(UK:Teach yourself,2003)P:27.
([2]) Pushpinder syal and D.v. Jindel, An Introduction to Linguistics, (Delhi: PHI Learning Pvt Ltd, 2013)P:44.
([3]) Tariq Rahman, Linguistics for Beggibers Basic Concept,s, (Karachi :oxford university press,2010)P:14

فرانسیسي او جرمني په خصوصي توګه مطالعه کړې شوې ، ژبپوهانو د ژبو په تقابلي مطالعه او د ژبني خاندانونو په قائمولو کښې دلچسپي واخسته۔ د دې پیړۍ په شروع کښې د لغاتو او ګرامرونو په لیکلو زور ورکړے شو ۔ ولې د دې پیړۍ په آخره کښې ژبپوهانو غږ پوهنې او د لهجو مطالعې پله هم توجّه اوکړه ۔

## شلمه پیړۍ (1901ء -2000ء )

د اولني جنګ عظیم نه پس ژبپوهان په دې خوشحاله وو چې ځان ئې د جرمني د غلبې نه خلاص کړو کوم چې نیوګرامرین د کار د وجې وو۔ په دې پیړۍ کښې د سوئیزرلېنډ له اړخه ډي ساسور، د روس له اړخه **Bandouin de Courtenay**او د امریکې د اړخه په ژبپوهنه کښې ډېر ارزښت ناک کارونه اوکړل چې د نوي حالاتو سره مطابق وو۔

## فرډیننډ ډي ساسور (1857ء-1913ء)

فرډیننډ ډي ساسورصرف د یوویشتو کالو په عمر کښې اهم نیوګرامرین کار د انډویوروپین ژبو په واولز په **1878**ء کښې چاپ کړو، د دې نه پس ئې په **1881**ء کښې د **PHD**مقاله " **Genetive in Sanskrit**"په سرخط اولیکله ، ساسور د شلمې پیړۍ په بااثره سکالرانو کښې شمارلے شي ۔ د هغه د ټولو نه مهم اثر په **1916**ء کښې د هغهٔ د مرګ نه پس د هغهٔ شاګردانو " **Cours de linguistique generate 1916**" په نوم چاپ کړو ، دا هغه نوټس دي چې هغه د

**1907**ء نه تر **1911**ء پورې په جینوا یونیورسټۍ کښې خپلو شاګردانو ته ورکړي وو۔ دے کتاب د ژبپوهنې رُخ بدل کړو۔ په نولسمه پیړۍ کښې به ژبپوهنه د **diachronic**یعنې تاریخي اړخ نه مطالعه کېدله، او په شلمه پیړۍ کښې د دې کتاب د وجې د ژبپوهنې رُخ **Synchronic**یعني غېر تاریخي پلو واوړیده ، د ژبپوهنې تعریف او تشریح د دې کتاب مرکزي مقصد وو۔ ساسور د ژبې **Synchronic**مطالعې باندې زور ورکړو۔او دا ئې واضحه کړه چې څنګه ژبني عناصر د یوې ژبې په نظام کښې راغونډ شوي او مرتب شوي وي.دا کتاب په ۲۰۱۳ کښې د رائے هیرس د شرحې او تدوین سره چاپ شوے دے ۔ او راقم الحروف ترې نه د دې کتاب د پاره ډېره استفاده کړې ده ۔

د ساسور د علامت نظریې "**Theory of Signs**"ډېر شهرت اوموندو د هغۀ ژبنے علامت د **Significant**(غږ، **Signifier**)او د **Signific**(**Signified**په معني)مجموعه ده۔ په یوعلامت کښې یو خصوصي غږ او یو خصوصي معني یو بل سره په بې قاعده توګه تړلي وي ۔ د دوي دا یو ځاے کېدل بېخي روایتي دي په یو علامت کښې د یو څیز د پاره غږ د یوې ژبې نه په بله ژبه کښې نۀ شي قیاس کېدے۔لکه د وُنې د پاره انګریزي لفظ**tree** یو بې قاعده او غېر اختیاري علامت دے ۔ چې د اصل څیز سره تعلق نۀ لري او نۀ په بله ژبه کښې دا لفظ

چليږي لکه وُني ته په جرمنۍ ژبه کښې**Bauin** وائي**Maori** ژبه کښې **rakau**پښتو کښې وُنه او اُردو کښې درخت ـ

ساسور د ټولن پوهنې باني سکالر ايمل ډرخائم (**1858** ءـ **1917**ءُ) د ټولنيزو تصوّراتو نه متاثره وو- د ايمل ډرخائم دا خيال وو چې ژبه په بنيادي توګه يو ټولنيز حقيقت دے نۀ چې ذهني يا نفسياتي لکه څنګه چې نور سکالران وائي- هغه وائي چې مجموعي شعور په يوه ټولنه کښې وي ساسور د ايمل ډرخائم ټولنيز حقيقت ( **Social fact**)او مجموعي شعور(**Collective Consciousness**) استعمال کړل د ساسور مشهور څيزونه **langue**(ژبه په مجموعي توګه د يو نظام په حيث) او**parole** (د يو غړي ژبه ) دي ـ د يو غړي ژبه د ټولنې د ژبې نمائيندګي کوي ـنود يو غړي د ژبې د مطالعه کولو په ذريعه مونږ د يوې ټولنې ژبنے نظام مطالعه کولے شو-([1])

ساسور د **Langue**مطالعه د ژبپوهنې بنيادي کار اوګڼلو په دې وجه ساسور ژبپوهنه د**genral science of signs** يوه څانګه اوګڼله ، د **signs**يا نشاناتو دے سائينس ته هغه د **semiology** اصطلاح خوښه کړله ، او د هرې څانګې د پاره ضروري ده چې د هغې

([1] ) Lyle Campbell,The History of Linguistics Eds:Mark Aronof and Janie Rees Miller (Oxford Uk:Blackwell publishers,2002)available at http://www.blackwell refrence.Com/Subscriber/to cnode?id=g978140J 102520-cwunk-g97814051025206(accessed20-9-16).

د ژبنيو نشاناتو يوه خپله نظريه وي ، او **sign**د **langue**بنيادي اکائي ده ([1])

د ساسور د کتاب**Cours de linguistique**د چاپ کېدو نه سمدستي پس په يورپ کښې نور کتابونه هم اوليکلے شول چې ياخو په کلي توګه او يــا پـــه جزوي تــوګه ئې د**Synchronic** ژبپوهنې سره تعلق لرلو۔ لکه د مثال په توګه د اوټوجيسپرسن **otto Jesperson"Language"** د **A.Gardiner**د **"Theory of speech Language"** د **K.Buhlar"Sprachtheoric"**او د **Hjelmslen**دوه اهم کتابونه **"Principles de grammaire generalc"** او**"La Categori decgs"**([2])

نن سبا ژبپوهنې ته تقريبًا ټول اپروچونه ساختياتي دي ، چې د ساسور د يادګاري اثر عکاسي ترې نه کېږي ، د ساسور د ساختياتو په بشر پوهنه، ادبي تنقيد، تاريخ، نفسياتو او فلسفه ټولو باندې بنۀ ژور اثر دے۔چې جيکوب سن ، **Leristrrauss, foucaul , Barthes**او **Derrida** ټولو مخ په وړاندې بوتلي دي۔

## **"Baudouin de Courtenay"(1845ء -1929ء)**

باؤډئين ډي کورټينے په پولينډ کښې پيدا شوے وو۔ او د

([1]) Roy Harris and Talbot J.Taylor, Landmarks in Linguistics from Socrate to Saussure second Edition (London and New York :Routtedge, 1997 bookfi e-book )p:208.

([2])R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman publishers, 1997)P:206

روس په **Kazan**یونیورسټۍ کښې ئې د ساختیاتو تصوّرات هغه وخت خورول څۀ وخت چې ساسوریه جینوا یونیورسټۍ کښې لیکچرې ورکولې ساسور د باؤډوئن د خیالاتو نه خبر وو او د دې پته د هغۀ د کتاب نه لګي ساسور وئیلي دي چې باؤډوئن او د هغۀ شاګرد **Mikalaj Kruszeniski**(**1851**ء-**1887**ء) هغه یواځیني یورپي سکالران دي چې د ژبپوهنې په نظریه ئې کار کړے دے باؤډوئن په فونیم کار اوکړو۔ باؤډوئن او د هغۀ شاګردانو مارفیم، ګرافیم ځانګړي خصوصیات (**Distinctive features**)او**alternation** متعارف کړل چې ټول د جدیدې ژبپوهنې اصطلاحات دي ۔ د هغه خیالاتو زیات تر هغه ژبپوهان متاثره کړل کوم چې روستو په پراګ سکول کښې شمار شول

**Sarge Karceuskij**(**1884**ء-**1955**ء)په جنیوا کښې د **1906**ء نه تر **1917**ء پورې پاتې شو دۀ ځان سره ماسکو ته د ساسور خیالات په بیرته راوړل۔ دغه شان**Roman Jakobson**(**1896**ء-**1982**ء)او **Prince Nicholoi Trubetzkoy**(**1890**ء-**1938**ء) د ساسور نظریې ته مائل خیالاتو نشاندهي اوکړه او دا دواړه روسیان روستو د پراګ سکول ډیر ښۀ نمائینده ګان هم جوړ شول۔ د پراګ سکول جیکوب سن، ټروبټزکائي او نورو د ساختیاتو مختلفو اړخونو له ترقي ورکړه۔ روستو جیکوب سن په **1942**ء کښې امریکې ته هجرت اوکړو۔ او هلته ئې د جنریټو فونولوجي په پرمختګ ډیر اثر اوغورځوؤ د

دهٔ اثر د دهٔ په شاګرد **Morris Halle** هم وو او په نوم چامسکي هم وو.

په **1920**ء کښې ژبپوهنې او په خصوصي توګه تشريحي ژبپوهنې ته د امريکې په يونيورسټو کښې ډيره زياته توجّه ورکړے شوه ـ او د دؤو لويؤ جنګونو ترمنځه عشرو کښې چې په امريکه کښې په ژبپوهنه کوم کار اوشو هغوي په ټوله دنيا اثر اوغورځوؤ ـ په **1942**ء کښې **Linguistic Society of America** جوړه شوه ـ او د دې کالنئ رساله د**Languages** په نوم شائع کيدل شروع شو۔(1)

## پراګ سکول **Prague School**:

پراګ سکول اول اول کښې**Prague Linguistic Circl (PLC)** په نامه پيژندے شو چې په **1926**ء کښې**V.Mathesius** ، **B.Havranek**،**N. Trubetzkoy**،**R.Jakobsons** او **Karcevskij** د جوړ کړے وو۔دا په اصل کښې د سلاوي ژبو **(Slavic Languages)** ادب، شاعرئ ، فونولوجئ او مارفالوجئ د پاره جوړ شوے وو۔ د **Waugh** مطابق جيکوب سن د **Structuralism** اصطلاح د دې ټولګي د پاره جوړه کړې وه ، د **PLC** اولنے **Presentation** په **1st international Congress of slavists** کښې په پراګ ښار کښې په **1929**ء کښې اوشو ، دوي

(1) R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman publishers, 1997)P:208-207

په **1929**ء کښې د **Travaux du Cercle Linguistique de prague** سلسله هم شروع کړے وه ـ د**PLC**د دفتري ضمني قانون مطابق (کوم چې په يکم دسمبر **1930**ء کښې ترجمه شوے او په **Toman**کښې دوباره شائع شوے وو )

د**PLC** بنيادي مقصد په **Functional- structural**طريقه باندې د ژبپوهنې د څېړنې او پرمختګ د پاره کار کول وو.

د دې سکول د **Trubetzkoy**مشهور کار **(Principles of Grundzuge der Phonologie)** وو۔ چې هغه پرې تر مرګه پورې کار کولو۔[1]

تر**1939**ء پورې رومن جيکوب سَن وائس پريزيډنټ وو او بيا په چيکوسلواکيه د نازې د حملې د وجې هغۀ پراګ پريښودو د هغه نه پس د پراګ سکول صدران بدليدل رابدليدل آخر **Trubetzkoy**او **Mathesius**هم مړۀ شول۔ ولې **Mukarovsky**او نورو د پراګ سکول مرام په مخه بوتلو۔ ليکچرې به ئې ورکولې او څېړنې به ئې کولې۔ د سويت نه پس ته زمانې په **1990**ء کښې د پراګ سکول **revival**اوليدو۔[2]

---

(1) R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman publishers, 1997)P:204.

(2)The Routledge Companion to Semiotics and Linguistics , Paul Cobley ed) (London: Routtedge Taylor of Francis Group of New York 2001)P:244

## فرانز باؤز Franz Baos(1858ء-1942ء)

فرانز باؤز د امریکنۍ ژبپوهنې او بشرپوهنې باني ګڼلے شي ـ د هغه اهم کار د امریکې په هغه ژبو او ثقافتونو کار کول وو ـ د کومو چې د ورکېدو او ختمېدو خطره وه ـ او بې شکه چې د هغهٔ معطلیات آخرنۍ او یواځینۍ اهم معطیات وو۔ کوم چې هغه د مړو ژبو راټول کړي وو ـ لکه د مثال په توګه Lower Chinook ,Pentlach, Chemakum, Cathlamet, Pochutec او isetsaut هغهٔ په خپلو شاګردانو په ارجنټ کښې دا فیلډ ورک اوکړو او هغوي هغه کار ته ځان وقف کړو کوم چې اوس هم ممکنه وه ـ هغه طریقې کومې چې باؤز او د هغهٔ شاګردانو د ژبو د بیانولو د پاره اختیار کړي هغه د امریکني ساختیاتو بنیاد اوګرځیدې کوم چې د شلمې پیړۍ په ژبپوهنه کښې غالب وو ـ

## امریکي ساختیات:

په امریکه کښې د نولسمې پیړۍ په آخر او د شلمې پیړۍ په شروع کښې ژبوهنې په یو ځانګړي طرز وده اوموندهـ د امریکې د مقامي ژبو د محفوظولو ډېر کوښښونه اوشول۔او ژبپوهانو د معطیاتو د راجمع کولو او تجزیه کولو ګراني طریقې خپلې کړې او دا کوښښ اوشو چې د ژبې په حقله د یورپې پخوانو نظریو په خلاف د هرې ژبې په حقله ځانګړې څیړنې اوشوې او د هرې ژبې په غږونو او لفظي ساخت باندې زور ورکړے شو۔ او د جملې ساخت طرف دومره توجه اونهٔ شوه ـ دغه شان د ژبې معنو طرف ته هم څهٔ خاص توجه اونهٔ شوه ـ

د ساختياتي ژبپوهنې نظرياتي اړخ ناکافي ښکارېدو خو د دې تشريحي اړخ ته کاميابۍ ډېرې دې او د هغه دور د ژبپوهانو د محنت پته ترې لګي ـ د امريکني ساختياتو مشهور غړي بلوم فيلډ ، سيپر او هيرئيس وو ـ

## ليونارډ بلوم فيلډ (Leonard-Bloom field) (1887ء- 1949ء)

بلوم فيلډ د جديدې ژبپوهنې په سرخېلانو کښې وو ـ او د امريکني ساختيانو يو اهم شخصېت وو ـ بلوم فيلډ ته دا اعزاز حاصل دے ـ چې امريکنې ساختياتو ته ئې يو بنيادي شکل ورکړو ـ په جرمني ژبو کښې **Phd** نه پس هغهٔ د امريکې په مقامي او په **Astroncsian** ژبو باندې اوکړو ـ او ژبپوهنه ئې يو خودمختاره مضمون جوړ کړو ـ د هغهٔ غټ مقصد دا وو چې ژبپوهنې د سائينس حېثيت ورکړي ـ د بلوم فيلډ کتاب "**Language**" ته په ژبپوهنه کښې يو بنيادي حېثيت حاصل دے ـ بلوم فيلډ وائي چې د دې کتاب هره پاڼه د ساسور نظريه او سوچ ښائي بلوم فيلډ د دهٔ نه هم ډېر متاثره وو ـ

د هغه کتاب **Language** چې په **1933**ء کښې چاپ شوے وو ، د ژبپوهنې تعارف وو او تر ديرشو کالو پورې د دې کتاب ثاني نهٔ وو ـ[1]

[1] R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman publishers, 1997)P:208

## ایډورډسپیر : (1884ء - 1939ء)

سپیرد امریکې ژبپوهان او بشرپوهان وو۔دے په جرمني کښې پیدا شوے وو خو دے لا د پینځو کالو وو چې د دهٔ خاندان امریکې ته هجرت اوکړو په کولمبیا یونیورستۍ کښې د مطالعې په دوران کښې دے مشهور بشر پوهان فرانز باؤز سره ملاؤ شو ۔دهٔ سپیر له مشوره ورکړه چې د امریکې علاقائي ژبې او ثقافتونه مطالعه کړي سپیر پینځلس کاله په اوټاوه کښې تیر کړل ، او د کېنیډا د مقامي خلقو د ثقافتونو مطالعه ئې اوکړه ۔ دهٔ په شکاګو او **yale** یونیورستو کښې هم د تدریس کار اوکړو۔ دهٔ په ژبپوهنه او بشر پوهنه دواړو کښې ډیر کار کړے دے ، او په ډیرو امریکني هندوستاني ژبوئې د اعلي درجې کار کړے دے لکه په انډویورپین **Semetic**او ډیرو امریکن مادري خاندانونو باندې هغه د ژبو**uto-Aztecan** خاندان قائم کړے دے۔ دغه شان د **Ritwan-Algonquian** ژبو خاندان ئې هم متعارف کړے دے، د دې نه علاوه ئې په فونولوجي کښې هم د سپیر خدمات د هیرولو نهٔ دي۔ په فونیم ئې هم ډیر کار کړے دے چې تر اوسه پورې لوستے شي ۔ په دے **Area** کښې د هغهٔ کار یا د ګاري دے، هغهٔ په جرمن ژبپوهنه کښې تربیت یافته وو۔ او د**Humboltian** نفسیاتي روایت نه خبر وو۔

په **1921**ء کښې د هغهٔ کتاب **Language**د تیرې پیړۍ په صرفي قسمونو باندې مشتمل وو ، د هغهٔ خپله **Typology**د اتلسمې

او نولسمې پیړۍ د روایت مطابق ده۔کومه چې شلیګل، بوپ،**Humboldt** شلیکر، مُلر، سټینفل ، **Wundt**او نورو پېش کړے وه ۔

## **Sapir-Whorf Hypothesis:**

سیپر ووُرف مفروضه ایډورډسیپر (**1884**ء- **1939**ء) او بینجمن لي وُورف (**1897**ء -**1941**ء) پیش کړے وه۔ د دوي دا خیال وو چې د حقیقت په حقله ژبه د انسان د ادراک یا مشاهدې قوت بدلولے شي لکه د مثال په توګه د اریزونا**Hopi Indians** د وریځو جمع داسې جوړوي لکه چې دا زنده سر وي دغه شان هغوي د وخت د پاره مکاني استعارې نۀ استعمالوي او د هغوي په ژبه کښې د ماضي زمانه نشته نو آیا دوي دنیا ته په دې زاویه نۀ ګوري۔ د ژبو ترمېنځه دا قسم فرقونه د ثقافت په وجه وي۔

## **Zelliz Harriz (1915ء -1992ء )**

**Harris** په ساختیاتي ژبپوهنه کښې یو نوموړے نوم ګڼلے شي دے په یوکرین کښې پیدا شوے وو ، او د خپل ژوند ډېره حصّه ئې په فلاډلفیا کښې تېره کړې وه او په فلاډلفیا کښې به ئې په پنسلونیا یونیورسټۍ کښې ژبپوهنه تدریس کوله ۔ **Harris** په اسرائیل کښې هم وخت تېر کړے وو **Harris** د دریو څیزونو د وجې مشهور دے اولنے د هغۀ کتاب "**Methods in structural Linguistics**" دے چې په **1951**ء کښې چاپ شوے وو۔ د دۀ د مشهورتیا دویمه وجه

د دۀ په چامسکي باندې اثر وو ـ دۀ چامسکي د ژبپوهنې سره اشنا کړے وو او د دۀ اصطلاح **transformation** روستود چامسکي په کارونو کښې ليدے شي ، دريم **Harris** د **dis course analysis** اصطلاح هم جوړه کړې وه۔ او دا کوښښ ئې کړے وو چې محض د جملو د ساخت په نسبت دې د متنونو ساخت مطالعه کړے شي۔(1)

## جے آر فرتھ **J.R.Firth**: **(1890ء -- 1960ء)**

**Theory of speech of Language** په **Gardiner** د **1932**ء کښې د ژبپوهنې په حقله د ډېرو سوالونو جوابونه شوي دي، خو په برطانيه کښې د ځانګړې ژبپوهنې نظرې او د عمومي ژبپوهنې د يو تعليمي مضمون په حيث پېژندګلو **J.R.Firth** کړے ده چې په لندن يونيورسټۍ کښې د **1944**ء نه تر **1956**ء پورې د عمومي لسانياتو پروفيسر وو ، فرت زياته توجه فونولوجي ته ورکړه ۔(2)

د دې نه علاوه فرت تشريحي ژبپوهنې ته هم توجّه اوکړه ، فرت وائي چې د وينا د معنو تجزيه د تشريحي ژبپوهنې اهم مقصد دے۔(3)

(1 )The Routledge Companion to Semiotics and Linguistics , Paul Cobley (ed) (London: Routtedge Taylor of Francis Group of New York 2001) P:198-199

(2 )R.H. Robins, A short History of Linguistics (New yourk:Longman publishers, 1997)P:213

(3 ) Nigel Love, ”The Linguistic thought of J.R. Firth “in Linguistic thought in English 1914-1945, Ed, Roy Harris (New York :Routtedge, 1988)P:152.

## نوم چامسکي:(زیږون 1928 )

نوم چامسکي په 1928ء کښې د امریکې په ریاست فلاډلفیا کښې پیدا شوے وو ، چامسکي اول اول سیاست کښې اموخته وو، کله چې هغه Zellig Harrisسره ملاؤ شو نو هغهٔ ورته مشوره ورکړه چې ژبپوهنه مطالعه کړي او ډېر زر چامسکي ته د هارووډ یونیورسټۍ د پاره وظیفه ملاؤ شوه ـ په 1955ء کښې هغه په بوسټن ښار کښې Massachusetts Institute of Technology (MIT) ادارې ته لاړو ـ او هلته دیره شو د چامسکي ژبې ته او د ژبې زدکړې ته بېخي نوې اپروچ وو هغه د امریکني ساختیاتو نه مطمئن نهٔ وو ، ساختیات پوهانو په دې زور ورکولو چې ژبه د خُلې نه د ویستلو شوؤ غږونو او لفظونو یو سیټ دے په دې لحاظ انګرېزي ژبه هر هغه څهٔ دي چې د انګرېزۍ ژبې ویونکي ئې د خلې نه اوباسي یا لیکي ، د چامسکي په دې خبره دوه عملي اعتراضونه وو ، یو دا چې دا سیټ تر ډېره حده لامتناهي دے ـ او اګرچې دا په حسابي طریقه واضحه کېدے شي خو دا په دنیا کښې په حقیقي توګه وجود نهٔ لري او دویم دا چې په دې سیټ کښې غلطۍ، تکرارونه ، د ژبې لغزشونه او داسې نورې کمۍ شاملې دي چې ژبپوهان ئې نظرانداز کوي چې کله هغوي د ژبې په حقله خبرې کوي ، د چامسکي په ساختیاتو باندې اعتراض دا وو چې

ساختيات د ټولو ژبپوهانو د يوې ژبې په حقله د عام تاثر عکس وړاندې کولو کښې ناکامه دي۔(1)

چامسکي وائي چې د يوې ژبې ويونکي په شريکه څۀ وائي او څۀ چې د يوې ژبې ګرائمر بيانول غواړي دا ټول زمونږ په ذهن کښې د يو نظام په حېث موجود دي ، چامسکي د فلاسفرانو د دليل بېخي ردکړو چې علم يو داسې څيز دے چې په سائنسي توګه ئې تفتيش نۀ شي کېدے ، د دې برعکس هغه وائي چې که چرې دا علم زمونږ په ذهن کښې وجود لري نو دا د ساختياتو د "ژبې" په نسبت زيات کوټلے وجود لري۔ دا علم د انساني دماغو په اعصابي سرکټونو کښې په طبعي توګه موجود دے او د "علم" اصطلاح زمونږ د مزغو دغه برخې ته يوه تجريدي اشاره ده او دا تجريديت بالکل هغه شان معياري او په منطقي توګه قابل قبول دے څنګه چې په نورو سائينسونو کښې تجريدي طريقې وي ۔

چامسکي دا هم وائي چې د ژبني علم څۀ اړخونه پېدائشي دي يعني هغه د انساني مزغو د جينياتي پروګرام نتيجه وي نۀ چې زده شوې

(1) Lyle Campbell, The History of Linguistics Eds:Mark Aronoff and Jannie Rees Miller, (Oxford uk : Blackwell publishers,2002) available at <http://www.blackwellr refrence.com/subscriber/to cnode?id-g9781405102520-chunk g-97814051025206>( accessed :september20,2016).

تجربې ، د هغۀ د کار غټ مقصد دا وو چې د ژبې دا جينياتي خصوصيات واضحه کړي څۀ ته چې هغۀ يونيورسل ګرامر وئيل۔([1])

چامسکي وائي چې د يوې ژبې ويونکو ته نورو څيزونو سره سره دا هم معلومه وي چې څنګه به د جملو يو لا محدوده شمېره ادا کوي ، (څۀ ته چې ژبنے تخليق وئيلے شي ) چې په هغې کښې به ډېرې بېخي نوي وي ، او د دې نه مخکې به چانۀ وي وئيلے د دې دومره جملو ادا کولو د پاره يو اهليّت پکار دے۔ چې چامسکي ورته**Competence** وائي او څۀ ته چې **generative grammar**وئيلے شي۔ د تېرو پوهانو په خلاف چامسکي په نحو زور ورکوي ، او په نحو زور ورکولو سره هغه د دې "تخليق" د تشريح د پاره بنياد کېښودو۔ د **Competence** د تصوّر د تشريح د پاره جنريټوګرامر په ليک کښې راوستل ايجاد شول ، جنريټوګرامر د قواعدو ، اُصولو او حدودو يو روايتي نظام دے ، چې دماغو ته ميسّر د هغه محدود طريقۀ عمل تشريح کوي د کومې په ذريعه چې د جملو لامحدوده تعداد په داسې طريقو پېدا کېدے شي چې تجرباتي نتائج لري او د سوچه سائينسونو په طريقو د هغې آزمائش کېدے شي۔ د **Baos**او بلوم فيلډ په خلاف چامسکي ژبپوهنې د عموميّت مقصد مخې ته کړو۔ چې دا معلوم کړي چې په ژبو کښې په عمومي توګه څۀ مشترک دي ۔

([1] )The Routledge Companion to Semiotics and Linguistics , Paul Cobley ed) (London: Routtedge Taylor of Francis Group of New York 2001) P:198-169

او دغه شان د ژبو په حقله یوه کوټلے نظریه قائمه کړے شي ، د چامسکي دې اپروچ ته جنریټو ګرائمر یا **transformational generative grammar**وئیلے شي۔ ټرانسفارمیشن هغه قواعد دي چې یو نحوي جوړښت د بل سره مربوط کوي ۔

د ژبې په حقله نظریه قائمولو کښې آفاقیّت ته مرکزي مقام حاصل دے او چامسکي د آفاقیّت قائل دے۔ هغه د امریکني ساخت پوهانو د "دریافت طریقې" رد کوي چې د یوې ژبې د کاریس نه د ګرائمري تشریحاتو او قواعدو اخذ کولو د پاره استقرائي طریقې استعمالوي۔ د چامسکي مطابق د یو ژبپوهان کار دا نۀ دے چې د یوې ژبې د لغاتو نه د هغه ژبې ساخت معلوم کړي۔ د دې برعکس د یو ژبپوهان کار دا پکار دے چې د ژبې د ساخت د هغه علم تشریح اوکړي کوم چې د یوې ژبې دیسي باشنده ګان لري ، دے خبرې د ژبپوهانو توجه د اصلي رویّو یا ریکارډ شوي معطیاتو نه د علم هغه نظام پلو راواړوله چې د ژبې د وئیلو او په ژبه د پوهېدلو سرچینه ده ، او د دې علم شاته د انساني ژبې چې کومه عمومي نظریه ده هغې پله ئې توجه راواوړیده ۔ او دې خبرې د ژبپوهنې مېدان ته یو نوے رُخ ورکړو ، او د بلوم فیلډ او د هغۀ د ملګرو **anti-mentalism**او د **Baos**او د بلوم فیلډ او د دوي د ملګرو-**anti theorizing** تردید ئې اوکړو .

چامسکي د ژبپوهنې د نظریې مقصد ته یو نوے رُخ ورکړو او د ژبپوهنې مقصد ئې یو داسې کوښښ اوګرځوۀ چې د "یوې ممکنه

انساني ژبې ، چې یونیورسل ګرائمر ورته وئیلے شي " خصوصیات په ګوته کړي د هغه په خیال د ژبپوهنې مقصد دا دے چې د انفرادي ژبو د مطالعې نه اخوا د انساني ژبې آفاقي خصوصیات معلوم کړي او یو آفاقي ګرائمر قائم کړي چې د انساني ژبو ترمېنځه فرقونه اوښائي ، د ګرائمر نظریه په ځۀ عمومي اُصولو انحصار کوي ، چې د ګرامر په جوړښت کښې د قانون حېثیت لري او دې اُصولو ته د ژبې آفاقي خصوصیت وئیلے شي او دا هغه خصوصیات دي چې په حیاتیاتي توګه پېدائشي وي د پېدائشي خصوصیاتو دا تصوّر په **1960**ء کښې **Erich H. Lemeberg** پېش کړے وو او چامسکي خپل کړے وو۔

د هغۀ دا دلیل وو چې د ژبې په حقله زمونږ ډېر علم آفاقي او پېدائشي دے ، یعني په جینیاتي توګه انسان ته ورکړے شوي وي ، د ژبې جبّلت زمونږ حیاتیاتي او پېدائشي دے۔

چامسکي د هغه وخت د **behaviourist psychologists** په دې نظریه ټکونه اوکړل چې ماشوم پېدا شي نو د هغه ذهن د یو صفا سلیټ په شان وي ، او د انسان نفسیات زیات تر د چاپېریال نه متاثره کېږي ، چامسکي وائي چې ماشوم پېدا شي نو د هغۀ ذهن د یو صفا سلیټ په شان نۀ وي بلکې هغه په جینیاتي توګه د ژبې زدکړې ته په یوه مخصوصه طریقه د وړاندې نه موافقت لري۔([1])

([1] ) Lyle Campbell, The History of Linguistics Eds:Mark Aronoff and Jannie Rees Miller, (Oxford uk : Blackwell publishers,2002) available at <http://www.blackwellr refrence.com/subscriber/to cnode?id-

په **1959**ء کښې د چامسکي پيپر "**Review of skinner's verbal behaviour**" د **Behaviourist psychologists** ترديد اوکړو۔چې تر اوسه ئې بلوم فيلډ او د هغهٔ **followers**متاثره کړي وو۔

په **1957**ء کښې بي ،ايف سکنر (**1904**ء ــــ **1990**ء)دا دعوي کړې وه ، چې ژبه د رويّو يو سيټ دے چې په کلونو کښې په قلاره قلاره زده کېږي ، لکه چې هغه په منږکانو تجربه کړې وه ، دهٔ په منږکانو د سعي او خطا تجربه کړې وه ، چې منږک ته به پکښې د خوراک يوه ګولۍ د ريوارډ په توګه ورکولے شوه دا تجربه څهٔ په دې قسم له وه ۔

په يوه مخصوصه تجربه کښې به يو منږک په يو کورکي کښې بند کړے شو۔ په دې کورکي کښې يو لاسکے غوندې لګېدلے وو۔ چې کله به منږک دے لاسکي له زور ورکړو نو دهٔ ته به د خوراک يوه ګولۍ را اوغورځېده، په اول ځل منږک په اتفاقي توګه لاسکي له زور ورکړو او بيا منږک دا چل زده کړو او دا ئې عادت جوړ شو چې کله به دے اوږے شو نو لاسکي له به ئې زور ورکوؤ ، بيا دا تجربه لږه نوره هم ګرانه کړے شوه د لاسکي د زور سره د رڼا پړق هم يو ځاے کېدل هم شروع شول ۔ اوس به منږک ته هله خوراک ملاوېدو چې د لاسکي د زور سره به پړق هم اوشو ، منږک رو رو دے سره هم عادت شو۔ او دغه شان په

---

g9781405102520-chunk g-97814051025206>( accessed :september20,2016).

دمه دمه دا تجربه ګرانه کېدله ـ دې ته سکنر **operant Conditioning**وئيل د اپرنټ کنډيشنګ څۀ په دې قسمه بيانيدے شي:

تحريک ــــــردّ عمل ـــــــدوباره **Reinforcement**تکرار

سکنر او اروا پوهانو په مثبت او منفي ايوارډ يا انعام کښې فرق اوکړو ، ستائينه او جزامثبت دي رټل او سزا منفي دي او جزا او ستائينه د زده کړې د پاره ښۀ دي .

سکنر وائي چې انسان هم په دې طريقه زده کړه کوي۔([1])

د چامسکي تنقيد دا اوښودله چې د منږک روّيه د انسان د روّيې سره نۀ شي مقابله کېدلے۔ او سکنرد ژبې په فطرت کښې د غلط فهمۍ ښکار شوے دے۔ د يو خاص محرک په موجودګۍ کښې د انسان د خلې نه د وتلو آوازونو پېشن ګوئي نۀ شي کېدے ـد مثال په توګه چې کله مونږ يو ښکلے تصوير اووينو نو مونږ صرف دا نۀ وايو چې "واه ! څومره ښکلے تصوير دے " بلکې دا هم وئيلے شو چې "دا پس منظر سره سمون نۀ خوري " يا "دا ډېر ښکته زوړند دے " يا "دا ډېر بدرنګ دے "

مور پلار د ماشومانو د هغه جملو تصديق کوي يا په هغې انعام ورکوي کومې چې رښتيا وي نۀ چې هغه چې په ګرامري توګه صحيح وي ، د يو ماشوم په ګرائمري توګه غلطې جملې "بالوجرابه اَ " ته مور

([1] ) Mian M saif-ul-Haq and Bashir Hussain, An Approach to the study of linguistics (Lahore:New kitab mahal, date not mentioned)P:42.

صحيح وائي چې کله ماشوم مور ته يو داسې بالو اوښائي چې جُرابې ئې اچولې وي  خو مور د ماشوم په ګرائمري توګه ښځي صحيح جملې ته غلطه وائي ، لکه ماشوم وائي ''اوګوره ! بالو جُرابي اچولې دي '' او مور ته داسې بالو اوښائي چې جُرابې ئې نۀ وي اچولي ـ

چامسکي وائي چې کېدے شي چې څۀ انساني کارونه لکه ډرائيونګ يا بنين جوړول وغېره لکه د منږکانو په طريقه زده کولے شي خو ژبه نه د ژبې جوړښت ډېر پيچيده دے او ماشومان د سعي او خطا د يوې اوږدې مرحلې نه نۀ تيريږي ـ د پېدائشي صلاحيّت يو دليل دا دے چې ماشومان ژبه په ډېر لږ وخت کښې زده کوي ، د ماشومانو په چاپېريال کښې **motivation**دومره ډېر کمزورے وي چې د ژبې د زده کړې بنياد نۀ شي ګرځېدے ـ د ماشومانو تجربه محدوده وي خو هغوي چې کوم اهليّت حاصل کړي ، د هغې په زور د ګرامري جملو لامحدوده تعداد جوړولے شوي ، او دا د تحريک د دليل کمزوري دهـ([1])

د ژبې زده کړه په ذهانت انحصار نۀ کوي ، په ذهني توګه د کمزورو ماشومانو ژبه د ذهينو ماشومانو نه لاندې نۀ وي ، په ذهني توګه د ټولو نه لاندې ماشومان هم ژبه زده کوي۔ او په ټوله نړۍ کښې ماشومان د عمر په يوه حصّه کښې ژبه زده کوي چې په چاپېريال ،

([1] )Lyle Campbell, The History of Linguistics Eds:Mark Aronoff and Jannie Rees Miller, (Oxford uk : Blackwell publishers,2002) available at <http://www.blackwellr refrence.com/subscriber/to cnode?id-g9781405102520-chunk g-97814051025206>( accessed :september20,2016).

ثقافت ، او نسل هیڅ انحصار نهٔ لري ، د دې مهارت او قابلیّت سره هیڅ تعلق نشته ـ

د کله نه چې دا نظریه شروع شوې ده نو دا د ګڼو نظریو په نوم یاده شوې ده لکه **Standeard theory ‘Laxalist Hypothesis , Extended standard thory trace theory** او **Government of Binding theory** چې روستو ورته **Principles of parameters approach** اووئیلے شول ، او هم دغه وجه ده چې چامسکي نن ورځ هم د دنیا په اولنو هغه لسو کسانو کښې دے چې **Citation rate** ئې سېوا دے مطلب د هغهٔ د لیکونو نه حوالې راخستې شي ، او د هغه نه اولني مارکس ، لینن، شیکسپیئر ، بائیبل ، ارسطو ، افلاطون او **Freud** دي۔ د دې نه علاوه هغه د دنیا په اولنو لسو کسانو کښې یواځینے ژوندے کس دے۔([1])

هم په دې عشرو کښې جنریټو ګرامر سره سره په **typology** هم ژبپوهانو کار اوکړو۔د **typology** تعریف مونږ په دې لفظونو کښې کولے شو چې **typology** د ژبود امتیازي خصوصیاتو په لحاظ د ژبو ویشنه او د ژبو ترمېنځه د دې خصوصیاتو تقابلي مطالعه کول دي۔ د ژبو ویشنه په مختلفو ګروپونو کښې د ژبو د صَرفي او نحوي او نورو

([1] )Lyle Campbell, The History of Linguistics Eds:Mark Aronoff of Jannie Rees Miller, (Oxford uk : Blackwell publishers,2002) available at <http://www.blackwellr refrence.com/subscriber/to cnode?id-g9781405102520-chunk g-97814051025206>( accessed :september20,2016).

مختلفو خصوصیاتو په وجه کېږي۔په دے مېدان کښې اهم نوم د جوزف ګرین برګ دے۔دۀ د**typology** په مېدان کښې ډېر انقلابي کارونه اوکړل .

په **1963**ء کښې د جوزف ګرین برګ پیپر **Some universals of Grammar with particular Refrence to the order of Meaninful Elements.** د تاریخي ژبپوهنې په مېدان کښې پرمختګ سبب اوګرځېدو۔ په دې آرټیکل کښې جوزف ګرین برګ د لفظ د ترتیب په لحاظ په **typology**خبره اوکړه ۔ د دې نه پس **typology**د ژبپو د جوړښت په دوباره سازولو کښې د یوې آلې په توګه پکاریدل شروع شو۔ هم په دې کال د رومن جیکوب سَن د سیمینار پیپر" **implications of Language universals for Linguistics**" په **1972**ء کښې د **Gamkrelidze**او **Vjaceslav Ivanov**او د دوي نه علاوه په **1973**ء کښې **Paul Hopper**دوي ټولو د **glotlalic theory** تجویز پېش کړو۔ دا نظریه د انډویورپین مزاحمتي نظام یو نوې او دوباره جوړښت دے **Bernard comrixe**په **1981**ء کښې په خپل مونوګراف " **Langage universals of Linguistic Typology**"د ګڼو ژبو په بنیاد د **typology**او د**univesalist approach**خصوصیات تیار کړل۔([1])

([1]) Silvia Luraghi and vit Bubenik, Historical Linguistics :History, sources and Resources in Bloomsbury Companion to Historical Linguistics, Eds:silvia Luraghi of vit Bubenik, (London: Bloomsburry, 2013)P:11.

هم په دې وخت د ژبو د آفاقي خصوصیاتو شخړه هم را اوچته شوه ، د آفاقي خصوصیاتو په حقله جنریټو اپروچ دا وو چې ټول آفاقي خصوصیتونه د انسان حیاتیاتي قابلیت او استعداد دے چې د ماشومانو په مزغو کښې پیدائشي وي بل اړخ ته **functionalist-approach**په دې زور ورکوي چې ژبه په ټولنه کښې په خبرو اترو زده کولے شي۔ په **1970**ء کښې په امریکه کښې د ژبې په بدلون ډېر کار اوشو چې زیات تر لهجو پوهانو شروع کړے وو۔

د ژبې په بدلون **Sociolinguists**ډېر کارونه اوکړل ۔ د ولیم لے باؤ په **1972**ء کښې په **Sociolinguistic patterns**فیلډورک ډېر د قدر وړ کار دے۔هغۀ دا اووئیل چې د **Synchronic**بدلونونو د **diachronic** بدلونونو سره ژور تعلق دے۔ په دې لړ کښې **Pidgin**او**Creols** باندې هم کارونه اوشول۔ د **Crcole**جدید روایت د **Hugo Schuchardt** د یادګاري کارونو نه پس شروع شو۔هغه اووئیل چې د ژبو په بدلون کښې د بالغانو د دوئیمې ژبې د زده کړې هم ډېر کردار دے ۔هم په دې دوران کښې د انډو یورپي ژبو د مطالعې د روایت نه د ژبو په بدلون کار شروع شو چې پکښې د نحو مطالعه هم په تاریخي توګه اوشوه ۔ په **1995**ء کښې د **Alice c. Harris**او**Lyle Campell** مونو ګراف " **Historical syntax in Cross-Linguistic perspective**"د نحوي بدلون د پاره یو عمومي چوکاټ قائمولو کښې یو مهم کردار لري .

# څلورم باب

## د ژبپوهنې بنيادي قسمونه

ژبپوهنې اوس د يوې غټې وُنې شکل اختيار کړے دے ، او ډېرې څانګې ئې سپړدي دي۔ د دې په نوؤ نوؤ څانګو او څړګو به په راروانو بابونو کښې خبره کولے شي ، په دې باب کښې به د ژبپوهنې په بنيادي قسمونو خبره کولے شي ۔

ژبپوهانو د دې ويش په ګڼو طريقو کړے دے ، د غږ په لېول مونږ د ژبې څېړنه په فونيټکس او فونولوجي کښې کولے شو۔

د لفظ په لېول د ژبې څېړنه په صرف او په معنياتو کښې کولے شو۔

او د جملې په لېول د ژبې مطالعه او څېړنه نحو د جملې ساخت، معنيات او **Pragmatics** کښې کولے شو ۔

د ژبپوهنې ذيلي څانګې مونږ په دوؤ غټو برخو کښې ويشلے شو۔**General Linguistics** يا **Theoritical**دې ته **Micro**هم وئيلے شي ۔ يعني په دې کښې مونږ د يوې مخصوصې ژبې مطالعه د نزدې نه کوؤ يعني د ژبې ژوره مطالعه کوو دوئمه برخه د **Applied Linguistics**ده چې **Macro**هم ورته وئيلے شي۔ په دې کښې مونږ د ژبې فراخه مطالعه کوؤ ۔ او دا ګورو چې د يوې ژبې نورو علومو

سره څۀ اړیکې دي۔ یا د ژبې علم په نورو علومو کښې او د نورعلوم د یوې ژبې په څېړنه کښې څۀ رنګه پکارولے شي ۔

په عمومي ژبپوهنه یا **General Linguistics** کښې لاندې قسمونه مطالعه کولے شي

**(1)**ګرائمر

**(2)**فونیټکس

**(3)**فونولوجي

**(4)**صرف

**(5)**نحو

**(6)**معنیات

**Pragmatics(7)**

**Discourse Analysis(8)**

**Lexicography(9)** یا لغت پوهنه ۔

**Applied Linguistics**یا **Macro Linguistics** کښې مونږ لاندې ورکړې شوي قسمونه مطالعه کولے شو ۔

**(1)**اسلوبیات **Stylistics**

**(2)**تاریخي

**(3)**د ژبې جُغرافیه

**(4)**نفسیاتي ژبپوهنه **Psycholinguistics**

**(5)**ټولنیزه ژبپوهنه **Sociolinguistics**

**(6)کلنيکي ژبپوهنه Clinical Linguistcs**

**(7)اعصابي ژبپوهنه Neoro- Linguistics**

**(8)حياتياتي ژبپوهنه Biological Linguistics**

**(9)کمپيوټري ژبپوهنه Computational Linguistics**

په دې باب کښې به مونږه د ژبپوهنې د ډېرو عامو قسمونو پېژندګلو کوو، چې د ژبپوهنې بنيادي قسمونه ګڼلے شي ـ دا قسمونه څلور دي :

**(1)تاريخي ژبپوهنه Historical Linguistics**

**(2)توضيحي ژبپوهنه Descriptive Linguistics**

**(3)تقابلي ژبپوهنه Comparative Linguistics**

**(4)اطلاقي يا تطبيقي ژبپوهنه Applied Linguistics**

په دې قسمونو به لاندې لړه په تفصيل خبره کولے شي

## (1)تاريخي ژبپوهنه:

تاريخي ژبپوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د يوې ژبې څېړنه پکښې په تاريخي توګه کولے شي ـ يعنې د تاريخ په يوه خاصه دوره کښې يا د يو خاص وخت نه تر دې دمه يا د ازل نه تر دې دمه په يوه ژبه کښې د غږونو په لحاظ، د تورو په لحاظ، د لفظونو د ذخيرې په لحاظ، يا د نورو ژبو نه د لفظونو د قبلولو په لحاظ يا د يوې ژبې نه د لفظونو اخراج او د ګرائمر په لحاظ يوه ژبه کښې خومره فرق راغلے دے ـ

هندوستانے لیکوال ترني پراساد د انګرېز لیکوال آر، اېچ روبنز (R.H.Robins) په حواله لیکي ، تاریخي ژبپوهنه وخت سره سره د ژبې د ترقۍ مطالعه ده یعنې هغه طریقې او لارې په کومو چې ژبه د یو دور نه بل دور پورې بدله شي او بیا د دې بدلونونو وجوهات او نتیجې هم مطالعه کولے شي او دا بدلونونه دې خامخا د دوؤ زمانو تر مېنځه مطالعه کړے شي ۔[1]

د تاریخي ژبپوهنې تعریف مونږ داسې هم کولے شو ، په ژبو کښې وخت سره سره د بدلون مطالعې ته تاریخي ژبپوهنه وئیلے شي چې کله کله ورته فلالوجي هم وئیلے شي څۀ تاریخي ژبپوهان یوه ژبه په تفصیل سره مطالعه کړي ، د یوې ژبې د لرغونو متنونو مطالعه اوکړي او د لغاتو ګریمر بدلون پکښې مطالعه کړي دغه شان د نورو دلائلو په رڼا کښې په تلفظ کښې هم بدلون مطالعه کړي ، نور ژبپوهان د ژبو یو ټولګے مطالعه کړي چې خپلو کښې یوشان والے لري ، او دغه شان د هغه اصلي مورژبې ته د رسېدو کوښښ اوکړي ، د کومې نه چې دا ټولې ژبې راوتې دي ، د تاریخي ژبپوهنې غټ کار دا دے چې ژبو کښې د بدلون طریقې او د دې بدلون وجوهات مطالعه کړي۔[2]

---

([1]) Tarni Prasad, A Course in Linguistics, (New Delhi:PHI Learning Pvt Ltd, 2009)P:7.

([2])The Routledge Companion to Semiotics and Linguistics , Paul Cobley (ed) (London: Routtedge Taylor of Francis Group of New York 2001) P:200

د کائنات د هر یو څیز شکل بدلیږي رابدلیږي او ژبې د دې بدلون نه خلاصې نۀ دي ـ په عامه توګه په ژبه کښې بدلون ډېر په قلاره قلاره کېږي ، چې محسوسیږي هم نه ، د تلفّظ په ادائیګۍ کښې بدلون ډېر په قلاره قلاره راځي ، کله چې یونسل د بل نسل نه لږ بدلې طریقې سره یو لفظ ادا کوي ـ دغه شان د ټولنې یو ټولګې یو لفظ یو شان ادا کوي ، او بل ټولګې ئې بل شان ادا کوي ـ د دوي ترمېنځه مقابله جاري وي او آخر دا چې یو ټولګې غالب شي بل مغلوب شي، او غالب طرز دوامیّت اومومي ـ په امروزه ژبه کښې هم د بدلون پته لګي ولې په عامه توګه په ژبه کښې بدلون ډېر په قلاره راځي ، که چرې مونږ د یوې ژبې د لرغونو متنونو موازنه د اوسني متن سره اوکړو نو فرق به صفا ښکاره شي ـ

د مثال په توګه مونږه که خپله ژبه کښې د خېرالبیان متن ته اوګورو ـ اوبیا د دویم دور متن ته اوګورو او بیا د اوسني دور متن ته اوګورو نو پته به اولګي چې په پښتو ژبه کښې وخت سره سره کوم بدلون راغلے دے ، یو څو کاله یا یو څو عشرې پس دا فرق دومره نه ښکاري خو یو څو پیړۍ پس دا فرق ډېر جوت ښکاري ـ

که مونږ غور اوکړو نو دا فرق په څو ځایه کښې لیدے شي، عام لغتونه، ګریمر ، ضمیرونه او امدادي فعلونه ـ

د یوې ژبې مختلفې برخې په مختلفه **ratio** بدلیږي ـ او څۀ نسبتًا په آسانه بدلیږي لکه د یوې ژبې عام لغات په آسانه بدلیږي ، ولې

ضمیرونه د لغتونو په نسبت په کم رفتار بدلیږي ، دغه شان تړلي مارفیمو نه د آزادو مارفیمونو په نسبت په قلاره بدلیږي۔([1])

په یوه ژبه کښې بدلونونه د لاندینو وجوهاتو له کبله واقع کیږي۔

(1)د غږ خوزښت (**Sound shift**) چې د ټولو ژبو په تاریخ کښې موندے شي ۔

(2)لفظونه، مارفیمونه او فونیمونه بدلیدے شي ، ختمیدے شي یا سېوا کېدے شي ۔

(3)د لفظونو معنې فراخه کېدے شي ، تنګیدے شي یا بدلیدے شي۔

(4)په یوه ژبه کښې نوې لفظونه راننوځي یا خو د نورو ژبو نه پور اخستے شي ، یا د نورو لفظونو د یو ځاے کېدو نه جوړیږي او یا محففات جوړیږي ۔

(5)د یوې ژبې لغات هم راغونډیږي او زاړهٔ لفظونه ختمیږي ۔

(6)دغه شان د ګاونډي ژبو د لغاتو نه **Protolanguage**هم جوړولے شي۔

په جدیده توګه د تاریخي ژبپوهنې څېړنه څهٔ تقریبًا دوه سوه کاله زړه ده ، خو په ځنې ثقافتونو کښې دا روایت ډېر زوړ دے۔

تاریخي ژبپوهنه په دې زاویو د ژبو مطالعه کوي ۔

(1)د لیکلي مواد په بنیاد د خصوصي ژبو د تاریخ مطالعه ۔

(2)د ژبو د ماقبل تاریخ مطالعه په تقابلي طریقه مطالعه کول ، چې د

([1] )William B McGregor, Linguistics An Introduction, Reprint (London:Continuum International Publishing Group, 2010)P:277.

نالیکلي ماضي رغونه د اوسني وخت د ډیټا نه سازه کړي ـ

(3)په موجوده وخت کښې چې په ژبو کښې کوم بدلون راځي هغه مطالعه کول ـ

د تجزیې د آسانتیا د پاره ژبپوهانو ژبنے نظام په مختلفو ټولګو کښې ویشلے دے ، لکه غږونه یعني فونولوجي د لفظونو ساخت یعني مارفالوجي د جملې ساخت یعني نحو او معنیات یعنې **Semantics** ژبنے بدلون په دې ټولو کښې راځي ، خو ځنې بدلونونه ډېر تېز وي لکه د یوې ژبې لغات او څۀ بدلونونه په قلاره راځي ، لکه مارفالوجي او نحو ، بره ورکړي شوي بدلونونه یو په یو بیانولے شي:

(1)په غږ کښې بدلون. **Sound change**

(2)صرفي بدلون . **morphological change**

(3)نحوي بدلون**Syntactic change**

(4)د لغاتو بدلون **vocbulary change**

(5)معنوي بدلون **semantic change**

(6)د ګریمر بدلون.**Grammatical change**

په بره ذکر شوؤ بدلونونو لاندې لړه په تفصیل سره خبره کولے شي:

## (1)د غږ بدلون :

وخت سره سره د یوې ژبې په غږ کښې بدلون راځي ـ دابدلون په څو قسمه وي ـ د فونیم په سطح هم وي ، او د مارفیم په سطح هم وي ، د غږ بدلون همېشه د یوې ژبې ټولنه ټول په ټوله یو شان متاثره

کوي ، صرف هغه لهجه د متاثره کېدو نه پاتې کېدے شي چې کله په يوه ټولنه کښې يوه لهجه په دوه قسمه کښې ويشلے شوي وي ، نو يوه ذيلي لهجه متاثره شي او بله پاتې شي۔([1])

دا بدلون په ټولنه کښې د چپو په صورت کښې خورېږي ، د دې بدلون په حقله جاهنسن شمدت يوه نظريه پېش کړې ده چې د **Wave Theory** په نامه پېژندے شي۔ د دې نظريې تعريف لاندې کولے شي ۔

## **Wave Theory** ويو تهيوري :

دا يو نظرياتي ماډل دے چې د دې مطابق ژبنئ اختراع په ټولنه کښې د يو مرکز نه ګېرچاپېره سيمو ته داسې خورېږي ، لکه چې څوک په ولاړو اوبو کښې کاڼي ورتاؤ کړي او د هغه ځاے نه د چپو يوه سلسله شروع شي۔ دا نظريه د ټولو نه اول **Johannes Schmidt** په خپل کتاب **On the interrelationship of the Indo-European Languages 1872** کښې پېش کړے وه ، او د چپو نظريه يا **Wave Theory** په نامه پېژندے شي۔ په دې نظريه کښې دې حقيقت ته اشاره شوې ده ، چې کله متعلقه ژبې يو بل سره مقابله کولے شي۔ نو په هغې کښې د جغرافيائي او ژبني فاصلې ترمېنځه يو قسم له ربط موندے شي۔([2])

([1]) Theodora Bynon, Historical Linguistics Reprint (Cambridge:Cambridge university press, 1990)P:173.
([2]) ibid-P:192.

د ژبني تعلقاتو په رغولو او دوي ته په وده ورکولو کښې مونږ د بدلون څۀ داسې عمل وينو چې هغه دومره باقاعده دے چې د قانون حېثيت ورته ورکولے شي او داسې يو باقاعده بدلون د انډويورپين ژبو په جرمني څانګه کښې ليدل کېږي ، په دې کښې يو قانون د Grimm قانون دے۔ چې لاندې په تفصيل سره بيانولے شي

## د ګرِم قانون:

دا قانون جيکوب ګِرِم Jakab Grimm(1785ء -1863ء) په 1822ء کښې جوړ کړے وو ، ولې د دې قانون بنياد د مخکښې نه راسمس رَسکRasmus Rasic (1787ء - 1832 ء)ايښودے وو، دا قانون په لرغوني هنديورپيProto Indo-european ژبه کښې د غږ څۀ اهم بدلونونه بيانوي ، لرغوني هنديورپي ژبه هغه ژبه ده چې زيات تر يورپي ژبې ترې نه راوتې دي۔([1])

په هند يورپي ژبو کښې د جرمنئ ژبو څانګه کښې کانسونينټ غږونو کښې ځانګړې او متعلقه بدلونونه ليدے شي ۔

د Grimmد قانون مطابق په جرمني ژبو کښې دا بدلونونه په درې قسمه دي :

(1)بې غږه تَم آوازونه بدل شي په غږيزو مښلو آوازونو کښې لکه K,T,P بدل شي په Q,f او h کښې ۔

([1]) William B Mcgregor, Linguistics An Introduction, Reprirt (London:Continuum International Publishing Group:2010)P:278.

(2)غږئيز تم آوازونه بدل شي په بې غږه تَم آوازونو کښې لکه **g,d,b** بدل شي په **t,p** او **k**باندې۔

(3)غږئيز ساه اوريدونکي تم بدل شي په هوارو غږئيزو تم کښې لکه **dh, bh** او **gh** په **d,b** او **g** واوړي ۔

د لوستونکو د آسانتيا د پاره به زۀ دا قانون په انګريزۍ ژبه کښې هم اوليکم :

**1. Voiceless stops became voiceless fricatives i-e P, t, k became f,Q,h.**
**2. voiced stops became voiceless stops i-e b, d, g became p, t, k.**
**3. voiced aspirated stops became plain voiced stops i-e.**
**bh, dh, gh became b,d,g ([1])**

په دې قانون کښې د ورکړو شوؤ د غږونو د قسمونو وضاحت لږ لوستونکو ته کوم :

(**Stop(1**: هغه آوازونه دي چې د ايستو په وخت کښې د ساه لاره مکمله بندوي يعني آواز ايستوکښې د ساه په لاره کښې خنډ اچوي۔

(**Fricatives(2**:هغه آوازونه دي چې غږ ايستو ته نيم په نيم خنډ د مښلو سره اچوي

(**Aspirated(3:**هغه آوازونه دي ، چې په ګوړ ګوړي (**layrnx**) کښې غږيز ببوزي يعني (**Vocal cords**) د يو بل نه لرے شي او

([1]) William B Mcgregor, Linguistics An Introduction, Reprirt (London:Continuum International Publishing Group:2010)P:278

داسې ساه پیدا کړي چې اوریدے شي.

دغه شان **Voiced** د غږیزو ببوزو رپولو ته اشاره کوي ، او **Voiceless** د غږیزو ببوزو نۀ رپېدو ته اشاره کوي ـ

څۀ انګریزي او فرانسیسي هم جنس لفظونه (**Cognates**) لاندې ورکولے شي چې د ګرِم د قانون وضاحت ترې نه کېږي

| **Grimms law sound change** | **English** | **French** |
|---|---|---|
| **P>f** | **foot** | **pad** |
| | **fish** | **poisson** |
| **t>Q** | **three** | **trois** |
| | **thou** | **Tu.** |
| **K>t** | **heart** | **coeur** |
| | **hound** | **Chien** |
| **d>t** | **two** | **Deux** |
| | **tooth** | **dent** |
| **g>k([1])** | **knee** | **Genon** |
| | **corn** | **Grain** |

په دې غږونو کښې د **b** چې په **p** بدلیږي د هغې مثال نۀ دے راوړے شوے، د ګرِم قانون د سلسله وار بدلون د لاندې شکل نه ښودلے شي.

| |
|---|
| **P>f**<br>**t>Q**<br>**K>h** |
| **b>p**<br>**d>t** |

([1] ) William B Mcgregor, Linguistics An Introduction, Reprirt (London:Continuum International Publishing Group:2010) P:279.

| |
|---|
| bh>b<br>dh>d<br>gh>g |

د ګرم د قانون د بدلون لړۍ.([1])

د ګرِمِ د قانون مطابق غږئيز بدلونونه دا درې جوړې خپلو کښې تعلق لري.

## د غږ د بدلون نور قسمونه :

د غږ د بدلون پينځهٔ عام قسمونه دي ، چې لاندينې ئې نومونه ورکولے شي.

(1) **Loss or Deletion** حذف يا اخراج

(2)**Insertion** اِدخال

(3) **Assimilation** انجذاب

(4) **Dissimilation**

(5)**Metathesis** تقليب حرفي

د بره ورکړو شوؤ ټولو بدلونونو پېژندګلو لاندې ورکولے شي.

## (1)Loss or Deletion(حذف يا اخراج ):

په حذف يا اخراج کښې د يو لفظ نه يو توړے حذف کېږي ، او د دې لفظ په تلفّظ کښې بدلون راځي ، حذف يا اخراج په درې قسمه دے :

([1] )William B Mcgregor, Linguistics An Introduction, Reprirt (London:Continuum International Publishing Group:2010)P:279

(ا)چې کله د يو لفظ د اول نه توري حذف شي نو دې قسم حذف ته **aphaeresis**وئيلے شي.

(ب)چې کله د يو لفظ د منځ نه توري حذف شي نو دې ته **Synocope**وئيلے شي .

(ج)چې کله د يو لفظ د آخر نه توري حذف شي نو هغې ته **apocope**وئيلے شي .

## (ادخال)Insertion(2)

دې ته **epenthesis**هم وئيلے شي ، چې کله د يو لفظ په غږ کښې يو فونولوجيکل حصه اضافي ننوځي نو دې ته اِدخال وئيلے شي.

**(انجذاب)Assimilation(3)**

په دې قسمه بدلون کښې په يو لفظ کښې يو توري د وړاندې يا روستو توري په شان شي او د لفظ تلفّظ لږ مختصر او آسان شي ، دا هم په دوه قسمه دے **Assimilation** او **Regressive** او**Progressive Assimilation**۔

په **regressive** کښې متعلقه توري د شاتني توري په شان شي ، او په **Progressive** کښې متعلقه توري يا بدليدونکے توري د مخکښني توري په شان شي ۔

دريم قسم **Partial Assimilation**يعنې نيم چه انجذاب چې پکښې يو توري د مخکښني يا روستني توري په شان لږ ډير يا نيم په نيمه بدل شي خو په پوره توګه نۀ بدليږي ۔

## :Dissimilation(4)ـ

دا د assimilationتضاد دے ـکله چې په يو لفظ کښې يو بل ته نزدې توري د يو بل نه لرې اپوته شي نو دې ته dissimilationوئيلے شي۔

## (Metathesis(5(تقليب حرفي)

په يو لفظ کښې د يو بل ته نزدې غږونو وړاندې وروستو کېدلو ته تقليب حرفي وئيلے شي۔

## د ورنر قانون :(verner,s Law)

د ګرِم نه پس کارل ورنر په 1876ء کښې په يوه پيپر " Eine Ausnahme deresten Lautverschiebung"(د وړومبني غږ د بدلون استثناء ) کښې د ګرِم د قانون څۀ بې قاعدګۍ بيان کړي دي ، چې په عامه توګه ورته د ورنر قانون وئيلے شي۔

## (2)مارفالوجيکل بدلون /صرفي بدلون :

مارفيم د يوې ژبې د وړې نه وړې اکائۍ ته وئيلے شي ، چې اشتقاق ئې نۀ کېږي ، په صرف کښې د لفظونو د شکلونو مطالعه کولے شي ، د غږ سره سره په صرفي سطح هم په ژبه کښې بدلون راځي ، د صرف په لحاظ هم ژبې په دريو ټولګو کښې ويشلے شوي دي ، چې ورته isolatingاو agglutinating اوinflecting وئيلے شي۔ isolatingهغه ژبې دي چې د تصريف عمل پکښې بېخي نۀ کېږي يا

ډېر کم وي ، او لفظونه پکښې سالم سالم په جُدا جدا شکل کښې وي لکه چيني ژبه دې قسمه ژبو کښې يو لفظ په يو مارفيم مشتمل وي ، دويم قسم **agglutinating**ژبې دي ، په دې ژبو کښې د لفظونو د څۀ بدلون نه بغېر په نحوي ترکيب جوړې جوړولے شي۔ لکه ترکي ژبه په دې قسمه ژبو کښې لفظونه د يو نه زيات مارفيمونو باندې مشتمل وي خو هر مارفيم ښۀ صفا جُدا وي او ځان له معني لري۔ دريم قسم ژبو ته **inflecting** وئيلے شي په دې قسمه ژبو کښې په لفظ کښې تصريف کېږي ۔ او د مصدر نه مشتقات جوړولے شي لکه لاطيني او يوناني ژبه وخت سره سره مارفيمونه د لفظونو نه اوځي ، او آخر دا چې ختم شي ، صرف باقيات ئې پاتې شي۔([1])

د دې نه علاوه د موجوده لفظونو په مثال نوي لفظونه هم جوړولے شي چې ورته **Analogy**وئيلے شي ۔ ژبې اکثر خپل صرف باقاعده کوي د غېر منضبط مارفيمونو ځاے منضبط مارفيمونه اخلي او دغه شان صَرفي قواعد داسې مارفيمونه پېدا کوي۔چې په ډېرو لفظونو او ترکيبونو کښې پکارولے شي ۔ ځيني وخت غېر منضبط او منضبط مارفيمونه په يو ځاے هم چلېږي خو خپل جُدا جُدا حېثيت او معني قائم کړي ، دې ته **bifurcation**وئيلے شي لکه په انګريزۍ کښې د کمپيوټر د آلې **mouse**د پاره جمع **mouses** استعمالېږي۔حالانکې په عامه توګه دا هم دغه منږکورے **mouse**

---

([1] )William B Mcgregor, Linguistics An Introduction, Reprirt (London:Continuum International Publishing Group:2010)P:282

دے او د دې د پاره په معیاري توګه **mice**لفظ د جمعې په توګه استعمالیږي ـنو د ځناور **mouse**جمع**mice**دے ـاو د کمپیوټر د آلې جمع **mouses**دے ـدا منضبط او غیر منضبط دواړه قسمونه استعمالیږي ـخو معنې ئې بېلې بېلې دي۔([1])

دا دعوي هم کولے شي چې په صرفي لحاظ ویشلي شوي د ژبو ټولګي په یو دائروي شکل کښې په ارتقائي توګه بدلیږي لکه د **isolating**ژبونه **agglatinating**جوړیږي ـد **agglutinating** نه **inflecting**او د**inflecting** نه بیا **isolating**ته راچورلي۔([2])

## نحوي بدلون:

په یوه جمله کښې د لفظونو ترتیب ته نحوي ترکیب وئیلے شي چې د لفظونو ربط ترې واضحه کېږي تاریخي ژبپوهنه په ژبه کښې نحوي بدلون هم مطالعه کوي ، په یوه ژبه کښې په عمومي توګه په یوه جمله کښې درې لفظونه وي ـ**Subject** یعني کار کولو والا، **verb**فعل یا کار او **object**مفعول یا هغه څیز چې کار پرې اوشي ، په جمله کښې فاعل ، مفعول او فعل ترتیب په شپږ قسمه کېدے شي ـ

**Svo**ترتیب زیات تر په یورپي ژبو کښې دے ، او**SOV** ترتیب په باسک ، ترکي ، او جاپاني ژبو کښې لیدے شي **VSO**ترتیب په

([1] )William B Mcgregor, Linguistics An Introduction, Reprirt (London:Continuum International Publishing Group:2010) P:282.
([2] ) Herbert schendl, Historical Linguistics Reprint (new York: Oxford university press, 2009)P:36.

کلاسکي عربۍ او عبرانۍ ژبه کښې ليدے شي ـ په1960ء کښې جوزف ګرين برګ د فعل او مفعول د ترتيب په لحاظ څۀ نحوي قواعد مرتب کړل هغه وائي چې voترتيب والا ژبې د دې ترکيب نه علاوه نور هم څۀ د لفظونو ترتيب او ګرامري خصوصيات لري چې د OVترتيب والا ژبو نه بېخي متضاد وي ـلکه د مثال په توګه په voژبوکښې نۀ صرف فعلونه د مفعول نه وړاندې راځي ـ بلکې تقابلي صفتي اسمونه هم د اسم نه وړاندې راځي ـولې په OVترتيب ژبو کښې فعل آخره کښې راځي ـ او دا بره ورکړے شوې ترتيب په کښې ټول اُلټه وي ـ([1])

ځنې ژبې په جمله کښې د Svo ترتيب نه آزادې وي ـ او په يوه جمله کښې د فاعل، مفعول او فعل په ترتيب ګډوډولو سره پکښې هيڅ فرق نه راځي لکه د مثال په توګه د لاطينۍ ژبې مثال به واخلو:

**1-Serve-T Consul-ew Caud-unt (Sov)**
**Slave-pl:sub Consul-sg-obj hear- they PRs**
**The slaves hear the consul .**
**2-Serv-T audi –unt consul-oem(Svo)**
**The slaves hear the consul.**
**3-Consul-em serv-t audi-unt (Osv)**
**The slaves hear the consul.**
**4-Consul-em andi-unt serv-t (Ovs)**
**The slaves hear the consul**
**5-audi-unt serv-t consul-em (Vso)**
**The slaves hear the consul**

([1] )) Herbert schendl, Historical Linguistics Reprint (new York: Oxford university press, 2009)P :42.

**6-audi-unt consul-em serve-t (Vos)**
**The slaves hear the consul.([1])**

په بره ورکړي شوي مثال کښې مونږ اولیدل چې د مفعول ، فاعل او فعل په ترتیب بدلولو سره د جملې په معني هېڅ فرق نهٔ پرېوځي، خو د انډویورپین په جدید لوړو ژبو کښې **Svo**ترتیب بېخي پوخ دے ، لکه روماني ژبې۔

د مثال په توګه د فرانسیسی ژبې دا مثال اوګورئ :

**Les esclaves entendent le Consul**
**The:pl Slave:pl They:hear the Consul**

په جدیدو روماني ژبو کښې دا سخت ترتیب بې شکه چې د اسم د حالتونو د ختمېدو د وجې راغلے دے

د لفظونو دا ترتیب د نورو ژبو نه مستعار یا قرض هم اخستیدے شي ، په پاپانیوګني کښې څهٔ پاپن ژبو **Sov**ترتیب د ګاونډو آسټرونیشین ژبو نه اخستے دے ولې څهٔ آسټرونیشین ژبو **Sov** ترتیب د ګاونډي پاپن ژبو نه اخستے دے ، په دې وجه دا یقین لرلے شي چې په مرکزي او ملني بے صوبو کښې د آسټرونیشین ژبو د لفظونو ترتیب اصلي **Svo** وو خو د پاپن ژبو د اثر د وجې په **Sov** کښې بدل شو۔([2])

([1]) William B Mcgregor, Linguistics An introduction Reprint (London:Continuum International publishing Group, 2010)P:284.
([2]) ibid P:284-285 .

## د لفظونو په ذخیره کښې بدلون :

د لفظونو په ذخیره کښې بدلون د ټولو نه ډېر تېز دے ، یوې ژبې ته نور ټکي ډېر په تېزۍ سره راننوځي ، په یوه ژبه کښې نوي ټکي په دوؤ طریقو سره راننوځي ، د نورو ژبو نه قرض اخستل او په ژبه کښې پخپله نوي لفظونه جوړول چې **Coining of new word** یا**Word formation** ورته وئیلے شي ـ دا دواړه طریقې په مختلفو ژبو کښې په مختلف نسبت واقع کېږي خو واقع کېږي ضرور ، په پخوانۍ انګرېزۍ کښې صرف دري فی صده قرض اخستي شوي لفظونه وو ولې په جدیده انګرېزۍ کښې اویا فی صده قرض اخستي شوي لفظونه دي چې د نړۍ د اتیا ژبو نه اخستي شوي دي ، چې په بنیادي توګه پکښې لاطیني او فرانسیسي ژبې شاملې دي

## نوي لفظونه جوړول :

مارفیم د ژبې د ټولو نه وړه معني لرونکے اکائي ده ، چې د ژبې په عمارت کښې د خښتې حېثیت لري ، نوي او ګران لفظونه په عمومي توګه د موجوده لفظونو او مارفیمونو نه جوړېږي ، د لفظونو د جوړولو دوه اهمې طریقې **Compounding**او**affixation** دي ، کمپاؤنډ د دوؤ آزادو مارفیمونو د یو ځائے کېدو نه جوړېږي لکه په انګرېزۍ کښې د **guest**او**house**نه**guesthouse** ،دغه شان په **affixation** کښې یو ترلے مارفیم د یو بنیادي لفظ سره د سابقې په توګه اولګي لکه **un.like**دویم عمل چې په ژبه کښې ورسره نوي لفظونه

رانوځي د مستعار اخستو یا قرض اخستو عمل دے چې په انګرېزۍ کښې ورته **burrowing**وئیلے شي **Burrowing**په ژبپوهنه کښې ډېر عام څیز دے ، او یوه ژبه هم د دې نه خلاصه نه ده ، خو په ځنې ژبو کښې په ډېر شمېر کښې لفظونه پور اخستي شوي وي ، او په ځنو کښې لږ لکه څنګه مې چې وړاندې د انګرېزۍ ذکر اوکو ، بل طرفته په الباني ژبه کښې صرف یو څو سوه لفظونه پور اخستي شوي دي پور په دوه قسمه دے **External Burrowing**او **internal Burrowing**

**External Burrowing**په درې قسمه دے **dialectical Burrowing**هغه پور دے چې د یوې ژبې یوه لهجه د بلې لهجې نه لفظ واخلي ، دې ته **dialectical Burrowing** وئیلے شي ـ کله چې د یوې ژبې د لرغوني حالت نه یو لفظ واخستے شي دې ته **archaisms** وئیلے شي ـ او د بلې ژبې نه اخستو شوؤ لفظونو ته **loans**یاقرض وئیلے شي ـ

بل قسم **borrowing**ته **internal burrowing**وئیلے شي چې کله یوه ژبه کښې دننه د یو لفظ نه بل لفظ د پاره معنې یا لفظ پوره په پوره واخستے شي نو دې عمل ته **internal Burrowing**وئیلے شي ـلکه په انګرېزۍ کښې **Bird** لفظ نن سبا د جینۍ د پاره **acceptable**دے ـدا لفظ شاید د **bride**نه اخستے شوے دے دغه شان پښتو کښې هم د جینۍ د پاره اکثر کمتره یا بلبله

لفظ استعمالېږي ، لفظونه قرض اخستل چرې هم ژبني ضرورت نۀ دے ، ځکه چې د يو موجوده لفظ د فراخولو او بدلولو نه د ابلاغ د پاره يو نوے لفظ جوړيدے شي ، د لفظونو د قرض اخستو يوه عامه وجه د څيزونو تصوراتو او ځايونو د پاره يو نوے لفظ موندل وي ، او په خپله ژبه کښې د جوړولو په نسبت د بلې ژبې نه په تياره اخستل ډير آسان وي ، د يوې ژبې نه بلې ژبې ته د لفظ د منتقل کېدو يوه لاره ثقافتي اثر هم دے ، لکه د مثال په توګه پښتو د انګرېزۍ نه ريډيو ، ټيلي وژن ، ټيلي فون ، رېل ، سګنل او پلېټ فارم لفظونه اخستي دي ، انګرېزۍ ژبې د اټلي ژبې نه پيانو ،**opera, sonnet** او **fresco**لفظونه اخستي دي ـ د عربۍ نه ئې **algebra, alchemy , zenith , cipher,** **zero** او **alcohol**لفظونه اخستي دي ـ د فرانسيسۍ ژبې نه ئې **Crown** ، **power**، **state**،**reign**، **country**، **Court**، **sovereign**او**chancellor** لفظونه اخستي دي ـ دا ځکه چې په انګلېنډ کښې **1066**ء کښې فرانسيسي يوه با وقاره ژبه ګڼلے شوه ـ

دغه شان د يوې ژبې ويونکي د بلې ژبې لفظ په دې وجه نۀ خپلوي چې ګني د دوي په ژبه کښې د دې د پاره لفظ نشته بلکې په دې وجه هم چې دوي دغه ژبه د عزّت او وقار باعث ګڼي ـ

د دې نه علاوه چې کله دوه ژبې ډېرې مُودې له خپلو کښې نزدې پاتې شي او د ويونکو شمېره ډيره وي نو دا ژبې خامخا په يو بل اثر کوي ـ

په یوه ژبه کښې د نوي لفظونو یوه بله وجه د ګران نه آسان او د اوږدوالي نه اختصار ته تلل دي ، په ژبپوهنه کښې دې ته **Zip,s law**وئیلے شي زِپ وائي چې د خاصو لفظونو په نسبت عام لفظونه اختصار اختیاروي ، کوم لفظونه چې ډېر په استعمال کښې وي ، اکثر د هغې مختصر شکل استعمالولے شي ، لکه د ریفجریټر نه فریج د ټیلي وژن نه ټي وي او د ایروپلین نه پلین **(Plane).** ([1])

معنوي بدلون :

په یوه ژبه کښې د لفظ او مارفیم په سطح بدلون راځي ، ولې لفظ او مارفیم معني هم بدلوي چې معنوي بدلون ورته وئیلے شي ، د معني بدلون په عمومي توګه د معاشرې د اثر د وجې وي ۔ وئیلے شي چې هر یو لفظ خپل شاته یو تاریخ لري ۔ او ځنې ډکشنرۍ د یو لفظ په پوره تاریخ رڼا اچوي ۔ لکه د انګریزۍ آکسفورډ انګلش ډکشنري او د فرانسیسۍ **Tresor de la langue fran caise**

د معنوي بدلون لاندیني قسمونه دي :

**Pejoration (1)**
**Amelioration (2)**
**Hyperbole (3)**
**Under statement (4)**
**Metonymy (5)**
**Semantic bleaching (6)**

د دې ټولو قسمونو پېژندګلو لاندې ورکولے شي.

([1]) Mian M . Saiful Haq and Bashir Hussain An Approach to the study of Linguistics (Lahore: New Kitab mahal , No date )P:283.

## : Pejoration (1)

**Pejoration** داسې عمل دے چې پکښې يو لفظ د خپل مطلب نه علاوه معني حاصله کړي ـ د يوې ژبې ويونکي يو لفظ په کم مثبت معنو کښې استعمالول شروع کړي ـ او آخر دې له پوره منفي معني ورکړي .

## Amelioration(2)

دا د **Pejoration**تضاد دے ـ په کوم کښې چې د يو لفظ معني د منفي نه په مثبت معنو کښې بدله شي او آخر مثبت معني قابل قبول شي او عامه شي

## Hyperbole(3)

د **Hyperbole** مطلب دے د يو لفظ معني د خپل اصل معنې نه سېوا کول ـ په **Hyperbole** کښې يو لفظ خپله عامه معني رو ، رو کمه کړي ، د ډېر زيات استعمال د وجې او ډېر مبالغې او شدّت د وجې د معمول نه هم په دوچنده معني کښې استعمالېدل شروع شي ـ

## understatement(4)

د يو لفظ معني د خپل اصل معنې نه کمول ـدا د مبالغې بل قسم دے ، چې پکښې د مبالغې په وجه د يو لفظ معني د اصل نه کمه استعمالېدل شروع شي ، او بيا په هغه کمه معني کښې استعمالولے شي ـ

## Metonymy(5)

دې ته په اُردو کښې مجاز مرسل وائي ، د څۀ خصوصيّت د مماثلت په وجه د يو لفظ نه اصل لفظ مراد اخستل

## Semantic Bleaching (6)

**Sementic bleaching**د ګرامري کېدو د عمل سره تړلے دے ، د دې مطلب دے د يو لفظ نه يوه معني صفا کول او بله پرې خېژول ، لکه ځوا د انګرېزۍ **will**مطلب **to want** يعني غوښتل وو خو دا اوس د امدادي فعل په معني په ګرائمر کښې استعمالېږي

## ګرامري بدلون :

صَرفي او نحوي بدلون سره سره د يوې ژبې په ګرائمر کښې هم وخت سره سره بدلون راځي کله چې يوه ژبه د بلې ژبې نه لفظونه پور واخلي نو په هغې خپل ګريمر اوخېژوي ـګريمري قواعد د يوې ژبې په زده کړه کښې ستونزمن وي او په حافظه بوج اچوي په دې وجه ګريمري بدلون هم د ژبې د آسانۍ په طرف يوه هڅه ده ـ

**:Analogy**

**Analogy** په يوه ژبه کښې د موجوده لفظونو په مثال نوي لفظونه جوړول دي ـ اودا زيات د ماشومانو په ژبه کښې ليدے شي ، لکه په انګرېزۍ کښې چې ماشومان **dogs, books**او **Cats**ته ګوري نو بيا د **foot** جمع **foots**جوړوي ، او د **man**جمع **mans** جوړوي دغه شان په پښتو ژبه کښې چې ماشومان د پيو، ماڅي، او نيا

جمع پېوګانې ، ماشې ګانې ، او نیاګانې اوري نو د دې په بنیاد د خور جمع خورګانې وائي او د ورور جمع رورګان چې غلط دي ، د دې اصل جمع خویندې او رونړه دي ـ ولې دا لفظونه اوس په استعمال کښې دي۔او وخت سره سره دا ټکي دومره اوښولیږي چې بیا بد نۀ لګي۔

## په ژبو کښې د بدلون وجوهات :

ژبپوهان نۀ صِرف د ژبې د مختلفو اړخونو بدلون معلوموي ، بلکې د هغې شاته څۀ عوامل کار کوي او څۀ وجوهات د دې بدلون باعث ګرځي ، هغه هم معلوموي ، لاندې د دې وجوهاتو ذکر کولے شي۔

(۱)د ژبو د بدلون یوه وجه جغرافیائي او ماحولیاتي ده جغرافیه او آب وهوا د ژبې په بدلون ډېر اثر پرېباسي ، غرونه ، سیندونه، ځنګلونه او واورې او بارانونه خاصکر د هغه ځاے په ژبه اثر کوي۔

(۲)ناګهاني آفتونه هم د ژبې د بدلون باعث ګرځي ، ناګهاني آفتونو د ټولو ژبو په تاریخ کښې ډېر لوے کردار ادا کړے دے د ناګهاني آفتونو په وجه د یو ځاے آبادي د خپل ځاے نه بې ځایۀ شي ، بل ځاے ته هجرت اوکړي یا د څۀ سیاسي اثر د وجې چې په یو قوم حمله اوشي فتح حاصله شي ـ داسې قسمه سیاسي اثرات د ژبې په معیاري ساخت کښې بدلون راولي ـ اهم ظاهري بدلونونه هم د دغه ناګهاني آفتونو د وجې دي ولې په یوه ژبه کښې دننه بدلون د دې خلل اندازۍ په وجه په دمه دمه واقع کېږي ، د یوې ژبې ظاهري تاریخ د پرمختګ دغه

خنډه وره لارښائي چې ژبه پرې په ارتقائي توګه راتېره شوي وي۔[1]

(۳)د ژبو د بدلون يوه وجه د انساني بدني جوړښت (**anatomy**) هم ده ، د بعضې نسلي ټولګو د آواز پېدا کونکي اعضاء د نورو انسانانو په نسبت نرم وي او په دې وجه ټکي په بدل رنګ کښې تلفظ کوي۔[2]

(٤)بله وجه دا هم ده چې خلق ناراسته وي ۔او د خپلې ژبې ټکي هغه شان نۀ تلفظ کوي څنګه چې پکار وي او که بلې ژبې سره اشنا وي نو د هغه ژبې ټکي د ناراستيا د وجې هم استعمالوي ۔

تاريخي ژبپوهنه د ژبو د بدلون د پاره لږ نور هم سائينسي او قابل قبول تشريحات پېش کوي ۔ چې لاندې ئې ذکر کولے شي۔

**Functional Explanations (1)**

**Psyehulinguistic Explanation (2)**

**Sociolinguistic Explanations (3)**

د دې ټولو وضاحت لاندې کولے شي :

## Functional Explanations (1)

په عملي توګه هر ژبني نظام کښې دننه د باقاعده کېدلو يو ميلان وي ۔ټول ژبني بدلونونه په بنيادي توګه معالجاتي يا شفائي دي ،چې د يوې ژبې نظام متوازن او ساده کوي ۔

[1] ) The Handbook of Historical Linguistics, Brian D. Joseph and Richard , D. Jahda (Ed), (Malden USA:Blackwell publishing Ltd,2003)P:51.
[2] ) Herbert Schendl, Historical Linguistics (New York: oxford university press reprint 2009)P:67 .

## Psycholinguistic Explanations (2)

په معنیاتو کښې یو نفسیاتي امر د انسانانو د مبالغې نه کار اخستل دي ـ کله کله دوي یو لفظ ډېر د جذباتو د وجې شدیدو معنو کښې استعمالوي یعنې د خپلې اصلي معنې نه دوچنده معني او کله کله د یو څیز معني د خپلې اصلي معنې نه هم کم کړي ـ دغه شان د لفظونو معنې رو رو بدلې شي ـ

دویمه اهمه وجه **taboo** لفظونه دي ـ **taboo** په معاشره کښې ناروا ، ممنوعه یا ناخوښه ټکو ته وئیلے شي ، په سوشل ژبه کښې د جنسي معاملاتو سره تعلق لرونکي ناخوښه ټکي مونږ په خپل اصل شکل کښې نهٔ استعمالوؤ او د دغه لفظونو یا کارونو د پاره څهٔ بل څهٔ ټکے استعمالوؤ چې هغه مونږ ته ډېر بد یا بربنډ نهٔ لګي ، په دمه دمه دا ټکي دومره عام شي چې بیا په اصل معني کښې استعمالېږي ، دغه شان نهٔ صِرف د داغ یا تور لګونکو ټکو بلکې صدمه یا خفګان رسونکو ټکو د پاره هم مونږ د اصل په ځاے لږ کم شدید او د عزت ټکي استعمالوؤ چې ډېر خفګان باعث جوړ نهٔ شي ـ لکه د چا د مرګ په موقع مونږ د هغهٔ نزدې رشته دارو زوے لور یا مور پلار ته دا نهٔ وایو چې فلانے مړ شو ـ بلکې اکثر خلق وائي : په حق اورسېدو ، یا زمونږ نه بېل شو یا خداے ځان ته اوبللو وغېره وغېره ـ

دغسې اُردو کښې "اللہ کو پیارا ھوگیا" او په انګرېزۍ کښې د **died** په ځاے **passed away** استعمالېږي ـ دغه شان یو عمر

خوړلے کس مونږ په بوډا یا بوډۍ لفظ نۀ رابلو ، چې اوه بوډا ، یا اوه بوډۍ، بلکې مشره ! یا ابۍ، بې بې وغېره مونږ د عزت د وجې وایو چې د هغه زړۀ ته درد او نۀ رسي

د دې نه علاوه مونږ په بل خپل **impression**غورځولو د پاره یا صرف د فېشن په توګه هم د نورو ترقي یافته ژبو لفظونه استعمالوۀ دا هم نفسیاتي وجه ده

## Sociolinguistic Explanations(۳)

د معاشرتي بدلون د وجې هم په ژبه کښې بدلون راځي ، کله چې یو قوم یا ټولګے د یو ځاے نه بل ځاے ته هجرت اوکړي نو دوي د یو بل په ژبه خامخا اثر کوي ـ مهاجرین به مقامي ټکي خپلوي او د دوي د لهجې او ژبې اثر به په مقامي خلقو هم وي ،لکه زمونږ په پېښور کښې د افغان مهاجرینو د وجې زمونږ په ژبه کښې او خاص کر د مارکیټ په ژبه ډېر اثر پرېوتے دے ـ

دغه شان چې کله په یو ځاے کښې دوه یا د دوۀ نه زیاتې ژبې وئیلے شي ـ نو هم د دوۀ ژبو آمیزې نه یوه نوې ژبه وجود مومي چې په انګرېزۍ کښې ورته **Pidgin**وئیلے شي ـ

د دې نه علاوه د بهرني طاقتونو د اثر د وجې هم د غالب قوم ژبه د مغلوب قوم په ژبه اثر کوي ، مخکښې خو دا غلبه صرف د جغرافیائي سرحدونو تر حده وه او اوس د میډیا او سائینس او

ټيکنالوجۍ په وجه هم يوه ژبه په بله ژبه اثر کوي ـ چې ژبو سره پکښې بې کچه بدلون راغلے دے ـ

## توضيحي ژبپوهنه

توضيحي ژبپوهنه د ژبپوهنې بنياد دےـ بلکې که مونږ داسې اووايو چې هم د دې په بنياد د ژبپوهنې ټول عمارت ولاړ دے ، نو غلطه به نۀ ويـ

کولِنز انګلش ډکشنري د توضيحي ژبپوهنې تعريف په دې لفظونو کښې کوي ـ

توضيحي ژبپوهنه د ژبې د دننې جوړښت فونولوجيکل يعنې غږئيځ ، قواعدو او معنوي جوړښت او شکل تشريحي مطالعه ده چې په يو خاص وخت کښې د ژبې مطالعه کوي دې ته **Synchronic Linguistics**هم وئيلے شي ـ(1)

ويبسټرکالج ډکشنري د توضيحي ژبپوهنې څۀ داسې تعريف کويـ

د تاريخ او نورو ژبو سره د تقابل نه علاوه د يوې ژبې د قواعدو، درجه بندۍ او د ښکاره خصوصياتو ترتيب ته توضيحي ژبپوهنه وئيلے شيـ(2)

(1) Collins English Dictionary, 12th Edition, 2014.
(2) Webster,s College Dictionary, Edition 2010.

د هندوستان لیکوالانو پشپندرسیال اوډي ، وي جندل په خپل کتاب کښې د انګرېز لیکوال **R.H.Robins**په حواله د توضیحي ژبپوهنې مختصر تعریف داسې کړے دے توضیحي ژبپوهنه د ژبې د تجزیې او تشریح هغه طریقو سره تعلق لري چې په کومه هغه ژبه چلېږي او یو ټاکلي وخت ئې د یوې مخصوصې ټولنې خلق وائي۔(1)

په توضیحي ژبپوهنه کښې د یوې ژبې په جوړښت بحث کولے شي ، او د هغې نوعیّت خالص توضیحي او تجزیاتي وي ، داسې مونږ په یوه ژبه په پوره توګه پوهه هم شو ، د ژبو قواعد ، د توضیحي ژبې د نظریې ، اُصولو ، قاعدو ، او تصوّراتو په مدد لیکلے شي ۔لکه څنګه چې مونږ ته پته ده ، ژبه د مختلفو آوازونو ، د بې شمېره لفظونو ، او د بې شمېره جملو یو باقاعده نظام دے ۔او دا نظام د هرې ژبې خپل ځانګړې وي ۔

غږونه زمونږ د غږئیځو اعضاؤ نه را اوځي د غږونو نه لفظونه جوړیږي ، او د لفظونو د مخصوص ترتیب نه فقرې او جملې جوړیږي ، دلته د غږونو نه واخلې تر جملو پورې هر ځاے زمونږ عمل اختیاري وي چې مونږ ترې معنې اخذ کوؤ ، یوه ژبه د غږونو ، لفظونو ، جملو او معنو یوه داسې مجموعه وي ۔ چې هر ځاے پکښې یو مخصوص نظام کار کوي په مجموعي توګه هم دے ټولو څیزونو ته مونږ د ژبې ساخت یا جوړښت وایو او توضیحي ژبپوهنه هم دا جوړښت مطالعه کوي۔

(1 ) Pushpinder Syal and D.V.Jindal, An introduction to Linguistics, (New Delhi:PHI Learning private Limited, 2013)P:16.

توضیحي ژبپوهنه د ژبې د مطالعې بنیادي اړخ دے ، توضیحي ژبپوهنه دا بیانوي چې یوه ژبه په عملي توګه څنګه کار کوي ـدا نۀ بیانوي چې یوه ژبه څنګه پکار ده ، یا د دې نورو ژبو سره څۀ تعلق دے ، دا په هره درجه د ژبې نظام مطالعه کوي ـ لکه فونولوجي، صَرف، نحو او نحوي ترکیب ـ(1)

توضیحي ژبپوهنه به په صحیح توګه ګڼلے شي که چرې دا لاندې مقصدونه تر سره کړي :

(1)د یوې ژبې د فونولوجۍ توضیح او تشریح ـ

(2)د یوې ژبې د صرف توضیح او تشریح ـ

(3)د یوې ژبې د نحو توضیح او تشریح ـ

(4)د لغاتو د اشتقاق توضیح ـ

(5)د یوې ژبې لغات راټولول کم از کم زر لغات ـ

(6)د یوې ژبې یو څو اصلي متنونه تیارول ـ(2)

په توضیحي ژبپوهنه کښې د صوتیاتو ، صرف، نحو، د نحوي ترکیب یعني ګریمر معنیاتو او لغتیاتو توضیح او تشریح کولے شي ـ په دې وجه په دې باب کښې به د ژبې په دې اړخونو هم لږه رڼا واچولے شي ـ ولې په صوتیاتو به ځان له روستو بحث راشي .

(1 ) Tarni Prasad, A Course in Linguistics, (New Delhi: PHI Learning pvt ltd, 2009)P:7.

(2 ) www.my definition, tic/2015/10/definition-of-descriptive-linguistics. Html(accessed 17-8-16).

**ګرامر:** لفظ ګرامر د انګریزۍ ژبې کلمه ده چې د لاطینۍ د ګراماتیکس او یونانۍ ژبې ګراماتیکا د ریښې نه جوړ دے ، ګرامر یا ژبښودنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د ژبې صرفي او نحوي جوړښت سره تعلق لري ـ د دې نه علاوه د یوې ژبې د لغتونو د تغیّر شکلونه او د جملې جوړښت او ترکیب هم مطالعه کوي۔([1])

ګرامر په اصل کښې د غږونو په ذریعه بل ته بامعني پېغام رسول دي ، یعنې د ګرامر کارغږ پوهنې او معنیاتو سره وي ، د دې نه علاوه ګرامر د یوې ژبې صرف او نحو سره هم تعلق لري ـ د هرې ژبې خپل یو ګرامر وي په ژبه کښې دننه یو نظام وي چې په هغې کښې لفظونه په یو خاص ترتیب یو ځاے کېږي او بامعني جملې ترې نه جوړیږي ، او د هرې ژبې ویونکي په دغه خاص ترتیب پوهیږي ـ

د ګرامر څو اهم قسمونه دا دي :

## (1)روایتي ګرامر (Prescriptive Grammar)

داسې ګرامر چې هغه د یوې ژبې په مروّجه قواعدو مشتمل وي ـاو لوستونکو ته دا ښائي چې ستاسو ګرامر داسې پکار دے ـ

## (2)تشریحي ګرامر (Descriptive Grammar)

تشریحي ګرامر د یوې ژبې د ویونکو لاشعوري ژبنے علم دے،

---

( [1]) خېړنپوه عبدالواحد واجد، دَ ژبپوهنې بنسټونه (جلال آباد: مهین خپروندیه ټولنه، **1395** لمریز) ص:**53** ـ

او دا ګرامر د هرې ژبې د ویونکي د ذهني ګرامر نمونه وي ـ

## (3)یونېورسل ګرامر (universal Grammar)

هغه قواعد چې په ټولو انساني ژبو کښې یوشان وي ـاو د ژبو آفاقي خصوصیات ښائي هغې ته آفاقي یا یونېورسل ګرامر وئیلے شي یو بل څلورم قسم تدریسي ګرامر دے دا لیکلے ګرامر وي چې د نورو ژبو په زده کړه کښې مدد کوي ـ

## صَرف (مورفولوجي):

مورفولوجي د یونانۍ ژبې اصطلاح ده چې د دؤو کلمو مورف او لوجي نه جوړه شوې ده ، په یونانۍ کښې مورف د شکل او صورت په معني او لوجي د علم ، پوهې او پېژندنې معني لري۔ په لغوي لحاظ دا کلمه د یوې ژبې د لفظي اشکالو د علم ، پوهې او پېژندنې په معنې راغلې ده ، د ژبې پوهان مورفولوژي د تشریحي ژبپوهنې د یوې څانګې په حېث داسې پېژندګلو کوي مورفولوژي د تشریحي ژبپوهنې یوه څانګه ده چې په هغې کښې د یوې ژبې مورفیمونه او د هغوي جوړښت او د قِسمونو څېړنه او مطالعه کېږي۔ یا به داسې اووایو چې مورفولوجي د تشریحي ژبپوهنې هغه څانګه ده چې په هغې کښې د یوې ژبې د مورفیمونو په ترکیب او تجزیې باندې خبرې کېږي۔([1])

( [1]) پوهنوال محمدآقا شیرزاد، مورفولوژي(کابل: دَ لوړو زدکړو وزارت دَ کابل دَ ښوونې او روزنې پوهنتون دَ ژبو او دبیاتو پښتو څانګه ، **1392** لمریز کال )ص:**3** ـ

د مارفالوجي يو بل تعريف داسې کولے شو :

د مارفيمونو يوه منظّمه مطالعه او دا چې د مارفيمونو نه لفظونه څنګه جوړيږي دې ته مارفالوجي وئيلے شي۔([1])

روکيلي ليبر د مارفالوجي پيژندنه مونږ ته په دې لفظونو کښې کوي ۔

مارفالوجي د لفظونو د جوړولو مطالعه ده او پکښې هغه طريقې هم شاملې دي ۔ د کومو په ذريعه چې د نړۍ په ژبو کښې نوې لفظونه جوړيږي او هغه طريقې هم د کومو په ذريعه چې په جمله کښې د استعمال په لحاظ لفظونه بدليږي۔([2])

لفظونه د يو يا ډيرو مارفيمونو نه جوړيږي ، په دې وجه دلته د مارفيم تعريف هم ضروري دے ۔

ژبپوهان د مورفيم تعريف څۀ داسې کوي چې د ژبې د وړې نه وړه اکائي چې خپله معني لري ۔

مورفيم کلمه په اصل کښې د يونانۍ ژبې ريښه لري ، چې مورف (**Morph**)د شکل او صورت په معني او "**Eme**" د روستاړي يا سابقې تميز کونکي واحد په توګه او د دواړو توکو د يو ځاے کيدو نه مورفيم کلمه جوړه شوې ده ۔ يعنې د يوې ژبې د ټولو نه ورکوټے تفصيلي واحد چې معني وُلري مورفيم بللے کيږي ، يا به داسې اووايو

([1] )) Pushpinder Syal and D.V.Jindal, An introduction to Linguistics, (New Delhi:PHI Learning private Limited, 2013)P:95

([2] )Rochelle Lieber, Introducing Morphology, (Cambridge:Cambridge university press, 2009)P:2 book Fi- ebook.

چې مورفیم د یوې ژبې د ټولو نه ورکوټې معنوي توکې دے چې د دوؤ یا زیاتو آوازونو نه جوړیږي([1])

د مارفیم هم دوه قسمونه دي یو ته استخراجي یا **derivational**مارفیم وئیلے شي او بل ته تصریفي یا**inflectional** وئیلے شي ، هغه مارفیم چې نوي ټکي ترې نه جوړیږي هغې ته استخراجي وئیلے شي او هغه مارفیم چې د هغې نه نوي ټکي نۀ جوړیږي خو په ټکي کښې د ګرامري معلوماتو اضافه اوکړي ، دا اضافه د جمع واحد هم کیدے شي ، د تذکیر او تانیث هم کیدے شي او د فعل زمانه هم ښودلے شي۔([2])

د دې وړې اکائۍ که تجزیه اوشي نو خپله معني څرګندوي او یا خپله معني بېخي بدلوي۔کله چې د مارفیم په حقله خبره کیږي نو د هجا خبره هم پکښې ضرور راځي ۔په دې وجه د هجا پیژندګلو هم ضروري ده۔

هجاعربي کلمه ده په پښتو ژبه کښې ورته څپه ، یا چپه ، انګریزۍ کښې **Syllable**سلیبل او په فرانسیسۍ ژبه کښې ورته **Syllab**وائي۔ په لغوي لحاظ هجا د حروفو یا تورو شمېرلو ته وائي ، یا هجا د آوازونو هغه ډلې ته وائي چې د ساه په یو وار بندیز سره ادا

([1]) پوهنوال محمدآقا شیرزاد، مورفولوژي(کابل: دَ لوړو زدکړو وزارت دَ کابل دَ ښووونې او روزنې پوهنتون دَ ژبو او دبیاتو پښتو څانګه ، **1392** لمریز کال )ص:**3 ـ4**

([2] ) hum.iss.wise.edu/jri valent/gloglangiss/pdf/structural-Linguistics .pdf (accessed,21-6-16).

کېږي۔

او د شکل او لفظي جوړښت په لحاظ هجا د هغه آوازونو یوه ډله ده ، چې د یو واول نه جوړه وي ۔یا یو واول او یو کانسونینټ نه جوړه وي او یا د یو واول او څو کانسونینټونو نه هم جوړه وي ، مونږ وئیلے شو چې واول د هجا یو حتمي او ضروري جُز دے ۔هره هجا په مورفیم کښې یوه ځان له حصه ده او دا حصه د واول نه جوړه وي ،لکه ابا کلمه ده چې دوه چپې لري ، یوه چپه یو واول غږ الف(ا) دے ، او دویمه چپه د با د ب او ا یعنې یو کانسونینټ او یو واول نه جوړه ده ، او د دواړو چپې په یو ځاے یو مورفیم جوړوي ، مطلب دا چې بې د واول نه چپه نهٔ شي جوړیدے او په یو مارفیم یا کلمه کښې د چپو شمېر د واولونو په شمېرانحصار کوي ، یعنې که چرې په یوه کلمه کښې که یو واول موجود وي نو یوه هجائي کلمه ده که دوه واولونه موجود وي نو دوه هجائي کلمه ده او که درې واولونه نو درې هجائي ۔

د چپې هم بیا دوه قسمونه دي۔ خلاصه چپه او تړلې چپه۔

خلاصه چپه هغه وي چې په واول غږ ختمه شوي وي، او تړلې هغې ته وائي چې په کانسونینټ غږ ختم شوي وي پورته مونږ په مارفیم خبره اوکړه د مارفیمونو نه لفظونه جوړیږي په لسانیاتي توګه مونږ د لفظ تعریف داسې کولے شو۔

د یو یا د یو نه زیاتو مارفیمونو باندې مشتملې ټوکړې ته لفظ وئیلے شي ۔چې په ژبه کښې ځان له حېثیت لري ، لفظونه د یومارفیم

نه هم جوړېږي چې ساده لفظونه ورته وئیلے شي او د دؤو نه زیاتو مارفیمونو نه هم جوړېږي چې ګران یا پیچیده لفظ ورته وئیلے شي۔([1])
شي۔([1])

د دې ټولو خبرو نه مونږ په دې نتیجه اورسېدو چې په مارفالوجي یا صرف کښې دا مطالعه کولے شي چې په یوه ژبه کښې د چپو نه مارفیمونه څنګه جوړیږي او د مارفیمونو نه لفظونه څنګه جوړیږي یعنې د لفظونو جوړولو علم ته مارفالوجي وئیلے شي ۔

**نحو:**

په ژبه کښې د غړونو نه مارفیم او د مارفیمونو نه لفظونه جوړیږي۔ او هم په دې طریقه د لفظونو نه فقرې او جملې جوړیږي د آواز نه واخلې تر جملې پورې دا ټول جزونه په جمله کښې په یوخاص ترتیب کښې ورکړے شوے وي ۔ هره ژبه د خپل مزاج او کردار مطابق د دې ترتیب اجازت ورکوي ۔ په جمله کښې د لفظونو دا ټول ترتیب په نحو کښې مطالعه کولے شي نحو ته په انګریزۍ کښې **Syntax**وئیلے شي .

**Syntax** لفظ د یونانۍ ژبې نه راوتے دے او معنې ئې ده یو ځاے ترتیبول منظّم ترتیب یا یو ځاے کول۔ دا د جملو د جوړښت مطالعه ده ، چې لفظونه په یوه ژبه کښې په کوم ترتیب کېښودے شي چې جمله ترې نه جوړه شي ، مونږ د **Syntax**یا نحوتعریف داسې

[1] )Rochelle Lieber, Introducing Morphology (Cambridge:Cambridge university press, 2009)P:3.

کولے شو چې لفظونه يعنې اسمونه ، فعلونه ، صفتونه ، ضميرونه، او دغسې د وينا نور اجزاء يا لفظونه په داسې ترتيب کېښودل چې يوه جمله يا فقره ترې نه جوړه شي ، د لفظونو د ترتيب دې مطالعې ته نحو وئيلے شي۔([1])

لنډه دا چې نحو د جملو ګرائمر دے او د جملې د جوړښت سائينس دے۔

## معنيات:

په يوه ژبه کښې بې شمېره لفظونه وي ، دا لفظونه د جوړښت نه علاوه د معنې په اعتبار سره هم پېژندے شي۔ په ژبو کښې په عامه توګه د يوې معنې د پاره ګڼ لفظونه استعمالېږي۔ او داسې مثالونه هم پکښې موندے شي چې يو لفظ په ګڼو معنو کښې استعمالېږي خو د دې د پاره د هرې ژبې خپل څۀ اُصول وي چې د لفظونو په معنوي خصوصياتو رڼا اچوي د لفظونو په معنو کښې بدلون ولې او څنګه راځي په دې هر څۀ به په معنياتو کښې بحث کولے شي۔

معنيات په يوه ژبه کښې د لفظونو او د فقرو د معنې د مطالعې علم دے ۔ هره ژبه د با معنې تصوّراتو د اظهار يوه ذريعه ده ، د ژبې جوړښت هغه معنې ورکوي کومه چې زمونږ په ذهنونو کښې وي دغه تصوّرات ياخو د وينا او ليک په ذريعه بل ته رسولے شي کله کله

---

([1] )hum.iss.wise.edu/jri valent/gloglangiss/pdf/structural-Linguistics .pdf(accessed,21-6-16).

مونږ د څۀ اشارو یا حرکاتو په ذریعه هم د خپلو تصوّراتو اظهار کؤو، په فونولوجۍ کښې د یوې ژبې د غږونو مطالعه کولے شي ، په یوه ژبه کښې د لفظونو او د جملو د ترتیب مطالعه مونږ په صرف او نحو کښې کوؤ ۔خودا ټوله مطالعه په اصل کښې د معنوي پېغامونو د رسولو د پاره کولے شي ۔ دې علم ته مونږ په پښتو کښې معني پوهنه ، اُردو کښې معنیات ، او په انګرېزۍ کښې **Semantics**وایو**Semantics**لفظ اصل د فرانسیسۍ ژبې **Semantique**لفظ دے ۔چې د دؤو لفظونو **Semaino**او **Sema**معني ورکوي د **semaino**معني ده۔ **signify** یعني معني ظاهرول او د **sema**معني ده **.sign**یعنې نشان یا علامت، پس **Semantics**، **Significant** یا معنې سره تعلق لري یا په نورو لفظونو کښې دا د لسانیاتو هغه ښاخ دے چې د څیزونو (**refrends**) او د هغوي د نومونو (**refrents**) ترمېنځه تعلق باندې بحث کوي۔([1])

## لغتیات:

د توضیحي ژبپوهنې په دې اړخ کښې د یوې ژبې د لفظونو په سرمایه بحث کولے شي ۔ دا چې په یوه ژبه کښې د لفظونو شمېره څومره ده او د دې لفظونو نوعیّت څۀ دے ۔ مطلب دا چې آیادا لفظونه د دې ژبې خپل سوچه لفظونه دي ، که د نورو ژبو نه اخستي شوي دي او که چرې د نورو ژبو نه اخستے شوي دي نو هغه کومې

([1]) Tarni Prasad, A Course in Linguistics, (New Delhi:PHI Learning Pvt ltd, 2009)P:133.

ذریعې دي د کومو په ذریعه چې دا لفظونه دې ژبې ته راننوتي دي ، په لغتیاتو کښې د مقامي لفظونو او د بهرنو ژبو نه اخستو شوؤ ټولو لفظونو تناسب او توازن باندې بحث کولے شي۔

د دې نه علاوه چې ژبې ته نوي لفظونه د کومو وجوهاتو له کبله راننوتي دي لکه علمي ، ثقافتي ، تهذیبي ، معاشرتي ، معاشي ، علمي ، ادبي ، سیاسي او لساني او تکنیکي په دې ټولو بحث کولے شي څۀ ژبې په تهذیبي او مذهبي توګه یو بل سره نزدې وي ، لکه عربي، اُردو ، فارسي او پښتو، نو د دوي به په یو بل خامخا اثر وي ، څۀ د علمي وجوهاتو له کبله په نورو ژبو اثر کوي لکه انګریزي ، او دغه شان څۀ د سیاسي حالاتو د وجې هم په نورو ژبو اثر کوي لکه د حاکم د ژبې د محکوم په ژبه خامخا اثر وي ، په لغتیاتو کښې په دې ټولو خبرو بحث کولے شي ۔

د دې نه علاوه په لغتیاتو کښې د لغت د سازولو او ترتیبولو ټول اُصول هم مطالعه کولے شي۔ لغتیاتو ته په انګریزۍ کښې **Lexicography, Lexicology** وئیلے شي ۔

**Lexicography** د ژبپوهنې هغه ښاخ دے چې پکښې د لغت یا ډکشنرۍ جوړولو طریقې مطالعه کولے شي دا هغه سائینس دے چې پکښې د لغت ډیزائن ترتیبول او د دې د پاره لغتونه یا لفظونه راټولول هم شامل ده **lexicography** ته مونږ د لغت یا ډکشنرۍ د عمومي ساخت نحوه وئیلے شو ۔

د یوسائینس په حېث **Lexicography** په دوؤ ښاخونو کښې ویشلے شي ، نظریاتي او عملي ، عملي اړخ د لغت د لیکلو د تکنیک سره تعلق لري ولې په نظریاتي اړخ کښې د لفظونو د معنو د تشریح او سنجولو سره کار لري ـ لغتیات هم لِساني مضمون دے چې پکښې د لغتونو راټولول، د دې په مختلفو ډلو کښې ویشل او د لفظونو د تعریف او معنو نه ډکشنرۍ مرتّب کول او تیارول شامل دي۔([1])

د لغت سازۍ سائینس اوس دومره مخ په وړاندې تلے دے چې ځان له د لسانیاتو یو ښاخ ګرځېدلے دے ، ولې په بنیادي توګه دا ښاخ د ژبې د لغتونو د تشریح او توضیح سره تعلق لري ـ

## تقابلي ژبپوهنه:

تقابلي ژبپوهنه هم د ژبپوهنې یوه بنیادي څانګه ده ، دا د تاریخي ژبپوهنې ذیلي څانګه هم ګڼلے شي خوځان له آزاد وجود هم لري۔

تقابلي ژبپوهنه د یو یا دوؤ اړخونو نه د مختلفو ژبو تقابلي مطالعه کوي۔ تقابلي ژبپوهنه د ژبې ارتقاء معلوموي ـ او د یو بل سره د تقابل نه د ژبو په خپلو کښې تعلق ښائي او دا تقابل په عامه توګه په هغه ژبو کښې کېږي چې په جینیاتي توګه یو بل سره تعلق لري ـ

ډیوډ کرسټل **A Dictionary of Linguistics and phonetics.**

---

([1] ) not, google. Com/lexicography(accessed June 21,2016).

کښې د تقابلي ژبپوهنې تعریف په دې لفظونو کښې کوي ، تقابلي ژبپوهنه د تاریخي ژبپوهنې یوه ذیلي څانګه ده ـ چې دوه یا د دوؤ نه د زیاتو ژبو موازنه د دې د پاره کوي چې د دوي په منځ کښې تاریخي تعلق قائم کړي ـ اودا مقصد لري چې یو شان خاندانونه جوړ کړي ـ

او لرغونې مور ژبې جوړې کړي ـ

آن لائن آکسفورډ هم څهٔ داسې تعریف کوي ـ چې د ژبو ترمېنځه د یو شان والي یا فرقونه مطالعه په خصوصي توګه د دې مطالعې په بنیاد د دې ژبو روکه شوې مورنۍ ژبه دوباره جوړول ـ([1])

د جنیاتي تعلق ښودولو د ټولو نه مشهوره طریقه **family-tree**نظریه ده.

دا نظریه د ټولو نه اول جرمن سکالر آګسټ شلیکر (**1821**ء–**1868**ء) متعارف کړے وه ، د دې نظریې مطابق د یو خاندان ژبې د یو عام مور ژبې نه پیدا شوي دي ـ([2])

لکه څنګه چې اووئیلے شول نوې ژبې د لرغونو ژبو نه راوتي دي ـ تاریخي تقابلي ژبپوهنه د ارتقاء او ترقۍ دا ټول عمل او د ژبو ترمېنځه یو شان والے مطالعه کوي ـ تقابلي او تاریخي ژبپوهنه د ژبو ترمېنځه په دې یوشان والي او تعلقاتو اډانه لري ـ لکه یوه ژبه فرض

([1]) www.oxford dictionaries.com/definition/English/comparative-linguistics(accessed August 16,2016).
([2]) Tariq Rahman, Linguistics for Beginners (Karchi:oxford university press,2010)P:15.

اوکه چې نورې ژبې ترې راوتي دي دې ته مورژبه **proto-language** وئیلے شي.

**L1, L2, L3.....** د دې لونه ژبې دي او دا د دې مورژبې روستنې حالت ښائي۔ **L1, L2, L3.....** ته خویندې ژبې وئیلے شي د مثال په توګه **Proto-indo-european** یوه لرغونې مور ژبه ده چې لاطیني ، یوناني ، سنسکرت او جرمن ژبې ترې پیدا شوي دي دا په لاندیني شکل کښې ښودلے شي.

پروتو انډویورپین

| ایران | انډین | سلاوي | یوناني | اطالوي | جرمني |
|---|---|---|---|---|---|
| فارسي | سنسکرت | روسي | | لاطیني | انګریزي |
| پښتو | هندي | **Czechson** | | فرانسیسي | |
| اونورې | ګجراتي | | | هسپانوي | ډچ |
| | اونورې | | | پرتګالي | |
| | | | | اطالوي او | |
| | | | | نورې ژبې (1) | |

د خویندو ژبو دا مطالعه د تقابلي طریقې په ذریعه کولے شي ۔

تقابلي طریقه د داسې تکنیکونو یو سیټ دے چې د اولنو وختونو حالتونه دوباره جوړوي او ریکارډ کوي۔ دا حالتونه صوتي،

(1 ) Pushpinder syal and D.V jindal , An, Introduction to Linguistics (New Delhi:PHI Learning pvt Ltd, 2013)P:17.

صرفي ، نحوي ، معنوي او لغوي کېدے شي او د دې نظامونو اکاياني هم کېدے شي۔لکه فونيم، مارفيم او لفظ وغېره يا دا ممکنه طور باندې قواعد هم کېدے شي په دې تکنيک کښې د دوؤ يا دوؤ نه زياتو ژبو هم جنس لفظونه (Cognatcs) مطالعه کولے شي۔([1])

دا مور ژبه يا **Proto-language**اوس څۀ وجود نۀ لري ، او نۀ د دې جوړول څۀ آسان کار دے ، ژبپوهان دا د ليکلې ريکارډ، سيکو ، او د هم جنس لفظونو (**Cognates**) د کلونو د مطالعې نه پس جوړوي لکه د اندويورپين ژبو کښې د يو نه واخلې لسو پورې شميرې د پاره وئيلو شوؤ ټکو موازنه په دې **table**کښې اوګورئ:

| S. No | Persian | Urdu/Hindi | Panjabi | Sindhi | Pashto | French | Arabic |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Yak | Ek | Ik | Hik | Yau | Un | Vahid |
| 2 | Du | Do | Do | Ba | Dwa | Deur | Athnan |
| 3 | Sae | Teen | Tin | Tre | Drae | Trios | Salasa |
| 4 | Chahar | Char | Char | Char | Salor | Quatre | Arba |
| 5 | Punj | Panch | Punj | Punj | Pinza | Cing | Khamsa |
| 6 | Shish | Che | Che | Cha | Shpag | Six | Sitta |
| 7 | Huft | Saat | Sut | Sut | Owo | Sept | Saba |
| 8 | Husth | Aath | Uth | Uth | Ato | Huit | Samania |
| 9 | Noh | Nao | No | Nava | Navo | Neuf | Tisa |
| 10 | Daeh | Das | Dah | Dah | las | dix | ashara |

([1] ) Robert L Rankin, “The comparative Method” in the Handbook of Historical linguistics Eds:Brian D Joseph and Richard D.Janda (Malden MA: Black well publishing Ltd,2003)P:183.

د دې **table**نه دا هم ظاهرېږي چې د عربۍ لفظونه د نورو ژبو نه بېخي بدل دي او دا ځکه چې عربي د ژبو یو بل خاندان سره تعلق لري ولې نورې ټولې ژبې د انډویورپین خاندان سره تعلق لري۔([1])

کله چې د اتلسمې پېړۍ په آخره کښې د تقابلي ژبپوهنې شروع اوشوه په خصوصي توګه د ولیم جونز د دې بیان نه پس چې په لاطینۍ یونانۍ او سنسکرت ژبه کښې دومره یو شان والے دے چې دا محض اتفاق نۀ شي کېدے ، بلکې دا درې واړه ژبې د یوې مور ژبې نه پېدا ښکاري د دې بیان نه پس ژبپوهانو د ژبو تقابلي مطالعه شروع کړه او د ژبپوهنې دا څانګه ډېره په وړاندې لاړله۔

د ولیم جونز د نظریې په تقلید کښې جرمن ژبپوهان فرانزبوپ په خپل کتاب " **on the conjuigation system of the Sanskrit Languege in comparison with those of the Grcek , Latin, Persian and Germanic Languages**"

په نوم په **1816**ء کښې اولیکلو۔

**Rasmus Rask** په **1818**ء کښې خپل کتاب " **Investigation on the origin of old Norse or Icelandic Languages**"

([1] )Tariq Rahman, Linguistics for Beginners (Karchi:oxford university press,2010)P:15.

چاپ کړو۔جیکوب ګرم هم په دې مېدان کښې کار اوکړو **Karl** د**Brugman** **Outline of comparatice indo-european Grammer**

په پینځو جلدونو کښې اولیکلو، چې د **1886**ء نه **1893**ء پورې چاپ شو، دا یو مستند کار وو او د دې نه پس انډویورپین ژبه عامه شوه ۔

د ژبو یو خاندان کښې د ماقبل تاریخ ترقۍ معلومولو طریقه **family tree**یا خانداني وُنه وه ۔ خو یوه خانداني وُنه د ژبو وخت په وخت جوړ شوي یو بل سره متعلقه حالتونه صرف په متعلقه وختونو کښې ښودلے شي ۔ او دې متعلقه تاریخ له مونږ هله مکمّله **value** ورکولے شو چې کله مونږ تاریخي واقعات په خانداني وُنه کښې د بَهرني ثبوتونو په رڼا کښې ثابت کړو ولې کله چې د بهرني ثبوتونو په رڼا کښې یوه تاریخي نقطه ثابتیدے نۀ شي نو بیا دا ټول جوړښت ناقابل تشریح وي ۔ په دې ستونزو باندې قابو موندلو د پاره په **1940**ء کښې **Morris swedesh**یوه نوې طریقه جوړه کړه ، چې مور ژبه په نورو ژبو کښې د تقسمېدلو تاریخونه په دنني بنیادونو اوښائي۔ د دې د باني اراده دا وه چې د ژبو ماقبل تاریخ د **dendro chronology**(د وُنو په تنه کښې د دائرو نه د وُنو عمر معلومول ) یا کاربن **14** په تنکیک اوښائي چې په ماقبل تاریخ معلومولو کښې مستندې طریقې دي ، د هغۀ د ثبوت بنیاد دا وو چې څومره د مور ژبې نه د نورو ژبو د بیلېدو

وخت ډېر وي ، دومره به د هغوي فرق ډېر وي په دې طريقې عمل کولو د پاره ضروري ده چې د ژبې په هغه حصه **apply**شي چې په يو مستقل تناسب بدليږي ، او د وُنې د ودې د دائرو (چې په باقاعده توګه په کال کښې يوه دائره سېوا کېږي )يا په نامياتي څيزونو کښې د کاربن په شان وي ، سويډش دا فېصله اوکړه چې د ژبې هغه حصه چې په آفاقي توګه پکښې په يو مستقل مقدار کښې بدلون راځي ـ دا اصل کښې د ژبې بنيادي **vocabulary**يعني د لفظونو ذخيره ده ـ د ژبې دغه بنيادي ذخيره د دې لغاتو هغه توکي دي چې په آفاقي توګه په ټولو انسانانو کښې د ثقافت د بدلون نه باوجود هم يو شان دي ، او دا ټول د ژوند د چارو سره تعلق لري ، لکه خوراک کول، اودهٔ کېدل ، ماشوم پېدا کېدل رنګول ، د بدن حصې لکه سترګه ، خولهٔ ، سر ، او قدرتي طبعي څيزونه لکه اور اوبهٔ ، نمر سپوږمۍ او د جملې حصې لکه ضميرونه، مثبت او منفي د پاره لفظونه د دې ذخيرې نه سويډش اول دوه سوه لفظونه راټول کړل او بيا ئې ترې سل ټکي منتخب کړل ، او په خپله طريقه ئې د دې نه د هغه وخت حساب کتاب اوکړو د کوم نه چې ژبې د يو بل نه بېليږي دې طريقې ته **glottochronology** يا **lexico-statistics**وئيلے شي.([1])

د دې نه پس جوزف ګرين برګ يوه بله طريقه د **mass comparison**ده ـ دا طريقه د ژبو د بيليدو تاريخونه نهٔ ښائي بلکې

---

([1] ) Theodora Bynon, Historical Linguistics Reprint (Cambridge:Cambridge university press, 1990)P:266-267.

په ساده توګه دا ښائي چې کومې کومې ژبې يو بل ته ډېرې يا لرې نزدې دي ، اوس اوس د کمپيوټري شمارياتي معروضي ټسټ کولو طريقه هم راوتے ده چې د تقابل طريقې او **Lexicostatistics**دواړو سره تعلق لري ـ د ژبې په جوړښت اډانه طريقې د تقابلي طريقې په شان او د ژبو ترمېنځه په فاصله اډانه طريقې د لغوي شمير پوهنې سره تعلق لري ، د ژبې په جوړښت کښې صرفي او قواعدي دواړه لغات راتلے شي ـد **1992**ء راسې د خانداني وُنو او د نوعي تفريق وارتقاء طريقې د ژبو په منځ کښې تعلق معلومولو د پاره استعماليږي ـ([1])

د ژبو د تقابلي مطالعې د پاره د ټولو نه جديده **reverse engineering**ده ـد ژبو ترمېنځه د تعلق ادراک ژبپوهان د ژبو يوشان والي او د فرقونو تقابلي مطالعه د ژبو د صوتياتي او صرفي نظامونه ، نحو، او د لغاتو نه کوي او ژبپوهان زيات تر په کمپيوټراعتبار کوي چې د ژبو د ارتقائي فونولوجي په مدد د ژبو مور ډهانچه جوړه کړي ـ دې تکنيک ته **reverse engineering**وئيلے شي. ([2])

## تطبيقي ژبپوهنه

تطبيقي ژبپوهنه د ژبپوهنې د نظرياتي علم عملي استعمال دے دا عملي استعمال د ژوند په هغو ټولو برخو مشتمل دے چرته چرته چې

---

([1]) http://en/wikipedia.org/wiki/comparatine linguistics (accessed August 16/2016.

([2]) www.chegg.com/home work-help(definition)Comparative-linguistic-51(accessed August 16,2016).

ژبې سره انسان سروکار لري۔**Schmith** او **Celce-Murica**د تطبيقي ژبپوهنې يو ساده شان تعريف داسې کوي۔د تطبيقي ژبپوهنه د هغه څۀ استعمال دے د څۀ په حقله چې مونږ پېژنو لکه ژبه دا څرنګې زده کېږي او څرنګې استعمالیږي ۔ د پاره د دې چې په حقيقي دنيا کښې مسئلې حل کړو او څۀ مقصد ترسره کړو۔يا مونږ داسې هم وئيلے شو چې تطبيقي ژبپوهنه د ژبې د زده کړې او د ژبې د استعمال پورې اړه لري ، د پاره د دې چې په حقيقي دنيا کښې مسئلې هوارې کړو او څۀ مقصد تر سره کړو۔(1)

د **Grabe**تعريف هم څۀ دا رنګې دے ، تطبيقي ژبپوهنه د ژبې سره تړلې مسئلو باندې زور ورکوي۔چې خلقو ته په حقيقي دنيا کښې په امروزه ژوند کښې همېشه پيښيږي ۔ خواه که هغۀ د ژبې زده کونکي وي ۔ او که د ژبې تدريس کونکي سُپروائزران دي که عالمان ، وکيلان دي ۔ او که نوکرۍ ورکونکي ، ټسټ اخستونکي که پاليسۍ جوړولو والا، لغتونه جوړولو والا که ترجمه کونکي او که کاروباريان ۔(2)

**Brumfit**د تطبيقي ژبپوهنې تعريف لږ نور هم په جامعه انداز کښې کوي ۔

(1) Alan Davies and Catherine edder, “General introduction to Applied Linguistics:Subject to Discipline” in the Handbook of Applied Linguistics Eds:Alan Davies and Gthexine elder (Malden USA:Black well publishing Ltd,2004)P:4 bookfi-e-book.
(2) Ibid.

د تطبیقي ژبپوهنې یو عملي تعریف به دا وي چې د حقیقي دنیا د هغه مسئلو یو نظریاتي او تجرباتي تحقیق چې ژبه پکښې مرکزي حیثیت لري۔([1])

د تطبیقي ژبپوهنې د وړاندې ورکړو شوؤ تعریفونو نه مونږ د تطبیقي ژبپوهنې د ساحې اندازه لګولے شو ولې لاندینے تعریف به د تطبیقي ژبپوهنې په حقله نظر نور هم فراخه کړي د **willkins**مطابق.

په فراخه توګه تطبیقي ژبپوهنه د ژوند په معاملو کښې د ژبې په کردار پوهه کېدل دي ۔ او د هغه چا د پاره ضروري علم هم راپېژني چې د ژبې په اړه د فېصلې کولو ذمه دار دي که د دې فېصلو ضرورت په کلاس روم کښې وي او که د کار په ځاے کښې وي ، که په عدالت کښې وي او که په لیبارټرۍ کښې وي۔([2])

د تطبیقي ژبپوهنې جرړې د **1940**ء پورې رسي ، کله چې په امریکه کښې ژبپوهانو فوجیانو ته د بحرالکاهل د ژبو د ګرامر د ښودلو هڅې کولې د کومو نه چې مغرب والا نآشنا وو، د دې تاریخ په نتیجه کښې د تطبیقي ژبپوهنې اصطلاح په اول ځل د ژبې د تدریس سره اوتړلے شوه ۔ په **1940**ء کښې د امریکې مشي ګن یونېورسټۍ د ژبې د تدریس اُستاذانو له یو ټریننګ ترتیب کړو او یوه رساله ئې

([1]) Alan Davies , An Introduction to Applied Linguistics From Practice to theory (Edinburgh:Edinburgh university press Ltd, 2007)P:3 bookfi-e-book.

([2]) Norbert Schmitl and Marianne Celce-Murcia, “An overview of Applied Linguistics” in An Introduction to Applied’ Linguistics Ed:Norbert Schmitt, (Chennai-29 India.Hodder Education2011)P:1

**Language Learning:A Quarterly Journal of Applied Linguistics .**

په نامه شائع کول شروع کړل ، د دې رسالې سرخط او **Sub-heading**نه دا واضحه ده چې تطبیقي ژبپوهنه صرف د ژبې د تدریس سره تعلق لري ـ

په **1950**ء کښې ایډنبرا یونیورسټۍ **School of Applied Linguistics.**

قائم کړو ـچې اُستاذانو له به ئې د ژبې په تدریس کښې د ژبپوهنې د اُصولو د استعمال تربیّت ورکولوـ بلې غاړې ته په واشنګټن ډي – سي کښې **Centre of Applied Linguistics**جوړ شو ـ

په نورو دوه عشرو کښې د تطبیقي ژبپوهنې د پاره څۀ نور تنظیمونه جوړ شو لکه په **1973**ء کښې :

**International Association of Applied Linguistics (IAAL)**

او په **1977**ء کښې :

**American Association for Applied Linguistics (AAAL)**

جوړ شو د دې نه پس په تطبیقي ژبپوهنه کښې نورې رسالې ویستل شروع شو لکه په **1981**ء کښې **Applied Linguistics** او په **1981**ء کښې **Annual Review of Applied Linguistics.**

په دې رسالو کښې چې کومې آرټيکلې چاپ شوي د هغې نه دا ثابته شوه چې تطبيقي ژبپوهنه صِرف د ژبې د تدريس پورې محدوده نهٔ ده ۔

د نظرياتي ژبپوهنې په نسبت چې چرته ژبې صِرف د يو تجريدي څيز په شان **treat** کولے شي ۔ په تطبيقي ژبپوهنه کښې يو ژبپوهان نه صِرف د ژبې په اصليّت نظر ساتي بلکې د هغه ځاے اصليّت چرته چې دا ژبه وئيلے شي ۔ د هغه ځاے عقائد، معاشرتي ادارې او د ويونکو ثقافت به هم په نظر کښې ساتي ، د يو تطبيقي ژبپوهان کار په حقيقي دنيا کښې حقيقي مسله را ايستل وي ۔او د هغې حل تلاش کول وي ، لکه د مثال په توګه تطبيقي ژبپوهان ته په کلينک کښې د ماشوم په ژبه کښې د فرق د علاج د پاره حواله کېدے شي هغه ته د مهاجرو يا کډوالو ماشومانو د پاره په فوري توګه د يو تعليمي پروګرام د پاره وئيلے کېدے شي يا يوې ضلعې ته د تعليمي پاليسي جوړولو د پاره وئيلے کېدے شي ۔ د دې د پاره ضروري ده چې يو تطبيقي ژبپوهان دې د ژبې نه علاوه نورو علومو سره هم اشنا وي ، د مثال په توګه که هغه د تعليم پاليسي جوړوي نو چې د تعليم، د نصاب او نفسياتو نه خبر وي که د کډوالو ماشومانو د پاره تعليمي پروګرام جوړوي نو چې د دې نه خبر وي چې په ژبه سياسي او معاشرتي بدلون څهٔ اثر کولے شي۔ لنډه دا چې تطبيقي ژبپوهنه کښې د ژبې سره تړلي په

حقیقي دنیا کښې په حقیقي مسائلو او د هغې د حل کولو هڅه کوي۔([1])

د تطبیقي ژبپوهنې ساحه ډېره فراخه ده ، لکه څنګه چې مونږ وړاندې اووئیل چې دا د ژوند هغه اړخونو سره تعلق لري ، په کومو کښې چې ژبه مهم کردار ادا کوي ۔ د **1980**ء نه را په دېخوا د دې په ارزښت او اهمیّت کښې ډېر زیاتے راغلے دے ۔ دا څانګه اوس په ګڼو اړخونو مشتمله ده ۔ لکه نفسیات سوشیالوجي ، د ژبې تدریس، لغت پوهنه اسلوبیات،**Speech Pathology**،ترجمه، د ژبې په حقله پالیسۍ جوړول او د نظریې د عملي کولو کوښښونه کول ([2])

**Guy Cook** د تطبیقي ژبپوهنې په حواله یو معتبر نوم دے ۔ چې ډېر سکالران ئې حوالې ورکوي ، هغه په خپل کتاب کښې د ژبپوهنې ساحه په دریو مېدانونو ویشلې ده ۔

## ژبه او تعلیم :

په دې مېدان کښې د مورنۍ ژبې زده کړه ، بیا د تعلیم د پاره د دوئمې ژبې زده کړه چې یا خو د هغه ټولنې سرکاري ژبه وي او یا بین الاقوامي ژبه وي ۔

([1] ) Jannic Rees Miller, “Applied Linguistics”, in the Hand book of Linguistics eds:Mark, Aronoff and Jannie Rees-Miller (oxford uk:Black well publishers Ltd, 2003)P:638.

([2] ) Jannic Rees Miller, “Applied Linguistics”, in the Hand book of Linguistics eds:Mark, Aronoff of Jannie Rees-Miller (oxford uk:Black well publishers Ltd, 2003)P:638.

کلينکي ژبپوهنه چې پکښې د ژبې د زده کړې سره متعلقه بیمارو علاج کولے شي او په موروثي یا حادثاتي یا بیمارۍ په وجه د یو انسان په وینا کښې فرق راشي ـ د دې نه علاوه د عمومي او خصوصي مقاصدو د پاره مورنۍ او د دوئمې ژبې په حقله د جائزې ټسټونه هم په دې مېدان کښې شامل دي ـ

## ژبه کار او قانون :

د کار په ځایونو کښې د ژبې د استعمال مطالعه د ژبې د تعلیم د پاره منصوبه بندي کول او عدالتي ژبپوهنه په دې مېدان کښې شامل دي ـ

## ژبه معلومات او د هغې اثر :

په دې مېدان کښې ادبي اسلوبیات د تذکرو او مباحثو تنقیدي تجزیه، ترجمه د معلوماتو ډیزائن لکه د ابلاغ د پاره د متن سره د تصویرونو او شکلونو ورکول او د یوې ژبې یا د دؤو ژبو لغت تیارول ـ([1])

په **2010**ء کښې چې د امریکې ایسوسي ایشن آف اپلائیډ لینګوسټکس کوم کانفرنس شوے دے ، په هغې کښې د تطبیقي ژبپوهنې لاندیني شپاړس مېدانونه ټاکلي شوي دي :

**(1)** د تذکرو او خبرو اترو تجزیه ـ

**(2)** تشخیص او جائزه ـ

---

([1] ) Guy cook, Applied Linguistics, (New York :oxford university press, 2003)P:7-8 bookfi e-book.

(3) دوه ژبې ، د ژبو په یو بل کښې انجذاب ، او د اقلیتونو د ژبوتعلیم۔

(4) ژبه او نظریه۔

(5) ژبه او زده کونکي خصوصیات۔

(6) ژبه او ټیکنالوجي ۔

(7) د ژبې آګاهي او په مزغو تحقیق۔

(8) ژبه ، ثقافت، سوشلائیزیشن او د ژبې عملي استعمال۔

(9) د ژبې ساتنه او دوباره راژوندي کول۔

(10) د ژبې په حقله منصوبه بندي ۔

(11) لیکل لوستل او خواندګي۔

(12) د دوئمې ژبې او بهرنو ژبو تدریسول ۔

(13) د دوئمې ژبې زده کړه د ژبې زده کړه او هېرول ۔

(14) ټولنیزه ژبپوهنه۔

(15) د لیکلو تذکرو د متن تجزیه ۔

(16) ترجمه او تشریح ۔

دغه شان په **2011**ء کښې د **AILA** کانفرنس کښې د تطبیقي ژبپوهنې **28** مېدانونه اوټاکلے شول. ([1])

([1] ) Nobert Schmitt and Marianne Celce-Murcia “An overview of Applied Linguistics” in An Introduction to Applied Linguistics Ed:Norbert Schmitt (Chennai-29 India:Hodder Education,2001)P:1.

دغه شان د **Routledge** کمپني په کتاب کښې د تطبيقي ژبپوهنې لاندينې پينځو برخو کښې ويشلے شوې ده ـ چې هره يوه برخه ځان له برخې هم لري ـ

اولنۍ برخه: تطبيقي ژبپوهنه په عمل کښې

**(1)** د ژبې پاليسي او منصوبه بندي ـ

**(2)** د کاروبار ابلاغ

**(3)** ترجمه او تشريح

**(4)** لغت سازي

**(5)** ميډيا

**(6)** اداراتي تجزئيې

**(7)** کلينکي ژبپوهنه

**(8)** ژبه او بوډاوالے

**(9)** عدالتي ژبپوهنه

دويمه برخه : د ژبې زده کړه او د ژبې تعليم :

**(1)** د ژبې د زده کړې او تعليم اهم تصوّرات

**(2)** د دويمې ژبې زده کړه

**(3)** د ژبې د تدريسولو طريقه کار

**(4)** د ژبې زده کړې او ټيکنالوجي

**(5)** د ژبې د تدريسولو د اُستاذ تعليم

**(6)** په دوؤ ژبو کښې تعليم

(7) د علمي مقصد د پاره انګریزي

(8) د ژبې ستونه

(9) د کلاس روم ګفتګو

(10) د ژبې اشتراکیت

دریمه برخه : ژبه ، ثقافت او پېژندګلو :

(1) ژبه او ثقافت

(2) پېژندګلو

(3) صنف

(4) Ethinicityنسلي

(5) د اشارو ژبې

(6) د دنیا انګریزۍ ژبې

(7) د ژبو شهنشاهي

(8) ګڼې ژبې وئیل

(9) ژبه او هجرت

څلورمه برخه:" په استعمال کښې د ژبې تناسب"

(1) د تذکرو تجزیه

(2) د تذکرو تنقیدي تجزیه

(3) اعصابي ژبپوهنه

(4) نفسیاتي ژبپوهنه

(5) د ژبې د ترقۍ ټولنیز ثقافتي او ثقافتي تاریخي نظریې

(6) ټولنیزه ژبپوهنه

(7) ژبني علم نسلِ انساني

(8) خواندګي

(9) اسلوبیات

پینځمه :"د تطبیقي ژبپوهنې د پاره د ژبې تشریح "

(1) ګرامر

(2) لغات

(3) صوتیات او فونولوجي

(4) کاریس ژبپوهنه

(5) د ژبې د آګاهۍ علم

(6) منظمّه باضابطه ژبپوهنه

(7) جنریټو ګرامر

(8) د ژبې د حالاتو مطابق د یو پیچیده نظام په توګه ظاهریدل

(9) د ژبې ګڼ اړخیزاندازکار (**Multimodality**) **([1])**

اوس نو مونږ ته ښهٔ اندازه اولګیده چې د تطبیقي ژبپوهنې مېدانونه کوم کوم دي ، او دا چې د ژبپوهنې دا اړخ د ژوند عملي مسئلو او د هغې د حل او د مستقبل د پاره د منصوبه بندۍ سره تعلق لري ۔

([1]) James Sampson(ed) The Routledge Handbook of Applied Linguistics, (London, of New York :Routledge Taylor and Francis Group, 2013)P.V-Viii.

پینځم باب

# فونټیکس او فونولوجي

فونیټکس او فونولوجي د ژبې مهمه برخه ده ـ د دې د پاره اُردو کښې صوتیات او علم الاصوات اصطلاح پکارولے شي ـ د پښتو نوموړے ژبپوهان مجاور احمد زیار ورته ځپړنپوهنه وائي ـ اود افغانستان نور لیکوالان لکه حبیب الله تږې ، محيّ الدین هاشمي صیب، پوهاند محمد صابر خویشکي ، او پوهیالي محمود مرهون ورته په خپلو کتابونو کښې غږپوهنه او آوازپوهنه لیکلي دي ، مونږ د پېښور خلق که ورته غږ پوهنه اووایو نو بده به نۀ وي ځکه چې "**Phone**" د غږ په معني کښې راځي او "آواز" د اُردو ټکے دے نو بېخي پښتو بڼه به ئې "غږ پوهنه" وي ـ

په انګرېزۍ کښې د **Mathematics**او**Statistics** په بڼه **Phonetics**اود **biology**او**sociology** په بڼه فونولوجي لفظ پکارولے شي ـ **phone**په دواړوټکو کښې د غږ په معني راځي ـاو **istics**یا**logy** نه مُراد علم یا بحث دے ـنوپه ظاهره دا دواړه یو ښکاري، ولې په علمي توګه ژبپوهانو په دې دواړو کښې فرق کړے دےـ

فونيټکس د غږونو د ګويائۍ، د ترسيل او د وصولولو مطالعه ده ولې فونولوجي په وينا کښې د غږونو په چپو او نورو لويو اکائيانو کښې ويش دے ۔ فونولوجي په يوه مخصوصه ژبه کښې د غږونو د نظام توضيح او تشريح ده۔([1])

يعنې فونيټکس د غږونو تفصيلي مطالعه د ټولو ژبو د پاره په عمومي توګه کوي ولې فونولوجي د يوې مخصوصې ژبې د غږونو نظام مطالعه کوي که فونيټکس ته مونږ دنيا اووايو نو فونولوجي پکښې يو ملک دے فونيټکس د دنيا د ټولو ژبو د پاره يو شان ده ولې د يوې ژبې فونولوجي د بلې ژبې د فونولوجي نه بدله ده۔([2])

يعني د پښتو فونولوجي د اُردو فونولوجي او دغسې د انګريزي او عربي فونولوجي نه بدله ده ۔

په دې وجه که مونږ فونيټکس ته عمومي غږپوهنه او فونولوجي ته د يوې مخصوصې ژبې غږ پوهنه يا خصوصي غږ پوهنه اووايو نو بده به نۀ وي ۔

په دې باب کښې به په فونيټکس او فونولوجي خبره کولے شي

## فونيټکس:غږپوهنه (Phonetics)

فونيټکس د آواز يا د غږ د پيداوښت، د ترسيل او د اوريدو

---

([1]) S.k verma and N.Krishrasway, Modern Linguistics, An Introduction (Delhi:oxford university press, 1989)P:27.
([2]) Tarni, Prasad, A Course in Linguistics (New Delhi:PHI Learning private Limited, 2009)P:14.

سائینسي مطالعه ده دا د غږ د ترسیل یعنې د رسولو آله هم مطالعه کوي۔د فزکس او د فزیالوجي سره نېغ په نېغه تعلق لري ، په دې وجه دا یو خالص سائینس دے ۔

امریکن هیرټیج ډکشنري د فونیټکس تعریف په دې لفظونو کښې کوي ۔

د ژبپوهنې هغه څانګه کومه چې د ویونکې ژبې د غږونو د پېدا کېدو ، یو ځاے کېدو او د غږونو د لیکلو علامتونو په ذریعه اظهار او تشریح کوي ۔(1)

د فونیټکس درې بنیادي څانګې دي :

(1)آرټیکیولیټري فونیټکس **Articulatory Phonotics**

(2)اکاؤسټک فونیټکس **Accoustic Phonetics**

(3)آډیټري فونیټکس **Aaditory Phonetics**

لاندې د دریو واړو لږ تفصیل وړاندې کولے شي:

## : Articulatory Phonotics(1)

دې ته مونږ ګویائي یا نطقي غږ پوهنه وئیلے شو ، دا په اصل کښې د غږ د پېداوښت تکنیکي مطالعه ده ، د انسان په بدن کښې الله تعالې د غږ د پیدا کولو د پاره یو پوره نظام پیدا کړے دے چې **Speech tract** ورته وئیلے شي د دې **speech tract**څلور غټې برخې دي .

(1) The American Heritage Dictionary of the English Language, Edition 2009, Houghton Mifflin Company.

**(1) Layrnx And vocal cords** (ګوړګوړے او غږئيځ بببوزي)

**(2) Oral Cavity**(خولۀ)

**(3) Pharyngeal Cavity**(مرۍ)

**(4) Nasal Gvity**(پوزه)

د پړپوس نه چې هوا راروانه شي نو په دې لاره په مختلفو طريقو راځي او د غږ د پېداوښت سبب ګرځي هغه اهمې حصې چې د غږ په پېداوښت کښې برخه اخلي ، هغه دا دي :

پړپوس ، ډايافرام ( د پټو ديوالګے) ووُکل کارډز (غږئيځ ببوزي)، تالو، ژبه، شونډې ، غاښونه او پوزه۔ دې ټولو ته **Articulatory organs** يعنې د ګويائۍ عضو يا حصې وئيلے شي ۔ د غږ په پېداوښت کښې د دې ټولو برخو د کردار مطالعه کولو نه وړاندې به د ګويائۍ يا د آرټيکوليشن تعريف اوکړو ۔

آرټيکيوليشن د وينا د غږ طبعي پېداوښت دے ۔يومهين يا تېز آرټيکيوليشن يو انتهائي پيچيده حرکت کونکے مهارت دے ، چې تقريبًا د سلو (**100**)پټو تعاون په داسې رفتار واقع کېږي چې په يو سيکنډ کښې پينځلس (**15**)مختلف غږونه پېدا کولے شي۔([1])

د **Speech tract**دا ټولې برخې د غږ په پېداوښت کښې څۀ کردار ادا کوي ۔ په دې ټولو به لږه خبره اوکړو

([1]) John Field, Psycholinguistics The Key Concepts (London and New York : Routledge Taylor of Francis Group, 2005)P:18.

## (1)ډایافرام او پرپوس:

پرپوس د اسفنج په شان عضو دے ـچې په ډېر شمېر کښې د وړو وړو نالو نه جوړ دے ، دا نالۍ چې ښې په وړو وړو نورو نالو کښې تقسیم شي نو آخرینۍ وړې برخې ته ئې ایلولائي (**Alveoli**) وئیلے شي ـ دا هغه وړه برخه ده چرته چې د وینې نه کاربن ډائي اکسائیډ په هوا کښې او د هوا نه تازه آکسیجن په وینه کښې شاملیږي پرپوس دوه برخې لري ، او د هرې برخې نه یو غټ پائپ راوتے دے چې برونکائي ورته وئیلے شي ـ او دا دواړه پائپو نه په یو بل غټ پائپ یا نالۍ کښې ننوځي چې ټریکیا (**Trachea**) یا د هوا پائپ ورته وئیلے شي۔ په پرپوس کښې هېڅ قسمه پټې یعني مُسَلز نۀ وي ـ په بنیادي توګه د پرپوس کار د هوا دننه کول او بهر کول دي۔په یو پرپوس کښې څومره هوا راتلے شي۔ دا د انسان په بدن منحصره ده چې هغه څومره غټ دے او د دۀ په ساه اخستو هم منحصره ده چې دے څومره په زوره ساه اخلي۔که چرې یو بنده ډېر زور ساه واخلي یا په زوره ساه واخلي نو دې شپږ لیټره هوا پرپوس ته دننه کولے شي۔ ولې په نارمل توګه یو انسان **3** لیټره هوا دننه کولے شي په دې کښې یو نیم لیټر هوا خو جذب شي۔ په نارمل ساه اخستو کښې یو انسان د **500** نه واخله تر **1000** ملي لیټره پورې هوا دننه کولے شي او دا هغه مقدار دے چې د وینا د پاره استعمالیږي۔([1])

---

([1] ) Lauric Bauer, Beginning Linguistics (uk:palgrave macmillan, 2012 )P:41.

په پرپوس کښې ټخپله څۀ مسَلز نشته چې هوا دننه کړي ، د دې د پاره د ګنبد په شکل کښې یو کلک مَسل لکه د الوړي کنډولي په دې نسکور وي ـ دې مسَل ته ډایا فرام وئیلے شي ـ چې کله دا ډایافرام راښکلے شي نو په ښکته لاړ شي او پرپوس ته هوا راننوځي او چې کله دا په بَره لاړ شي نو د پرپوس نه هوا اوځي اصل کښې ډایافرام د ساه اخستو د پاره کار کوي او ساه بهر ایستو کښې څۀ کردار نۀ ادا کوي ، خو چې کله دا **relax** شي نو ټخپله هوا بهر اوځي ـ

## (2)لیرنکس:

د پرپوس د غټ پائپ د ټریکیا د پاسه یو بل غټ پائپ دے چې لیرنکس ورته وئیلے شي ـ د لیرنکس بنیادي حیاتیاتي کار دا دے چې د پرپوس ته د هوا د تلو او راتلو د پاره یو حفاظتي والو په توګه کار اوکړي ، د دے والو مشینري د نازکو او پیچیده پټو (مسلز) نه جوړه ده چې د کرپندي (نرمو هډوکو) جوړې په یوه نالۍ کښې لګیدلے وي ـ([1])

د ټریکیاد پاسه چې کوم نرم هډوکي لګیدلے وي ، هغې ته **Cricoid Cartilage**وئیلے شي (د **Cricoid**مطلب د هغه ګوتمې دے چې نوم پرې لیکلے وي یا پرې مُهر لګیدلے وي)د دې د پاسه یو بل نرم هډوکے یا کرپندے لګیدلے وي چې **Thyroid Cartilage**ورته

([1] ) John Laver, “Linguistic phonetics” in the Handbook of Linguistics (Ed) Mark Aronoff and Janie Rees Miller, oxford, Uk:Black well publishers, 2003)P:163.

وئيلے شي چې مخکښې وروستو تاويدے شي ، دا په مرئ کښې بهر طرف ته د يوې غوټې په شان ښکاري چې په عامه توګه ورته وئيلے شي **Adam,s Apple** (د تهائي رائيډ مطلب دے لکه د ډهال غوندې شکل ) د تهائي راليډ کارټي ليج شاه اړخ ته دوه واړۀ واړه کرپندي لګيدلي وي چې**Artenoid Catilagcs** ورته وئيلے شي۔(د آرټينائيډ مطلب دے لکه د غټې خمڅئ يا کفګير غوندې)دا آرټي نائيډ کارټيليج د پټو په يوه پيچيده سلسله کنټرول کيږي ۔چې په يو ځاے يا جدا جدا حرکت هم کولے شي او چورليدے هم شي۔([1])

## (3)وُوکل فولډز او ګلوټس :

په ليرنکس کښې دننه دوه وُوکل فولډز (**Vocal folds**) لګيدلي وي ، دې ته به ئې پخوا **Vocal cords** يعنې غږئيځ مزي يا تارونه وئيل ولې دا اصطلاح ماته صحيح نه ښکاري ځکه چې دا د مزو يا تارونو په شکل کښې نۀ دي بلکې د ببوزو په شکل کښې دي ۔ په دې وجه دې ته غږئيځ ببوزي وئيلے شو۔

په ليرنکس يا ګوړګوړي کښې يو غږئيځ ببوزے ښي اړخ ته او بل غږئيځ ببوزے ګس اړخ ته لګيدلے وي ، که په ليرنکس کښې مونږ د برې غاړې نه ننداره اوکړو نو مونږ د غږئيځو ببوزو برنے اړخ ليدے شو ۔مخې غاړې ته دا ببوزي يو بل سره جُخت وي ، ولې شاغاړې

([1] ) Lauric Bauer, Beginning Linguistics (uk:palgrave macmillan, 2012)P:43.

ته د حرکت کونکي آرټي نائيډ کارټيليج سره لګيدلې وي ، که چرې دا ببوزي شاه غاړې ته د يو بل نه بېل وي نو يو تکون شان له يا درې ګوټه سورے پکښې ښکاري۔ او دې سُوري ته ګلاټس (**glottis**) وئيلے شي ، چې کله شاغاړې ته دا ببوزي يو بل سره راجُخت شي نو دا سورے راتنګ شي ، او چې کله غړئيځ ببوزي يو بل سره بېخي جخت شي نو دا سورے بند شي۔ په دې حالت کښې بيا د ليرنکس نه هوا نۀ شي تيريدے ، په نارمل حالت کښې دا سورے کُهلاؤ وي۔ او هوا ترې نه تيريږي ، د څۀ غړونو د ادا کولو د پاره هم دا سُورے کهلاؤ وي۔([1])

په يو بالغ سړي کښې د دې ببوزو اوږدۀ د پينځلسو نه واخله تر شلو ملي ميټرو پورې وي۔ او په يوه بالغه ښځه کښې د دې اوږدۀ د نهو نه واخله تر ديارلس ملي ميټرو پورې وي۔([2])

د غړئيځو ببوزو د رپيدو نه آواز پيدا کيږي ، په يو بالغ سړي کښې غړئيځ ببوزي په هر سيکنډ کښې شپږشلې (**120**)ځله رپيدے شي يعني شپږ شلې چکرې او په بالغه ښځه کښې دوه سوه شل (**220**) ځله رپيدے شي ، چې کله په دې سپيډ رپيږي نو آواز ترې پيدا کيږي، او دا آواز هله اوريدے شي چې کله انسان اَه اُووائي۔ د دې ببوزو رپيدل په آدم ايپل يعنې د مرۍ په غوټه د ګوتو کېښودو نه هم محسوسيدے شي۔([3])

---

([1]) Michael Ashly and John Maidment introducing phonetic Science (Gmbridge:Cambridge university press,2008)P:22.
([2])Lauric Bauer, Beginning Linguistics (uk:palgrave macmillan, 2012)P:43.
([3]) Ibid P:44.

## (4)فیرنکس (Phayrnx)

د لیرنکس د پاسه چې د مرۍ کومه حصّه ده هغې ته فیرنکس وئیلے شي۔ فیرنکس لاندې په دوؤ حصّوکښې تقسیمدے شي ۔ یوته لیرنکس وائي۔ او بل ته **oesophagus**وائي ، لیرنکس د ساه نالۍ ده چې غړئیځ ببوزي پکښې لګیدلي وي او**oesophagus** د خوراک نالۍ ده چې معدې ته ځي۔

فیرنکس یوه داسې خانه ده چې د پټو (مسَلز) او لوند غړنې پردې نه جوړه وي دا خانه د خلې او پوزې شاته ده او خولهٔ او پوزه د خوراک نالۍ سره جُختوي۔([1])

د فیرنکس سائز د پټو راښکلو او د ژبې د راایستو او دننه کولو په وجه بدلیدے رابدلیدے شي او د فیرنکس سائز بدلیدل په آواز فرق پریباسي۔([2])

په انګریزۍ کښې داسې توري نشته چې د فیرنکس نه ادا کېږي ، ولې په عربۍ کښې څهٔ داسې توري شته چې د فیرنکس نه ادا کېږي لکه : ق

## (5)د پوزې خانه (Nasal Gavity):

د فیرنکس د بره غاړې نه د پوزې خانه شروع کېږي ـ د

([1] ) Tarni, Prasad, A Course in Linguistics (New Delhi:PHI Learning private Limited, 2009)P:17.
([2] ) ken Lodge, A Critical Introduction to phonetics (London:Continuum International Publishing Group, 2011)P:21.

پوزې د خانې په دروازه کښې Velicدے ـ د دې کارډېر کم دے، دا لکه د يو والو غوندې کارکوي.چې کله دا بندوي نو د خُلې نه هوا تيريږي او د خلې غږونه پېدا کوي ـ او چې کله کهلاؤ وي نو بيا هوا د پوزې نه نۀ تيريږي او د پوزې غږونه ترې نه پېدا کېږي.

## د خلې خانه(Oral Cavity):

د غږ په پېدا کولو کښې د خلې خانه ډېر مهم کردار ادا کوي ، د ګويائۍ د ټولو نه ډېر حرکتونه هم دلته واقع کېږي ، دې کښې لاندينۍ برخې شاملې دي :

### (1)د خلې چهت:

د خلې چهت په دريو حصّو کښې تقسيم دے

(1)د اورو چهت **The alveolar or teeth ridge**

(2)کلک تالو **The hard palate**

(3)نرم تالو **The soft palate or velum**

د برنو غاښونو د اورو د پاسه کلکې حصې ته **alveolor**وئيلے شي.د دې حصې نه بره ګنبد غوندې کلکې حصې ته کلک تالو وئيلے شي.د کلک تالو نه اخوا د مرۍ سورې پورې نرمې حصې ته نرم تالو يا **velum**وئيلے شي.د دې په بره حرکت باندې د پوزې لاره بنده شي، او هوا چې د پرپوس نه راروانه وي د خلې په لار بهر اوځي ، د دې هوا د خلې د خانې د مختلفو حصو سره جنګېدو په وجه مختلف غږونه پېدا کېږي ، او کله چې نرم تالو ښکته شي نو د خلې لاره بنده شي او هوا په

پوزه غاړه اوځي ، د دې هوا وتو سره د پوزې غږونه لکه م او ن پيدا کېږي ([1])

## ژبه:

ژبه د غوښې نه جوړه ده او په خولهٔ کښې د ټولو نه نازکه برخه ده، د غږونو په پيدا کولو کښې ژبه د ټولو نه غټ کردار ادا کوي۔ دا حرکت کولے شي او د واول او کانسونينټ دواړو په پيدا کولو کښې کردار ادا کوي ، دا په پنځو حصو کښې ويشلے شي ، د ژبې پلنه حصه **blade** مخه غاړه ، شا غاړه ، او ويخ ، د ژبې هغه حصه چې غاښونو سره جنګيدلې وي ، هغه د ژبې سر يا څوکه ده ، کومه برخه چې د دې نه بالکل شاته ده او د **alveolar ridge**سره لګيدلې وي ۔ هغې ته **blade**وائي، کومه حصه چې کلک تالو ته مخې ته راځي هغه مخامخ حصّه ده ، او کومه چې نرم تالو ته مخامخ راځي هغه شا حصه ده۔([2])

## ژبې (**uvula**):

د نرم تالو د آخرنه يوه وړه شان د غوښې ټوټه رازوړنده وي ، دې ته **uvula**وئيلے شي **uvula**په لاطيني ژبه کښې وړوکي انګور ته وائي۔([3])

---

([1] )Tarni, Prasad, A Course in Linguistics (New Delhi:PHI Learning private Limited, 2009)P:16-17

([2] ) ibid P:17.

([3] ) Michael Ashby and John Maidment(Cambridge : Cambridge university press, 2008 ) P:35.

## غاښونه:

غاښونه هم د خولې یوه برخه ده د دې کار د آواز یا غږونو په سلسله کښې دا دے چې دا سره د اورو د ژبې د حرکت د پاره د خولې یو کلک دېوال جوړوي۔(1)

که چرې د غاښونو دا کلک دېوال نه وو نو د آواز ویستل ګران وو، دغه وجه ده چې په زوړ عمر کښې کله د بوډاګانو غاښونه پرېوځي نو د هغې د آواز ادائیګي او تلفّظ متاثره شي ۔

## شونډې:

د انسان په مخ د خُلې سُورې په دوؤ مورګو بند دے چې شونډې ورته وئیلے شي دا د پستو عضلاتو نه جوړې شوي دي چې دغه عضلات ئې ژامو، زنې وغېره سره تړلي وي ۔ شونډې هم د دغه مختلف قسمه عضلاتو په وجه مختلف قسمه حرکتونه کولے شي۔ راښکلے کېدے شي یعنې اوږدیدے شي ، لنډیدے شي، راغونډیدے شي، دا دواړه حرکتونه ئې په بنده او کولاؤ دواړو حالتو کښې کولے شي د زیاتو کهلاوېدو د پاره ورسره د ښکتنۍ ژامې په ښکته حرکت هم شامل وي۔(2)

دا شونډې نۀ صِرف د مخ د ښکلا سَوب دے بلکې د آوازونو پیدا کولو کښې هم ډېر اهم کردار ادا کوي ۔ د بعضې غږونو په ویستو

(1) سیّد خیال بخاري ، غږپوهنه(دَ اشاعت اداره او کال نۀ لري) ص:14 ۔

(2) هم دغه ص: 15 ۔

کښې دواړه شونډې یو بل سره جوختیږي لکه پ، ب ، م ـ

په ګویائۍ یا آرټیکولیشن کښې د وېنا د دې نالۍ مختلفې برخې مختلف کردارونه ادا کوي او د دې برخو د دې کردار نه مختلف غږونه پېدا کېږي ، د کومې کومې برخې د حرکت نه څرنګې آواز پېدا کېدے شي۔لاندې دا عمل ټول په تفصیل سره بیانولے شي۔

د پړپوس نه چې د خبرو کولو د پاره کومه هوا را اوځي هغې ته **Egressive pulmonic air** وئیلے شي۔ د خلې په خانه کښې دا هوا په دوه طریقه رامنع کېدے شي۔

اولنۍ یوه طریقه د ګلوټس بندول او په خولهٔ کښې څهٔ نه څهٔ بندیز اچول دي۔

دویمه طریقه د نرم تالو بندولو په وجه هوا ته خنډ اچول دي.

د اولنۍ طریقې **glottalic** او د دوئیمې طریقې ته **velaric axirstream** پېدا کېږي ـ

یعنې د ګلوټس د هوا لاره او د نرم تالو د هوا لاره ګلوټولک ائیرسټریم **glottalic airstream** دوه قسمه آوازونه پېدا کوي یو ته **implosive** وئیلے شي ، او بل ته **ejectives** وئیلے شي ولې د **velaric airstream** نه **Clicks** آوازونه پېدا کېږي۔([1])

**Implosive** هغه کانسونینټ غږ ته وئیلے شي۔چې د بهر وتونکې خپئزې هوا په لار کښې مکمل بندیز پېدا کړے شي ـ

([1] )Ken Lodge, A critical introduction to phonetics (London:Continuum International Publishing Group,2011)P:15.

**ejectives**استنباطي يعنې بهرخارج کولو والا غږونو ته وئيلے شي ـ او**Clicks** د چقاري، ټقاري، ټک ټک قسمه غږونو ته وئيلے شي۔**Click** غږونه زمونږ په ژبه کښې نشته او د افريقې په ځنې ژبو کښې شته ـ

د دې نه پس د غږئيځو ببوزو وار راځي۔ د غږئيځو ببوزو د رپېدو نه هم آواز پېدا کېږي ، د غږئيځو ببوزو د آواز پېدا کولو د پاره رپېدل بېخي داسې دي لکه څنګه چې د شونډو ترمېنځه هوا تيرېږي ، او شونډې رپيږي د غږئيځو ببوزو د يو ځل پوره رپېدو**vibration** ټول عمل څۀ دارنګې وي .

**(1)**د ټولو نه اول غږئيځ ببوزي جُخت وي ، اوهوا ترې نه نۀ تيرېږي۔

**(2)**د لاندې نه هوا په زوره راشي او غږئيځ ببوزي د منځ نه آزاد کړي۔

**(3)**هوا په تېزه تېره شي خو غږئيځ ببوزي واپس خپل ځاے له راشي او سُورے بند شي۔

**(4)**څنګه چې دا سُورے نرې کېږي نو په تېزۍ سره چې کومه هوا تېره شوي وي هغه په زوره ځان پسې غږئيځ ببوزي راښکي او سُورے بندشي ـ

**(5)**چې کله غږيز ببوزي مکمل بند شي نو د رپېدو عمل ( **vibration cycle**)بيا شروع شي او د دې رپېدو نه آواز پېدا کېږي ـ

د غږئيځ ببوزو دا رپېدل د يو مشين په ذريعه ناپ کولے شي

چې لیرنګو ګراف ورته وئیلے شي۔([1])

د یو بل مشین په ذریعه د غړئیځو ببوزو فلمونه هم تیارولے شي چې سټروبوسکوپ (**Stroboscope**) ورته وئیلے شي .

## مُرمُر (Murmur):

غړئیځ ببوزي د یو بل نه لرې ساتلے شي خو د نۀ آواز د پاره بیا هم جختیږي ، د هوا زور د آواز د رپا نه بدل یو قسم رپا پېدا کوي ۔او دا رپا یو قسم له آواز پېدا کوي چې **murmur**یا د ساه آواز ورته وئیلے شي۔([2])

## کریکه :(Creak):

که چرې غړئیځ ببوزي صرف یو سر ته کولاؤ وي او ډېر په مزه رپیږي نو د دې په نتېجه کښې د کریکې شان آواز پېدا کېږي۔([3]) کېږي۔([3])

## پس پس :(Whisper):

مونږ په دوه طریقو پس پس کولے شو۔ یو ډېر په قلاره پس پس چې ډېر د نزدې نه اوریدے شي۔ او یا په تیزه پس پس چې لږ د لرې نه هم اوریدے شي ۔ په قلاره پس پس کښې د ناغړن نارمل حالت

---

([1] ) Michad Ashby and John Maidment, introducing phonetic Science, (Cambridge: Cambridge university press, 2008)P:23-24.
([2] ) Ken Lodge, A critical introduction to phonetics (London:Continuum International Publishing Group,2011)P:19.
([3] ) ibid P:20.

استعمالیږي۔ او په لږ په تېزه پس پس کښې غږئیځ ببوزي نوربندوي صرف په لیرنکس ګوړګوړي کښې شاته د ارتۍ نائیډ کرپندو سره نزدې یو وړوکے شان سورے وي چې هوا پکښې تلے شي ولې غږئیځ ببوزي نهٔ رپوي ۔([1])

د لیرنکس نه بره فیرنکس وي ، د فیرنکس سائز چاپېره پټهو(**muscles**) یا د ژبې په دې کښې په شاته حرکت بدلولے شي۔ او د فیرنکس په سائز کښې دا بدلون د پېدا کېدونکي غږ په کوالټۍ کښې فرق راولي۔ د ژبې ویخ په دوه قسمه حرکت کولے شي۔ چې یا په مخکښې حرکت اوکړي او یا په شا په مخکښې حرکت سره د فیرنکس سائز لوے شي او په شا حرکت کولو سره د فیرنکس سائز راوړوکے شي د فیرنکس راخکل د واول په آواز کښې مدد کوي۔([2])

د فیرنکس نه پس هوا د خلې د خانې نه تیریږي۔ د غږونو په پېدا کولو کښې د خلې کردار د ټولو نه غټ دے ۔ د خلې مختلف اندامونه لکه ژبه ، غاښونه ، اورۍ، نرم تالو، او سخت تالو د آواز پېدا کېدو کښې خپل خپل رول ادا کوي۔کله چې هوا د خلې نه تیریږي نو که چرې نرم تالو په بره حرکت اوکړي نو د پوزې لاره بنده کړي، په دې حالت کښې د پرپوس نه راغلې هوا ټول په ټوله د خلې د لارې نه تېره شي او مختلفو اندامونو سره د جنګېدو په وجه د مختلفو آوازونو د

([1] )Ken Lodge, A critical introduction to phonetics (London:Continuum International Publishing Group,2011) P:21
([2] )ibid P:21

ويستو سبب جوړ شي او چې کله نرم تالو ښکته شي نو د خلې لاره بنده شي ـ او کومه هوا چې د پړپوس نه راغلي وي ـ ټوله د پوزې د لارې بهر اوځي او پوزيز آوازونه پېدا کړي۔([1])

په خولۀ کښې د دې مختلفو اندامونو د حرکتونو معلومولو د پاره مختلف تکنيکونه او مشينونه استعمالولے شي ، لکه اليکټرو پليټوګرافي په دې باندې خاص کر د ژبې حرکت معلومولے شي۔

دغه شان د ايکسرے او**MRI** په ذريعه د خلې د اندامونو پوزيشن معلومولے شي ـ

## سُست او چست وئيندغړي: Active and Passive Articulators

د آواز په ايستو کښې بره ذکر کړے شوؤ اندامونو کښې څۀ **Active**رول ادا کوي ، يعني متحرک وي او څۀ **passive**رول ادا کوي۔ يعنې غېر متحرک وي.

غېر متحرک يا**Passive Articulators** په عمومي توګه د **Voval tract**برنئ څۀ حصه وي او متحرّک يا **active articulatur**اکثر ژبه وي۔ اوځۀ آوازونه داسې وي چې د هغې د پاره دواړه قسمه **articulators**يعنې**active** او**Passive** په حرکت کښې وي ، په دې وجه په **active**او**passive** کښې بعضې وخت فرق

([1] )Tarni, Prasad, A Course in Linguistics (New Delhi:PHI Learning private Limited, 2009)P:16-17

کول ګران شي۔([1])

په لاندیني ټیبل کښې د **active**او **passive** **articulators**ویش شوے دے .

| **Passive** | **Active** |
| --- | --- |
| غاښونه | شونډې |
| د اوروچهت | ژبه |
| تالو | نرم تالو |
| نرم تالو۔([2]) | |

یاده دې وي چې نرم تالو په **active**او **Passive**دواړو کښې شامل دے۔

## د آرټیکیولیشن د ځاے په لحاظ د غړونو ویش :

**active**او**passive** آرټیکیولیټر په مختلفو طریقو د یو ځاے کېدو نه مختلف قسمه آوازونه پیدا کېږي دا آوازونه د دې آرټیکیولیټرز په لحاظ وئېلې شوي دي چې د عمومي سرخط **place of articulation**لاندې راځي۔ چې مونږ ورته د تولید ځاے یا پیداوښت ځاے هم وئېلے شو۔ د دې تفصیل لاندې ورکولے شي.

---

([1] )Michad Ashby and John Maidment, introducing phonetic Science, (Cambridge: Cambridge university press, 2008)P:36.

([2] )Ken Lodge, A critical introduction to phonetics (London:Continuum International Publishing Group,2011)P:27

## (1)شونډيز (Bilabial):

هغه آوازونه چې د ادا کولو په وخت کښې ئې برنۍ او ښکتنۍ شونډې دواړه استعمال شي دواړه شونډې يا په مکمّله توګه يا لږې غوندې بندې شي دغه آوازونو ته شونډيز وائي۔ په دې کښې دواړه شونډې د **active articulators** په توګه کار کوي۔ په پښتو کښې دا آوازونه ب، پ ، او م دي او په انګرېزۍ کښې **p, b** او **m** دي۔

**(2) شونډيز غاښيز: (Labio-dental)**

په دې قسمه آوازونو کښې برني غاښونه د لاندينۍ شونډې د لاندې کېښودے شي ۔ په دې کښې لاندينۍ شونډه **active articulators** متحرک ويندغړي دے۔ او برني مخامخ غاښونه غېر متحرک ويندغړي دي په انګريزۍ کښې **f** او **v** دا قسم آوازونه دي او په پښتو کښې ف او و دي ، ف د پښتو تورے نۀ دے۔ خو د عربۍ او فارسۍ په ځنې لفظونو کښې استعماليږي ، خو د دې تلفّظ د انګرېزۍ **f** په شان نۀ ادا کېږي .

## (3)غاښيز (Dental):

د غاښيزو آوازونو ادا کولو وخت کښې د ژبې سر د برنو غاښونو سره اوجنګيږي په دې کښې د ژبې سر متحرّک (**active**) ويندغړے دے ، او د برنو مخامخ غاښونو څوکه يا ويخ پکښې غېر متحرّک (**passive**) وئيند غړے دے په پښتو کښې دا حرفونه ت، د ، او ن دي .

## (4)اوریز: (Alveolar):

کله چې د ژبې سر یا خیټه د اورو سره اوجنګیږې نو اوریز آوازونه پیدا کیږي۔ په دې آوازونو کښې ژبه **active**وئیند غړے دے۔او اورئ**passive**وئیند غړي دي ۔

په پښتو کښې دا آوازونه س، ز ، ځ ، څ او ل دي .

## (5)کلک تالویز(palatel):

د دې آواز ادا کولو په وخت کښې ژبه متحرّک (**active**) وئیند غړے دے ۔اوکلک تالو**passive** کردار ادا کوي۔ په دې قسمه آواز ایستو کښې د ژبې مخامخ حصه د کلک تالو سره جنګیږي په پښتو کښې دا آوازونه ش، ژ ، چ او ج دي ۔

## (6)نرم تالویز(velar):

په دې کښې نرم تالو سره د ژبې شاته حصه جنګیږي ، په دې کښې هم ژبه د **active**ویندغړي په توګه کار کوي او نرم تالو د **passive**وئیند غړي په توګه کار کوي ، په پښتو کښې نرم تالویز آوازونه دا دي :ک، ګ، خ او غ

## (7)ژبئ ئیز (uvular):

کله چې د ژبې آخري حصه د ژبئ سره اوجنګیږي ۔ نو ژبئ ئیز آواز پیدا کیږي۔ په دې کښې د ژبې آخري حصه د وئیندغړي په توګه

کار کوي او د نرم تالو، آخرۍ برخه چرته چې ژبې رازړونده وي۔ د (**passive**) ویندغړي په توګه کار کوي .

په پښتو کښې دا صرف یو غږ دے. چې د عربۍ نه راغلے دے یعنې ق.

## (8)ګلوټل (Glottal):

کله چې د ژبې ویخ د فیرنکس (ستوني) د دېوال سره نزدې شي ۔او ترمېنځ ئې هوا تېره شي نو دې آواز ته ګلوټل آواز یا ستونیز آواز وائي ۔

د دې آوازونو په ادا کولو کښې دواړه غړئیځ ببوزي**active** ویندغړي وي په پښتو کښې دا آوازونه ح او ع دي

## (9)مرۍئیز (Laryngeal):

دا آواز په پښتو ژبه کښې نشته۔ دا آواز خاص د مرۍ نه مستقیمًا پېدا کېږي او نور وئیند غړي د دې په ادا کولو کښې څۀ کردار نۀ ادا کوي۔ دا په پښتو کښې همزه الف (ء )دے او په کلمه کښې لکه رئیس۔([1])

## (10)برغ ژبیز (Retroflex):

د دې آوازونو په پېدا کولو کښې ژبه رابرغه شي یعنې راتاؤ

---

( [1]) پوهیالي محمود مرهون، آواز پوهنه (افغانستان : کائنات خپرنیز او دَژباړې مرکز، **1394** لمریز کال)ص:**67-71**

شي ، په دې کښې د ژبې سر (**active**)وئېند غړے دے ، او کلک تالو **passive**وئېند غړے دے ، په پښتو ژبه کښې برغ ژبيز آوازونه د پښتو خپل خاص توري دي لکه ښ، ږ، ډ، ټ، ڼ او ړ. ([1])

د**Place of articulation** په لحاظ د پښتو غږونو ويش تر اوسه پورې په سائينسي بنيادونو نۀ دے شوے ، ځکه چې لا تراوسه په لِسانياتو کښې بنيادي کار نۀ دے شوے. دا د غږونو تفصيلي څېړنه غواړي او دا ويش هله ممکن دے. چې کله په خصوصي لينګوئج ليبارټرو کښې د پښتو د غږونو سائينسي څېړنه اوشي. او دې ليبارټرو کښې په جديدو مشينونو د مختلفو غږونو د ادا کولو په وخت کښې د مختلفو ويندغړو د حرکت تصويرونه ، ګرافونه، او فلمونه تيار کړے شي. د هغې نه پس به د پښتو ژبې د کانسونينټ او واول غږونو ويش صحيح او سائينسي وي. دغه ورځ دې لوے الله راولي ، خو تر اوسه پورې چې په پښتو غږ پوهنه کومو پښتنوکار کړے دے هغې کښې د افغانستان يو نومورے او ډېر ښکاره نوم د مجاور احمد زيارصېب دے.او د اوسني وخت پوهيالي محمود مرهون دے. چې په اواز پوهنه ئې يو مختصر شان کتاب ليکلے دے ، په پېښور کښې ډېر محترم خيال بُخاري صېب هم په غږ پوهنه خپل معلومات راټول کړي دي ولې د غږونو په ويش پکښې مختصره خبره شوې ده. زمانځې ته د انګرېزانو او

---

([1]) پوهيالي محمود مرهون، آواز پوهنه (افغانستان : کائنات څېړنيز او دَژباړې مرکز، **1394** لمريز کال) ص:**72**

لیکوالانو کتابونه هم شته ولې زما په نزد د یوې ژبې د **native speakers**خبره زیاته معتبره ده ځکه مې صرف د پښتنو لیکونو ته رجوع کړې ده .

ما چې وړاندې د **place of articulation**په لحاظ کوم ویش ورکړو ، نو د هغې په مثالونو کښې د خپلې ژبې توري ما د اول نه تر آخره د محمود مرهون د کتاب نه راواخستل ولې د خیال بخاري صیب ، مجاور احمد زیار صیب او محمود مرهون په دې ویش کښې لږ ډېر فرق شته دلته به زۀ په هغې خبره اوکړم ـ

مجاور احمد زیار صیب په اُووریز آوازونو کښې ټ او ډ هم ورکړي دي ، دغه شان په کلک تالویز کښې دوه غږونه ج او چ کلک تالویز ګڼي خو اووریز ئې هم ګڼي ـ

دغه شان په ژبې ئیز کښې خیال بخاري صیب لیکي چې دا آواز زمونږ په ژبه کښې نشته ولې محمود مرهون صرف ق آواز ژبې ئیز ګڼي، او مجاور احمد زیار صیب خ او غ هم پکښې حسابوي ـ

زیار صیب ګلوټل آوازونو کښې د ح او ع سره ه هم حسابوي۔ د دې نه علاوه زیارصیب ش اورې تالویز او ژ تالویز آواز ګڼي۔ ولې محمود مرهون ش او ژ کلک تالویز ګڼي۔ خود دې نه علاوه دا هم لیکي چې:

د آواز پوهنې څېړونکو دوه آوازونه(ش او ز ) اورې تالویز بللي دي ـ او دلیل ئې دا ښودلے دے چې دغه آوازونه د اورې شاته د کلک تالو لاندې ادا کېږي۔ د دوي استدلال تر یو حده په ځاے دے

مګر په بشپړه توګه مونږ باور ځکه نشو کولے چې دغه آواز د ژبې د سر او تالو ترمېنځه ادا کېږي۔([1])

زيار صېب برغ ژبنيز آوازونه ړ، م او ڼ ګڼي ، ولې محمود مرهون ئې ښ ، ږ ، ډ ، ټ ، ڼ او ړ ګڼي۔ زيارصېب د ږ او ښ لهجوي فرق هم ورکړے دے۔ زما په خيال زمونږ په لهجه کښې برغ ژبيز غږونه ټ، ډ ، ړ او ڼ دي۔ په پښتو کښې د آوازونو فرق د لهجو په وجه هم دے۔ او د زيار صېب او محمود مرهون ډلبندي تر ډېره حده صحيح هم ده خو که د جديدو مشينونو استعمال اوشي نو لهجوي فرق به هم معلوم شي او دا لږ ډېر کسر به هم اوځي۔ او خبره به سپينه شي ، د دې د پاره ضروري ده چې مشينونه هم وي خو د فونيټکس په اُصولو پوهه او لوستي ماهران هم پکار دي۔

## دManners of Articulation په حواله د تورو ويش:

د غږ په پېدا کولو کښې چې کومې حصې برخه اخلي ۔ د دې وئيند غړو د تنګېدو يا کولاويدو د وجې د هوا په لار کښې بنديز راځي ، د دې په وجه کانسونينټونه په لاندې قسمونو کښې وئيلے شي

**Stop or plosive(1)**

د خلې يا د تالو د مکمّل بنديز په وجه دا آواز پېدا کېږي activeاوpassiveآرټيکيوليټرز ټول د خلې يا د پوزې ټوله لار بنده

---

( [1]) پوهيالي محمود مرهون، آواز پوهنه (افغانستان : کائنات څېړنيز او دَژباړې مرکز، **1394** لمريز کال) ص:**73** ۔

کړي دې سره هوا دباؤ شي او چې کله متحرک وئیند غړے د لارې نه لرې شي نو هوا په تېزۍ سره بهر اوځي **stop**آواز ته**plosive** هم وئیلے شي او د افغانستان لیکوالان دې ته تم آوازونه وائي۔([1])

په پښتو کښې تم آوازونه دا دي :

| | |
|---|---|
| شونډیزتم | پ، ب |
| غاښیزتم | ت، د |
| وروستۍ تالويز تم | ک، ګ ([2]) |

## (2)**Fricatives**مښلي یا مږلي احتکاکي:

مږلي یا مښلي هغه آوازونو ته وائي چې د ادا کولو په وخت ئې د ساه لاره دومره تنګه شي چې آواز په ډېر زور سره ادا شي ، په پښتو کښې مښلي آوازونه دا دي ، شونډیز مښلي ف چې پښتو ژبې ته د عربۍ ژبې نه راغلے دے۔

اوریز مښلي س

منځني تالويز مښلي ش او ز

برغ ژبیز مښلي په لوئیدیځه لهجه کښې ښ او ږ

نرم تالويز مښلي په منځنۍ لهجه ښ او ږ۔ ([1])

([1] ) Tarni, Prasad, A Course in Linguistics (New Delhi:PHI Learning private Limited, 2009)P:27

( [2]) پوهیالي محمود مرهون ، آواز پوهنه (افغانستان: کائنات ، څېړنیز او دَ ژباړې مرکز ، **1394** لمریز کال )ص:**75**

## (3)تم منښلي مرکّب آوازونه :

دا هغه آوازونه دي چې هم پکښې د تم آوازونو خاصيّت دے او هم د منښلو آوازونو خاصيّت لري ، يعنې په وړومبني سر کښې په بشپړه توګه بند او تم او بيا په پوره فشار د يو خاص قسم کښهار سره پيدا کېږي دغه آوازونه په پښتو کښې دا دي :

اوريز څ، ځ ، او منځني تالويز چ او ج ([2])

## (4) پوزيز آوازونه :

دا هغه آوازونه دي چې د ادا کولو په وخت په خوله کښې د تم آوازونو غونډې د سا هوا په بشپړه توګه بنديږي ، خو فرق ئې دا دے چې د دې آوازونو د پيدا کولو په وخت د نرم تالو وروستے برخه ښکته وي۔ او د ساهوا هوا د پوزې لارې راؤځي۔ په پښتو کښې د آوازونه دا دي :

شونډيز :م

غاښيز پوزيز: ن

برغ ژبيز پوزيز:ڼ([3])

## مائع آوازونه:(Liquids):

مائع آوازونه هغه آوازونو ته وئيلے شي چې د ژبې تالو او اورو

---

([1]) پوهيالي محمود مرهون ، آواز پوهنه (افغانستان: کائنات ، څېړنيز او دَ ژباړې مرکز ، 1394 لمريز کال ) ص:75 ۔

([2]) همدغه ص:76 ۔

([3]) هم دغه ص:76

د یو ځاے کېدو نه په داسې حالاتو کښې ادا کېږي چې څۀ داسې حالت ځان ته غوره کړي چې هم تم ، هم تم مښلي او مښلتوب پکښې راتول شوي وي۔ دا آوازونه په لاندې قسمونو کښې ویشلے شو۔

## (1)اړخیز مائع آوازونه (Lateral Liquid):

د دې آواز د ادا کولو په وخت کښې ژبه د برنو اورو سره اومښلے شي ۔ او د ساه هوا د ژبې د اړخونو نه را اوځي ۔ دغه آوازونه چونکې د ژبې د اړخونو نه ؤوزي نو ځکه ورته اړخیز مائع آوازونه وائي۔ په پښتو ژبه کښې ل اړخیز مائع آواز دے۔

## (2)نااړخیز مائع (Nonlateral Liquid):

دا آوازونه هغه وخت پېدا کېږي کله چې د ژبې اړخونه د تالو سره اومږلے شي۔ او آواز د هغه نالۍ نه رااوځي چې د ژبې د راټولېدو په وجه جوړه شوې وي ، دې قسم آواز ته نااړخیز مائع آوازونه وائي لکه د پښتو ژبې ''ړ''

## (3)ړپېدونکي مائع آوازونه (Flapped Liquids):

دا هغه آوازونه دي چې د ادا کولو په وخت ئې د ژبې اړخونه په تالو پورې اومږلے شي ۔ او د ژبې څوکه پرله پسې تالو او اورو سره

جُختيږي ، دې آوازونو ته رپېدونکي آوازونه وائي ـ په پښتو کښې دا آواز د "ر" دےـ([1])

زيارصيب مائع آوازونو ته اوبلن وائي ـ

وړاندې ورکړے شوي د **Manners of articulation**په لحاظ ويشلي آوازونو په بيانولو کښې ما د محمود مرهون ويش ورکړو، ولې د زيار صيب په کتاب "پښتو پښويه" کښې د دې قسم آوازونو ويش د محمود مرهون نه لږ ډېر بدل دي چې دلته ئې ذکر ضروري ګنړم۔

تم منښلي (**Affricates**) ، پوزيز (**Nasals**) او مائع (**Liquids**) پښتو کانسونينټونه کوم چې زيار صيب ورکړي دي هم هغه محمود مرهون هم ورکړي دي ، خو په تم (**Stops**) او منښلي (**Fricatives**) کښې فرق شته ـ

د زيار صيب د تم منښلو آوازونو فهرست دا دے : په پښتو کښې له پور غږونو ف، ق نه علاوه ب، پ ، ت ، ټ ، د ، ډ ، ک او ګ([2])

د محمود مرهون د لسټ نه په دې کښې ف، ق، ټ او ډسيوائي دي ، دغه شان زيار صيب د منښلو (**Fricatives**) پښتو مثالونه دا غږونه ورکوي۔

---

( [1]) پوهيالي محمود مرهون ، آواز پوهنه (افغانستان: کائنات ، څيړنيز او دَ ژباړې مرکز ، **1394** لمريز کال ) ص:**77-78** ـ

( [2])پوهاند، دوکتور مجاور احمد زيار، پښتو پښويه ، دريم چاپ (پېښور:دانش خپرندويه ټولنه، **2005** )ص:**61** ـ

په پښتو کښې د پورغږونو ف، ع ، ح او نورو نه علاوه نهه(۹) دي ، س، ز، ش ، ښ ، ژ، ږ ، خ ، غ، ه ([1])

د محمود مرهون د ورکړي شوي فهرست نه په دې کښې دا غږونه سيوائي دي ، ع ح ، ش ، ژ ، خ ، ع او ه .

## د غږيزو ببوزو (vocal folds) له مخې د آوازونو ويش :

د غږيزو ببوزو د رپېدو له مخې هم آوازونه په دوه ډوله ويشلي شوي دي چې انګرېزۍ کښې ورته**voiced** او **voiceless**وئيلے شي ـ او پښتو کښې ورته غږن او ناغږن وئيلے شي.

د غږن او ناغږن تعريف زيار صېب په دې جوړله کوي .

## ناغږن آوازونه :

د غږونو د جوړېدو په وخت د ساه هوا د **larynx**انه د غږيزو ببوزو د منځ نه تيريږي ـ که چرې د دې هوا د تېرېدو په وخت دا غږيز ببوزي په خپله عادي بڼه وي يعنې د يو بل نه لرې وي ، او هوا د دې ببوزو سره څۀ قسمه ټکره نۀ خوري او دا ببوزي نۀ رپيږي نو داسې غږونه منځ ته راځي چې هېڅ قسمه موسيقيت نۀ لري ـدې غږونو ته ناغږن آوازونه وائي ـ

---

([1]) پوهاند، دوکتور مجاور احمد زيار، پښتو پښويه ، درېم چاپ (پېښور:دانش خپرندويه ټولنه، **2005** ) ص:**64**ـ

## غږن آوازونه :

او که چرې د ساه هوا د وتو په وخت دا غږئیځ ببوزي یو بل سره نزدې شي او په رپېدو شي نو داسې غږونه رامنځ ته کېږي چې موسیقیت لري۔ دې غږونو ته غږن آوازونه وئیلے شي په پښتو کښې د واول آوازونو د ادا کولو په وخت غږئیځ ببوزي رپیږي په دې وجه ټول غږن دي۔([1])

د غږئیځو ببوزو د رپېدو په لحاظ زیار صېب د غږنو او ناغږنو کانسونینټونو چې کوم فهرست د پښتو پښویه په 77 مخ ورکړے دے هغهٔ دلته راوړلے شي۔

| غږن | ناغږن |
|---|---|
| ب | پ |
| د | ت |
| ډ | ټ |
| ګ | ک |
| ز | س |
| ږ | ښ |
| ژ | ش |
| غ | خ |

([1]) پوهاند، دوکتور مجاور احمد زیار، پښتو پښویه ، درېم چاپ (پېښور:دانش خپرندویه ټولنه، 2005 ) ص:57۔

| | |
|---|---|
| ه | – |
| – | ف |
| ځ | څ |
| ج | چ |
| ر | ق |
| ړ | ل |
| م | – |
| – | ن |
| – | ڼ |

پروفیسر ډاکټر خالد خان خټک صاحب د پښتو کانسونینټ په غږن او ناغږن کښې په دې طرز ویشلي دي :

| غږن | ناغږن |
|---|---|
| ب | پ |
| ت | د |
| ټ | ډ |
| ج | چ |
| خ | غ |
| ر | – |
| ړ | – |
| ز | س |

| | |
|---|---|
| ژ | ش |
| | ف |
| ګ | ک |
| ل | – |
| م | – |
| ن | – |
| ڼ | – |
| و | – |
| ي [1] | – |

## Accoustic phoneticsطبيعاتي غږپوهنه:

آواز د موجونو يا چپو په شکل کښې سفر کوي، د آواز په کومه چپه کښې چې باقاعده او يو شان شکل کښې نشيب وفراز وي هغې ته **note**وئيلے شي۔ ولې د آواز په کومه چپه کښې چې بې قاعده او ګډوډ شکل کښې نشيب وفراز وي هغې ته **noise** يا شور وئيلے شي.

آوازپه هوا کښې په پنځه ديرش (**35**)ډګرئ تپ باندې په يو سيکنډ کښې درې سوه دوه پنځوس (**352**) ميټره سفرکوي ۔([2])

([1]) ډاکټرخالدخان خټک سره مرکه، پښتو اکيډمي ، **29** دسمبر **2016**ء

([2]) www.uni.bielefield.de/lili/personen/vgramley/teachirs/HTHs/review.pdf(accessed september 18-2016).

په نارمل توګه آواز په هوا کښې په يو سيکنډ کښې درې سوه دېرش (**330**)مېټره سفر کوي ـ په اوبو کښې يو سيکنډ کښې څوارلس سوه پنځوس ميټره او په اوسپنه کښې يو سيکنډ کښې پنځه زره يوسل دېرش ميټره سفر کوي ـ

د آواز رفتار د ترسيل په ذريعه انحصار کوي ـاو د يوې مادې په دوؤ خاصيتونو **elasticity**يعنې ربړي خاصيّت او **density**يعنې کثافت دروندوالي باندې انحصار کوي ـ د دې نه علاوه د مادې ګرموالي سره هم د آواز په رفتار کښې فرق راځي ـ

يوه ويب پاڼه د طبعي غږپوهنې تعريف په دې لفظونو کښې کوي ـ

طبعي غږ پوهنه د آواز د طبعي خصوصياتو مطالعه کوي ـ([1])

يوه بله ويب پاڼه د طبعي غږپوهنې پېژندګلوداسې کوي ـ

طبعي غږپوهنه د آواز په ترسيل باندې بحث کوي ، د غږ چې څهٔ طبعي خصوصيات دي لکه فريکونسي يعني رپ شميره، شدت (**intensity**) او دورانيه (**duration**) طبعي غږپوهنه په دې ټولو بحث کوي ـ([2])

([1] )http://panobra.cii.wwu.edu./Vajda/ling.201/test2materials.phonetrcs .htm(accessad september19/2016).

([2] )www.uni.bielefield.de/lili/personen/vgramley/teachirs/HTHs/review. pdf(accessed september 18-2016).

هرکله چې طبعي غږپوهنه د آواز د طبعي خصوصياتو مطالعه ده نو د آواز د دې طبعي خصوصياتوپېژندګلو به هم په لاندې کرښو کښې اوکړو.

## (1)Amplitude:

د **amplitude**تعريف مونږ داسې کولے شو چې د يوې رپېدونکې ذريعې د خپل سکون د مقام نه زيات نه زيات بيرته والي ته **amplitude**وئيلے شي دې ته په اُردو کښې حيطه وئيلے شي۔

د حيطې يا **amplitude**د ناپ کولو اکائي ډائن في مربع سينټي ميټر ده ، ډائن د آوازونو د هوائي دباؤ پيمانه ده چې په يوه مخصوصه رقبه د دې دباؤ قوّت ښائي ۔

(2) فريکونسي :(**Frequency**):

فريکونسي ته په اُردو کښې تعدّد او تواتر وائي ، پښتو کښې ورته مونږ لرزشميره يارپ شميره وئيلے شو د رپ شميرې تعريف څۀ داسې دے۔

رپ شميره يوه تکنيکي اصطلاح ده چې د آواز د طبعي خصوصيّت د پاره پکارولے شي ۔ د آواز پيدا کونکي يو څيز په نارمل هوائي دباؤ کښې په يو سيکنډ کښې د رپونو شمېرې ته رپ شميره يا فريکونسي وئيلے شي۔([1])

---

([1] )www.uni.bielefield.de/lili/personen/vgramley/teachirs/HTHs/review.pdf(accessed september 18-2016).

د رپ شميرې اکائي **Hertz**ده۔ يو**Hertz** يو سائيکل يا چکر ته وئيلے شي۔ يعنې چې کله د آواز د ترسيلولو يوه ذريعه د خپل سکون د حالت نه يوخوا ته بيرته شي۔که دې مقام ته مونږ د (الف) نوم ورکړو او بيا بل خوا ته بيرته شي دے مقام ته مونږ د (ب) نوم ورکړو۔نو د (الف) او (ب) ترمينځه فاصلې ته مونږ نيم چکر وايو، او چې د الف نقطې نه يو څيز ب پورې لاړ شي او واپس الف له راشي نو دې ته يو چکر يا يو سائيکل (**Cycle**) وائي.

سائيکل ته **Hertz**هم وئيلے شي۔ دې يو چکرپوره کولو کښې چې څومره وخت اولګي دې ته **Time period**وئيلے شي ۔او په يو سيکنډ کښې چې څومره چکرې وي هغې ته فريکونسي وئيلے شي د فريکونسۍ اکائي سائيکل فې سيکنډ يا هرټز فې سيکنډ يعني فريکونسي په سائيکل فې سيکنډ يا هرټز فې سيکنډ کښې ناپ کولے شي۔

## (3)شدّت (**Intensity**):

دآواز دريم خاصيّت شدّت يا**Intensity** دے۔د **Intensity** تعريف داسې کولے شو چې په يوه اکائۍ رقبه کښې د آواز د توانائۍ اوسط د ترسيلولويا تېرېدو رفتار ته شدّت يا **Intensity** وئيلے شي، چې دا رقبه د آواز د پيدا کېدو ذريعې ته عمودًا واقع وي ، د دې د ناپ کولو اکائي واټ فې مربع ميټر ده۔([1])

([1]) R. Murugeshan and Kiruthiga sira prasath, propertics of matter and Accoustics, Reprint (New Delhi:s.Chand and compny Ltd, 2006)P:82.

د آواز د چپو سُوچه یا مطلق شدت یعني **Absoulte Intensity**هم په دې اکائۍ یعني واټ في مربع میټر کښې ناپ کولے شي ، د آواز کم نه کم شدّت (په **1000** هرټز باندې) چې نارمل انساني غوږ ئې اورېدے شي هغه $10^{-12}\frac{W}{m^2}$ ده ۔دې معیاري شدت ته د اورېدو د آغاز نقطه یعني **threshold of audibility**وئیلے شي۔ دا د آواز د شدّت معیار یا صفر شمیرلے شي۔ اوس د دې معیاري شدت سره د عام آواز د شدت نسبت (**ratio**) ته د شدت سطح یعني **Intensity level**یامتعلقه شدت یعني **Relative Intensity of sound**وئیلے شي۔ د دې متعلقه شدّت اکائي **Bel**ده۔ د کوم آواز د شدّت سطح چې د معیاري شدّت نه لس چنده سېوا وي نو هغه یو **bel**وي **bel**یوه غټه اکائي ده په دې وجه **decibel**یعني د **bel**لسمه حصه د شدّت د ناپ کولو د پاره استعمالولے شي۔([1])

## (4)اُوچت والے (**Loudness**):

**Loudness** د آواز د شدّت نیمه حصه ده۔ دا د شدت وظیفه ده خو په دې کښې د فریکونسۍ او د آواز د ترتیب سره بدلون راځي۔ د آواز **loudness**د سمعي حِس سره تعلق لري د آواز شدّت د ظاهري او معروضي پیمائش سره تعلق لري ولې **loudness**یو اندروني او

([1]) R. Murugeshan and Kiruthiga sira prasath, propertics of matter and Accoustics, Reprint (New Delhi:s.Chand and compny Ltd, 2006) P:84.

موضوعي اړخ سره تعلق لري۔ شدت د آواز یوخاص طبعي مقدار دے او**loudness** صرف د محسوسولو یوه درجه ده ۔

د **loudness** د پیمائش اکائي **sone**ده چې د یو آواز فریکونسي **1000**هرټز وي او د شدت سطح ئې **40**وي نو د هغې **loudness** به یو سون **sone** وي۔([1])

## <u>(5)پچ **Pitch**:</u>

**Pitch** د آواز هغه خاصیت دے چې د څۀ په ذریعه په یونري یا د کریغي په آواز کښې او په یو غټ آواز کښې فرق کېدے شي ، د مرغو ، پیشوګانو، ماشومانو او د ښځو د آواز پچ زیات وي ولې د سپو، چیندخانو، او د سړو د آواز پچ کم وي۔ په عمومي توګه پچ د آواز په فریکونسۍ انحصار کوي ، څومره چې د آواز فریکونسۍ ډېره وي هومره به د آواز پچ ډېر وي ، او آواز به نرے وي او څومره چې فریکونسي کمه وي دومره به د آواز پچ کم وي او آواز به غټ وي.

## <u>(6)کوالټي (کیفیّت ):</u>

د آواز هغه خاصیّت د کوم په ذریعه چې د مختلفو آلاتو لکه ډهولکي او بانسري نه وُتي آواز کښې فرق کېدے شي هر څو که د دې آواز **Loudness**او**Pitch** یو هومره وي۔ دې خاصیّت ته **Quality** **timber**وئیلے شي۔

---

([1] )R. Murugeshan and Kiruthiga sira prasath, propertics of matter and Accoustics, Reprint (New Delhi:s.Chand and compny Ltd, 2006) P:85-86.

د آواز د دې خاصيتونو د صحيح پيمائش د پاره **Spectograph**نومې آله استعمالولے شي چې کله د يو څيز نه وُتے آواز د **spectograph**نه تېر کړے شي- نو دا يو قسم له د آواز تصوير جوړ کړي- چې **Spectogram**ورته وئيلے شي- په دې سپيکټو ګرام کښې د آواز فريکونسي ، شدّت او دورانيه هر څۀ ښودلے شوي وي-([1])

## ګوشي غږ پوهنه: **Auditory Phonetics**

دا د غږ پوهنې هغه څانګه ده چې پکښې د غږ د اورېدو د آلې او د اورېدو د عمل تفصيلي مطالعه کولے شي ګوشي غږپوهنه دا ګوري چې انسان د دې آوازونو ادراک څنګه کوي-يعني په غوږ کښې چې آواز ننوزي نو څۀ واقع کېږي-([2])

د**Accoustic phonetics** تعلّق نيغ په نيغه فزکس سره دے ولې د **Auditory phonetics**تعلق د **biology** اوخاص کر فزيالوجي او اِناټمي (**Anotomy**) سره دے. **Articulatory phonetics**د ويونکي سره تعلق لري او**Auditory phonetics** د اورېدونکي سره تعلق لري .

---

([1] )Tarni, Prasad, A Course in Linguistics (New Delhi:PHI Learning private Limited, 2009)P:32.

([2] )www.uni.bielefield.de/lili/personen/vgramley/teachirs/HTHs/review. pdf(accessed september 18-2016).

د آواز د ادراک او پېژندو او تشريحولو نه وړاندې آواز چې کومې آلې سره مخامخ کېږي هغه غوږ دے، غوږ يو ډېر پيچيده جوړښت لري او د دې بنيادي کار د سمعي تحريک ادراک ، د هغې تجزيه ، او وړاندې د هغې مزغو ته لېږل دي۔([1])

غوږ په دريو حصو مشتمل دے :

(1) بهرنے غوږ

(2) منځنے غوږ

(3) دننے غوږ

د دې دريو واړو حصو تفصيل لاندې ورکولے شي ۔

## (1)بهرنے غوږ :

د غوږ ايکي يو بهر ښکاره حصّه **pinna**يا **auricle**دے چې د خپل مخصوص جوړښت په وجه هغه اولنۍ برخه ده چې په آواز ردّ عمل کوي ، د دې **pinna**په وجه د آواز زياته برخه غوږ ته داخلېږي چې کله د آواز چپې د **pinna**نه تيرې شي ۔ نو دوه درې سينټي ميټره نور هم په غوږ کښې دننه سفر اوکړي ۔ تر دې چې پردې سره اوجنګېږي دې ته **tympanic membrane**هم وئيلے شي **tympanic membranes** د منځني غوږ د شروع کېدو نخښه ده .

([1] ) ebooksunibuc.60/filologic/mateescn/pdf/23Pdf(accessed September 18,2016).

## (2)منځنے غوږ:

منځنے غوږ په لاندې حصو مشتمل وي :

(1) **eardrum**ائير ډرم

(2) **Hammer**هيمر

(3) **Anvil**اينول

(4) **Stirrup**سټرپ

(5) **Eustachain tube** يوسټيچين نالۍ

ائيرډرم ډېر باريک وي د دې قطر د اتو نه لسو ملي ميټرو پورې وي ، او د وړو وړو مسَلز يعني پټو په ذريعه راخکلے شوي وي۔د آواز د چپو دباؤ دا ئير ډرم په رپېدو کړي۔ دا رپېدل د دريو هډوکو په ذريعه دننه غوږ ته منتقل کړے شي دا نري هډوکي هيمر دے چې (**malleus**)هم ورته وئيلے شي۔ بل اينول دے چې **incus**هم ورته وئيلے شي ۔ او دريم سټرپ دے چې **Stapes**هم ورته وئيلے شي ۔ دا درې هډوکي يو قسم له پل جوړوي او آخرنے هډوکے يعنې سټرپ د **oval window**يعني بيضوي کهړکۍ سره جُخت وي ۔ بيضوي کهړکۍ يوه پړده ده چې د دنني غوږ عضو کوکليا ته ئې د تلو لار بنده کړې وي۔چې کله ائيرډرم رپېدل شروع شي نو د آواز چپې د هيمر، اينول او سټرپ په ذريعه بيضوي کهړکۍ ته اورسي ، په بيضوي کهړکۍ کښې د آواز د چپو دباؤ د ائير ډرم نه شل چنده سېوا وي يو سټيچين نالۍ هم د منځني غوږ

برخه ده ـ دا غوږ د بره تالو سره هم جوختوي ، او د دې کار په غوږ کښې د دباؤ نارمل ساتل وي۔

## دننے غوږ :The inner ear

دننے غوږ په دې حصو مشتمل وي ـ

ويستي بيولر:**vestibular**

کوکليا:**Cochlea**

د توازن عصب:**Balnce nerve**

سمعي عصب:**Accoustic nerve**

يوسټيچين نالۍ:**Eustachian tube**

کله چې د آواز چپې بيضوي کهړکۍ ته اورسي نو د آواز د چپو په دننه سفر جاري وي دننے غوږ د نالو او لارو يو پيچيده جال دے چې **Labyrinth** ورته وئيلے شي په **Labyrinth** کښې **vestibular** او **Cochlea** دي ـ

په کوکليا کښې د آواز چپې د برقي چپو په شکل کښې مزغو ته ليږلے شي مازغهٔ بيا د دې چپو تشريح او تجزيه کوي په کوم چې مونږ پوهيږو د کوکليا شکل د **Snail** د کورکي په شان دے ـکوکليا د يوې مائعې نه ډک وي چې **perilymph** ورته وئيلے شي ـاو په دې کښې دوه پړدې يو بل سره جوختې لګيدلي دي ـ دا پړدې يو قسم له په کوکليا کښې ديوال جوړوي ـ ولې دا مائع د دواړو پړدو نه تيروبير د يو سُوري په زريعه ځي راځي چې **helicotrema** ورته وئيلے شي ـداسُورے د

دې د پاره ضروري دے چې د بیضوي کهړکۍ ټول ارتعاش د کوکلیا مائعې ته منتقل شي ـ کله چې دا مائع د کوکلیا دننه خوزي راخوزي نو په زرګونو خوردبیني ویښتۀ د دې په بېلونکي دېوال کښې حرکت کوي ، د دې د ویښتو شمېره تقریبًا څلېریش زره ده چې په څلورو اوږدو قطارونو کښې ولاړ وي ـ دا ټول ویښتۀ د اورېدونکي عصب سره تړلي وي ـ د کوکلیا د مائع د خوزېدو په لحاظ مختلف ویښتۀ حرکت کوي چې کله دا ویښتۀ حرکت کوي نو برقي پېغامونه د اورېدونکي عصب په ذریعه د مزغو اورېدونکي مرکز ته لېږلے شي په مزغو کښې د دې برقي پېغامونو ترجمه د آوازونو په چپو کښې کېږي کوم چې مونږ پېژنو او پوهېږو پرې ـ که چرې په څۀ وجه دا ویښتۀ خراب شي نو زمونږ د اورېدو طاقت ورسره متاثره کېدے شي ـ

د دنني غوږ یوه بله اهمه برخه **vestibular** ده ـ چې زمونږ د بدن په توازن کښې لوے لاس لري **vestibuler** په دریو راتاؤ شوؤ لارو مشتمل دے په دې ټولو لارو کښې یوه مائع وي چې زمونږ د بدن د حرکاتو سره حرکت کوي ـ په دې لارو کښې د دې مائعې نه علاوه په زرګونو واړۀ واړۀ ویښتۀ هم وي ـ د مائعې د حرکت په وجه دا نري ویښتۀ مزغو ته برقي پېغامونه لیږي او مازغه د دې پېغامونو په مدد د وجود توازن برقرار ساتي ـ([1])

([1] ) alejandronunez-a-z-blogspot.com/p/auditory-p-phonetrcs.html (accessed September 18,2016).

## فونولوجي:

فونولوجي هم د ژبپوهنې يو اهم ښاخ دے۔ دا د نظرياتي ژبپوهنې يو ذيلي ښاخ دے آن لائن برټانيکا انسائيکلوپيډيا د فونولوجي تعريف داسې کوي :

فونولوجي د يوې ژبې د غږونو د نظام مطالعه ده۔([1])

دغه شان آن لائن ميريم ويبسټر ډکشنري د فونولوجي لفظ د لاندې ليکي ، د فونولوجي ساده تعريف دا دے :

په يوه ژبه کښې چې د وينا د پاره کوم غږونه استعماليږي د هغې مطالعې ته فونولوجي وئيلے شي ۔

او د فونولوجي پوره تعريف دا دے :

د وينا د غږونو سائينس چې پکښې په يوه ژبه يا متعلقه ژبو کښې د غږونو د بدلون تاريخ مطالعه کولے شي ۔ او د غږ د بدلون نظريې هم پکښې مطالعه کولے شي۔

او يا په يو ټاکلي وخت کښې د يوې ژبې صوتياتو او فونيماتو مطالعې ته فونولوجي وئيلے شي۔([2])

ډيرو ژبپوهانو د فونولوجي تعريفونه کړي دي ، لکه برټ لي برټ د فونولوجي په حقله ليکي :

---

([1]) http://www.britannica.com./science/phonology(accessed octuber 3 2016).

([2]) www.merriam-webster.com/dictionary phonology (accessed octuber 3,2016.

فونولوجي د ژبپوهنې يوه څانګه ده چې د وېنا د غږونو سره تعلق لري دا د **Phonetics**او **phonemics** د تعلق په مطالعه مشتمله ده **phonemics**د يوې ژبې د غږونو **Phonemes** د ليکلې شکل ګرافيم د لوستلو د تدريس طريقه ده. او **phonetics**د وېنا د غږونو د پېداوښت ، ترسيل، او اورېدو مطالعه ده ، فونولوژي د يوې مخصوصې ژبې د غږيځ نظام د تجزيې مطالعه ده.([1])

رچرډ کوټس د فونولوجي په حقله ليکي:

په فونولوجي کښې غږونه د يو خام مال په توګه اخستے شي او بيا د دې غږونو د هغه خصوصياتو تجزيه کولے شي.کوم چې د يوې مخصوصې ژبې ويونکو غږونو ته عطا کړي وي په دې نقطه ونظر مونږ د انګريزي فونولوجي خبره کولے شو د ترکي ژبې د فونولوجي خبره کولے شو او داسې نور-----([2])

دغه شان **Ken Lodge** يو بل ليکوال د فونولوجي تعريف داسې کوي :

([1] )Burt Liebert,Linguistics of the new English Teacher (New york :The Macmillan Company, 1971)P:70.

([2] ) Richard coates, "phonology, New Horizans" in Linguistics 2, Eds:John Lyons, Richord Coates, Margaret Deuchar and Gerald Gazder, (London: Penguin books Ltd, 1987)P:30.

فونولوجي د ژبني نظام مطالعه ده په خصوصي توګه هغه طريقه مطالعه کول د کومو په ذريعه چې غږونه په يوه ژبه کښې د مختلفو معنو نمائيندګي کوي۔([1])

يوبل ليکوال د فونولوجي تعريف څۀ په دې جوړله کوي۔

فونولوجي د يوې ژبې د غږونو د ساخت او ترتيب وتنظيم مطالعه ده۔ لکه د ګرامر په شان په دې کښې د ژبې آفاقي او خصوصي اُصول ټول راځي ۔ ټولې ويونکې ژبې خپل لفظونه د واولونو او کانسونينټونو نه جوړوي ، او ټولې ژبې دغه غږونه په مختلفو اکائيانو کښې ويشي چې سيليبل ورته وئيلے شي ۔ او دغه سيليبل نورو اکائيانو کښې تقسيموي ، چې **feet**ورته وئيلے شي.([2])

د انټرنيټ يوه ويب پاڼه په دې علم لږه نوره هم رڼا اچوي ۔

فونولوجي د ژبپوهنې هغه څانګه ده ، چې د يوې ژبې د غږونو نظام مطالعه کوي ، د غږونو نظام کښې لاندينۍ خبرې شاملې دي ۔

**(1)** د لفظونو اصلي تلفّظ په وړو وړو اکائيانو کښې تقسيميدے شي چې **segment** يا ټوکړه او يا فونيم ورته وئيلے شي د مختلفو فونيمونو نه مختلف لفظونه جوړيږي ۔

---

([1] ) Ken Lodge,A Critical Introduction to phonetics, (London:Continuum International Publishing Group, 2011)P:8

([2] ) Geofferey S.Nathan, Phonology A Cognitive grammar Introduction, (Amsterdam:John Benjamins Publishing Company , 2008)P:1.

(2) دويم عروض دي چې پکښې د آواز پچ، اوچت والے او آهنګ دے چې ژبه کښې موسيقيّت پيدا کوي ۔([1])

## په فونولوجي او فونيټکس کښې فرق:

فونيټکس د وينا ټولو ممکنه غږونو سره تعلق لري کوم چې د يو انسان د وينا د اعضاؤ نهٔ را اوځي ولې فونولوجي دې سره کار لري چې يوه مخصوصه ژبه دې غږونو سره څهٔ کوي۔ او د خپل ماحول مطابق د دې غږونو نه ځان له کوم غږونه چوڼ کوي ۔ اود دې غږونو نورې غټې اکائيانې لکه سيليبل ، فيټ ، او لفظونه څرنګې جوړيږي۔ ([2])

**Summerstein** د فونولوجي او فونيټکس د فرق په حقله وائي ، فونيټکس د انسان د ژبې د نطقي او سمعي نظامونو سره تعلق لري ، چې غږونه او عروضي خصوصيات بيانوي ، د دې نه علاوه د غږونو طبعياتي خصوصيات هم مطالعه کوي ، فونولوجي هغه ځاے شروع کيږي چرته چې فونيټکس ختميږي دا هغه طريقو سره تعلق لري د کومو په ذريعه چې په فونيټکس کښې پيدا شوي غږونه او د دے غږونو عروضي خصوصيات په فطري ژبو کښې په حقيقت کښې څرنګې استعماليږي۔([3])

---

([1]) http://course.nus.edu.sg/course/eltankw/history/phon/a.html(accessed octuber 3, 2016).

([2]) Geoffrey s. Nathan, phonology A Cognitive grammar Introduction, (Amsterdam:John Bexjamins Publishing Company, 2008)P:1

([3]) John J.ohala, “The Relation Between phonetics and phonology” , in the Handbook of Phonetic Sciences Eds:William J.Hardcastle of John Laver, (oxford:Blackwell publishers Ltd,1999)P:675-676.

په عمومي توګه دا خیال کولے شي چې د **Structuralism** د راپورته کېدو نه پس په فونیټکس او فونولوجي کښې بېلتون اوشو چې فرډیننډ ډي ساسور او جان باؤډوئن کورټینے په شروع کښې تدریس کړے وو، په فونیټکس او فونولوجي کښې پوره بېلتون د پراګ سکول غړو راوستے دے ۔ د پراګ سکول یو قائد این ۔ ایس ټروبټز کائې په خپل یو کتاب **Grundzuge der phonologie** کښې د فونیټکس او فونولوجي په حواله لیکي :

د وېنا د غږونو مطالعه یعنې فونیټکس یو کوټلے جسماني پدیده (**Phenomenon**) ده او ببخي د سُوچه سائیسونو طریقې پکاروي ۔ ولې په یوه ژبه کښې د غږونو د نظام مطالعه یعنې فونولوجي صِرف د ژبپوهنې یا د سوشل سائینسز او یا د **Humanities** طریقې استعمالوي۔([1])

په بره ورکړو شوؤ حوالو او د دې په شان نورو خبرو نه اندازه لګي چې فونیټکس د غږ د پېداوښت د غږ د طبعي خصوصیاتو او د غږ د اورېدو سره تعلق لري ۔ ولې فونولوجي صِرف دې سره کار لري چې په یوه مخصوصه ژبه کښې غږونه څرنګه استعمالېدے شي ۔

فونیټکس د غږ کوټلے جسماني تشریح ده ، او فونولوجي تجریدي او نفسیاتي تشریح ده ۔

([1] ) John J.ohala, “The Relation Between phonetics and phonology” , in the Handbook of Phonetic Sciences Eds:William J.Hardcastle of John Laver, (oxford:Blackwell publishers Ltd,1999) P:680-681

د فونيټکس او فونولوجي فرق په لاندې کالم کښې واضحه کولے شي :

| فونيټکس | فونولوجي |
|---|---|
| (1)د ژبې د تخصيص نه بغير په عمومي توګه د ټولو انساني غږونو تجزيه کوي | (1)د يوې مخصوصې ژبې د غږونو تجزيه کوي او دا هم مطالعه کوي چې د يوې ژبې ويونکي د دې غږونو څنګه تشريح کوي |
| (2)د فونولوجيکل تجزيې د پاره بنياد جوړوي . | (2)د صرف، نحو او املا د پاره بنياد جوړوي . |
| (3)يوه کوټلے جسماني پديده **phenomenon** ده . | (3)يوه تجريدي او نفسياتي پديده (**phenomenon**)ده |
| (4)ټولې سائنسي طريقې استعمالوي. | (4)د سوشل سائنسز يا **Humanitics**طريقې استعمالوي |
| (5)**descriptive**يعني توضيحي ژبپوهنې سره تعلق لري . | (5)نظرياتي (**Theoritical**) ژبپوهنې سره تعلق لري . |
| (6)سوچه سائنس دے. | (6)سوشل سائنسز يا آرټس کښې راځي. |

فونولوجي د ژبې صِرف يو اړخ دے ـ دا د ژبې نورو اړخونو سره هم تعلق لري لکه فونيټکس، صرف ، نحو ، معنيات او**Pragmatics**ـ

## د فونولوجي د اُصولو قسمونه :

مختلفي ژبې مختلف اُصول لري ، ولې څۀ اُصول ډېر عام وي چې لاندې ئې ذکر کولے شي :

## Assimilation(1)

هغه عمل د کوم په ذريعه چې يو غږ زيات تر د ګاونډي غږ په شان شي .

## :Dissimilation(2)

دا د **assimilation** اپوټه عمل عمل دے۔ چې پکښې د دوه نزدې غږونو يو شان والے کم شي.

## :Insertion(3)

د يو نوي غږ داخلېدو ته **insertion** وائي .

## :Deletion(4)

په څۀ خاص حالاتو کښې د يو خاص غږ نۀ ادا کولو ته **Deletion** وائي ۔

## :Metathesis(5)

يو بل سره نزدې دوه غږونه خپل ځايونه ادل بدل کړي.([1])

---

([1] ) ufal.mff.cuni.cz/hana/tea ching/2015 wi-ling/ou-phonology.pdf (accessed octuber 4,2016).

## د فونولوجي ماډلونه :

تر اوسه پورې د فونولوجي ډېر ماډلونه پېش شوي دي ، چې لاندې ئې ذکر کولے شي ـ

## (1)کلاسيکل فونيمکس (**Classical phonemics**):

د فونيمکس په کلاسيکل مطالعه کښې فونيم او د دې ممکنه **Combinations**مرکزي ګڼلے شي۔

## (2) سټينډرډ جنريټو فونولوجي ( **Standard Generative phonology**)

په سټېنډرډ جنريټوفونولوجي کښې د آوازښکاره خصوصيات مرکزي کردار ادا کوي۔ د وينا يو بهيرپه يو نېغ خط کښې ښودلے شي ـ چې د يو بل نه جدا د غږ ټوکړې پکښې په نېغ خط کښې ترتيب شوي وي ـ څۀ خصوصيات په ټولو ټوکړو کښې په يو وخت کښې په شريکه هم موندے شي ـ دې ته **Linear-Model of phonology**هم وئيلے شي .

## **Non-Linear Models of phonology**(3)

په دې قسمه ماډل کښې د وينا يو بهير په يو ساده نېغ خط کښې نۀ وي ښودلے شوے بلکې هغه د يو نه زيات **dimensions** کښې ښودلے شوے وي ، يعنې په اوږدوالي ، پلن والي او اوچت والي ګڼ اړخونو نه ښودلے شوے وي ، د دې درې اړخونه دي .

## (1)آټو سګمنټل فونولوجي: Auto Segmental phonology

آټوسګمنټل فونولوجي ، فونولوجي ته یو ګڼ اړخیز اپروچ دے ، لکه سُر او آهنګ چې د واول او کانسونینټونونه آزاد او بالا وي ، د نتیجې په توګه یو فونولوجیکل عمل په یو وخت کښې د یو نه زیات واول یا کانسونینټ متاثره کولے شي ۔

## (2)میټریکل فونولوجي (Metrical phonology)

میټریکل فونولوجي د فونولوجي یوه نظریه ده چې په جمله کښې د متعلقه ښکاره ټوټکړې پکښې یو ټولګي کښې ترتیب شوي وي، په اول کښې دا ټوکړې په سلیبلز کښې بدلې شي ، د سلیسبلز نه فیټ (feet) جوړیږي ، د دې نه لفظونه جوړیږي او د لفظونو نه د وینا غټې اکایانې جوړیږي۔([1])

## (3)لیګسیزیکل فونولوجي Lexical phonology

Lexical فونولوجي ، فونولوجي ته یو اپروچ دے ۔چې د لفظونو په جوړولو کښې مارفالوجي او فونولوجي یو ځاے عمل او کار په ګوته کوي ، په دې نظریه کښې مرکزي کردار د یوې ژبې د لغت دے ۔([2])

---

([1] )www.latest info nix.com/what-is-phonology.branehes-of-phonology (accessed octuber 4,2016).
([2] ) www.oi.sil.org/linguistics/glossary of linguistic terms/what-is-lexicalphonology.html(accessed octuber 4,2016).

## د فونولوجي څانګې :

د فونولوجي څلور غټې څانګې دي :

**Diachronic Historical phonology (1)**

**Synchronic Descriptine phonology (2)**

**Segmental phonology (3)**

**Supra segmental phonology (4)**

د دې ټولو څانګو پېژندګلو لاندې ورکولے شي ـ

## :Diachronic Historical phonology (1)

دې ته مونږ کل وقتي تاريخي فونولوجي وئيلے شو۔دا قسمه فونولوجي د هغه نظريو مطالعه کوي ، د کومو په ذريعه چې د وېنا د غږونو په نظام کښې وخت سره سره بدلون راغلې وي ، تاريخي فونولوجي داسې نظري جوړوي هم ـ

## Synchronic Descriptive phonology (2)

دې قسم فونولوجي ته يک وقتي تشريحي فونولوجي وئيلے شو، په يو خاص يا ټاکلي شوي وخت کښې د يوې ژبې د غږونو په نظام کښې بدلون مطالعه کوي۔(1)

(1) http://www.britannica. Com/science/phonology (accessed October 3,2016).

## (3)سګمنټل فونولوجي (Segmental phonology):

د فولوجي هغه څانګه ده چې د وينا په بهير کښې د ټوکړو تجزيه کوي ، چې په تجزيه شوي وينا کښې ورته غړيزه ټوکړه وئيلے شي **segment** ياټوکړه هرې هغې اکائۍ ته وائي چې په طبعي يا سمعي توګه ئې پېژندګلو کېدلے شي ـ لکه فونيم، ولې د اشاراتي ژبو ټوکړې لېدو سره تعلق لري لکه د لاسو، مخ ، يا بدن څهٔ حرکت۔([1])

سګمنټل فونولوجي په فونيم بحث کوي ـ په دې وجه د فونيم تعريف به هم اوکړو ـ

آن لائن ميريم ويبسټر ډکشنري د فونيم تعريف څهٔ داسې کوي ، د وينا د هغه ټولو نه ورې نه وړه اکائي چې د څهٔ په مدد يو لفظ د بل لفظ نه بېليدے شي۔([2])

د انټرنيټ يوه بله ويب پاڼه د فونيم تعريف داسې کوي ، فونيم د غږ يوه اکائي ده ، چې پخپله څهٔ معني نهٔ لري ، خو چې کله مونږ فونيمونه يو بل سره يو ځائے کړو نو لفظونه ترې نه جوړ شي۔([3])

يوه بله ويب پاڼه د فونيم په حقله ليکي :

([1] )www.latest info nix.com/what-is-phonology.branehes-of-phonology (accessed octuber 4,2016).
([2] ) www.merriam-webster.com/dictionary/phonene(accessed octuber 4,2016).
([3] ) study. Com/academy/lessons/phonexe definition-segment ation-examples.html. (accessed octuber 4,2016).

فونیم هغه څیز دے چې زمونږ په سر کښې دے۔او **Phone** هغه څیز دے کوم چې مونږ د ژبې نه ادا کوؤ۔([1])

د فونیم بدل شکل ته **allophone** وئیلے شي.

د **allophone** تعریف مونږ داسې کولے شو

یو ایلوفون په یوه مخصوصه ژبه کښې د فونیم غږئیځ بدل شکل دے۔([2])

یوه بله ویب پاڼه د ایلوفون تعریف داسې کوي :

په ژبپوهنه کښې ایلوفون د فونیم یو ښکاره بدل شکل اوریدے شي ۔که چرې د یو ایلوفون په ځاے بل ایلوفون په یو لفظ کښې اولګولے شي نو د لفظ په معني کښې څهٔ فرق نهٔ راځي ، صِرف د لفظ تلفظ بدل شي ، د یو فونیم ګڼ مختلف ایلوفون کیدے شي۔([3])

د یوفونیم ګڼ ایلوفونو ته د لهجو د توپیر د وجې هم وي ، او د یوې ټولنې خلق د ایلوفون په مناسب استعمال پوهیږي ۔

د انټرنیټ یوه بله ویب پاڼه لیکي:

د یوفونیم بدلو غږونو ته ایلوفون وئیلے شي که چرې د دغه ژبې ویونکي دا یو غږ ګڼي او مونږ دا اندازه لګولے شو چې په کومو حالاتو کښې به کوم لفظ کښې کوم کوم غږ استعمالیږي۔([4])

---

([1] )ufal.mff.cuni.cz/hana/tea ching/2015 wi-ling/ou-phonology.pdf (accessed octuber 4,2016).

([2] ) www.oi.sil.org/linguistics/glossary linguistic terms/what is an Allo phone. Html (accessed octuber 4,2016).

([3] )grammar.about.cow/od/ab/g/allophonictero.html.(accessed octuber 4,2016).

([4] )ufal.mff.cuni.cz/hana/tea ching/2015 wi-ling/ou-phonology.pdf (accessed octuber 4,2016).

**(4)سُپراسګمنټل فونولوجي (Suprasegmental phonology)**

دا د فونولوجي هغه څانګه ده چې په ژبه کښې سُپراسګمنټل يعنې د سګمنټ (ټوکړو) نه هم په اخوا د وړو وړو ټوکړو خصوصيات مطالعه کوي۔ د وينا هغه اکائۍ چې د ګڼو ټوکړو سره تعلّق لري، او د يو بل نه جُدا جُدا نه شي ترتيب کېدے ۔هغې ته سُپراسګمنټل وائي ، لکه **tone, stress**عروض ، د نړۍ په څۀ ژبو کښې د واول آهنګ يا پوزيز واول هم سُپر اسګمنټل خصوصيّت ګڼلے شي ۔او عروض اصل کښې په وينا کښې**stress** شکل او ترتيب وزن او د **intonation**يعنې د آواز اُتار چړهاؤ مطالعه ده۔(1)

د سُپر اسګمنټل ټوکړو پېژندګلو به هم لاندې اوکړو په اصل کښې هم دا سُپر اسګمنټل توکي دي چې په فونولوجۍ کښې ئې مطالعه کولے شي ۔

## (1)عروض (Prosody):

د ژبپوهنې په نقطه نظر عروض د سُپراسګمنټل اکائيانو لکه سليبل ، **stress**سُر او آهنګ مطالعه ده۔(2)

## (2)سيلبل /چپه :

سليبل يوفونولوجيکل اکائي ده ۔ داد غږونو يو داسې ټولګے دے چې د څۀ اُصولو مطابق جوړ شوي وي۔ واول غږ د سليبل بنيادي

(1 ) www.latest info nix.com/what-is-phonology.branehes-of-phonology (accessed octuber 4,2016).

(2 ) liceu.uab.cat/publication/Mathe-M-I-6.prosody/Dil-6-prosody.html (accessed octuber 4,2016).

جُز دے۔([1])

هر سليبل په دوؤ حصو کښې تقسيم وي۔يو ته **onset**وئيلے شي او بل ته**rhyme** يا **rime** وئيلے شي ، **Rhyme** بيا په دوؤ حصو کښې تقسيم وي ، يوته **Coda**وئيلے شي او بل ته نيوکلئيس ګويا د سليبل درې اهمې حصې وي ، **Coda, onset**او **nucleus**د دې دريو واړو حصو پېژندګلو لاندې کولے شي ۔

## **Onset(1)**:

د سليبل په شروع کښې يو يا د يو نه زيات کانسونينټونو ته **onset**وئيلے شي

## **Coda(2)**:

د سليبل په آخر کښې يو يا د يو نه زيات کانسونينټونو ته **Coda** وئيلے شي۔

## **Nucleus(3)**:

په سليبل کښې واول يا ډيفتانګ ته **nucleus**يعني مرکز وئيلے شي، واول په سليبل کښې مرکزي حيثيت لري ، او د واول مطابق سليبل تلفّظ کولے شي۔([2])

د يو سليبل شکل مونږ داسې ښودلے شو

([1] ) Michael Ashby and John Maidment, Introducing Phonetic Science (New Delhi: (Cambridge university press,2008)P:145.
([2] ) web.pdx.edu/connje/Metrical%20 Syllable%20phonology.ppt. (accessed 4-10-16).

**Syllable**

**Onset** **Rhyme**

**Nucleus** **Coda.**([1])

مونږ ژبې په فونولوجيکل طريقه د**Coda** په لحاظ وئيلے شو، هره ژبه د خپل مزاج مطابق په **Coda** کښې د کانسونينټونو د يو شمېر اجازت ورکوي۔ لکه په هوائي ژبه کښې **Coda** کښې يو کانسونينټ هم نۀ وي ، دا يوه انتهاده او په انګرېزۍ ژبه کښې په **Coda** کښې تر څلورو پورې کانسونينټونه کېدے شي۔ دا بله انتها ده۔ بل دلچسپ قېد پکښې دا دے چې د ژبو ويش په **Coda** کښې صرف د کانسونينټونو په شمېر انحصار نۀ کوي بلکې د کانسونينټونو په نوعيّت هم انحصار کوي ، يعنې يوه ژبه په **Coda** کښې کوم قسم کانسونينټونه برداشت کوي لکه په جاپانۍ ژبه کښې په **Coda** کښې صرف **nasal** کانسونينټ وي، يا وروستنے کانسونينټ او وړاندينې کانسونينټ به يو شان وي.

**Feet(3)**:

دا خبره واضحه ده چې صرف د سليبلز د يو ځاے کېدو نه لفظونه نۀ جوړېږي ، په زيات تر ژبو کښې سليبلز په ټولګو کښې تقسيم شي۔ چې په روايتي توګه ورته **foot** او جمع **feet** وئيلے شي۔ د **foot** تصوّر

([1]) Geoffrey.s.Nathan,phonology A Cognitine grammar Introduction (Amsterdam:John Benjamin Publishing Company, 2008)P:46.

د شاعرۍ په تجزیه کښې شروع شوے دے او ډېر پخوانے تصوّر دے۔ یوناني شاعري به د **Stressed**او **unstressed** سیلبلز د یوې سلسلې نه جوړه وه ،هر **foot**د یو **stressed** او څۀ **unstressed**سلیبلزنه جوړوو، په انګرېزۍ کښې **iambic**او **trochaic** فیټ مشهور دي شیکسپیئر به اکثر په **iambic**کښې شاعري کوله۔(1)

**Stressed** سلیبل ته **Strong** یعنې طاقتور او **unstressed**سلیبل ته **Weak**یعنې کمزورے وئیلے شي ، په **foot** کښې د **stressed**او **unstressed**سلیبل خبره راغله . دا **stressed**څۀ څیز دے ؟ تقریبًا په ټولو ژبو کښې د سلیبلز د نمایان کېدو کیفیّت کښې تغیّر شته ، دا ښکاره والے د آواز د **loudness**پچ **(pitch)**او دورانیې په وجه دے ، خو د نورو خاصیتونو سره سره دا اکثر د پچ په وجه وي د سلیبلز دے ښکاره والي یا نمایان کېدو ته **Stress**وئیلے شي۔(2)

## **Intonation(4)**:

د آواز د اوچت والي یا پست والي په وجه چې غږ کښې کوم بدلون راځي ، په خصوصي توګه په معني کښې هغې ته **Intonation**

(1 ) Geoffxey.s.Nathan,phonology A Cognitine grammar Introduction (Amsterdam:John Benjamin Publishing Company, 2008)P:54-55

(2 )Clas.mq.an/speech/phonetics/phonology/syllable/syll-foot.html (accessed octuber 4,2016).

وئيلے شي۔ د**Intonation**دوه قسمونه دي **rising Intonation**او **falling Intonation** ۔(1)

## انټرنېشنل فونيټک الفبټ سسټم

په ډېرو ژبو کښې د حروف تهجّي شمېره يوشان وي او د غږونو شمېره ئې ډېره وي هره ژبه کښې څۀ کانسونينټونه وي او څۀ واول خو د دې کانسونينټونو او واولز شمېره په هره ژبه کښې خپله خپله ده ، په بين الاقوامي توګه د ژبو په سائينسي توګه د صحيح ادائيګئ او ليک د پاره د نړۍ د فونيټکس پوهانو انټرنېشنل فونيټک ايسوسي ايشن جوړ کړو ، دا تنظيم په **1886**ء کښې په فرانس کښې جوړ شو ، په **2016**ء کښې د دې تنظيم يو سل دېرش کاله اوشو۔(2)

انټرنېشنل فونيټک الفبټ يو داسې نظام دے چې مونږ پرې په منظمه طريقه د هرې يوې ژبې د غږونو نقشه جوړولے شو۔دا نظام وخت سره سره **update**کېږي او چې کوم نوي غږونه دريافت شوي وي ، هغه پکښې شامليږي ، د دې آخري نظرثاني شده شکل په **2015**ء کښې چاپ شوے دے۔(3)

---

(1) dictionary.cambridge.org/dictionary/English/intonation(accessed octuber 4,2016).

(2) http://www.international phonetic association.org (accessed octuber 4, 2016).

(3) Abigial Cohn, “Phonology” in the Handbook of Linguistics Eds:Mark Aronoff and Janie Rees Miller (uk:Blackwell Publishers Ltd, 2003)P:182.

## د پښتو غږونه او توري :

توري د ليدو وړ انځورونه دي، چې د يوې ژبې ويونکو د خپلې ژبې غږونو د پاره ټاکلي وي په پښتو کښې ورته توري ، عربۍ او فارسۍ کښې حرف او لاطينۍ کښې ورته ګرافيم وائي۔([1])

ګرافيم د غږد ليکلې بڼې په اصطلاح کښې هم په ژبپوهنه کښې استعماليږي ، د هرې ژبې غږونه په دوه قسمه غږونو کښې ويش وي يو ته واول او بل ته کانسونينټ وئيلے شي ۔ واول ته په اُردو کښې مصوّته او کانسونينټ ته مصمّته وئيلے شي ، د افغانستان ليکوالانو چې په ژبپوهنه څومره کتابونه ليکلي دي ۔واول ته خپلواک او کانسونينټ ته بېواک آوازونه وائي ۔

## د واول تعريف :

مجاوراحمد زيار صېب د واول تعريف څۀ داسې کوي :

واول هغه آواز ته وائي چې راپېدا کېدل ئې بې له کوم ستر هوائي بنديزه تر سره کېږي۔([2])

مونږ په آسانو لفظونو کښې داسې وئيلے شو چې واول هغه آواز دے چې د ادا کولو په وخت ئې د پرېوس نه د ليرنکس او

([1]) پوهيالي محمود مرهون، دَ ژبپوهني بنسټونه(کابل:کائنات څيړنيز او دَ ژباړې مرکز، **1394** لمريز کال ، مخ:**48** ۔

([2]) پوهاند دوکتورمجاور احمد زيار، پښتو پښويه دريم چاپ (دَ ښار نوم نه لري : دانش خپرندويه ټولنه ، **2005** )ص:**28**

غړئيځو ببوزو په لاره راتېرېدونکې هوا د خلې په خانه کښې د څۀ خنډ سره نۀ مخامخ کېږي ـ

## د کانسونينټ تعريف:

د مجاور احمد زيار صېب مطابق هغه آواز ته وئيل کېږي چې له راپېدو کېدو يا په بله وېنا له خولې څخه د راوتو پر وخت د ساهوا له بنديزه سره مخامخيږي ـ[1]

مونږ د کانسونينټ تعريف په آسانو لفظونو کښې داسې کولے شو چې هغه آواز چې د ادا کېدو په وخت کښې هوا د خلې په خانه کښې د بنديز او خنډ سره مخامخ کېږي ـ

د پښتو د غړونو متعلق زيار صېب په خپل کتاب پښتو پښويه دريم چاپ **2005**ء کښې ليکي چې په پښتو کښې ټول شپږ دېرش**(36)** غړونه دي په دې کښې **7** واول او **29** کانسونينټ دي ، د توليد د ځاے او طريقې په لحاظ چې زيار صېب د کانسونينټ آوازونو د پښتو پښويه صفحه **61** نه تر **68** پورې کوم شمېر ښودلے دے هغه داسې دے:

## (1)تم بيواک يعني 8-implosive

(ب، پ ، ت ، ټ ، د ، ډ ، ک ، ګ )

## (2)مبنن يا مبنلي (Fricatives)-9

(س، ز، ش، ښ، ژ، ږ، خ ، غ ، ه )

---

( [1]) پوهاند دوکتورمجاور احمد زيار، پښتو پښويه دريم چاپ (دَ ښار نوم نه لري : دانش خپرندويه ټولنه ، **2005** )ص:**28**

**(3)اوبلن یا مائع (Liquid)-3**

(ل، ر، ړ)

**(4)پزیز ، انفي یا خیشومي 3-nasal**

(م، ن ، ڼ)

**(5)تم مبنلي (Affricates)-4**

(څ، ځ ، چ ، ج)

دا ټول 27 شو۔

په دې غږونو کښې ئې دوه نیم واک (Semi-vowel)غږونه و او ي هم شمېرلي دي۔

د زیار صېب د کتاب پښتو پښویه دریم چاپ 2005ء نه یو کال وړاندې د محقق سید محي الدین هاشمي کتاب په 2004ء کښې چاپ شوے دے ، هغهٔ د خپل کتاب په دیارلسمه صفحه لیکي چې :

پښتو ژبه له 37 غږونو یا آوازونو څخه جوړه ده ۔او هغه په دریو لویو ډلو ویشلي شوي دي:

(1) خپلواک غږونه

(2) بېواک غږونه

(3) نیم واک غږونه۔([1])

---

([1]) محقق سیّد محي الدین هاشمي : دَ پښتو ژبې لنډ ګریمر ، (پېښور: دَ اریک دَ ګرځنده کتابتونونو اداره ،2004ء )ص:13

هاشمي صېب چې د دې غږونو کوم شمېر ورکړے دے هغه څۀ داسې دے :

(1) خپلواک غږونه-7

(2) بېواک غږونه -27

(3) نیم واک غږونه-2

ټول -36

دا ټول 36 جوړېږي نۀ پوهېږم چې 37 ولې لیکلے شوي دي ، کېدے شي د کمپوزنګ غلطي وي ۔

په 2014ء کښې د افغانستان یو بل لیکوال محمد صابر خویشکي په خپل کتاب کښې پښتو غږپوهنه او ویشپوهنه کښې دا شمېر 36 ښودلے دے ۔

د پښتو واول فهرست د زیارصېب د پښتو پښویه مطابق لاندې ورکولے شي :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 1 | زور | /ā/ | لکه کر | Kar |
| 2 | الف | /ā/ | لکه آس | ās |
| 3 | زورکې | /ō/ | لکه تره | trō |
| 4 | اوږده ې | /e/ | لکه مستې | mastē |
| 5 | لنډه ي | /i/ | | |
| 6 | اوږد و | /o/ | لکه زانګو | zangō |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 7 | لنډو | /u/ | لکه زوم | ([1])Zum |

د پښتو بېواک ، غږونو فهرست لاندې ورکولے شي :

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ب | پ | ت | ټ | ج | ځ | چ |
| څ | خ | د | ډ | ر | ړ/ ز | ژ |
| ږ | س | ش | ښ | غ | ک | ګ |
| * | ل | م | ن | ڼ | ه | * |

دا ټول 27 دي ـ

د دې نه علاوه لس نور غږونه هم په پښتو کښې شته چې د عربۍ ژبې نه اخستي شوي دي هغه دا دي :

ث، ذ، ح، ص، ض ، ط ، ظ ، ع، ف ، ق ([2])

صابرخويشکي د بېواک آوازونو د لسټ نه پس چې په دغه 27 بېواکه غږونو کښې اتۀ د پښتو خاص آوازونه دي ، په لاندې يوه جمله کښې داسې خلاصه ورکړې ده ـ

کاڼه د ډنګر مږه غوښه ټوله څلور ځايه کړه ـ([3])

دغه شان هاشمي صېب هم د پښتو ځانګړي غږونه اتۀ ياد کړي دي ، او د هغې فهرست ئې هم ورکړے دے ـ لکه :

---

( [1]) پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار، پښتو پښويه، (دَ ښار نوم نه لري : دانش خپرندويه ټولنه ، 2005 دريم چاپ )ص:58

( [2]) پوهاند ، محمد صابرخويشکي، پښتو غږ پوهنه او ويشپوهنه (جلال آباد:مومند خپرندويه ټولنه، 1393 لمريز کال) ص:13-14 ـ

( [3])همدغه صفحه :14 ـ

ټ ، ځ ، څ ، ډ ، ړ ، ښ ، ڼ ، ړ ([1])

خو مونږ د ټ، او ړ غږونه داسې وینو چې په اُردو او پنجابۍ کښې هم استعمالیږي ،لکه :

| | | | |
|---|---|---|---|
| کاٹنا | چاٹنا | ٹٹولنا | بوٹا |
| پہاڑ | لکڑی | مکڑا | مکھڑی |
| ڈالی | ڈالنا | ڈول | ڈھیرلگانا |

او ڼ خو په پنجابۍ کښې هم لیدے شي لکه پاڼي ـ

ډاکټرخلیل الله اورمړ پښتو ته منسوب خاص توري هم د پښتو خاص نۀ دي ښوولي ، بلکې په نورو اریائي ژبو کښې ئې ګډ ښودلي دي، لکه ریټروفلیکس **Retroflex**کانسونینټ غږونه ، ټ ، ډ، ړ، ڼ، ږ، ښ، دا غږونه یواځې په اورمړي ، پراچي او پامیري ژبو کښې لیدے شي ، دا غږونه دا رائے په ګوته کوي چې پښتنو، اورمړیانو، پراچیانو، او پامیریانو دوه مدنیتونه په خپل واک کښې درلودل ، او ستائي مدنیّت چې پخپله دوي پکښې زیږیدلي وو او ویدائي مدنیّت چې د دوي کلتور او ژبه ئې تراغیز لاندې راغلې وه ـ([2])

دغه شان حبیب الله رفیع صیب هم لیکي چې د پښتو ژبې شلور غږونه لکه پ، ژ ، چ او ګ د درې ژبې سره ګډ دي ، شلور

---

( [1]) محقق سیّد محي الدین هاشمي، دَ پښتو ژبې لنډ ګریمر پېښور:دَ اریک ګرځنده کتابونو اداره ، **2004** ) ص:**17** ـ

( [2]) پوهنمل نصیراحمد طاهري ، په پښتو کښې دَ معاصرې ژبپوهنې تاریخي بهیر(جلال آباد: مومند خپروندویه ټولنه، **2015** )ص:**67** ـ

غږونه د هندی سره ګډ دي لکه ټ ، ډ، ړ او ڼ څهٔ غږونه د هندو اروپائي او پاميري ژبو سره ګډ دي لکه :ځ، خ، ږ، ښ .([1])

په دې وجه د پښتو په فونولوجي کښې په خصوصي توګه تحقيق پکار دے ـ او د دې نه علاوه د پښتو ژبې د انډويورپين او نورو آريائي ژبو او ګاونډي ژبو سره **Comparative**مطالعه پکار ده ـ چې د پښتو ځانګړو غږونو خبره سپينه شي۔

## نيم واک غږونه :(**Semi-vowel**)

نيم واک غږونه ياسيمي واول هغه غږونه دي چې د خپلواکو او بېواکو آوازونو ترمېنځه مېنځګړتوب لري ، يا په نورو لفظونو کښې د دواړو خصوصيات لري ، هم د واول او هم د کانسونينټ په ډول ادا کېږي ـ کله چې دغه غږونه د څپې زنې يعنې نيوکليئس اوګرځي نو د خپلواک واول غږ بڼه خپلوي ، او کله چې د سلېبل نيوکليئس يا زنې وُنه ګرځي نو کانسونينټ په بڼه څرګندېږي ـ پښتو ژبه دوه نيم واک غږونه لري

(1) و **W** لکه ور **War** ولور **Walwar**

(2) ي **y** لکه په يو **yaw** زيړ **Zyar** ([2])

---

([1]) څېړندوي حبيب الله رفيع ، په پښتو کښې معدوله واو، (افغانستان:دَ افغانستان علومو اکاډمي ، **2010** ) ص: **1-2**

([2]) محقق سيد محي الدين هاشمي، دَ پښتو لنډ ګرامر صرف ونحو (پېښور:دَ اريک دَ ګرځنده کتابتونونو اداره، **2004** ) ص:**18** ـ

## برغ غږونه (ډيفتانګونه):

افغانان دے غږونو ته غبرګ غږونه وائي ، ځنې کتابونو کښې غبرګ ږغونه هم ليکلي شوي دي ، زۀ ورته د خپلې لهجې مطابق برغ غږ وايم۔

برغ غږونه هغه غږونه دي چې د واول او سيمي واول غږونو د يو ځاے کېدو نه جوړېږي ، هر پښتو برغ غږ دوه فونيمي توکي لري ۔وړومبنے توکے ئې خپلواک يا واول غږ وي او دويم ئې سيمي واول يا نيم واک غږ وي ۔

په پښتو کښې دوه نيم واک غږونه دي ، په دې وجه د دې برغ غږونه هم په دؤو ډلو کښې ويشلے کېږي

## ()د و/w/ برغ غږونه :

د و برغ غږونه د oاو uنه علاوه نورو ټولو واول سره جوړيدے شي مثالونه ئې لاندې ورکولے شي

(1) iw لکه په تريو کښې ۔

(2) ew لکه په ليوlew کښې ۔

(3) āw لکه په لو lawکښې ۔

(4) 2w لکه په پړاؤ parawکښې۔

(5) zw لکه په کتو katowکښې ۔

دا ټول غږونه د ټکو په آخر کښې راځي ، awاو dāwد ټکو په سر او منځ کښې هم راتلے شي۔

## د ي برغ غږونه :

د eاو i نه علاوه نورو ټولو واولونو سره د دې غږونه جوړېدے شي ، مثالونه ئې دا دي :

(1) ay لکه په غويمه rwayma کښې

(2) āy لکه په آئينه aynā کښې

(3) ay لکه په نړۍ nar2y کښې

(4) uy لکه په خوي x̄uy کښې

(5) oy لکه په زوئي zoy کښې ([1])

د زيار صېب مطابق ډيفتانګونو تعداد لس دے ،لکه څنګه چې وړاندې ما بيان کړل۔ هاشمي صېب هم د پښتو لس ډيفتانګونه په خپل کتاب ''د پښتو ژبې لنډ ګرائمر'' کښې ورکړي دي ، ولې د محمد صابر خويشکي په کتاب ''پښتو غږپوهنه او ويشپوهنه'' کښې اؤوه ډيفتانګونه ورکړے شوے دي ، دغه شان د انټرنيټ په ځنې ويب پاڼو کښې هم د پښتو ډيفتانګونه اووۀ ورکړے شوے دي لکه :

**http://www.languageulper.com/eng/pashto.html** او **www.omniglot.com/writing/pashto.html**

زۀ د زيار صېب ورکړو شوؤ ډيفتانګونو سره ځکه اتفاق کوم چې هم دا ډيفتانګونه زمونږ په لهجه کښې هم موندے شي ۔

---

([1]) پوهاند دوکتورمجاوراحمدزيار، پښتوپښويه، (دَ ښار نوم نه لري: دانش خپرندويه ټولنه ، **2005** دريم چاپ )

## بېواک مرکب کلسټرونه (Clusters)

په پښتو ژبه کښې ځینې داسې برغ غږونه شته چې د دوؤ کانسونینټ آوازونو د یو ځاے کېدو نه جوړېږي ـ ژبپوهان دې ته د بېواک مرکب یا د کلسټر نوم ورکوي ، دا برغ غږونه د کلمو په سر، منځ او آخر کښې راځي ، لکه :

لمر شپه پسه ژوند

Lamar spa psa zwand او داسې نور([1])

## د پښتو فونیمک الفبا :

لکه څنګه چې ما وړاندې د واول، کانسونینټ او ډیفتانګونو په شمېر کښې د یوڅو کتابونو په حواله خبره اوکړه ، دغه شان دلته هم د دې کتابونو په حواله خبره کوم ـ

د پښتود الفبا فونیمک بڼه هم په دې کتابونو کښې ادله بدله ده، زیار صېب د پښتو پښویه په **79** صفحه د **36** بېواکو څخه د دوؤ برغو غږونو ي او ۍ ذکر هم کړے دے ـ داسې دا ټول **38** توري ورکړي دي ، ولې په دې کښې پور غږونه یعني ث، ذ، ح، ص، ض، ط، ظ، غ، ف او ق نشته ـ

سیّد محي الدین هاشمي او محمد صابر خویشکي په خپلو کتابونو د پښتو غږونو لاطیني **transliteration** ورکړے دے خو د

([1]) محقق سید محي الدین هاشمي، دَ پښتو لنډ ګرامر صرف ونحو (پېښور:دَ اریک دَ ګرځنده کتابتونونو اداره، **2004** ) ص:**19** ـ

**IPA**سیمبلونه یا علامتونه پکښې نهٔ دي ورکړے شوي ، په دې لړ کښې د ټولو نه روستي چاپ کتاب د محمود مرهون "ژبپوهنې بنسټونه" دے چې په ص:**49** او **50** ئې د پښتو د څلور څلوېښتو تورو لاطیني **transliteration**ورکړے دے ـ خو د **IPA**سیمبلونه نهٔ لري ، مخکښې صفحو کښې ئې د بېواکو یا کانسونینټونو چې کوم فهرست ورکړے دے ـ هغې کښې ئې د څنو تورو**translitration** او **IPA**علامت ورکړے دے لکه ع او غ ـ

د انټرنیټ یوه ویب پاڼه

**http://www.language gulper.com/Pashto.html**

د پښتو تورو په لاطینۍ ژبه کښې **transliteration**یا ابدال هم ورکړے دے او بل کالم کښې ئې د **IPA**سیمبلونه ورکړي دي ، ولې په دې کښې د ی پینځهٔ واړه شکلونه پوره نهٔ دي :

یوه بله ویب پاڼه:

**www.omniglot.com/writing/pashto.html.**

د ټولو څلور څلوېښتو تورو لاطیني ابدال او**IPA** سیمبلونه هم ورکړي دي ، چې زهٔ ئې د خپل کتاب د پاره غوره ګنم ـ د دې ویب پاڼې په لسټ کښې بله ښه خبره دا ده چې د تورو **allophones** ئې هم ورکړي دي

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا/آ | ب | پ | ت | ټ | ث | ج | چ | څ |
| الف | بې | پې | تې | ټې | ثې | جيم | چې | څې |
| ālif | be | pe | te | ṭe | se | jīm | če | źe |
| ā | b | p | t | ṭ | s | j | č | ź |
| [ɑ/ʔ] | [b] | [p] | [t] | [ʈ] | [s] | [d͡ʒ] | [t͡ʃ] | [d͡z] |
| ځ | ح | خ | د | ډ | ذ | ر | ړ | ز |
| ځيم | حې | خې | دال | ډال | ذال | رې | ړې | زې |
| ce | he | xe | dāl | ḍāl | zāl | re | ṛe | ze |
| c | h | x | d | ḍ | z | r | ṛ | z |
| [t͡s] | [h/∅] | [x] | [d] | [ɖ] | [z] | [r] | [ɺ~ɽ] | [z] |
| ژ | ږ | س | ش | ښ | ص | ض | ط | ظ |
| ژې | ږې | سين | شين | ښين | صاد | ضاد | طوې | ظوې |
| że | ge | sīn | šīn | x̌īn/šīn | sād | zād | two | zwo |
| ž | ǵ/ẓ | s | š | x̌/ṣ̌ | s | z | t | z |
| [ʒ] | [ɣ/ʐ/ʝ/g] | [s] | [ʃ] | [ç/ʂ/ɕ/x] | [s] | [z] | [t] | [z] |
| ع | غ | ف | ق | ک | ګ/ګ | ل | م | ن |
| عين | غين | فې | قاف | کاف | ګاف | لام | ميم | نون |
| ayn | ğayn | fe | qāf | kāf | gāf | lām | mīm | nūn |
| -/ʻ | ğ | f | q | k | g | l | m | n |
| [∅/ʔ] | [ɣ] | [f/p] | [q/k] | [k] | [g] | [l] | [m] | [n] |
| ڼ | و | ه | ی | ي | ې | ۍ | ئ | |
| نون | واو | هې | يې | سخته يې | نارينه يې | ښځينه يې | فاعليه يې | |
| ṇūn | wāw | he | ye | saxta ye | nārīna ye | x̌əźīna ye | fāìliya ye | |
| ṇ | w/ū/o | h/a/ə | y/e/ay/ī | y/ī | ay/y | əy | əy | |
| [ɳ] | [w/u/o] | [h/a/ə/∅] | [j/e/aj/i] | [j/i] | [aɪ/j] | [əi] | [əi] | |

**Diacritics**

| | | | |
|---|---|---|---|
| ◌َ | ◌ٙ | ◌ِ | ◌ُ |
| زور | زورکی | زېر | پېښ |
| zwar | zwarakay | zer | peš |
| a | ə | i | u |
| [a] | [ə] | [ɪ] | [ʊ] |

## شپږم باب

# ټولنیزه او نفسیاتي ژبپوهنه

---

ژبه او فرد او ژبه او ټولنه یو بل سره نېغ په نېغه تعلق لري ، په دې وجه د شلمې پیړۍ په شپږمه لسیزه کښې د ټولنیزې ژبپوهنې او نفسیاتي ژبپوهنې اصطلاحات رامخې ته شول۔ او اوس دا دواړه څانګې ډېرې مخ په وړاندې تلې دي ۔ ټولنیزې ژبپوهنې ته **Sociolinguistics** او نفسیاتي ژبپوهنې ته **Psycholinguistics** وئیلے شي ۔ **Psycholinguistic** ژبه او مزغو سره تعلق لري ، او **Sociolinguistics** ژبې او ټولنې سره تعلق لري ، یا مونږ داسې وئیلے شو چې **Psycholinguistics** د ژبې او فرد مطالعه ده او **Sociolinguistics** د ژبې او ټولنې مطالعه ده ۔ په دې وجه په دې باب کښې به په دې دواړو څانګو خبره کولے شي ، اول به په **Socio-linguistics** خبره اوکړو۔

## Sociolinguistics :

د ژبې او ټولنې ترمېنځه ډېر ژور تعلق دے ۔ ټولنیزه ژبپوهنه د ټولنې په حواله د ژبې مطالعه ده ۔ په حقیقت کښې ژبه وي د ټولنې د پاره ، په یوه ټولنه کښې معاشرتي ګډون، او د خیالاتو احساساتو، جذبو

او پیغامونو ابلاغ ټول د ژبې په ذریعه ممکن دے ـ اګر چې د ژبې تاریخ او د ژبې وظیفه پخوا راهسې د مطالعې او څېړنې مرکز وو، خو ټولنیزه ژبپوهنه د یو مضمون په حیث اوس اوس رامېدان ته شوے ده ـ

د**Sociolinguistics** اصطلاح په اول ځل په **1952** ء کښې **Haver currie**استعمال کړه ـهیورکرَي یو فلسفي شاعر وو او هغه د خپل وخت په ژبپوهنه کښې د ټولنې په حقله د څۀ ریسرچ غېرموجودګي محسوسه کړه ـ او د ژبپوهانو توجّه ئې دې پلو را اوګرځوله ـ د دې نه پس چې په**Sociolinguistics** کښې کوم کارونه اوشو د هغې نومونه دا دي :

په **1953**ء کښې**weinreich**"**Languege in Contact**" اولیکلو ، په امریکه کښې په **1953**ء کښې **Einar Haugen**دوه جلده کښې "**Study of the Social History of Norwegian Language**"چاپ کړو په **1962**ء کښې د **Joos** "**On the dimensions of style**"چاپ شو ـ(1)

د دې وخت نه پس په دې مېدان کښې ډېره ترقي اوشوه ، د دې مطلب دا هم نۀ دے ، چې ګنې د ټولنې په حواله د ژبې مطالعه په **1960**ء کښې ایجاد شوے ده ، د لهجو او د لفظونو د معنو او ثقافت ترمېنځه د تعلق مطالعه روایتي وه ، خو د **1960**ء راهسې دا دواړه څېزونه د ټولنیزې ژبپوهنې برخه اوګرځېدل ـ د **1960**ء نه پس د

(1 ) Rajend Mesthrie Ed. Concise Encyclo peadia of Sociolingustics (Amsterdam:Elsevier Science Ltd,2001)P:1.

ټولنيزې ژبپوهنې باقاعده جرنل شائع کېدل شروع شول ، لکه **Change of Language ”Language in Society“ International Journal “او Language variation and “ ”of the Sociology**

او ډېر نصابي او غېر نصابي کتابونه پرې هم اوليکلے شول ، اوس خو ټولنيزه ژبپوهنه د يونيورسټۍ په لېول د ژبپوهنې او ژبې په کورسونو کښې تدريس کولے شي ، او بې شکه چې د ژبې په مطالعه کښې يوه اهمه نقطه ده ، د تدريس په حواله هم او د څيړنو په حواله هم اوس ژبپوهان په دې خبره پوهه شوي دي چې ټولنيزه ژبپوهنه د ژبې او ټولنې دوارو په فطرت ښه رڼا غورزولے شي۔([1])

د ټولنيزې ژبپوهنې يو صفا او واضحه تعريف خو دا دے چې په ټولنه کښې د ژبې مطالعې ته ټولنيزه ژبپوهنه وئيلے شي که چرې داسې وي نو بيا د ژبې متعلق هره پېښه د ټولنيزې ژبپوهنې برخه جوړېږي ، بهرحال د ژبې متعلق د هرې پېښې يو معاشرتي پس منظر وي او دا هم دغه معاشرتي پس منظر وي۔ چې دغه مخصوص قسم ژبه پکښې استعمال شوے يا ليکلے شوي وي ۔

که مونږ د ټولنيزې ژبپوهنې لږ جامع او واضحه تعريف اوکړو نو ټولنيزه ژبپوهنه د کلچر او طاقت ژبنے انډيکټر دے ، دا يو خوا ته په ژبه زورورکوي او بل خوا ته په نړۍ کښې د ژبني پېښو يا وظيفو

([1] )Brian T Riley (ed) Sociolinguistics Language in Culture and Society (New Delhi:Cosme Publicattions Pvt Ltd,2000)P:1.

معاشرتي طاقت هم مطالعه کوي دا مونږ ته نهٔ صرف دا ښائي چې په ګريمر، لغاتو، خبرو اترو ، **Pragmatics**او فونولوجي کښې د ژبپوهنې آلات استعمالوؤ بلکې دا هم وائي چې په قبائلي ټولګو، صنف، نظرياتو ، معاشرتي طبقو د ژبې اثرات وي ـ معاشرتي ژبپوهنه په معاشرتي ژبپوهان دا ذمه واري اچوي ـچې دحکومت په پاليسو جوړولو، تعليمي پاليسۍ جوړولو اوپه ميډيا د پيش کونکو معلوماتو په حقله خپل علم استعمال کړي ـ([1])

څهٔ پوهان **Sociolinguistics**يا **micro-Sociolinguistics** او **Sociology of language** يا **macro-Sociolinguistics** کښې فرق کوي ـ ټولنيزه ژبپوهنه د ژبې او معاشرې ترمينځه تعلق معلوموي او دا مقصد لري چې د ژبې په جوړښت پوهه شي ، او دا چې ژبه په ابلاغ کښې څنګه کار کوي بل طرف ته **Sociology of language**دا معلوموي چې د ژبې په ذريعه په معاشرتي جوړښت څنګه پوهيدے شو ـ هډسن وائي چې **Sociolinguistics** د معاشرې په مدد د ژبې مطالعه ده ، او**Sociology of language** د ژبې په مدد د معاشرې مطالعه ده .([2])

---

([1] ) Carmcn L Lamas and Peter Stokiewell, "Sociolinguistics" , in An Introduction to Applied Linguistics Ed: Norbert Schmith (uk:Hodder Education,2011)P:143.
([2] ) Ronald wardrangh,An Introductions to Sociolinguistics Fifth Edition (Malden USA: Blackwell Publishing Company, 2006)P:13.

لنډه دا چې Sociolinguisticsپه ټولنه او ژبه دواړو باندې رڼا غورځوي، ژبه د ټولنې او ثقافت دواړو نمائیندګي کوي ـ

مونږ د مختلفو کارونو او مقصدونو د پاره د ژبې مختلف شکلونه استعمالوؤ ، مونږ د خپلو خیالاتو اظهار یا د وینا په ذریعه کوؤ او یا د لیک په ذریعه د لیکلې اظهار د پاره د صحیح لفظونو چوڼ کول پکار دي او صحیح ګریمر پکاروي . ولې په وینا کښې مونږ دومره خیال نۀ ساتو. د لیکلې اظهار هم ډېرې ذریعې دي لکه خط، اخبار، کتاب ، رپورټ ، درخواست او څۀ نوټس وغېره دغه شان د ویناوي اظهار هم ډېرې ذریعې دي . لکه ګپ شپ ، لیکچرورکول، سیمنار ، یا کلاس روم وغېره ـ

معاشرتي ژبپوهان د ژبپوهنې په دې څانګه کښې لاندیني اصطلاح ګاني مطالعه کوي ـ

(1) کوډ **Code**

(2) کوډ سویچنګ **Code switching**

(3)معیاري ژبه **Standard Language**

(4)لهجه **Diatct**

(5)آډیو لیکټ **Ideolect**

(6) سوشیولیکټ **Sociolect**

(7) رجسټر **Register**

(8)آئیسو ګلاس **Isogloss**

(9)ډائي ګلاسیا **Diglossia**

(10)پډګن **Pidgin**

(11)کریول **Creole**

(12) کوینائزیشن **Koineization**

د دې ټولو پېژندګلو لاندې کولے شي

## (1)کوډ: **Code**:

د یوې ژبې یو شکل ته کوډ وئیلے شي ـ یوه ژبه په خصوصي توګه صرف یو کوډ وي ، د یوې ژبې د ټولو ژبني اجزا ؤ ټول ترتیب او تنظیم ته د هغه ژبې کوډ وئیلے شي ، په کومه معاشره کښې چې دا کوډ استعمالیږي هغوي دا د خپلې ژبې په توګه قبول کړے وي ـ

## :Code-Switching (2)

په کومه معاشره کښې چې دوه یا د دوؤ نه زیاتې ژبې وئیلے شي نو د دغه معاشرې خلق د موقعې او حالاتو مطابق د خپلو، جذباتو ، احساساتو ، غصې یا څهٔ قسم هم اظهار د پاره د خپلو خبرو اترو په منځ کښې یعنې د فقرې په منځ کښې یا جملې په مېنځ کښې عن تر دې چې په لفظونو کښې هم کله یوې ژبې ته اوړي او کله بلې ژبې ته ، دې صورت حال ته د ټولنیزې ژبپوهنې په ژبه کښې **Code-switching**وائي ـ

## (3)لهجه:**Dialect:**

**Dialect**لفظ په اول ځل نشاة ثانیه دور کښې استعمال کښې

راغے ، دا لفظ د یونانیٔ ژبې نه پور اخستے شوے دے د ټولو نه زړه حواله د **1579**ء د عبرانیٔ ژبې د لهجو په حواله ده ، په فرانسیسیٔ ژبه کښې د ټولو نه اول **Hatzfeld**او **Darmesteter** په لغت کښې مونده شي ، چې د دې نه شپاړس کاله وړاندې ده او د یونانیٔ په حقله **abondante en dialectes**لفظ د **Sir walter Releigh** د**1614**ء یوه حواله ده چې د **Aeolic dialect**ذکر کوي ، د دې نه دا خبره ثبوت ته رسي چې په لرغونې یونان کښې د ژبپوهنې حالات د **dialect**لفظ د اوسنې استعمال محرک وو۔(1)

د لهجې تعریف مونږ داسې کولے شو:

په یوه ژبه کښې علاقائي، معاشرتي یا د زمانې په لحاظ بدلون ته لهجه وئیلے شي۔ دا د معیاري ژبې نه د ګریمر، تلفّظ او لفظونو په لحاظ بدله وي ، نو لهجه یوه داسې بدله ژبه وي چې ځان له وجود خو لري خو هغې ته مونږه یوه مکمّله ژبه نهٔ شو وئیلے ، د سوشیولینګوسټکس یوه ډکشنري د لهجې تعریف څهٔ داسې کوي ، لهجه د یوې جغرافیائي علاقې یا سیمې یا د یوې ټولنې د وېناعادتونه لکه تلفّظ ، لغات ، ګریمر ، د ژبې عملي استعمال ښائي ۔(2)

(1 ) E.Haugen, "Dialeet Language and Nation", in Sociolinguistics Eds:J.B Pride, and Jancl Holmes (Harmond Sworth :Penguin Books Ltd, 1972)P:98.
(2 ) Joan swam et all, A Dictionary of Sociolingustics, (Edinburgh : Edinburgh university press, Ltd, 2004)P:76.

په دې وجه معاشرتي ژبپوهنه د معاشرتي لهجو او علاقائي لهجو خبره کوي ، لهجه په بنيادي توګه د ژبې علاقائي قسمونو ته وائي ، څۀ لهجې په کليوالو علاقو کښې وئيلے شي ، چې کليوالي لهجې ورته وئيلے شي په عمومي توګه لهجه د معياري ژبې يا باوقارې ژبې په ضد کښې استعمالولے شي ۔

## (4) Dialeet Levelling:

داسې عمل چې پکښې څۀ لهجې يو بل سره په باقاعده توګه په رابطه کښې وي ، نو خپل دغه خصوصيات بائيلل شروع کړي ، کوم چې د نورو لهجو نه بدل وي۔ د لهجو دا قسم ربط د خلقو ښاريو ته هجرت او د نوؤ قصبو د جوړېدو په وجه پېدا کېږي۔ په **dialect levelling** کښې هم باقاعده ګريمري او غړئيځ خصوصيات ورک شي او هغه خصوصيات زيات روښانه شي چې په ټولو لهجو کښې تقريبًا يو شان وي ، دې عمل ته **dialect levclling** يا د لهجو هواروالے وئيلے شي۔(1)

د لهجو منطقي مطالعې ته**dialectology** وئيلے شي ، چې په روايتي توګه د نولسمې پېړۍ نه شروع شوے دے ، خو د **1960**ء نه پس د لهجو معاشرتي اړخونه مطالعه کول شروع شوي دي لکه معاشرتي طبقې ، عمر، صنف ، قبيلې وغېره ۔(2)

(1) Joan swam et all, A Dictionary of Sociolingustics, (Edinburgh : Edinburgh university press, Ltd, 2004) P:77-78.
(2) ibid P:79.

## معياري ژبه Standard language:

څهٔ ته چې صحيح ژبه وئيلے شي ، هغه په اصل کښې معياري ژبه بللے شي ، کله چې په يوه ټولنه کښې يوه ژبه د کلونو کلونو راهيسې وئيلے شي نو هغه معياري ژبه جوړه شي ـ يوه معياري ژبه د لاندې عمل نه تېره شوي وي ، نو د معيار تر مقامه رارسېدلے وي ـ

## (1)انتخابSelection :

د ژبې يوه مخصوصه لهجه د يوې ټولنې خلق چوڼ کړي ، او هغه په معياري ژبه کښې بدله شي ، دا ژبه په هغه ځايونو کښې استعماليږي ، چې سياسي او تجارتي اهميّت لري،د دې سياسي او تجارتي اهميّت په وجه د يوې ټولنې خلق دے ژبې له ډېر اهميّت ورکړي ، او خپلو کښې د رابطې د پاره دا ژبه استعمالوي ـ

## (2)کوډيفيکشن Codification:

د دې چوڼ کړي شوې ژبې د پاره څهٔ ادارې يا اکيډيمي د ګرامر کتابونه او ډکشنرۍ اوليکي ، چې يو ځل د يوې ژبې د پاره ډکشنري او ګريمر اوليکلے شي ، بيا د دې په ويونکو لازمه شي چې صحيح ژبه ليکي ـ

## :Elaboration of Function(3)

په دې مرحله کښې چوڼ کړے شوے لهجه د حکومت په سطح په ادارو کښې استعماليدل شروع شي ، لکه په پارليمنټ کښې

په عدالتونو کښې په تعلیمي او سائینسي ادارو او دستاویزاتو کښې د دې نه علاوه دا ژبه د ادب د پاره هم استعمالېدل شروع شي ، په دې وجه په ژبه کښې ډېر اصطلاحات هم راننوځي .

## (4)قبولیّت Aceeptance:

په دې مرحله کښې ټولنه دا ژبه د یوې قومې ژبې په حېث قبوله کړي ، چې کله دا ژبه د قومي په حېث اومنلے شي نو بیا دا ژبه دغه ریاست د اتحاد او اتفاق د پاره ډېر طاقت لري ، او د ریاست د خود مختارۍ علامت اوګرځي۔([1])

## Ideoleet:

د ټولنې د یو غړي د عامې مستعملې ژبې یا لهجې نه د تلفّظ، لغاتو، ګریمر او عملي استعمال په لحاظ انفرادي بدلون ته وئیلے شي، معاشرتي یا علاقائي لهجې دغه شان د ګڼو خلقو دآیډیولیکټ نه جوړېږي ۔([2])

## Socioleet:

**Sociolect**یا **Social dialect**هغه لهجې ته وئیلے شي . چې د معاشرې یوه مخصوصه طبقه ئې وائي . په یوه ټولنه کښې د معاشرتي طبقو تقسیم په څو طریقو دے ، لکه د پېشې په لحاظ ، د

([1] ) Brian T Riley Ed., Sociolinguistics Language in Culture and society (New Delhi:Casmo Publications india,2000)P:48-49.
([2] )Joan Swann et-all, A Dictionary of Sociolinguistics (Edinburgh :Edinburgh university press Ltd, 2004)P:141.

تعلیم په لحاظ ، د پیسې او آمدن په لحاظ یعني په اقتصادي لحاظ، د ثقافت په لحاظ د مذهب په لحاظ او د اصل نسل په حقله کېدے شي ، په دې لحاظ ویشلي شوؤ طبقو ژبه یا لهجه به د یو بل نه بدله وي ـ علاقائي لهجه په جُغرافیائي لحاظ د ژبې بدلون دے ـ ولې سوشیولیکټ د معاشرتي ټولګو په لحاظ د ژبې یا لهجې بېلتون دے([1])

## :Register

**Socioleet** د ټولنې د طبقې په لحاظ بدلون دے ـ ولې **Register**د استعمال په لحاظ د ژبې بدلون ته وائي ـ لکه یو کس به په خپل دفتر کښې خپل افسر سره په یو رنګ خبرې کوي ـ خپل نوکر سره به بل شان خبرې کوي ـ په بازار کښې که څهٔ اخلي دُکاندار سره به بل رنګ خبرې کوي ـ که بینک یا هسپتال ته لاړ شي نو بل رنګ الفاظ به استعمالوي ـ او که چرې خپلو دوستانو سره ګپ شپ لګوي یا خپل کور کښې خپلو بچو سره خبرې کوي نو بل شان الفاظ به استعمالوي ـ په کور او دفتر کښې خبرو کښې ډېر فرق وي په دفتر کښې به دې ډېر په احتیاط د ژبې لفظونه چوڼ کوي او د صحیح ګرائمر استعمال به کوي ولې د دوستانو سره او په کور کښې دے د هر قسم پابندو نه آزاد وي ـ

---

([1] ) Ronald wardhaugh, An introduction to sociolinguistics Fifth Edition, (Malden USA:Blackwell Publishing Company, 2006)P:49.

## <u>Isogloss</u>

**Dialectology**د ټولنيزې ژبپوهنې يوه څانګه ده چې مونږ پکښې لهجې مطالعه کوؤ.**Dialect-Geography** د **Dialectology**يوه څانګه ده چې مونږ پکښې په لهجو کښې په جُغرافيائي لحاظ بدلون مطالعه کوؤ. د **Dialeet Geography**ماهران چې کله د يوې ژبې مختلفې لهجې مطالعه کوي ـ نو څۀ ژبني اصطلاحات او لفظونه يا غږونه د مطالعې د پاره چوڼ کوي ـ يو غږ يا لفظ په يو جغرافيائي حد کښې استعماليږي او بل په بل ځائے کښې، ماهران د دې لفظونو يا غږونو بدلون په يوه نقشه کښې اوښائي يعنې د دې لفظونو يا غږونو جغرافيائي حدبندي اوکړي يعنې په نقشه کښې د هغه علاقو ترمېنځه يو کرښه راښکي ، چرته چې يو غږ يا لفظ استعماليږي او چرته نۀ استعماليږي۔ په نقشه باندې دے حد بندۍ ته **isogloss**وئيلے شي **isogloss**د يونانۍ ژبې د دوؤ لفظونو نه جوړ دے يعنې **iso**او **gloss**د **iso**مطلب دے يو شان او د **gloss**مطلب دے ژبه ([1])

## <u>Diglossia</u>

**Diglossia** د دؤو يوناني لفظونو نه جوړ دے، **di** او **glossia** د **di**مطلب دے دوه ، او د **gloss**مطلب دے ژبه .

**diglossia**په يوه ټولنه کښې داسې حالت وي چې دوه ژبې په يو وخت وئيلے شي ولې يوه ژبه په يو حالت کښې و ئيلے شي او بله په

([1])Briant Riley(ed).Sociolinguistics Language in Culture and Society, (New Delhi: Cosmo Publications India, 2000)P:57.

بل حالت کښې ، دے کښې یوې ژبې ته زیات د عزت او وقار مقام حاصل وي او بلې ته کم یوې ته**Highly Valued** یعني**H** وائي ، او بلې ته **Less Valued**یعنې **L** وائي په دې کښې **H** ژبه د لیکلي ادب ژبه وي ـ او نوررسمي حسب ضابطه کارونو لکه د حکومت خبرې اترې ، مذهبي او شرعي قانون ، تعلیم، او په نورو باقاعده کارونو باندې**H** ژبه غالبه وي ، ولې **L** ژبه د غیر رسمي خبرو اترو د پاره لکه ټوقې ټقالې د چم محلت او بازار خبرې ، په ټیلیفون خبرې او نور لکه په خط کښې خبرې سینما او ټیلي وژن دے ټولو کښې **L** قسم ژبه استعمالیږي .

فرګوسن د **diglossia**جامع تعریف داسې کوي ، ډائي ګلاسیا یو متوازن ژبنے حالت دے چې د ژبې بنیادي لهجې سره یوه بله ډېره د وقار او د ګرائمر په لحاظ ډېره پیچیده او د لیکلي ادب ژبه هم په استعمال کښې وي ـ دا ژبه زیات تره په رسمي تعلیم زده کولے شي ـ او د رسمي وینا او لیک د پاره استعمالیږي ـ خو د ټولنې یوه حصّه ئې هم د عامو خبرو اترو د پاره نۀ استعمالوي۔(1)

د**1959**ء نه پس په ډائي ګلاسیا نوې خیړنې هم اوشوې ، او دا خبره معلومه کړے شوه چې څۀ عوامل د **diaglossia**د ترقۍ د پاره ضروري دي۔ اوڅۀ د دې د پاره خطرناک دي ، د دغه عواملو ذکر لاندې کولے شي ـ

(1) Harold E Schiffman, ”Diaglossia as a Sociolinguistic Situation“ in the Handbook of Sociolinguistics ed:Florian Coul (Pdf e-book available at) Blackwell refrence online 2007(accessed august 2,2016).

## (1)وظیفه:Function

په ډائي ګلاسیاکښې د دواړو ژبو د وظیفو فرق ډېر ضروري دے، په ډائي ګلاسیا کښې Hاو L دواړه د مختلفو مقصدونو د پاره استعمالیږي ـ او دغه د ټولنې خلق په دې ښۀ پوهیږي چې په کوم حالت او کومه موقع Hاستعمالول دي او په کومه موقع او کوم حالت کښې Lاستعمالول دي ـ عن تر دې چې که چرې H یا L په خپله خپله مناسبه موقع استعمال نۀ شي نو دا خبره مضحکه خېزه، خرابه او بچګانه ګڼلے شي۔او دا د diaglossiaد دواړو ژبو مخصوصه وظیفه ده چې ډائي ګلاسیا د bilingualism نه جدا کوي ـ

## (2)وقار :Prestige

تر اوسه چې څومره هم د ډائي ګلاسیا مطالعه شوې ده ـ نو H ورائیټي ډېره د عزت او وقار ژبه ګڼلے شوې ده.د شریعت مذهب، قانون او ادب ژبه هم دغه H وي.او L د عامو خبرو اترو د پاره پکارولے شي۔

## (3)ادبي پنګه :Literary Heritage

په ډائي ګلاسیا کښې ادب په H ژبه کښې لیکلے شي او L ژبه د عامو اشتهارونو او عامو لیکلو ژبه وي ـ

## (4)زده کړه :Acquistion

په ډائي ګلاسیا کښې Lژبه اول زده کولے شي . دا مورنۍ ژبه

وي . او **H** ژبه په سکولونو کښې زده کولے شي . مقامي سکالران او پوهان صرفHیوه مکمّله ژبه ګڼي.

## (5)معیار :Standerdizatio

په ډائي ګلاسیا کښې **H** معیاري ژبه ګڼلے شي ـ ګریمرې ډکشنرۍ او قانوني او شرعي لیکونه هم د دې د پاره وي او مقامي لیکوال د دې ډکشنرۍ او ګرامرونه لیکي ـ ولېLورائیټي ډېره کمه معیاري ګڼلے شي ، د دې ګریمر که چرې وي هم نو هغه اکثر مقامي خلقو نۀ وي لیکلے بلکې بهرنو سکالرانو لیکلے وي.

## (6)توازن :Stability

په عامه توګه ډائي ګلاسیا متوازن حالت وي ـ او دا د سوؤنو کلونو او څنې وخت د زرګونو کلونو راهیسې په دغه علاقه کښې وئیلے شي.

## (7)ګرامر Grammar

د **H** ژبو ګریمر د **L** نه ډیر پیچیده وي ، دے کښې د زمانې حالت د مذکر مؤنث نظام او نحوه پیچیده او ګران وي .

## (8)لغت:Lexicon:

کله کله د دې لغتونه یو شان وي ، خو په عمومي توګه په**H** کښې چې کوم لغتونه موندے شي هغه په **L** کښې نۀ وي. او په **L** کښې چې کوم لغتونه موندے شي هغه په **H** کښې نه وي.

## (9)فونولوجي Phonology:

دH اوL ژبو په فونولوجي کښې هم فرق وي د H مارفونيمک نظام د L په نسبت پيچيده او ګران وي۔ ([1])

## Pidgin

کله چې په يوه ټولنه کښې خلق مختلفې ژبې وائي او اچانک داسې ضرورت پيښ شي چې د دې خلقو يو بل سره ابلاغ ضروري وي نو يوه بله ژبه رامنځ ته شي چې**Pidgin** ورته وئيلے شي ، په تاريخي توګه د **Pidgin**د پاره اقتصادي ضرورت محرّک ثابت شوے دے ، کله چې د داسې خلقو ټولګي يو بل سره يو ځائے شي چې هغوي يو بل سره معاشي او اقتصادي لين دين شروع کړي نو داسې حالت د**Pidgin** د جوړېدو د پاره سازګار شي۔ کله چې د مختلفو ژبو ويونکي خلق په يو ځائے کښې اوسيږي ۔ نو دوي په خپلو کښې د ابلاغ د پاره د يوې **Langua Franca**ضرورت محسوسوي نو په دې وجه مونږه**Pidgin** ته د دغه مخصوصې ټولنې د پاره **Langua Franca**وئيلے شو۔([2])

لکه په ټوله نړۍ کښې انګريزي د **Langua francs** په توګه وئيلے شي۔

---

([1] ) Harold E Schiffman, ”Diaglossia as a Sociolinguistic Situation“ in the Handbook of Sociolinguistics ed:Florian Coul (Pdf e-book available at) Blackwell refrence online 2007(accessed august 2,2016)

([2] ) Sharon K Deckert and Caroline H. Vickers, An Introduction to Sociolinguistics Society of identity, (London:Confinuur international Group, 2011)P:46.

هم پېژندلي شوي او بيان شويدي ، لکه **Pidgin** دغه شان ډېر
**Paupan pidgin English, Nigerian Pidgin**
**Vitnames pidgin-French, New Guinea pidgin German**
او **Fanlago, Keneya Pedigan Swahli**(چې په **Zulu**ژبه اړانه لري)او**Chinook Jargon**۔(1)

په ټولو**Pidgins** کښې څۀ خصوصيات، مشترک وي چې لاندې ئې ذکر کولے شي ۔

**(1)**ټول **Pidgins**هله جوړيږي چې کله کم از کم د دوؤ ژبو خصوصيات يو ځاے شي ، په دې کښې اهمه خبره دا ده چې کله په داسې حالاتو کښې کومه ژبه په سياسي يا معاشي توګه زورآوره وي په **Pidgin**کښې زيات تر لغات د دغه ژبې نه راځي ۔ دې ژبې ته**Super stratum** وئيلے شي۔ او هغه ژبه چې لږ د کم طاقت ټولګي والا وي د هغې صرف نحو او فونولوجي د**Pidgin** برخه اوګرځي ، او دې ژبې ته د **Substratum**وئيلے شي۔ د دې ژبو خپلو کښې د**Substratum** او**Superstratum** تعلق وي.

**(2)**د**Pidgin**دويم خاصيّت دا دے چې دا د هيچا اولنۍ ژبه يا مورنۍ ژبه نۀ وي ، د **Pidgin** ټول ويونکي خپله مورنۍ ژبه لري ۔ او **Pidgin** د هغوي دويمه ژبه وي ۔

---

(1) Bernard Spolsky, Sociolinguistics Reprint (London:oxford university press,2008)P:61.

(3)دریم خاصیّت دا دے چې Pidginد کور او د خاندان ژبه نۀ وي ، دا د بازار او تجارت ژبه وي ـ
(4)څلورم خاصیّت ئې دا دے چې Pidgin صرف د کاروبار ترحده وي ـ په دې وجه د دې ژبه ساده او مختصره وي۔او د دې لغات کم وي ـ

## د Pidginجوړېدو مرحله :

هرکله چې یوPidgin جوړېږي نو د لاندې مرحلونه تیرېږي

## :Jargon phase(1)

دا د ټولو نه اولنۍ مرحله ده په دې مرحله کښې دPidgin شکل ډېر ساده وي ، او لغات ئې ډېر کم وي۔

## Stable pidgin phase(2)

چې کله د دې ویونکي ډېر شي نو لغات ئې هم ډېر شي۔ ګرامر او فولوجي ئې معیاري شي۔دې ته Stable pidgin phase وئیلے شي۔

## Expanded Pidgin phase(3)

چې کله pidgin په لغاتو، ګریمراو فونولوجي کښې نور هم فراخوالے راشي نو دې تهExpanded Pidgin phase وئیلے شي .

## د Pidginقسمونه :

Sebba د Pidgin لاندیني اووۀ قسمونه بیان کړیدي:

(1) فوجي یا د پولیس Pidgin

(2) تجارتي او بحري تجارتي**Pidgin**

(3) د بستۍ د نوآبادۍ**Pidgin**

(4) د تعميراتو او معدنياتو د کانونو کنستو**Pidgin**

(5) د مهاجرينو **Pidgin**

(6) د سيلانيانو**Pidgin**

(7) او د ښاريو**Pidgin**

وائي چې د ټولو نه اولنے**Sabir Pidgin** يو فوجي**Pidgin** وو چې د جنوبي يورپ فوجيانو به د صليبي جنګونو دوران کښې وئيلو۔(1)

## **Creole**:

کله چې د يو**Pidgin** وئيونکو خلقو دويم نسلي را اورسي او هغوي دغه **Pidgin**د خپلې مورنۍ ژبې يا اولنۍ ژبې په توګه وائي نو دغه **Pidgin** ته بيا **Creole** وائي۔ په داسې وخت کښې**Pidgin** بيا صِرف د تجارت د پاره نۀ شي وئيلے بلکې په ذاتي ژوند کښې د ذاتي تعلقاتو د پاره هم وئيلے شي۔(2)

## **Koineization**:

د يوې ژبې د مختلفو لهجو يو ځاے کېدو ته وائي چې کله د آبادۍ د تيزې اضافې يا د خلقو د هجرت په وجه يوه نوې ټولنه جوړه

(1) Sharon K Deckert and Caroline H Vickero, An introduction to Sociolinguistics (London:Continuum International Publishing Group, 2011) P:47-48.

(2) ibid- P:48.

شي۔ او د یوې ژبې مختلفې لهجې یو بل سره **mix**شي، **levelling** ئې اوشي۔ مطلب لوړه ژوره پکښې هواره شي ، او یو ساده شکل په تیزئ سره اختیار کړي نو دې نوې لهجې ته **Koine** وئیلے شي او د **mixing , levelling**او**simplification** دې ټول عمل ته **Koineization** وئیلے شي۔([1])

د دې نه علاوه په**Sociolinguistics** کښې نن سبا **gender** فرقونه او مسئلې هم خیړلې کېږي په ټولنیزه ژبپوهنه کښې د صنف او ژبې ترمېنځه تعلق هم نن سبا یوه لویه **issue** ده۔ د **1970**ء راهیسې په ټولنیزه ژبپوهنه کښې په دې خیړنې کېدلې چې په معاشره کښې د ښځې په لاندې پوزشن مقام او وقار کښې ژبه څومره کردار ادا کوي ، د دې نه وړاندې اړخونو مطالعه کوله ، اولنئ وجه دا وه چې په ژبو کښې هغه لغات غوره خوندي کړي چې یو یا بل صنف ئې زیات تر استعمالوي۔ او یا هغه صرفي حالتونه معلوم کړي چې یو یا بل صنف ئې استعمالوي ۔

ولې نن سبا د ټولنیزې ژبپوهنې په بدلون کښې صنف د ژبنو تغیّراتو یا**variables** لکه معاشرتي **Status** سټائل، عمر او **ethenic group** په شان یو**independent** او خودمختاره**Variable** دے۔([2])

([1] ) Donald N. Tuten, “Koineization” in Routledge Companion to Socioling uistics Eds:Carmem Llamas Louise Mullany and peter stockwell, (London: Routledge Taylor and Francis Group , 2006)P:175.
([2] ) Ralph Fasold, Sociolinguistics of Language, Introduction to Sociolingwistics volume II (Oxford:Blackwell publishers Ltd,1996)P:89.

## نفسیاتي ژبپوهنه

**Psycholinguistics** د دؤو لفظونو **Psycho** او**linguistics** مجموعه ده. د **Psyeho** مطلب دے نفسیات او د **linguistics**مطلب دے ژبپوهنه یعنې نفسیاتي ژبپوهنه یا د ژبپوهنې نفسیاتي اړخ **Psycholinguistics** د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې پکښې د ژبې او نفسیاتو اودماغو د اړیکو په حقله خبرې او څیړنې کولے شي۔

نفسیاتي ژبپوهنه د داسې قسمه سوالونو د جوابونو ورکولو کوښښ کوي چې ماشومان څنګه خپله مورنۍ ژبه زده کوي ، دوي په لسانیاتي توګه یا د ژبې په لحاظ وده څنګه کوي۔څنګه دوي په خپله مورنۍ ژبه کښې مختلف قسمه حالات او د هغې د اظهار خبرې اوپیژني۔ او آیا دوي د مورنۍ ژبې د زده کړې څۀ ذهني صلاحیّت لري ، یا دوي دا په خپل چاپیریال کښې په دمه دمه د اورېدو کتو او د مور پلار یا لویو په نقل کولو زده کوي۔

د انګریزۍ یو مشهور لیکوال جین ایچي سَن لیکي :

د نفسیاتي ژبپوهنې تعریف په عامه توګه دا کېږي چې نفسیاتي ژبپوهنه د ژبې او ذهن مطالعه ده۔ دا دا معلوموي چې په یو انساني ذهن کښې څۀ کېږي کله چې یو انسان ژبه زده کوي ۔ څان پرې پوهوي ، خبرې کوي او ژبه په دماغو کښې خوندي کوي ۔

يعني چې کله هغه د ژبې د زده کړې د عمل نه تيريږي ، داسې قسم مطالعه ډېر شے عنوانات ځان سره رانغاړي ـ او دوه ژبپوهان هم په خپلو کښې په دې نه راضي کېږي چې په حقيقت کښې دا د کومو عنواناتو احاطه کوي او د دې نه راضي کېدو وجه دا ده چې نفسياتي ژبپوهنه په اصل کښې ډېره وسيعه او فراخه مطالعه ده چې کله کله ورته د ابلاغو نفسيات هم وئيلے شي چې ژبې سره سره په انسانانو کښې د ابلاغو نورې ذريعې لکه اشارې او د مخ تاثرات هم څيړلے کېږي۔([1])

د انټرنيټ يوه ويب پاڼه د **Psycholinguistics** تعريف په دې لفظونو کښې کوي۔

**Psyeholinguistics**د انساني نفسياتو په حواله د ژبې مطالعه ده ، د دې ساحه ډېره فراخه ده خو په خصوصي توګه د انسان د اولنۍ ژبې د زده کړې سره کار لري۔([2])

**John Field** د نفسياتي ژبپوهنې يو جامع تعريف داسې کوي:

نفسياتي ژبپوهنه د دې مطالعه ده چې ذهن يو انسان د ژبې د استعمال د پاره څنګه تياروي د دې زيات کار د ادراک د عمل سره دے۔ چې د ژبې د ذخيرې د استعمال او زده کړې بنياد دے۔ او د دې

([1] ) Jean Aitchison,Linguistics,(UK:Teach yourself,2003)P:32.
([2] ) http:///www.uni.due.de/ELF/Psycholinguistics introduction-pdf (accessed june 22 2016).

تعلق د مزغو د اعصابي سرګرمو سره دے دې سره سره نفسياتي ژبپوهنه د ذهن مطالعه هم کوي ، چې په داسې قسمه سوالونو رڼا اوغورځوي چې ژبه څنګه شروع شوه او آيا دا صرف انسانانو سره تړلې ده او دا چې د ژبې او سوچ خپلو کښې څۀ تعلّق دے ۔ او آيا د ژبې زدکړه د عام ادراک سره تعلق لري کنه په عام ادراک انحصار نۀ کوي۔([1])

چامسکي وائي چې ژبپوهنه د نظرياتي ادراکي نفسياتو يوه برخه ده ، دا د خبرې کونکي او اورېدونکي د ژبې په حقله د عِلم څېړنه کوي ، څۀ ته چې چامسکي **Competence**وائي۔ ولې ژبپوهنه دا تشريح نۀ کوي چې په مختلفو خصوصي موقعو ژبه څرنګه استعماليږي ۔دا صرف دا بيانوي چې د انسان په ذهن کښې کوم ځائے کښې ژبه خوندي ده۔ د ژبې د استعمال په حقله معلومات نفسياتي ژبپوهنه ورکوي چې نۀ صِرف هغه علم ته رسائي کوي کوم چې د انسان په ذهن کښې خوندي دے بلکې نورو نفسياتي شعبو لکه حافظې او توجّه سره هم د دې اړيکې معلوموي۔([2])

نفسياتي ژبپوهنه په انساني مزغو مونږ ته پوهه راکوي ۔ د نفسياتي ژبپوهنې عام مقصد دا دے چې د انسان د وينا او په ژبه د

([1] ) John Field, “psychotinguistics” in The Routledge Handbook of Applied Linguistics Ed: James Simpson (London of New York :Routledge Taylor of Francis Group, 2013)P:472.

([2] ) Alan Garnham Psycholinguistics Central topics Reprint, (London and New York: Routledge, 1994)P:23.

پوهېدو د اهليّت جوړښت او عمل ټول معلوم کړي ـ په نفسياتي ژبپوهنه کښې لاندينۍ خبرې څېړلې کېږي۔

(1)د حافظې ، د ژبې اورېدو، د وينا د ليک لوست ټول عمل۔

(2)په انساني ذهن کښې د يوې ژبې د لغاتو ذخيره چې څنګه لفظونه زمونږ په ذهن کښې خوندي کېږي او بيا استعماليږي ـ

(3)ماشوم څرنګه خپله مورنۍ ژبه زده کوي۔

(4)خاص حالات لکه کوڼ والے ، ړوندوالے او د مزغونقصان۔

(5)د ژبې او مزغو تعلق، په مزغو کښې هغه کوم ځاے دے چې د ژبې د زده کړې او استعمال سره تعلق لري۔

(6)د دويمې ژبې زده کړه څرنګه کولے شي ـ

ژبه او ذهن کښې د انسان د دلچسپۍ تاريخ په زرګونو کاله زوړ دے ـ د ژبې په حقله ليکلے تاريخ دوه نيم زره کاله وړاندې د هندوستاني ، چيني ، سُميري او يوناني تهذيب کښې موندے شي۔ اودغه شان د نفسياتو بُنياد يعنې د ذهن او علم د مطالعې ليکلې تاريخ هم لګ بهګ دومره زوړ دے ـ ولې د ژبې او نفسياتو موجوده علم ډېر اوسنے دے۔ جديد نفسيات د نولسمې پيړۍ په آخره کښې په**Leipzig** ښار کښې د**wilhelm wundt** د ليبارټرۍ د کار نه شروع کېږي ، او د جديدې ژبپوهنې تاريخ هم لګ بهګ د دغه وخت نه شروع کېږي۔ په دې مختصر وخت کښې دواړه علمونه د انقلابي دور نه تېر شو۔ او د شلمې پيړۍ تر نيمې پورې پکښې غټ بدلون راغلے وو۔

**Wilhelm Wundt** په **1900**ء کښې په ژبه يو کتاب د**die sprache** په نوم چاپ کړو۔

په **1913**ء کښې چې د دې کوم ايډيشن چاپ شو هغه په **1367** مخونو مشتمل وو۔ دا په هغه عنواناتو مشتمل وو چې اوس هم په جديده نفسياتي ژبپوهنه کښې څيړلې شي ، لکه د ماشوم د ژبې د زده کړې، د اشارو ژبه د ژبې ادراک ، او د ګريمر ساخت د**Wundt** په کتاب کښې د هغه وخت ژبپوهانو هم ډېره دلچسپي اخسته او په **Leipzig**يونيورسټۍ کښې به ئې د هغۀ ليکچرې اوريدې چې پکښې نوموړي ژبپوهان لکه ليونارډبلوم فيلډ، فرډيننډ ډي ساسور او ايډورډ باؤز شامل وو۔ لکه د مثال په توګه د بلوم فيلډ د ګريمر د جوړښت تجزيه د ګريمر په اوسنو نظريو کښې هم ډېر اهمه ده۔ دغه شان ډي ساسور د**langue** او**Parole** کښې فرق ښکاره کړو چې تر اوسه پورې منلے شي۔ اګرچې**Wundt experimentalist**وو هغه د تجرباتي نفسياتو پلار ګڼلے شي ۔ هغه دا اندروني ذهني حالتونو اهميّت هم منلو او ژبه به ئې د دې ذهني حالتونو اظهار ګڼلو هغۀ جمله د ژبې اکائي ګڼله او حافظه او توجّه ئې هغه ضروري او آفاقي خصوصيات اوګڼل چې د جملې جوړؤل د دې پوهه متاثره کوي ۔ د اولني جنګ عظيم نه پس د **Wundt** اثر په کمېدو شو۔([1])

([1] )H. Wind Cowles, psycholinguistics (New York:Springer publishing Company,2011)P:15.

بلوم فیلډ په 1933ء کښې خپل کتاب د **language** په نوم چاپ کړو، او په نفسیاتو کښې**Behaviourism** د یو تحریک په توګه اوچلېدو ، دا یو داسې تحریک وو چې دا نظریه ئې لرله ، چې مونږ د انساني ذهن د کار په حقله صرف سوچ کولے شو۔ په دې وجه د نفسیاتو پوهانو له پکار دي چې د انساني رویّو د ورچنیز ظهور د مطالعې پورې ځان محدود اوساتي ۔د دې نظریې پلویانو دا تجویز کړه چې سوچ په ژبه باندې انحصار کوي، او سوچ د وینا یو ذیلي شکل دے۔([1])

د**behaviourist** روایت د ټولو نه مشهور پوهان**B.F skinner** وو چې په **1957**ء کښې ئې د**Verbal Behaviour** نظریه پیش کړه چې د هغې مطابق ژبه یو ذهني څیز نۀ دے بلکې یو**verbal** رویّه ده۔د**Conditioning theory** مطابق **Verbal behavior** هم د **Classical**او **operant Conditioning** په طریقه زده کولے شي۔ په کومو کښې چې تحریک ورکونکے عمل او د هغې نتیجه په تجربه باندې زده کولے شي۔([2])

سکنر او د هغۀ ملګري وائي چې زده کړه یا رویّه کښې بدلون د یو خاص عمل لاندې وي چې ورته**Operant Conditioning** وئیلے شي۔ دې ځاے د**Operant** نه مُراد دے په خپله مرضئ او په

([1]) John Field, psycholinguistics the key concepts (London and New York : Routledge Taylor and Francis Group Reprint, 2005)P:30.
([2]) H. Wind Cowles, psycholinguistics (New York:Springer publishing Company,2011)P:16.

خپله خوښه یوه رویّه اختیارول۔ دا د زده کونکي ماشوم یا بنده د خپلې خوښې او مرضۍ کاروي۔ او د چا هېڅ څۀ زور زیاتے ورسره نۀ وي۔ زده کونکے په رویّه کښې بدلون د څۀ سزا یا جزا په وجه راولي او بیا دا عادت جوړ شي۔ دوي دا هم وائي چې مونږ په پښتو او د یو څیز د غږ یا لفظ سره د تړون په ذریعه زده کړه کوؤ ۔ لکه مونږ ماشوم له بسکټ ورکوؤ نو ورسره دا هم وایو چې بسکټ واخله په دمه دمه ماشوم د دغه ککوړي د پاره د بسکټ لفظ مقرّر کړي او دغه شان دا سلسله روانه وي۔ تریووخته پورې د سِکنر دا خبرې خلقو منلې ۔

د نفسیاتي ژبپوهنې باقاعده آغاز په **1951**ء کښې اوشو کله چې په **Cornell university** کښې د سوشل سائنس ریسرچ کونسل یو اجلاس اوشو او د ژبپوهنې او نفسیاتو یوه کمیټې جوړه شوه ۔ او**Charles osgood**ئې چیئرمېن مقرر کړے شو۔ په **1953**ء کښې په **Indiana university** کښې د**Linguistic institute** یوبل سیمنار اوشو۔ دا سیمنار په نفسیاتي ژبپوهنه د وړومبني کتاب د چاپولو بنیاد جوړ شو۔ د دې کتاب نوم وو:

**Psycholinguistics: A Survey and theory of Research Problems.**

په دغه وخت کښې به ژبپوهانو د ژبو په **taxonomic analysis** باندې زور ورکولو۔ یعنې د هغوي بنیادي مقصد به د ژبو بنیادي خصوصیاتو ویشنه کول وو۔ چې کله به د دغه وخت ژبپوهان یوې نوې ژبې نه خبر شو نو د هغوي د تجزیې دا طریقه وه چې هغوي به

دغه ژبه د **native** ويونکو نه واوريده. او د دې ژبې د غړ اکائۍ به ئې اوپېژندې او بيا به ئې نورو غټو اکائيانو کښې دا غړونه ويشل . مشهور ژبپوهان ايډورډ سيپر يوه پيپر " **The psychological Realily of phonemes**"اوليکله په دې پيپر کښې دۀ اووئيل چې د ژبې د طبعې اړخ نه زيات په ذهني اړخ زيات زور ورکول پکار دي. دغه وخت د نفسياتو ماهر**Karl Lashley** هم يوه پيپر " **The problem of Social order in behaviour**" په نوم اوليکله . او په **associative chaining**باندې ئې ټکونه اوکړل. دغه وخت د ژبپوهانو او نفسياتو د پوهانو دا عام خيال وو چې ژبه د بېلو بېلو روّيو يو نظام دے چې مشاهده ئې کېدے شي ، تقسميدے شي او په يو غړي کښې د يو شان روّيو د يوې سلسلې په توګه کار کوي چې په ماشوموالي کښې په**Conditioning** باندې پېدا کولے شي . د مشروطيّت دا اُصول د ټولو زنده سرو د زده کړې عام اُصول اوګڼلے شول . ([1])

دا نظريه د **1950**ء په لسيزه کښې د **Massach usetts Instilute of technology** پروفېسر نوم چامسکي چيلنج کړه او د انساني ژبې په حواله ئې يوه بېخي نوې نظريه رامخې ته کړه. دے وائي چې د ژبې زده کړه يو ذهني قوّت دے هر انسان د ادراک يو ذهني قوّت

([1]) Eva M.Fernandez and Helen smith Cairns, Fundamentals of psycholinguistics (west sussex uk:wiley Blackwell A John wiley and sons Ltd publications,2011)P:20-21.

لري چې کله هم هغه څۀ نوې خبره اوري يا ويني نو هغه دا خبره په خپل ذهن کښې موجود د زوړ علم سره ميچ کوي او دغه شان د خپل ذهن په زور دا زده کړه کوي۔ د دې ډلې دا خيال دے چې ماشوم ژبه د ذهني ادراک په وجه زده کوي۔ هره ژبه خپل څۀ اُصول لري او هر ماشوم په پېدائشي توګه ځان سره د ذهني ادراک طاقت راوړي او هغه په خپل ذهن کښې د دې ګډو وډو آوازونو يا غږونو خپل څۀ ذهني اُصول يا ګريمر جوړوي او د دې ګريمر اطلاق په هغه آوازونو او غږونو کوي ۔ کوم چې د هغۀ مزغو ته رارسي۔ دا ذهني ګريمر د هغه د ذهني ادراک يوه حصه وي او څۀ چې د هغۀ مزغو ته د غوږ په لاره راځي هغه د دې ټولو موازنه يا مقابله د هغه ګريمر سره کوي کوم چې د هغۀ په ذهن کښې وي ۔

چامسکي په **1957**ء کښې دا نظريه هم پېش کړه ، چې که ځوک په انساني ژبه پوهېدل غواړي۔ نوهغوي له پکار دي چې د وينا تجزيه نۀ کوي بلکې د اُصولو د هغه سيټ څېړنه کوي کوم چې زمونږ په ذهن يا مزغو کښې پروت دے۔ او په ذهن کښې پراته دغه اُصول د ويناوي ژبې سبب ګرځي۔([1])

چامسکي وائي چې انسانان د مختلفو کارونو کولو يو پېدائشي قوّت سره پېدا شوي دي۔ او يو پېدائشي قوّت پکښې د ژبې هم دے ۔

([1] )Eva M.Fernandez and Helen smith Cairns, Fundamentals of psycholinguistics (west sussex uk:wiley Blackwell A John wiley and sons Ltd publications,2011) P:21.

چامسکي د دغه ژبني ابتدائي علم " **Innate Language knowledge**" ته د "**Language Acquisition Device**" یعني **LAD**نوم ورکړے دے ـ چامسکي دا هم وائي چې د مختلفو کارونو د پاره دا پېدائشي قوتونه په یو بل انحصار هم نۀ کوي، لکه د ژبې په حقله هغه وائي چې د ژبې د زده کړې د پاره صرف پېدائشي قوّت کافي دےـ او د څۀ حسابي یا منطقي علم ضرورت نشتهـ([1])

یقیناًچې د چامسکي د ژبې د زده کړې په حقله دا تصوّر د نفسیاتو د پوهانو د خیال اپوټه وو ، خو بیا هم څۀ نفسیات پوهان په دې پوهه وو چې د چامسکي خبره کښې وزن شته او د چامسکي خیالات د ژبې د زده کړې په نفسیاتي مطالعه تطبیق کېدے شي ، په دې پوهانو کښې یوجارج ملر(**George Miller**)هم ووـ جارج ملر د مضمونونو په یوه سلسله کښې هغه ټولې خبرې اوچېړلې په کومو چې ژبپوهان او د نفسیاتو پوهان یوکېدے شي.

په **1961**ء کښې ژبپوهان **Sol saports** په نفسیاتو او ژبپوهنه باندې یو بل کتاب د سوشل سائینسز ریسرچ کونسل کمیټۍ په مرسته چاپ کړو، د دې کتاب نوم

**Psycholinguistics A book of Readings**

وو۔ په دې کتاب کښې ئې د چامسکي او ملر نه علاوه د روایتي ژبپوهانو او نفسیاتو پوهانو مضمونونه هم شامل کړل ، د دې

([1] ) Danny D steinberg, psycholinguistics mind and world fourth Edition (London and New York: Longman, 1988 )P:94.

کتاب چاپ کولو سره د نفسیاتو د پوهانو او د ژبپوهانو ترمېنځه یو تود بحث شروع شو ـ چې یوې عشرې پورې جاري وو۔ او آخره کښې دواړو ډلو د چامسکي خبره اومنله چې ژبه په ذهن کښې یو**abstract** نظام دے او دا خاصیّت صرف په انسانانو کښې موندے شي۔([1])

د **1980**ء د آخري او د **1990**ء د لسیزې د شروع راهیسې په **Psycholinguistics**کښې ژبپوهانو او د نفسیاتو د ماهرانو یوه نوې دلچسپي واخسته او نن سبا د دې مضمون ماهران نۀ صرف په ژبپوهنه او نفسیاتو ځان پوهه کوي بلکې دې سره سره په نورو مضمونونو لکه نیوروسائنس کمپیوټر سائنس او**Cognitive Science** هم ځان پوهه کوي۔ ځکه چې دې علمونو نفسیاتي ژبپوهنې له نۀ صرف د جدید نه جدید علم بلکې د څېړنې ډېرې آلې او زریعې هم ورکړې دي۔([2])

نن سبا نفسیاتي ژبپوهنه یو**multi-disciplinary** میدان دے.
چې پکښې **Speech Science,** ،**Cognitive Psychology**
،**Theoritival Linguistics**، صوتیات،**Computer modelling,**،

([1] )Eva M.Fernandez and Helen smith Cairns, Fundamentals of psycholinguistics (west sussex uk:wiley Blackwell A John wiley and sons Ltd publications,2011)P:22
([2] ) H. Wind Cowles, psycholinguistics (New York:Springer publishing Company,2011)P:17.

**Clinical Linguistics neurolinguistics pragmatics** او**discourse anlysis** شامل دي۔[1]

دا ټول اړخونه د نفسياتي ژبپوهنې په حواله مطالعه کولے شي او ډېرې ګټورې نتيجې ئې راوُتي دي۔

ټولنيزه ژبپوهنه او نفسياتي ژبپوهنه نن سبا د ژبپوهنې دوه غټې غټې څانګې دي چې ډېرې څړګې او غوټې ئې سپړدلي دي۔ ډېرې څېړنې پکښې شوي دي او مخ په وړاندې تلي دي او د انسانيّت په خدمت کښې لګيا دي۔

❋ ❋ ❋

([1])John Field, "Psycholinguistics" in Routledge Handbook of Applied Linguistics Reprint Ed: James Simpson (London,and New York: Routledge Taylor and Francis Group 2005)P:473.

# اووم باب

# د ژبپوهنې نور قسمونه

ژبپوهنه اوس یو ډېر ژور او فراخه علم دے۔ دا اوس په ډېرو ځانګو کښې ویشلے شوے دے۔ په مخکښې بابونو کښې د دې په غټو ځانګو لکه تاریخي ، توضیحي ، تقابلي، تطبیقي ، فونیټکس، فونولوجي، سوشیولینګوسټکس او سائیکولینګوسټکس خبره شوې ده ، په دې باب کښې به د دغو نه علاوه د نورو ځانګو پېژندګلو کولے شي۔په یو وخت کښې ژبپوهنې ته فلالوجي وئیلے کېدل د فلالوجي تعریف لاندې ورکولے شي ۔

## (1)فلالوجي:

**Philology**د یونانۍ ژبې لفظ **Philologia**نه جوړ دے چې مطلب ئې دے د لفظونو سره مینه کول۔ او د دې اصطلاحي مطلب دے د ادب په ذریعه یو ثقافت مطالعه کول ، د دې بل تعریف داسې هم کېدے شي چې :

فلالوجي د ژبې او ادب دواړو مطالعه ده۔ د ګرامرد صوتیاتو او د ژبې د ساخت نه علاوه فلالوجي کښې ادبي تنقید، ایتمالوجي او د لرغونو کلاسیکي ژبو مطالعه هم شامله ده ۔

بیا څهٔ وخت پس ژبپوهنې ته د ګلوټولوجي نوم هم ورکړے شو ، ژبپوهنې ته ګلوټولوجي ولې وئيل کېدل دا به د ګلوټولوجي د تعريف نه واضحه شي.

## (2)ګلوټولوجي :

ګلوټولوجي د ژبپوهنې دويم نوم دے ، ګلوټولوجي د يونانۍ ژبې (the tongue + logy) نه جوړ دے ، د دې مطلب دے د ژبو سائينسي څېړنه۔[1]

د ژبپوهنې سائينسي علم ته هم ګلوټولوجي وئيلے شي يعنې د ژبپوهنې مطالعه يا د يوې مخصوصې ژبې يا ژبو منظّمې مطالعې ته ګلوټولوجي وئيلے شي۔[2]

لاندې د ژبپوهنې څهٔ نور قسمونه ورکولے شي۔ دا ويش څهٔ منطقي نۀ دے ما د خپل کم فهم مطابق د ژبپوهنې دا ښاخونه او ذيلي ښاخونه په لاندې طريقه ويشلي دي۔

## د نظرياتي ژبپوهنې قسمونه :

د نظرياتي ژبپوهنې په څهٔ قسمونو لکه ګرائمر، فونيټکس، فونولوجي ، صرف ، نحو او معنياتو مونږ په څلورم باب کښې خبره کړې ده دلته د نظرياتي يا عمومي ژبپوهنې د نورو قسمونو پېژندګلوکولے شي

(1) http://www.encyclo.co.uk/webster/G/36(accessed February 23,2015).
(2 )http://www.wordinfo/words/index/info/view-unit/921/2(accessed February 28/2015).

# Pragmatics(1)

**Pragmatics** د سیاق سباق د معنو مطالعې ته وائي ، دا په مخصوصو حالاتو کښې مخصوص اظهارِ خیال سره تعلق لري، د ژبې معاشرتي سیاق سباق د دې په تشریح اثر غورزوي۔ یا به داسې اووایو چې **Pragmatics** د ژبې د استعمال سره تعلق لري نۀ چې د ژبې ساخت سره ۔

**Pragmatics** د انساني ژبې د مطالعې یو جُز دے او په دې وجه د ژبپوهنې یو ښاخ دے **Pragmatics** د لفظونو د معنو د مطالعې سره تعلق لري۔([1])

**Fasold**په **1990**ء کښې د **Pragmatics** تعریف داسې کوي۔د معنې د استخراج د پاره د سیاق وسباق مطالعې ته **Pragmatics** وئیلے شي ، د مثال په توګه یوه جمله چې "زما سرخوږ شو" یا "زما سر خوږیږي " د سیاق وسباق په لحاظ ګڼې معنې لري لکه:

که دا جمله یو مریض ډاکټر ته اووائي ، نو د دې مطلب دا دے چې ماته څۀ دارو اولیکه ۔که یوه مور ئې خپل یو شپاړس کلن زوي ته اووائي نو مطلب دا چې هغه دومره تېز میوزک لګولے دے چې د مور ئې په سر درد شو۔

---

([1] ) Siobhan Chapman,Pragmatics(New York :palgrave macmillen, 2011)P:1

که دوه دوستان ئې يو بل ته اووائي نو مطلب دا چې تيره شپه ئې ټوله په پارټئ کښې وينښه تېره کړې ده او اوس ئې په سر درد دے ، او داسې نور۔

يعنې د سر درد په مختلف سياق سباق کښې مختلفې معنې لري۔([1])

## Discourse Analysis(2)

د يوې جملې نه سېوا په ډېرو جملو مشتمل وېناوي يا ليکلي متن مطالعې او تجزيې ته **Discourse analysis** وئيلے شي۔ ډسکورس انالسيز د دې متن ګرامري ، فونولوجيکل ،**lexical** او معنوي اړخونه مطالعه کوي۔

د **Discourse** تعريف مونږ داسې هم کولے شو.

د يو لفظ يا يوې جملې نه زيات د ژبې تنسته لکه يو ليکلے پيراګراف يا وېناوي خبرو اترو ته **discourse** وئيلے شي ، دې ځاے کښې **discourse** يو ليکلي متن د پاره هم استعماليږي .

د ډسکورس ګڼ قسمونه دي ، لکه په کلاس روم کښې د اُستاذ او شاګردانو خبرې اترې چې ورته **Classroom discourse** وئيلے شي۔ دغه شان د طب ليکلي متن ته **medical discourse** وئيلے شي او د قانون ليکلي متن ته **legal discourse** وئيلے شي۔ د دې نه علاوه د خاص سياق وسباق متنونه هم کېدے شي چې د ټولنې د

---

([1] )Anne O Keeffe, et all introducing Pragmatics in use, (London and New York: Routledge , 2011)P:1-2.

مختلفو خلقو مختلف حالتونه او تعلقات بیانوي ، د دې قسمه متونو تجزیاتي مطالعې ته **discourse Analysis** وئیلے شي ۔

## Lexicography(3)

**Lexicography** د ژبپوهنې هغه ښاخ دے ۔ چې د یوې ډکشنرۍ د تیارۍ ټولې طریقې مطالعه کوي۔ د**Lexicography** د سائینس ټولې مرحلې لکه ډیزائن ، ترتیب کول ، او ذخیره یعنې **Corpus**راټولول په دې کښې شاملې دي ، دا هغه سائینس دے چې د ډکشنرۍ د نحو او عمومي ساخت سره تعلق لري۔([1])

## :Lexicology(4)

د **lexicon** یعنې لغاتو سائینسي مطالعې ته**lexicology** وئیلے شي۔([2])

اوس**lexicon** څۀ ته وائي ۔

زمونږپه**memory bank** یعنې مزغو کښې چې د مارفیم کومه ذخیره وي هغې ته **lexicon**وئیلے شي ، مارفیم د یو غږ او یوې معنې یو ځاے کېدو ته وائي یعنې داسې غږ چې معنې لري۔([3])

## :Prescriptive Linguistics(5)

**Prescriptive** ژبپوهنه دا مطالعه کوي چې د ژبې استعمال

([1] )notegoogle.com/lexicography (accessed June 21,2016).
([2]) www.mpi.nf/world/materialn/publication/klein/147-2001-Lexicology-and-lexiwgraphy.pdf(accessed June 21,2016).
([3] )Philip Carr, phonology (London:the Macmillan Press Ltd, 1993)P:103.

ښکلې پکار دے۔ نۀ چې ښکلې په حقيقت کښې استعمالولے شي، د صحيح فونولوجي، مارفالوجي، نحو، او معنياتو د استعمال مطالعه کوي۔

## Probabilistic Linguistics(6):

د دې قسمه ژبپوهنې تعريف مونږ داسې کولے شو۔د ژبې په پوهه او وئيلو کښې غالب قياس او ګمان هم ډېر مهم کردار ادا کوي ، په زده کړه کښې قياس په عموميّت او جزونو کښې تقسيمولو کښې کردار ادا کوي ، په غږ پوهنه او صرف کښې قياس په قبوليّت ، اندازه لګولو او بدلون کښې کردار ادا کوي ۔ او په نحو او معنياتو کښې په قياس د لفظونو په ټولګو جوړولو کښې کردار ادا کوي ، د دې نه علاوه د ژبې په بدلون کښې هم قياس مهم مقام لري۔([1])

## Morphemics(7):

د يوې ژبې د مارفيم د تشريح مطالعې ته **Morphemics** وئيلے شي ۔

## Morphophonemics(8):

د مارفيم او غږونو ترمېنځه تعلق مطالعه کولو ته **Morphophonemics**وئيلے شي۔

([1] ) Probabilistic Linguistics (Preface),eds:Rens Bod et all, (Cambridge: The MIT press, 2003)bookfi-e-book.

## :Phonemics(9)

د غږ وړو وړو اکائیانو یعني فونیم مطالعې تشریح او توضیح ته **Phonemics**وئیلے شي ۔

## :Phonotactics(10)

د ژبپوهنې دا ښاخ دا مطالعه کوي چې د یوې مخصوصې ژبې غږیځ نظام څۀ څۀ خاصیتونه لري او څۀ خاصیتونه نۀ لري۔(1)

## :Tagememics(11)

د یوې ژبې د وړو وړو ګریمري اکائیانو مطالعه کولو ته**tagememics** وئیلے شي۔

## :Tonetics(12)

د یوې ژبې د غږپوهنې سائینس او **tonc**مطالعې ته **tonetics**وئیلے شي۔

## :Ortheopy(13)

په یوه ژبه کښې د لفظ د صحیح تلفّظ مطالعې ته **ortheopy**وئیلے شي۔

## :Etgmology(14)

د لفظونو د تاریخ او **origin**مطالعې ته **etymology**وئیلے شي۔

(1) uf al . mH.Cuni. Cz/xana/teaching /2015/Ding/04-Phonology ,Pdf. (accessed octuber 4rth, 2016)

## :Onomastics(15)

د نومونو**origin** مطالعه کولو ته**onomastics** یا **onomasiology**وئیلے شي۔

## :Vocalism(16)

په هره ژبه کښې د واولز شمېره د هغه ژبې د مزاج مطابق بېله بېله ده۔ په یوه ژبه کښې د واولز د غږونو مطالعې ته **Vocalism**وئیلے شي۔

## :Graphemics(17)

د ژبپوهنې هغه څانګه چې د یوې ژبې د لیکلې شکل مطالعه په کښې کولے شي۔ دې ته**Graphalogy** یا **Graphonomy**هم وئیلے شي۔([1])

## :Graphophonemics(18)

د یوې ژبې د غږونو او د غږونو د پاره د لیکلو شوؤ علامتونو تعلق مطالعه کولو ته ګرافو فونیمکس وئیلے شي۔

## د تطبیقي ژبپوهنې ذیلې ښاخونه :

د تطبیقي ژبپوهنې په دوؤ غټو ښاخونو**Sociolinguistics** او**Psychulinguistics** مونږ په شپږم باب کښې خبره کړې ده ، یو څۀ نورو ښاخونو پېژندګلودلته کولے شي۔

---

([1] ) grammar.about.Coa/od/fb/fl/graphemics-writing/system.html(accessed octuber 4rth, 2016)

## Contrastive Linguistics(19):

دا د تطبيقي ژبپوهنې يوه څانګه ده په دې کښې د ژبو د دې د پاره پرتليزه يعنې **Comparative** څېړنه کولے شي چې د ژبو په منځ کښې فرقونه مطالعه کړے شي۔([1])

## (20)تعليمي ژبپوهنه: Educational Linguistics

تعليمي ژبپوهنه په تعليم کښې د ژبې د استعمال او د ژبې د زده کړې سره تعلق لري دا يو ډېر فراخه مضمون دے کله چې مونږ د ژبې په منصوبه بندئ بحث کؤو نو مونږ د **Acquisition Planning** خبره خامخا کوؤ۔**Acquisition Planning** صرف په ساده توګه د ژبې تدريس نۀ دے۔ په خصوصي توګه په سکولونو کښې د ژبې تدريس د ژبو د خورونو يوه مهمه ذريعه ده ۔خو د ژبې تدريس آسان کار نۀ دے ۔دا يو پيچيده نظام دے چې د تطبيقي ژبپوهنې ځنې څانګې د**Foreign Lanuage Teaching** يعني **FLT** او **Second Language Teaching** يعني**SLT** او د کلاسيکل او مړو ژبو د تدريس سره تعلق لري۔([2])

---

([1]) Jean Aitchison,Linguistics,(uk:teach yourself,2003)P:172.
([2]) Tariq Rahman,Linguistic for Beginners Basic Concepts(oxford :oxford university press,2010)P:176.

## (21)Stylistics اسلوبيات:

د نورو نه په جُدا طريقه د وينا يا د ليک انداز ته ستائل وئيلے شي او د دې ستائل مطالعې ته**Stylistics** وئيلے شي**Stylistics** زيات تر د ادبي ژبې په تجزيه باندې زور ورکوي ،لکه د مثال په توګه د يو اديب يا ليکوال د ژبې د ستائل تجزيه يا د يو ادبي صنف لکه ناول ، ډرامې يا افسانې يا د يو نظم د ژبې تجزيه۔([1])

**Stylistics**نۀ صرف د ادبي متنونو د ژبې تجزيه کوي۔ بلکې د عامو خلقو د ويناوي ژبې تجزيه هم کوي ، چې عام خلق د ژبې استعمال څنګه کوي ، په مخصوصو حالاتو کښې دوي د ژبې د بې پاياوه ذخيرې نه کوم کوم لفظونه د خپل اظهار د پاره چوڼ کوي.

د اسلوب يا**Stylistics** دوه قسمونه دي

عام اسلوب **General Stylistics**

ادبي اسلوب **Literary Stylistics**

عام اسلوب د عامو خلقو د وينا وي يا غير ادبي متنونو د ژبې تجزيه ده ـ

کرسټل او ډيوي په خپل کتاب " **Investigating English style**"کښې د ژبې د تجزيې يوه طريقه ليکلې ده۔ دا تجزيه په پينځو مرحلو کښې سر ته رسولے شي :

**(1) Phonetic / graphetic**يعنې د غږ په سطح

([1] )Joan Swann et all , A Dictionary of Socioiagustics (Edin burgh : Edinburgh university press, 2004 )P:301.

**(2) Phonological/graphological**يعنې په فونولوجيکل سطح

**(3) grammatical**يعنې د ګريمر په سطح

**(4) Lexical**يعنې په لفظي سطح

**(5)Semantics** يعنې د معنې په سطح

او د دې نه علاوه ئې غېر ژبني حالات هم په ګوته کړي دي لکه لهجه، وخت، وينا يا ليک ، د سرګرمۍ قسم او ټولنيز تعلقات ، د دې اړخونو نه د عامو خلقو د ويناوي ياليکلي ژبې تجزيه هم کېدے شي۔([1])

## (22)Text linguistics:

د يوې ژبې د مختلفو متنونو د سټائل او جوړښت مطالعې ته **text-linguistics**وئيلے شي ۔

## (23)Cognitive Linguistics

**Cognitive Linguistics** د ژبې مطالعه کولو يو نوې اپروچ دے چې ژبنے علم د عمومي ادراک او سوچ يوه برخه ګڼي ، ژبنۍ روّيه د نورو عمومي روّيو او ادراکي اهليّت نه جُدا نهٔ ده ، بلکې د عمومي ادراک يوه مهمه برخه ده**Cognitive Linguistics** د **1970**ء په آخر او د **1980**ء په اوائلو کښې شروع شوے دے ، او په خصوصي توګه د جارج ليکوف د کار نه شروع شوے چې د**Generative Semantics** باني دے. او**Ronald Langacker**

---

([1] ) Elina semino, ”Stylistics“ in the Routledge Handbook of Applied Linguistics, Ed:James Sampson (London and New York: Routledge Taylor and Francis Group/2011).

هم د **Gognitive Linguistics**په**Pioneer** کښې راځي چې مشهور**Generative Linguist** وو۔([1])

په**Cognitive Linguistics** کښې **1970**ء او **1980**ء کښې لږ ډېر کار شوے وو، خو په **1990**ء کښې دے کښې ډیر زیات کار اوشو ، په دې کښې چې کومو سکالرانو کارونه او تجربې اوکړې هغې ځان ته**Cognitive Linguicst** وئیل

په **1989-90**ء کښې **Intternational Cognitive Linguistics Society** جوړه شوه .دې سوسائیټۍ به **Cognitive Linguistics** په نامه جرنل شائع کولو۔([2])

## (24)Neurolinguistics:

نیوروسائینس د اعصابي نظام او په خصوصي توګه د دماغو مطالعې ته وئیلے شي ۔ او نیورولنګوسټکس یا اعصابي ژبپوهنه د ژبې حیاتیاتي او اعصابي بنیادونو مطالعې ته وئیلے شي۔([3])

## (25)Cherology :

د کڼو (هغه خلق چې اورېدل نۀ شي کولے) د اشارو د ژبې جُدا جُدا اکائیانو تشریح او تجزیې ته **Cherology**وئیلے شي۔

---

([1]) http://nilarigil.files.word press.com/2010/oj/ivaide-cahiers-10-2-pdf (accessed 22-6-16).

([2])Vyvyan Evans and Melanic Green, Cognitive Linguistics An Introduction (Edinburgh:Edinburgh university press, 2006)P:3 bookfi e-book.

([3]) Victoria Fromkin et-all, An Introduction to language (Australia : Thomsons, 1996)P:29.

## :Clinical Linguistics (26)

د کلینکل ژبپوهنې اصطلاح ډېوډ کرسټل په **1981**ء کښې په خپل کتاب کښې چاپ کړه ـ هغه د کلنیکل ژبپوهنې تعریف داسې کوي :ـ

په طبابت یا میډیکل کښې د ژبې فرق یا نقص ته د ژبني سائینس **Linguistic Science** اپلائي کولو ته **Clinical Linguistics** وئیلے شي ـ ډېوډ کرسټل وړاندې وائي ـ چې د ژبې په نقصونو د ژبپوهنې نظریې او طریقو اپلائي کولو ته کلنیکل ژبپوهنه وائي ([1])

په کلینیکي ژبپوهنه د نن سبا نړیوال د څېړنو مرکزونو کښې بحثونه کېږي په **1991**ء کښې **International Clinical phonetics and Linguistic Association** قائم شو ، د دې د دفتري رسالې باني مارټن بال دے ، او دا رساله هره میاشت چاپ کولے شي ـ د دې نه علاوه په **GroningenMillan-Biococca, Potsdam,** او **Joensuu**یونیورسټو نه په کلینکي ژبپوهنه کښې **European Masters in Clinical Linguistics (EMCL)** په نوم د ماسټر لیول ډګري هم تر لاسه کېږي په دې ماسټر پروګرام کښې د

([1] ) Martin J Ball et all (ed),The Handbook of Clinical Linguistics (Malden USA:Blackwell publishers,2008)P:xxiii.bookfi e-book.

"**The Science of Aphasia**" په نوم سالانه نړيوال کانفرنس هم کېږي۔ د دې نه علاوه د يورپ په يونيورسټو کښې

**Department of speech disorder, Department of Speech and CommuniCation disorder** و **Department of the Science and disorders of Communication** په نوم ډيپارټمنټونه هم شته۔([1])

## :**Forensic Linguistics(27)**

په قانوني او عدالتي مسئلو باندې د ژبپوهنې اطلاق ته **Forensic Linguistic** وئيلے شي ته **Forensic Linguistic** اصل کښې د ژبپوهنې او قانون يو ځاے کېدل دي چې پکښې د قانون نفاذ هم شامل دے۔([2])

**Forensic** د انګريزۍ ژبې لفظ دے چې مطلب ئې دے عدالتي يا عدالت سره متعلق ، دا د تطبيقي يعنې **Applied Linguistics** يوه څانګه ده۔ عدالتي ژبپوهنه د عدالتي مقصد د پاره د ژبې په پوهه او مطالعه باندې زور ورکوي۔ عدالتي ژبپوهنه د انصاف په نظام کښې په هغه مشکلاتو خبره کوي چې ژبپوهان او وکيلان ئې خپلو کښې لري

([1] ) www. Luv .es/artesay-humani dades/analysislinguistics/1-3/12400/ Matso1.1st eng.pdf (accessed June 27,2016).

([2] )www.thotext.co.uk/what-is-forensic-linguistics.pdf (accessed june 21, 2016).

## (28)Anthropological Linguistics:

اينتهرويولوجيکل لينګوسټکس د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې دا مطالعه کوي چې په يوه ټولنه کښې ژبه انسانانو په ژوند کښې څۀ کردار ادا کوي ـ لکه قيصې بيانول، راشه درشه، چاله عزت ورکول، چاته څۀ خبره کول ، د چا بې عزتي کولو، د چاتعريف کول، چاته دعا کول، لوستل ، په عدالت کښې بيان ورکول، ټوسټ جوړول او په يوه سياسي ايجنډه خبره کول ، يعنې د ژوند هغه اړخونه چې ژبه پکښې مهم کردار ادا کوي۔([1])

## (29) Ethnolinguistics

**Ethnolinguistics**او **Anthropological Linguistics** هغه ښاخ دے چې د يوې ژبې او د دې د ويونکو د ثقافتي بيوهار سره خپلو کښې اړيکې مطالعه کوي**Ethnolinguistic** کښې**Ethno**لفظ د **Ethnology**نه اخستے شوے دے۔ **Ethenology**د کلچريا ثقافت سائينس ته وئيلے شي **Ethnolinguistics** دا مطالعه کوي چې د يوې ژبې لغات د دې ثقافت د طبعي او ټولنيز اړخ څومره عکاسي کوي۔د**Status** او**gender** په حواله د ژبې او سوشل ټولګو ترمېنځه تعلّق مطالعه کوي ، دغه شان د يوې ژبې مخصوص عادتونو او رويّو سره تړلي ژبه لکه خبرېخبر راشه درشه او د ماشومانو ژبه هم مطالعه

([1]) Alessandro Duranti,Linguistic Anthropology ideas and issues in Linguistic Anthropology A Reader Reprint Ed:Alessandro Durranti (Malden USA:Blackwell Publishers,2003)P:1.

کوي ، داسې یو قسم له د ژبپوهنې دا څانګه د بشرپوهنې او ټولنيزې ژبپوهنې دواړو سره مضبوطې اړيکې لري.([1])

## Ethnosemantics (30):

د يومخصوص ثقافتي او ژبني ګروه د ژبني ويش مطالعې ته ethnosemantics وئيلے شي. يعنې يو مخصوص ثقافتي ټولګې د مخصوصو معنو د پاره کوم لفظونه استعمالوي. په دې کښې مقامي بوټو او ځناورو د پاره استعمالېدونکي لفظونه او اصطلاحات شامل دي.([2])

## Semiotics(31)

لفظSemiosis په اول ځل Charles.S.pierce استعمال کړے وو Semioticsد علامتونويا نشانو مطالعې ته وئيلے شي چې د تعريف په لحاظ بامعني نخښې نشانې وي خو ضروري نۀ ده چې ژبني دې وي ژبنۍ معنيات د هغه نخښو مطالعه کوي چې په خصوصي توګه د ژبې معنو سره تعلق لريSemiotics ته Semiosis هم وئيلے شي.([3])

## Anthroposemiotics(32)

اينتهرويو سيميوټکس په خصوصي توګه د هغه ابلاغي

---

([1]) John swann et-all, A Dictionary of Sociolinguistics (Edinburgh: Edinburgb university press, 1986)P:102.

([2])John swann et-all, A Dictionary of Sociolinguistics (Edinburgh: Edinburgb university press, 2004)P:103

([3]) M.Lynne Murphy and Any Koskela, key Terms in semantics (London: Continuuns International publishing Group, 2010)P:3.

علامتونو مطالعې ته وئيلے شي چې انسانان ئې په خپل ژوند کښې استعمالوي۔([1])

## :Ecolingusitics(33)

چې کله**Einar Haugen** په **1970**ء کښې د " **Ecology of Language**"مثال ورکړو نو هغه وخت هغه په ډېرې ژبې ويونکې ټولنه کښې د انسان د ذهن او چاپېريال ترمېنځه تعلق ته اشاره کوله ۔ په ورپسې عشرو کښې د ماحولياتو د اطلاقاتو ساحه ډېره فراخه شوه۔

**Discourse analysis, Pragmatics, Anthropological Linguistics** نظرياتي ژبپوهنې، د ژبې تدريس او د ژبپوهنې نورو ګڼو څانګو د ماحولياتي ژبپوهنې فائدې محسوسې کړې۔ او ماحوليات هم د ژبپوهنې په احاطه کښې راننوتل ، د **1990**ء په اوائلو کښې هغه ټولې خبرې چې په يوه يا بله طريقه د ژبې تعلق د ماحولياتو سره ښائي. ټول په يو ښاخ کښې يو شو چې د**Ecolinguistics** نوم ورته ورکړے شو. د يوې ژبې د لغاتو نه د هغې د ويونکو د طبعې او ټولنيز چاپېريال پته صفا لګي . د يوې ژبې مکمل لغات د هغه ټولنې د خيالاتو، دلچسپو او پېشو يو مکمل فهرست وي او دا لغات د يوې قبيلې د طبعې ماحول او د ثقافت د خصوصياتو يومکمل قاموس وي۔([1])

([1] ) Paul Cobley ed: The Routledge Companion to Semirtics and Linguistics, (London of New York : Routledge Taylor of Francis Group, 2001)P:154.

سوشیولنګوسټکس د ژبپوهنې یوه غټه څانګه ده د دې څانګې څۀ ذیلي څانګې هم دي چې لاندې ئې ذکر کولے شي۔

## (34)Interactional Sociolinguistics:

دا د سوشیولنګوسټکس یوه غټه څانګه ده چې په خصوصي توګه د**John Gumperz** او د هغۀ د ملګرو د کار سره تعلّق لري ، دا په فراخه توګه د ژبې او د یو بل سره د تعلق**Sociolinguistic** مطالعه ده چې پکښې د مخ په مخ خبرونه علاوه د لیکلو خبرو اترو ذریعه او یا د ابلاغ الیکټرانک ذریعه هم شامله ده ، دا مطالعه د یوې ټولنې د غړو په یو بل د اثر غورځولو والا خصوصیاتوپه مطالعه مشتمله ده لکه**Style-shifting , Code-switching , Turn-taking** د وینا انداز او خاموشي۔([2])

## (35)Integrational Linguistics:

د دې تجویز په اول ځل**Roy Harris** ورکړے وو. د **integrational linguistics** مطلب دا دے چې ټول سیاق وسباق سره د ژبې مطالعه اوشي . په دې کښې د ژبې سره سره د رویّو مطالعه هم شامله ده۔([3])

([1]) Alwin File, and peter Muhlhausler Ed: The Ecolinguistics reader Language Ecology and Environment, (London and New York : Continuum, 2001)P:1-2.
([2])Joan Swann et-all, A Dictionary of Sociolinguistics (Edinburgh: Edinburgh university press, 2004)P:148.
([3]) ibid

## :Geolinguistics(36)

د جُغرافيې په حواله د ژبپوهنې د سائينس مطالعې ته **Geolinguistics** وئيلے شي۔

## :Dialectology(37)

د لهجو او د لهجو د خصوصياتو مطالعې ته **dialectology** وئيلے شي

## :Dialeet Geography(38)

د جغرافيائي ويش په لحاظ د لهجو مطالعې ته **Dialect Geography** وئيلے شي۔ دې کښې دا هم مطالعه کولے شي۔چې جُغرافيه د لهجو په ويش څۀ اثر پريباسي ، د يوې لهجې په خورېدو کښې د غرونو سلسله، ځنګلونه يادريابونه خنډ جوړيدے شي.

## :Folk Linguistics (39)

د عام اولس د ژبې او د فولکلور د ژبې سائينسي مطالعې ته فوک لينګوسټکس وئيلے شي۔

## :Sociophonetics(40)

سوشيوفونيټکس په ژبپوهنه کښې اوس اوس متعارف شوے دے د **1990**ء عشرې په نيمه کښې دا اصطلاح چانۀ پېژندہ او کله کله به په صوتياتو کښې استعماليده۔**Foulkes** او**Docherry**په **2006**ء کښې دا اووئيل چې دا اصطلاح اول اوله په **1974**ء کښې

**Deschaies Lafontain** استعمال کړے وه خو وروستو شل کاله به دا کله کله استعمالیده ، او اوس دا د یوې باقاعده څانګې په توګه مطالعه کولے شي.

سوشیوفونیټکس یا ټولنیزه غږ پوهنه په اصل کښې د ټولن پوهنې او غږ پوهنې اشتراک دے۔ د دې غږیځ اړخونه جدیده غږپوهنه ده چې پکښې **accoustic** او**articulatory** تجزیې هم شاملې دي، او په ټولنیزه ژبپوهنه کښې هر هغه اړخ چې په هغې کښې بدلون راځي ، دې کښې شامل دے ، لکه **Stylistics** جغرافیائي، طبقاتي ، نسلي او منفي فرقونه.

سوشیوفونیټکس بدلون او تغیّر د ژبې بنیادي خصوصیّت ګڼي، د یوې ژبې ویونکي خپل چاپېریال سره **adjust** د کېدو د پاره خپل غږونه او آوازونه هم **adjust** کوي ، سوشیوفونیټکس په دې زور ورکوي چې د ژبې ادراکي قوّتونه ژبه جامده نۀ شي ساتلے۔ او د یوې ژبې ویونکي خپلو حالاتو او چاپېریال سره ځان**accomodate** کوي۔([1])

## Paralinguistics (41)

چې کله مونږ خبرې اترې کوؤ نو مونږ مسلسل څۀ اِشارې کوؤ چې زمونږ د جذباتو او ذهني حالت، زمونږ د موډ او رویّو

([1] ) Erik R.Thomas, Sociophonetics, An Introduction, (New York: palgrave Macmillan,2011)P:1-2.

څرګندونه ترې نه کېږي۔ دا د خبرو اترو په موضوع او د مخاطب کس په رشته او مرتبه هم انحصار کوي ، د مخ تاثرات او اِشارې زمونږ د احساساتو حال وائي۔([1])

مونږ د پیرالنګوستهکس تعریف داسې کولے شو چې د ژبې د بنیادي غږئیځ علامتونو او پېغامونو نه علاوه نور غږئیځ او چپ علامتونه او پېغامونه چې د جملې په معنې کښې شدّت یا کمے راولي پیرالینګوستهکس بللے شي د پیرالنګوستهکس دوه قسمه پېغامونه یا نخښې دي۔ غږئیځ او ناغږئیځ، په غږئیځ کښې پچ، **loudness** او **fluency** شامله ده ۔ د دې نه علاوه په خبره کښې د وقفو فریکونسي هم پکښې شامله ده، ولې په ناغږئیځ کښې یا چپ پیغامونو کښې د لاسو پښو، سترګو، رُوزو او سر اِشارې شاملې دي چې مونږ ورته په عامه ژبه کښې **Body Language** هم وئیلے شو، لکه سر ړکول، رُوزې بره کول، سترګې را اوباسل، لاس مروړل ، یا موټې کول ، پښې ړکول او د مخ تاثرات۔([2])

## Kinesics(42)

د **Kinesics** اصطلاح په **1952**ء کښې **Birdwhistell** متعارفه کړه ،**Kinesics** مخ په مخ خبرو اترو کښې د مخ، سر، لاسو او د پوره وجود

([1] )Michael Ashby and John Maiclment, Introducing Phonetic Science (Cambridge :Cambridge university press, 2008)P.
([2] )http://grammar.about.com/od/p2/g/paralinguistic,term.html( accessed February 20,2015).

د حرکاتو مطالعې ته وئیلے شي ، کوم چې د یوې مخصوصې ټولنې غړي د خپل ثقافت نه نېغ په نېغ خبرو اترو د پاره زده کړے وي ۔ ([1])

## **Metalinguistics(43)**:

دا د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې پکښې د یوې ټولنې د ژبې او د ثقافت د نورو عناصرو سره تعلق مطالعه کولے شي۔([2])

**Jacob.L.Mey** په خپل کتاب"**Trends in Linguistics**"

کښې دمیخائیل باختن (**Mithail Bakhtin**) په حواله لیکي چې **metalinguistics** د یوې ټولنې د ژبني تاریخ نوم دے ، میټالنګوسټکس د یو قوم د ویناوي تاریخ یعنې**Speech history** هغه ټول واقعات او بدلونونه مطالعه کوي چې په مختلفو ثقافتونو او دورونو کښې شوے وي۔([3])

په ژبپوهنه کښې چې څومره نوې څېړنې اوشوې هغې کښې د ژبو خپلو کښې تقابلي مطالعې او ژبو تاریخونه هم مطالعه شول چې د نړۍ ژبې په مختلفو ټولګو کښې اوویشلے شول ، د ژبو تاریخ او د ژبو د ویش په حقله د ژبپوهنې څنې څانګې لاندې ذکر کولے شي۔

([1] ) Paul Cobley (ed) The Roultledge Companion to semiotics and Linguistics (London and New York : Routledge Taylor of Francis Group, 2001)P:210.

([2] )http://www.meriam-webster.com/dictionary/metalinguistics (accessed March 1st 2015).

([3] ) http:Hen.wikipedia.org/wiki/metalinguistics (accessed March 1st 2015).

## (44) **Typology** :

دا د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې پکښې ژبې د خپل جوړښت او Functionalخصوصیاتو په لحاظ په مختلفو ټولګو کښې ویشلے شي، د دې درې قسمونه دي :

**(1) Qualitative Typology**

**(2) Quantitative Typology**

**(3) Theoritical Typology**

په اولني قسم کښې د ژبو خپل منځ کښې موازنه کېږي او یوه ژبه کښې دننے تغیّر هم څېړلے کېږي ، په دویم قسم کښې د نړۍ د ژبو په ساختیاتي توګه تقسیم او ویش کولے شي . او په دریم قسم **type** پېژندنه کښې د ویش تشریح کولے شي۔[1]

## **:Biolinguistics(45)**

دا د یوې ژبې د ژوند او د ارتقاء مطالعه ده ۔

## **: Philogeny(46)**

فائیلوجني یوه**biological** اصطلاح ده ۔ چې د یو نوع د ارتقاء یا ذیلي ګروه لکه فائیلم د ارتقاء د پاره استعمالیږي ، په ژبپوهنه کښې **Philogeny** د ژبو د**origin** او د ودې عمومي مطالعه یا د یوې مخصوصې ژبې د پیداوښت او ودې مطالعه ده۔[2]

---

([1]) http:Hen.wikipedia.org/wiki/linguistics typology(accessed March 1st 2015).

([2]) Joan swann et all, A Dictionary of Sociolinguistics, (Edinburgh: Edinburgh university press, 2004)P:238.

## :Linguistic Ontogeny(47)

په آنټوجني کښې د دې خبرې مطالعه کولے شي چې انسان د شیرخوارګۍ د عمرنه واخله د ژوند تر آخري لمحې پورې ژبې سره څنګه اکتساب کوي ، او د دۀ په ژبه کښې څۀ څۀ بدلونونه راځي۔([1])

## :Evolutionary Linguistics(48)

دا د**Psycholinguistics** یو ذیلي ښاخ دے۔ چې د ژبې په ابتدائي دور کښې ټولنیز نفسیات او ثقافتي عنصرونه مطالعه کوي ، د دې څېړنې د ټولو نه غټ خنډ د تجرباتي معطیاتو نیشت والے دے ، ځکه چې ویونکې ژبۀ شاته څۀ **fossil**ریکارډ نۀ پرېږدي د **1980**ء راهسې د ژبپوهنې دې ښاخ په متعلقه نورو ښاخونو لکه نفسي ژبپوهنې، اعصابي ژبپوهنې، ارتقائي بشرپوهنې، ارتقائي نفسیات، یونیورسل ګرائمر او**Cognitine** سائینس کښې د ترقۍ له کبله ډېره وده موندې ده۔

د ژبپوهنې دا ښاخ په دې بحث کوي چې د ژبې ابتدا د کله نه شوې ده ، او بیا د کومو ارتقائي مرحلونه تېره شوې ده ، دا نۀ صرف انساني ژبه بلکې د ځناورو او د مرغو د ژبې مطالعه هم کوي۔([2])

## (49)عتیقاتي ژبپوهنه :Antiquated Linguistics

دا د ژبپوهنې یوه نوې خانګه ده ، چې پکښې د ژبو د عمراندازه

---

( [1]) ډاکټر اشرف کمال، لسانیات زبان اور رسم الخط (فیصل آباد: مثال پبلشرز رحیم سنټر پریس مارکیټ امین پور بازار فیصل آباد ، **2009** ) ص:**139** ۔

([2] )https://en.wikipedia.org/wiki/evolidionary-linguistics (accessed June 22,2016)

لګولے شي ، يوه اندازه ده چې په يوه پيړۍ کښې د يوې ژبې په لغاتو کښې چې څومره فې صده لفظونه بدليږي هغه په قرابت دارو ژبو کښې د لفظونو د اختلاف د مقدار نه معلومولے شي چې دا کله د يو بل نه جُدا شوے د دې نه د يو لساني ټولګي د نقل مکانۍ زمانه هم معلوميدے شي۔([1])

په لساني عتيقياتو کښې د لرغونو ژبو په مدد لرغونې تهذيبونه هم مطالعه کولے شي۔([2])

## :GlottoChronology (50)

دا د ژبپوهنې هغه ښاخ دے ـ چې د يوې ژبې بنيادي لغات لکه د ژوند او روزمرّه کارونو او تجربو سره تړلي لفظونه چې بغير د ثقافت او ويونکو د نړۍ د ټولو انسانانو سره تعلق لري۔ لکه خوړل ، څکل ، اودۀ کېدل، پيدا کېدل ، رنګ کول، د بدن مختلفې حصې لکه سترګه، خولۀ ، سر، عام قدرتي مظهرونه او څيزونه لکه اور، اوبۀ، غر، سپوږمۍ، شخصي ضميرونه، لکه زۀ، تۀ مثبت او منفي جملې د دې آفاقي ټکو نه اول د دوؤ سؤو لفظونو يو فهرست جوړ کړو ، او بيا ئې سلو لفظونو ته راکم کړو، د دې لفظونو د هغۀ د طريقې مطابق د وخت اندازې لګولو ته **glottochronology** يا **lexicostatistics** وئيلے شي. ([3])

---

( [1] ) پروفيسر صفدرعلي، اُردو لسانيات،(لاهور:فاروق سنز**16** الکريم مارکيټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد) ص:**54** ۔

( [2] ) ډاکټر اشرف کمال، لسانيات زبان اور رسم الخط (فېصل آباد: مثال پبلشرز رحيم سنټر پريس مارکيټ امين پور بازار فېصل آباد ، **2009** ) ص:**143** ۔

( [3] ) Theodora Bynon, Historical Lirguistics,(Cambridge:Cambridge university press,Reprint 1990)P:267.

**swadeshوائي چې دا آفاقي لغات په يو مستقل رفتار بدليږي۔**

**د Swadesh د دې لغاتو فهرست دلته راوړے شي۔**

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | زه | 26 | تنا | 51 | سینه | 76 | باران |
| 2 | ته | 27 | خرمن | 52 | زړۀ | 77 | کاڼے |
| 3 | مونږه | 28 | غوښه | 53 | اینه | 78 | شګه |
| 4 | دا | 29 | وینه | 54 | څکل | 79 | ځمکه |
| 5 | هغه | 30 | هډوکے | 55 | خوراک | 80 | ورئیځ |
| 6 | څوک | 31 | غوږوالے | 56 | چک لګول | 81 | لُوږې |
| 7 | څه | 32 | اګۍ | 57 | کتل | 82 | اور |
| 8 | نه | 33 | ښکر | 58 | اورېدل | 83 | ایره |
| 9 | ټول | 34 | لکۍ | 59 | پوهېدل | 84 | سوزېدل |
| 10 | ډېر | 35 | بڼه | 60 | اودۀ کېدل | 85 | لاره |
| 11 | یو | 36 | وینښتۀ | 61 | مړۀ کېدل | 86 | غر |
| 12 | دوه | 37 | سَر | 62 | قتلول | 87 | سُور |
| 13 | لوے | 38 | غوږ | 63 | لامبووهل | 88 | شین |
| 14 | وړوکے | 39 | سترګه | 64 | الوتل | 89 | زیړ |
| 15 | ښځه | 40 | پوزه | 65 | ګرځېدل | 90 | سپین |
| 16 | سړے | 41 | خولۀ | 66 | راتلل | 91 | تور |
| 17 | شخص | 42 | غاښ | 67 | پروت | 92 | شپه |
| 18 | مهے | 43 | ژبه | 68 | ناست | 93 | ګرم |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 19 | مرغۍ | 44 | پنجه | 69 | ولاړ | 94 | یخ |
| 20 | سپے | 45 | پښه | 70 | ورکول | 95 | ډک |
| 21 | سپږه | 46 | ګیتۍ | 71 | وئیل | 96 | ښۀ |
| 22 | وُنه | 47 | لاس | 72 | نمر | 97 | نوے |
| 23 | تخم | 48 | خېټه | 73 | سپوږمۍ | 98 | غونډ |
| 24 | پاڼه | 49 | څټ | 74 | ستورے | 99 | اوچ |
| 25 | جرړه | 50 | اُوږد | 75 | اوبۀ | 100 | نوم |

## :Areal Linguistics (51)

**Trubetzkoy** په **1928** ء کښې یوه اصطلاح "**Sprachbund**"د هغه ژبو د پاره استعمال کړه چې پکښې د شریکې ودې "**development**"د وجې یو شان خاصیتونه مونډے شي او خپلو کښې څۀ موروثي تعلق نۀ وي**Emeneau** په **1956**ء کښې د**Sprachbund** د پاره د دې هم معنې "**linguistic area**" اصطلاح استعمال کړه چې**Sherzer** ئې په **1973**ء کښې داسې تعریف کوي :

داسې علاقه په کومو کښې چې په ویونکو ژبو کښې ژبني خصوصیات یو شان وي ، او مزید دا چې داسې ژبني او غېر ژبني ثبوتونه وي چې د ژبو د ویونکو ترمېنځه تعلق د دغه خصوصیاتو د خپرونو او قېدولو ذمه داروي ، او په دغه علاقه کښې تر څۀ حده د ژبني وحدت هم ذمه وار وي ۔([1])

([1]) Toel sherzer, "Areal Linguistics in North America" in Current trends in linguistics vol 10 Ed:Thomas sebook.(The Haque :Moufon 1973)P:760.

**Areal Linguistics**په **1990**ء کښې زیات څرګند او مشهور د**Eurotype project** یعنې **Typology of Languages in Europe project** د وجې شو په دې فراخه شریک کوښښ کښې سکالرانو دا خبره معلومه کړه چې یورپ تر کومه حده **Linguistic Area** ګڼلے کېدے شي .

اوس اوس ژبپوهان زیات تر په نړۍ کښې د ژبو په علاقائي ویش توجه کوي۔ اوس اوس د**WALS** یعنې **World Atlas of Language Structure** جغرافیائي معطیاتو په تجرباني تجزیه کښې یو نوې اړخ اضافه کړے دے ۔ یعنې د دنیا په نقشه دا ګرامري خصوصیاتو تقسیم ښائي۔ او دغه شان د ګڼو خصوصیاتو د انجذاب ثبوت ورکوي۔ د مثال په توګه په مرکزي افریقه او جنوب مشرقي ایشیاء کښې د ژبو ډېروالے او پیچیده غږئیځ نظام ئې علاقائي انجذاب ته اشاره کوي د نولسمې پیړۍ په آخر او د شلمې پیړۍ شروع کښې د ژبپوهنې په حقله څۀ نوې نظرې او اپروچونه رامخې ته شول چې د ژبپوهنې نوي څانګې جوړې شوې ۔

## Structural Linguistics (52)

ساختیاتي ژبپوهنه د یوې ژبې د بنیادي ساخت مطالعې ته وئیلے شي ، په دې کښې د ژبې په غږونو او لفظي ساخت باندې زور ورکولے شي او د جملې ساخت په پام کښې نۀ نیولے کېږي۔ او نۀ د لفظونو معنو ته څۀ خاص پام کولے شي ۔ ساختیاتي ژبپوهنې په امریکه کښې د نولسمې پیړۍ په آخر او د شلمې پیړۍ په شروع کښې وده اوموندده بلوم فیلډ ساختیاتي

ژبپوهنې ته یوبنیادي شکل ورکړو د دې نه علاوه ایډورډسیپر، بینجمن لي وورف او زیلیګ هیرس د ساختیاتي ژبپوهنې نوموړي پلویان وو.

## Systematic Functional Linguistics (53)

SFLپه اصل کښې د ژبې په حقله یوه نظریه ده چې د ژبې وظیفه مرکزي څیز ګڼي چې ژبه څۀ کوي او څنګه ئې کوي ، دا دStructural یا ساختیاتي نظریو اپوټه ده. کوم چې د ژبې ساخت مرکزي څیز ګڼي.([1])

## Formal Linguistics (54)

د ژبې د ماډل جوړولو چې کوم اپروچونه دي د مکنیکي آلاتو په استعمال زور ورکوي ، دا قسمه مکینکل آلات د پیچیده حسب ضابطه استعمال په ریاضۍ، کمپیوټر، سائینس او منطق کښې د کار د وجې نه تحریک مومي. ژبې او ذهن ته فارمل اپروچونه د ماډیول په استعمال زور ورکوي. د دې قسمه اپروچونو مثال د جنریټوګرائمر نمونه ده چې نوم کومسکي ورله وده ورکړې وه او دې روایت ته فارمل معنیات وئیلے شي.([2])

## Generative Linguistics(55)

جنریټولګنوسټکس د جنریټوګرائمر په نظریه ولاړ دے.جنریټو ګرائمر د قاعدو یو داسې سیټ دے د کوم مطابق چې بې شمېره جملې جوړیدے شي او دا جملې په ګرامري لحاظ صحیح وي ـ او هېڅ غلطي پکښې نۀ وي د جنریټو لنګوسټکس دوه اهمې نظریې دي ـ او له دا چې په

([1]) http://www.isfla.org/systemics/defi nition.html(accessed August 22, 2016).

([2]) Vyvyan Evans, A Glossary of Cognitive Linguistics (Edinburgh: Edinburgh university press, 2007)P:85.bookfi e-book.

انسانانو کښې د ژبې اهليّت پېدائشي دے۔ او دويم دا چې انساني ژبه د منطقي قاعدو په يو داسې سيټ مشتمله ده چې د دې ويونکي داسې نوې نوې جملې وئيلے شي چې د دغه ژبې نور ويونکي پرې ډېر ښۀ پوهيږي۔ جنريټولنګوسټکس د ژبپوهنې په نورو څانګو لکه فونولوجي مارفالوجي او معنياتو کښې هم ډېر فائده مند ثابت شوے دے۔ په لنګوسټکس کښې د جنريټو لفظ اولنے تکنيکي استعمال نوم چامسکي په **1957**ء کښې اوکړو، کله چې دې مشهور ژبپوهان خپل کتاب**Syntactic structure** چاپ کړو۔ په دې کتاب کښې چامسکي د جنريټو ګرائمر يوه نظريه وړاندې کړه چې د**transformational grammar** نوم ئې ورته ورکړو. ډېر خلق د**Syntactic structure** د چاپ کال د جنريټو لنګوسټکس د پېدائش کال ګڼي۔([1])

د شلمې پيړۍ تحقيقونو او د کمپيوټر ټيکنالوجي د ژبپوهنې ساحه نوره هم فراخه کړه ۔ او دې تحقيقونو د ژبپوهنې څۀ نورو نوؤ څانګو ته وده ورکړه چې لاندې ئې ذکر کولے شي ۔

## Empirical Linguistics(56)

د ژبې مطالعې ته يو**methodological** اپروچ چې دا دليل ورکوي چې د ژبې نظريې او مفروضې دې په تجرباتي معطياتو اډانه

([1]) www.wisegeek.com/what-is-generative-linguistics.html(accessed June 21,2016).

لري۔([1])

## Mathematical Linguistics(57)

د ریاضۍ د ساخت او طریقو د مطالعه کولو هغه مېدان چې په ژبپوهنه کښې اهمیّت او ارزښت لري۔ هغې ته **mathematical Linguistics** وئیلے شي ۔

## Computational Linguistics(58)

په شروع شروع کښې به کمپیوټرې د هندسو د جمع تقسیم د پاره استعمالیدلې اوس چې کوم کار په پروګرامبل کیلکولیټرز باندې کېږي ، دا کار به د کمپوټیشنل لنګوسټکس بانیانو په **1950**ء او **1960**ء کښې په کمپیوټرو کولو۔ اوس هم کمپیوټرې ژبني څیزونه په غېر ژبني طریقو سره **represent** کوي۔ لکه د مثال په توګه**Go** لفظ به واخلو، ډېرې کمپیوټرې دا په دوؤ هندسو **71** او **79 represent** کوي ، چې د **G** او**O** د پاره د**Ascii** کوډونه دي ، که مونږ کمپیوټر له د نومونو یو فهرست ورکړو او دا کمانډ ورکړو چې دا په ترتیب کړي ، نو**George** به د**Olga** نه اول راځي ، په دې وجه نه چې **G** د**O** نه اول راځي بلکې په دې وجه چې **71** د **79** نه وړوکے نمبر دے ۔

کمپیوټر سائینس مونږ ته**Programming Languages** راکړي دي چې مونږ په آسانه د لفظونو او جملو په حقله داسې خبرې کوؤ لکه چې د هندسو او د هغې د جمعې په حقله کوؤ ،خو د نن نه پینځویشت

---

([1]) Joan swann et all, A pictionary of Sociolinguistics (Edinburgh :Edinburgh university press,1988 )P:94.

کاله مخکښې هم داسې نۀ وه۔ (1)

هرچاته پته ده چې شمېره ګران کار دے ، دا دې څوک د شپون نه تپوس اوکړي چې هغه خپلې ګډې څنګه شميري ، خو کمپيوټر داسې څيز دے چې کله ورله هم څۀ **data** ورکړې نو په شمېره نۀ ستړي کېږي، عن تر دې چې کمپيوټر دا هم شميرلي شي چې په**Hamlet** ډرامه کښې لفظ "**the**" څو ځله راغلے دے ، کمپيوټر پروګرامنګ يو داسې کار دے چې کمپيوټر له څۀ جامع او تفصيلي**data** ورکړے او ورسره هدايت ورکړے چې دا**data** داسې استعمالول دي ، نو هم هغسې کار به کمپيوټر کوي۔

د شلمې پيړۍ په آخر کښې کمپيوټر د يو ژبپوهان په کار کښې په ډرامائي توګه بدلون راوستو۔ او هغه څيزونه ئې بيخي بدل کړل چې څۀ مونږ کولے شو۔ هغه طريقې ئې بدلې کړې چې څنګه مونږ کولے شو عن تر دې چې هغه سوچ ئې هم بدل کړو څنګه سوچ چې مونږ کولے شو۔ دا بدلون په دمه دمه خو په تجرباتي طريقو اډانه لري۔ خو د لاس ليک اوس په سکرين دے۔ د بدلېدو رفتار ئې سېوا کېږي او آخري سر ئې لا په نظر نۀ راځي۔ د کمپيوټر او ژبپوهنې ترمېنځه تعلق څنګه چې د ټيکنالوجۍ د بدلون په حقله وئيلے کېږي د هغې نه سېوا ژور او دلچسپ دے۔ اوس کمپيوټر زمونږ د سوچ هغه طريقې هم بدلوي کومې چې مونږ د ژبې او

(1 ) Gerald Gazdar,and Christopher Mellish, ”Computational Linguistics“ in New Horizons in Linguistics 2, Eds:John Lyons, Richard Coates, Margaret Deuchar and Gerald Gazdar(London: Penguin Books Ltd, 1987) P:225.

ژبپوهنې په حقله کوؤ۔ ([1])

په کمپيوټر کښې نوې ټيکنالوجي دا ده چې مشين ټرانسليشن يعنې مشيني ترجمه پرې کولے شي۔ ولې دا کار په **1950**ء کښې يوخوب معلومېدو۔ داسې کمرشل سافټ وئير هاؤسز شته چې**MT** يعنې **Machine Translation programmes** مارکيټ کښې خرڅوي او اخستونکي ئې هم شته او دوي دا پروګرامونه استعمالوي تر**1984**ء پورې نيم ملين صفحې په دې پروګرامونو ترجمه شوے وے ، د داسې کارکونکي**MT** پروګرام يو مثال**METEO** دے چې د موسم خبرونه ئې د انګرېزۍ نه فرانسيسۍ ژبې ته تر **1977**ء پورې په باقاعده توګه ترجمه کړي وو ، او د ورځې به ئې يوؤلس زره لفظونه ترجمه کول د هيڅ قسمه انساني مدد نه بغير دا ترجمه اتيافي صده صحيح وه۔ ([2])

د دې نه علاوه د ژبو په بنيادي لغاتو، صرف او نحو د نوې نوې څېړنو کولو د پاره د کمپيوټر ماهران نوې نوې سافټ وئيرز او پروګرامونه جوړوي ۔

## :Corpus Linguistics(59)

کارپس ژبپوهنه د ژبپوهنې يوجديد قسم دے کارپس د يوې ژبې د لغاتو مجموعې ته وئيلے شي چې په کمپيوټر کښې محفوظ کړے شوے وي

([1] ) John M Lawler and Helen Aristar dry using Computers in Linguistics (London and New York :Routledge, 1998)P:1.
([2] )Gerald Gazdar, and Christopher Mellish, Computational Linguistics, in New Horizons in Linguistics 2, Eds:John Lyons, Richard Coates, Margaret Deuchor and Gerald Gazdar, (London:penguin books Ltd, 1987)P:244.

، د کارپس جمع کار پورا دے ـ کارپس ژبپوهنه د دې کمپيوټري کار پورا په مدد د يوې ژبې تجزيې او مطالعې ته وئيلے شي دا تجزيه د کمپيوټر د مختلفو سافټ وئيرو په مدد کولے شي۔

## Linguistic Engineering(60)

**Linguistic engineering**د **Language planning** پاره هم استعماليږي **Linguistic Engineering**د **Language planning** د عمل ټولو تکنيکي اړخونو سره تعلق لري چې په خصوصي توګه د**Corpus Planning** په سرګرمو زور ورکوي د **Linguistic Engineering** په نظر ژبه د ابلاغ يوه آله ده ، چې په منظمه طريقه دا بهتره کېدے شي چې د دې زده کړه او استعمال آسان شي۔([1])

## :Xenolinguistics(61)

د زينولنګوستکس اصطلاح د سائينسي ادب نه اخستې شوے ده۔ د دې مطلب دے د غېر انساني يا په يو ځائے کښې د اجنبي يا نآشنا خلقو ژبه مطالعه کول۔([2])

❊ ❊ ❊

([1] ) Joan swann et all, A Dictionary of Sociolinguistics (Edinburgh: Edinburgh university press, 2004)P:187.

([2] ) Diana Reed Slattery, Communicating the unspeakable Linguistic Phenomenon in the psychedelic sphere (unpublished Phd thesis , playmouth university, 2010)available on http://pearl, playmouth ac, uk, bitstream / handle /10026.1/549/slattery%20D%20R-2010,Pdf (accessed 18-10-17).

# ''ګلوسري''

**اپولونئيس ډسکولس**: دے د ديونيسي تريکس نه دوه پيړۍ روستو تېر شوے دے ، دۀ په يوناني نحو باندې کتاب ليکلے وو۔

**آډيټري فونيټکس**: دا د غږ پوهنې هغه څانګه ده چې پکښې د غږ د اورېدو د آلې يعني غوږ او د اورېدو د عمل تفصيلي مطالعه کولے شي۔

**ارتقائي ژبپوهنه(Evolutionary Linguistics)**:ارتقائي ژبپوهنه دا مطالعه کوي چې د ژبې ابتدا د کله نه شوے دے او بيا د کومو کومو ارتقائي مرحلو نه راتېره شوې ده ، دا ښاخ د ځناورو او مرغو ژبه هم مطالعه کوي ۔

**آرتهوئيپي**:په يوه ژبه کښې د لفظ د صحيح تلفّظ مطالعې ته وئيلے شي۔

**آرټيکوليشن**: د وينا د غږ طبعي پېداوښت ته آرټيکيوليشن وئيلے شي ۔يوتېزآرټيکوليشن يو انتهائي پيچيده حرکت کونکے مهارت دے چې تقريبًا د سلوپټو په مدد سره په داسې رفتار واقع کېږي چې په يو سيکنډ کښې پنځلس مختلف غږونه پيدا کولے شي۔

**اسلوبيات**: د نورو نه په جُدا طريقه د وينا يا د ليک انداز ته سټائل يا

اسلوب وئیلے شي او د دې اسلوب مطالعې ته اسلوبیات وئیلے شي ، اسلوبیات زیات تر د ادبي ژبې په تجزیه باندې زور ورکوي ـ

<u>اکاؤسټک فونیټکس</u>: اکاؤسټک فونیټکس د آواز د طبعي خصوصیاتو لکه فریکونسي ، شدت او دورانیې مطالعه کوي ـ

<u>آګسټ شلیکر</u>: (**1821**ء- **1868**ء ) : په **1821**ء کښې پیدا شوے وو او **1868**ء کښې مړ وو جرمنے ژبپوهان دے چې په تقابلي ژبپوهنه کښې نوم لري ، د نیچرل سائنس په اُصولو ئې د ژبې په حقله یوه سائنسي نظریه پېش کړې وه ، د دۀ مشهور کار **A Compendium of the comparative Grammer of the indo – European Sanskrit , Greek and Latin Languages.**

د**1874**ء نه **1877**ء پورې چاپ وو ـ په دې کښې ئې د دې ژبو خصوصیات مطالعه کړي وو ، او د دې په بنیاد ئې د پروټو انډو یورپین ژبې د وضع کولو هڅه کړې وه ـ

<u>انجذاب:(**Assimilation**)</u>: کله چې په یو لفظ کښې یو توره د وړاندې یا وروستو په شان شي ، او د لفظ تلفظ لږ مختصر او آسان شي نو دې ته انجذاب وئیلے شي ، د دې دوه قسمونه دي.

<u>آن سیټ (**Onset**)</u>:د سلیبل په شروع کښي یو یا د یو نه زیات کانسونینټونو ته **Onset** وئیلے شي ـ

<u>اِنټونیشن(**Intonation**)</u>: د آواز د اُوچت والي یا پست والي په وجه چې په غږ کښې په معنوي توګه کوم بدلون راځي هغې ته

**intonation**وئیلے شي .

<u>انټرنیشنل فونټک الفټ سسټم</u> : په **1886**ء کښې په فرانس کښې د انټرنیشنل فونیټک ایسوسي ایشن (**IPA**) جوړ شو۔ دې تنظیم انټرنیشنل فونیټک الفبټ سسټم جوړ کړو ، دا یو داسې نظام دے چې مونږ پرې په منظمّه طریقه د هرې یوې ژبې د غږونو نقشه جوړولے شو دا نظام وخت سره سره **update** کیږي .

<u>اوچت والے (**Loudness**)</u>:**Loundness**د آوازد شدّت نیمه حصه ده ، دا د شدت وظیفه ده خو په دې کښې د فریکونسۍاو د آواز د ترتیب سره بدلون راځي **loudness**د محسوسولو یوه درجه ده د دې د ناپ اکائي سون(**sone**)ده ۔

<u>اوریز غږونه</u> : هغه غږونه چې د ادا کولو په وخت کښې ئې د ژبې سر یا خېټه د اورو سره اوجنګیږي ۔ په پښتو کښې دا غږونه س، ز، ځ، څ اول دي ۔

<u>اونومیسټکس (**onomastics**)</u>: د نومونو **origin**مطالعه کولو ته **onomastics**وئیلے شي۔

<u>ایډورډسیپر</u>: (**1884**ء -**1939**ء ) : سیپر په جرمني کښې پیدا شوے وو، خو امریکه کښې میشته وو دے د امریکې ژبپوهان او بشرپوهان وو ، دۀ په ژبپوهنه او بشر پوهنه دواړو کښې کار کړے دے ، فونولوجي کښې ئې هم ډیر کار کړے دے ، دۀ به په شکاګو او

**Yale**یونیورسټۍکښې تدریس کوو، دے د **Ethnolinguistics** باني ګڼلے شي چې د ژبې او ثقافت په خپلو کښې اړیکې ښائي ۔

آئي ډيوليکټ **(Ideolect)**: د ټولنې د يو غړي د عامې مستعملې ژبې يا لهجې نه د تلفّظ ، لغاتو ګرېمر او عملي استعمال په لحاظ انفرادي بدلون ته **Ideolect** وئيلے شي.

ايتمالوجي :د لفظونو د تاريخ او **origin**مطالعې ته ايتمالوجي وئيلے شي ۔

ايتهنولنګوسټکس: ايتهنولنګوسټکس د يوې ژبې او د دې د ويونکو خپلو کښې ثقافتي رويّوسره خپلو کښې اړيکې مطالعه کوي۔

ايتهنو سيمنټکس: د يو مخصوص ثقافتي او ژبني ګروه د ژبني ويش مطالعې ته **ethnosemantics**وئيلے شي۔

ايمپلي چيوړ **(Amplitude)**: د يوې رپېدونکي ذريعې د خپل سکون د مقام نه زيات نه زيات بيرته والي ته ايمپلي چيوړ وئيلے شي ، د دې ناپ کولو اکائي ډائن في مربع سينټي ميټر ده .

ايکولنګوسټکس: هغه ټولې خبرې چې په يوه يا بله طريقه د ژبې تعلق د ماحولياتو سره ښائي په دې څانګه کښې مطالعه کولے شي۔

ايلئس ډونيټس: دے د روم ګرامر پوهان وو چې د څلورمې پېړۍ عيسوي سره تعلق لري ، دۀ د لاطينۍ ژبې ګرامر د "**Ars Gramnatica**"په نوم ليکلے وو۔

ايلوفون: د فونيم غبرګ بدل شکل ته ايلوفون وئيلے شي ـ د يوفونيم ګڼ ايلوفون کېدے شي ـ

اينتهروسيميوټکس: اينتهرويو سيميوټکس په خصوصي توګه د هغه ابلاغي علامتونو مطالعې ته وئيلے شي چې انسانان ئې په خپل ژوند کښې استعمالوي۔

اينتهرويولوجيکل لينګوسټکس : د ژبپوهنې دا څانګه د انسانانو په ژوند کښې د ژبې کردار مطالعه کوي ـ

ائيرئيل لنګوسټکس: ائيرئيل لنګوسټکس دا مطالعه کوي چې: داسې علاقه چې په کومو کښې په ويونکو ژبو کښې يوشان ژبني خصوصيات او داسې ژبني او غېر ژبني ثبوتونه مطالعه کوي چې د ژبو د ويونکو ترمېنځه تعلق د دغه خصوصياتو د ضميرونو او قبېدونو ذمه وار وي ـ

آئيسوګلوس (**Isogloss**): د لفظونو يا غږونو بدلون جغرافيائي حد بندي په نقشه باندې ښودلو ته آئيسوګلوس وئيلے شي ـ

باؤډئن ډي کورټينے : (**1845**ء **ـــ1929**ء )دے په پولينډ کښې پېدا شوے وو ، دۀ په فونيم کار اوکړو باؤ ډئين او د هغۀ شاګردانو فونيم، مارفيم، ګرافيم**distinctive features** او**alternation** متعارف کړل چې ټول د ژبپوهنې جديد اصطلاحات دي۔

بائيولنګوسټکس:دا د يوې ژبې د ژوند او ارتقاء مطالعه ده۔

<u>برغ ژبيز (**Retroflex**) غږونه :</u> د دې آوازونو په پيدا کولو کښې ژبه رابرغه شي يعني راتاؤ غوندې شي په پښتو ژبه کښې برغ ژبيز آوازونه د پښتو خپل خاص توري دي لکه ښ، ړ، ډ، ټ، ڼ او ړ

<u>بو -- وؤ نظريه :</u>د دې نظرئيې مطابق انسان د څناورو د آوازونو د پيښنو نه وئيل زده کړل او بيا ئې ژبه تر اوسني معياره پورې را اورسوله۔

<u>پانيني:</u> پانيني د سنکرت ژبې نومورې ګرامر پوهان وو چې څلورنيم سوه کاله قبل مسيح تېر شوے دے ۔ دۀ د سنکرت ژبې يو ګرامر ليکلے وو چې په څلور برخو مشتمل وو اشټ ادهيائے ، شيوا سُترا، داتو پاتا، ګاناپاتا د مستندو ثبوتونو نه دا ثابته ده چې دۀ د موجوده پاکستان د خيبر پښتونخوا صوبې د صوابۍ ضلعې د لاهور کلي سره تعلق لرلو۔د ليکلي تاريخ ترمخه د پانيني ګرائمر د هندوستان د ژبپوهنې بنياد ګڼلے شي ۔

<u>پچ (**Pitch**):</u> پچ د آواز هغه خاصيّت دے چې د څۀ په ذريعه په يو نري يا د کريغې په آواز کښې او په يو غټ آواز کښې فرق کيدے شي۔

<u>پډګِن (**Pidgin**):</u>کله چې د څۀ معاشي، سياسي يا تجارتي ضرورت په خاطر د مختلفو ژبو ويونکي د خپلو ژبو په مدد يوه نوې ژبه جوړه کړي چې لغات پکښې د يوې ژبې او ګرائمر د بلې ژبې نه واخستې شي ۔ دغه نوې ژبې ته پډګِن وئيلے شي۔

<u>پراګ سکول :</u> پراګ سکول اول اول کښې د **Prague Linguistic Circle(PLC)** په نامه پيژندے شو چې په **1926**ء

کښې په پراګ ښارکښې .B. Havranek , V Mathesius x
N. Trubetzkoy, R.Jakobson J.Mukarovsky
او**S.Karcevskij** جوړ کړے وو ۔ دے سکول به د ژبپوهنې د پرمختګ د پاره کارونه کول سیمنارونه او خبرې به ئې کولې.

پرسکرپټولینګوسټکس:**Prescriptive** ژبپوهنه دا مطالعه کوي چې د ژبې استعمال څنګه پکار دے نۀ چې څنګه په حقیقت کښې استعمالولے شي .

پرسکن : پرسکن د روم نومړے ګرامر پوهان وو چې د شپږمې پېړۍ عیسوي سره تعلق لري ۔

پریګمیټکس: پریګمیټکس د سیاق وسباق د معنومطالعې ته وائي دا د ژبې د استعمال سره تعلق لري نۀ چې د ژبې د ساخت سره ۔

پورټ رائل ګرامر سکول: په اُولسمه پیړۍ کښې په فرانس کښې یو مشهور تعلیمي تنظیم د پورټ رائل سکول آف ګرامر په نوم پرانستے شو چې په فرانسیسي ژبه ئې خبرې شروع کړې ، د دې تنظیم دوؤ نومړو غړو **Antoine Arnauld** او **Claude Lancelot** یو نوې فرانسیسي ګرامر د **Grammair generade et raisonee** په نوم په **1660**ء کښې اولیکلو۔

پو ــ پو نظریه :د دې نظریې مطابق انسان چې د خوشحالۍ په وخت یا د یرې په موقع د خُلې نه کوم مختلف آوازونه اوباسي دغې آوازونو وروستو یو منظم شکل اختیار کړو او ژبه ترې نه جوړه شوه ۔

<u>پوزیز (**Nasals**)غږونه :</u> هغه غږ چې د ادا کولو په وخت ئې د ساه هوا په خولهٔ کښې بنده شي او د پوزې په لار اوځي ، د دې آواز د ادا کولو په وخت د نرم تالو وروستۍ برخه ښکته وي ۔

<u>پیرالنګوسټکس:</u> د ژبې د بنیادي غږیځ علامتونو او پېغامونو نه علاوه نور غږیځ او چپ علامتونه او پېغامونه چې د جملې په معني کښې شدّت یا کمے راولي پیرالنګوسټکس بللے شي۔

<u>تاریخي ژبپوهنه:</u> په ژبو کښې وخت سره سره د بدلون مطالعې ته تاریخي ژبپوهنه وئیلے شي ۔

<u>تطبیقي ژبپوهنه:</u> تطبیقي ژبپوهنه د حقیقي دنیا د هغه مسئلو یو نظریاتي او تجرباتي تحقیق دے چې ژبه پکښې مرکزي حېثیت لري ۔

<u>تعلیمي ژبپوهنه :</u> په تعلیم کښې د ژبې په استعمال او د ژبې د زده کړې سره تعلق لري ۔

<u>تقابلي ژبپوهنه:</u> تقابلي ژبپوهنه د یو یا دوؤ اړخونو نه د مختلفو ژبو تقابلي مطالعه کوي تقابلي ژبپوهنه د ژبې ارتقاء معلوموي او د یو بل سره د تقابل نه د ژبو په خپلو کښې تعلق ښائي او دا تقابل په عامه توګه په هغه ژبو کښې کېږي چې په جینیاتي توګه یو بل سره تعلق لري۔

<u>تقلیب حرفي(**Metathesis**):</u> په یو لفظ کښې یو بل ته نزدې غږونو وړاندې وروستو کېدلو ته تقلیب حرفي وئیلے شي ۔

**تم (Stop or Plosive) غږونه** : د خلې یا د تالو د مکمل بندیز په وجه دا آواز پېدا کېږي، په دې قسمه اواز ادا کولو سُست او متحرک ټول ویند غړي د خلې یا د پوزې ټوله لاربنده کړي دے سره هوا دباؤ شي ـ او چې کله متحرک ویند غړے د لارې نه لرے شي ، نو هوا په تیزیٰ سره بهر اوځي ـ

**تم مښلي مرکب (Affricates) غږونه** : دا هغه آوازونه دي چې هم د تم او هم د مرلو آوازونو خاصیت لري

**توري**: توري د لیدو وړ انځورونه دي چې د یوې ژبې ویونکو د خپلې ژبې د غږونو د پاره ټاکلي وي دې ته ګرافیم هم وئیلے شي

**توضیحي ژبپوهنه**: توضیحي ژبپوهنه د ژبې د دنني جوړښت یعني غږیځ ، قواعدو او معنوي جوړښت او شکل تشریحي مطالعه ده چې په یو خاص وخت کښې د ژبې مطالعه کوي ـ

**ټائپیالوجي(typology)**:دا د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې پکښې ژبې د خپل جوړښت او**Functional** خصوصیاتو په لحاظ په مختلفو ټولګو کښې ویشلے شي ـ

**ټولنیزه ژبپوهنه** : د **Sociolinguistic**اصطلاح په اول ځل په **1952**ء کښې هیور کري استعمال کړه، ټولنیزه ژبپوهنه د ټولنې په حواله د ژبې مطالعه او څیړنه ده ـ

**ټونیټکس**: د یوې ژبې د غږ پوهنې سائینس ـ

ټیکسټ لنګوسټکس: د یوې ژبې د مختلفو متنونو د سټائل او جوړښت مطالعې ته **text linguistics** وئیلے شي۔

ټیګ میمک: د یوې ژبې د وړو وړو ګرائمري اکائیانو مطالعه کولو ته وئیلے شي ۔

جنریټولنګوسټکس : د جنریټولنګوسټکس دوه اهمې نظري دي اوله دا چې په انسانانو کښې د ژبې اهلیّت پېدائیشي دے او دویم دا چې انساني ژبه د منطقي قاعدو په یو داسې سیټ مشتمله ده چې د دې ویونکي داسې نوې نوې جملې وئیلے شي چې د دغه ژبې نور ویونکي پرې ډېر ښهٔ پوهیږي ۔

جے – آر– فرت: (**1890**ء _ **1960**ء)د دهٔ پوره نوم **John Rupert Firth** وو ۔ په **Keighley Yorkshire** کښې په **17** جون **1890**ء کښې پېدا شوے وو او په **Lindfield west Sussex** کښې په **14** دسمبر**1960**ء کښې وفات شوے وو دے په پنجاب یونیورسټۍ کښې هم د **1919** نه تر **1928** پورې د انګریزۍ پروفېسر پاتې شوے وو ۔ بیا په یونیورسټي کالج لندن کښې د صوتیاتو پروفېسر وو او په آخره کښې به **School of oriental and African Studies** کښې د عمومي لسانیاتو پروفېسر وو ۔

چیرالوجي:د کڼو خلقو (هغه خلق چې اوریدل نهٔ شي کولے ) د اشارو د ژبې جدا جدا اکائیانو تشریح او تجزیې ته چیرالوجي وئیلے شي۔

حذف: د یو لفظ نه د یو توري په حذف کېدو سره د دغه لفظ په تلفّظ کښې بدلون راتلو ته حذف یا اخراج وئیلے شي ، د حذف درې قسمونه دي.

ډیونیسي ټریکس: دۀ د یونان سره تعلق لرلو د ډیونیسي ټریکس ګرامر Techne grammatikeد یورپي ژبو اولنے پاتې شوے اثر دے چې په 100 ق م کښې لیکلے شوے وو په دې کتاب کښې په صَرف او صوتیاتو بحث شوے دے

ډایاکرونک هسټاریکل فونولوجي : دا قسمه فونولوجي د هغه نظریو مطالعه کوي د کومو په ذریعه چې د وینا د غږونو په نظام کښې وخت سره سره بدلون راغلي وي ـ

ډایا لیکټالوجي: د لهجو او د لهجو د خصوصیاتو مطالعې ته وئیلے شي

ډایالیکټ جیوګرافي : د جغرافیائي ویش په لحاظ د لهجو مطالعې ته dialect geographyوئیلے شي ـ

ډائي ګلوسیا(Diglossia): ډائي ګلوسیا په یوه ټولنه کښې داسې حالت وي چې یوه ژبه په یو حالت کښې وئیلے شي او بله ژبه په بل حالت کښې ، دې کښې یوې ژبې ته د زیات وقار مقام حاصل وي او بلې ژبې ته نۀ وي.

ډسکورس اینالسیز: د یوې جملې نه سېوا په ډېرو جملو مشتمل ویناوي یا لیکلي متن مطالعې ته ډسکورس اینالسیز Discourse

**analysis** وئیلے شي ـ

<u>ډيسي ميليشن: (**Dissimilation**)</u>: په دې عمل کښې په يو لفظ کښې يو بل ته نزدې توري د يو بل نه لرې اړوته شي ـ دا د **assimilation** اپوټه عمل دے.

<u>ډيفتانګ</u>: هغه غږونه چې د واول او سيمي واول غږونو د يو ځاے کېدو نه جوړيږي پښتو کښې دې ته برغ غږونه وئیلے شي ـ

<u>رجسټر (**Regester**)</u>: د استعمال په لحاظ د ژبې بدلون ته رجسټر وئیلے شي ، لکه يو کس به خپل نوکر سره يو شان خبرې کوي ، دفتر کښې بې افسر سره بل شان خبرې کوي او کوربه بچو سره بل شانې کوي.

<u>رسمس رسک</u>: پوره نوم ئېRasmus Kritian Rusk وو ـ په **1787**ء کښې پيدا شوے وو۔ او په **1832**ء کښې کوين هيګن کښې وفات شوے وو ، دے د ډينش ژبې سکالر وو ـ او تقابلي ژبپوهنې باني ګڼلے شي دۀ په انډو يورپي ژبو کښې د کانسونينټ آوازونو باقاعده بدلون مطالعه کړے وه، چې روستو ترې د ګرِم قانون جوړ شو د دۀ مشهور کار په **1818**ء کښې **Investigation of the origin of the old Norse or Icelandlic language** وو۔

<u>رومن جيکوب سن</u>: پوره نوم ئې **Roman osipovich Jakobson** وو۔ په **1896**ءکښې ماسکوکښې پيدا شوے وو۔ او په

**1982**ء بوستېين ښار کښې مړ شوے وو۔ په ساختیاتي ژبپوهنه کښې د پراګ سکول په سکالرانو کښې وو غټ پوهنه کښې ئې نُومورې کارونه کړي دي۔ د دهٔ "**Fundamentals of language**" نومې کتاب په **1956**ء چاپ شوے وو "**Language in Literature**" نومې کتاب په **1980**ء کښې او"**The framework of language**" نومې کتاب ئې هم په **1980**ء کښې چاپ شوے وو۔

<u>رياضياتي ژبپوهنه</u> : د رياضۍ د ساخت او طريقو د مطالعه کولو هغه ميدان چې په ژبپوهنه کښې اهمیّت او ارزښت لري هغې ته **mathematical Linguistics**وئيلے شي .

<u>زيليګ هيرس</u>: (**1915**ء - **1992**ء )

دے په يوکرين کښې پېدا شوے وو او د خپل ژوند ډېره حصه ئې په فلاډلفيا کښې تېره کړې وه ، فلاډِ لفيا کښې د پنسولونيا يونيورسټۍ کښې ئې ژبپوهنه تدريس کوله ۔ هيرس په ساختياتي ژبپوهنه کښې يو نومورے نوم ګڼلے شي ۔ د دهٔ " **Methods in structural Linguistics**"په نوم کتاب په **1951**ء کښې چاپ شوے وو ۔

<u>ژبې ئيز غږونه</u>:هغه غږونه چې د ادا کولو په وخت ئې د ژبې آخري حصه د ژبې سره اوجنګيږي ، هغې ته ژبې ئيز غږونه وئيلے شي ، په پښتو کښې دا غږ صرف يو دے چې د عربۍ نه راغلے دے يعني ق۔

<u>ساختیاتي ژبپوهنه</u> : ساختیاتي ژبپوهنه د یوې ژبې د بنیادي ساخت مطالعې ته وئیلے شي ۔

<u>ساکاتایانا</u>:ساکاتایانا په معنیاتو کښې اولنے سنکرت ګرامر پوهان وو،چې هندوستان سره تعلق لري۔ دے د پینځۀ سوه پیړۍ قبل مسیح نه وړاندې تېر شوے دے ۔

<u>سُپراسګمنټل فونولوجي</u> :دا د فونولوجي هغه څانګه ده چې د سګمنټ یعني ټوکړو نه هم په اخوا د وړو وړو ټکړو یعني **Stress** , **tone**او عروضو مطالعه کوي۔

<u>سَرولیم جونز</u>: دے اولنے سړے دے چې یورپ ئې د سنکسرت ژبې سره اشنا کړے وو ، دے په **1746**ء کښې پېدا شوے وو او په **1794**ء کښې وفات شوے وو ، دۀ په آکسفورډ کښې سبق وئیلے وو ، په ډېرو ژبو ورته عبور حاصل وو ، دے په **1788**ء کښې په کلکته کښې د سپریم کورټ جج مقرر شو دۀ په **27** ستمبر **1786**ء کښې په خپل یو تقریر کښې دا اووئیل چې سنګسرت د لرغونتیا نه علاوه یوه ډېره ښه او مکمّله ژبه ده چې د یونانۍ نه زیاته مکمّله او د لاطینۍ نه زیاته جامعه ده ، خو د دې نه باوجود هم د افعالو،مخارجو او صرف ونحو په لحاظ دومره یوشان والے لري چې د دے دریو واړو ژبو سرچینه یوه ده ، دغه شان دۀ د تقابلي ژبپوهنې بنیاد کېښودو ۔

<u>سګمنټل فونولوجي</u> : دا د فونولوجي هغه څانګه ده چې د وینا په بهیر

کښې د ورو ټوکړو يعني فونيم تجزيه کوي۔

سيبوائي : د عربۍ ژبې يو مشهور ژبپوهان وو دۀ په **760**ء کښې خپل مشهور او يادګاري کتاب الکتاب في النحو او ليکلو دے کتاب کښې دۀ فونټيکس او فونولوجي خپلو کښې سره بېل کړل۔

سيپر ووُرف مفروضه : دا مفروضه ايډورډ سيپر (**1884**ء -**1939**ء) او بينجمن لي وُورف (**1897**ء - **1941**ء ) پيش کړے وه ، د دې مفروضې مطابق ژبه د انسان د ادراک يا مشاهدې قوّت بدلولے شي ۔

سيلبل /چپه :سليبل يو فونولوجيکل اکائي ده ۔ دا د غږونو يو داسې ټولګے دے چې د څۀ اُصولو مطابق جوړ شوي وي ، واول غږ د سليبل بنيادي جُز دے ۔

سيمياټکس(**Semiotics**): د علامتونو يا نشاناتو عمومي مطالعې ته **Semiotics**وئيلے شي۔

سيمي واول :هغه غږونه چې د واول او کانسونينټ دواړو خصوصيات لري۔

سينکرونک ډسکرپټو فونولوجي : په يو خاص يا ټاکلي وخت کښې د يوې ژبې د غږونو په نظام کښې د بدلون مطالعې ته سينکرونک ډسکرپټو فونولوجي وئيلے شي

شدّت (**Intensity**): په يوه اکائۍ رقبه کښې د آواز د توانائۍ اوسط د ترسيلولو يا تيريدو رفتار ته شدت يا **Intensity**وئيلے شي د دې د

ناپ کولو اکائي واټ في مربع میټر ده

شونډېز غږونه : هغه غږونه چې د ادا کولو په وخت کښې ئې برنئ او ښکتنئ شونډې دواړه استعمال شي ـ دواړه شونډې یا په مکمّله توګه بندې شي او یا لږې غونډې بندې شي ، په پښتو کښې دا غږونه ب، پ او م دي ـ

شونډېز غاښېز غږونه : داسې غږونه چې د ادا کولو په وخت کښې ئې برني غاښونه د لاندینئ شونډې د لاندې کیښودے شي په پښتو کښې دا غږونه ف او و دي ـ

صرف: په صرف یا مارفالوجي کښې د لفظونو د شکلونو مطالعه کولے شي یا د مارفیم منظمې مطالعې ته مارفالوجي وئیلے شي۔

عتیقیاتي ژبپوهنه:عتقیاتي ژبپوهنه د ژبود عمر اندازه لګوي ، د یوې ژبې په لغاتو کښې چې څومره في صد لفظونه بدلیږي هغه په قرابت دارو ژبو کښې د لفظونو د اختلاف د مقدار نه د ژبو د عمر اندازه لګولے شي ـ

عروض(**Prosody**):د ژبپوهنې په نقطهٔ نظر عروض د سپراسګمنټل اکائیانو لکه سلیبل ، **Stress**سُراو آهنګ مطالعه ده ـ

غاښېز غږونه :داسې غږونه چې د ادا کولو په وخت کښې ئې د ژبې سر د بَرنو غاښونو سره اوجنګیږي ـ په پښتو کښې دا غږونه ت، د او ن دي ـ

غږن آوازونه :هغه آوازونه چې د ادا کولو په وخت ئې غږیز ببوزي یعني ووُکل فولډز رپیږي ـ هغې ته غږن وئیلے شي۔

فارنزک لنګوسټکس: په قانوني او عدالتي مسئلو کښې د ژبپوهنې اطلاق ته فارنزک لنګوسټکس وئیلے شي ۔

فائیلوجني (**Phiylogeny**): په ژبپوهنه کښې د ژبو د **origin** او د ودې عمومي مطالعه یا د یوې مخصوصې ژبې د پېداوښت او ودې مطالعې ته فائیلوجني وئیلے شي.

فټ (**Foot**):کله چې سیلبلز په ټولګو کښې تقسیم شي ، نو په روایتي توګه دې ټولګو ته **foot**او جمع **feet**وئیلے شي هر فټ د یو **stressed**او څۀ **unstressed**سیلبلز نه جوړ وي ۔

فرانز باؤز :(**1858**ء-**1942**ء)

فرانزباؤز په **1858**ء کښې جرمني کښې پېدا شوے وو او په **1942**ء کښې امریکه کښې وفات شوے وو ، دۀ ته د امریکې د بشرپوهنې پلار وئیلے شي او د جدیدې بشر پوهنې باني وو ۔ دے د شمالي امریکې په ثقافت او ژبو کښې ماهر وو ، دۀ په تشریحي او نظریاتي ژبپوهنه کښې ډېر کار کړے دے

فرانزبوپ:(**1791**ء -**1867**ء ) : په جرمني کښې په **1791**ء کښې پېدا شوے وو، او برلن ښار کښې په **1867**ء کښې وفات شوے وو۔ په انډو یورپي ژبو کښې ئې د سنسکرت اهمیت باندې زور ورکړے وو۔ د دۀ اولنے کتاب په **1816**ء کښې **On the system of conjugation in Sanskrit** په نوم چاپ شوے وو۔ د دۀ نوموړے کار **Comparative Grammar of Sanskrit, Zend, Greek, Latin , Lithunian, old slavic**

**Gothic and German** په شپږو جلدونو کښې د **1833**ء - **1852**ء پورې چاپ شوے دے۔

<u>فرډنینډ دي ساسور</u>:(**1857**ء ---**1913**ء) : دۀ د سوئیزرلېنډ سره تعلق لرلو ، دے د شلمې پیړۍ په بااثره سکالرانو کښې شمارلے شي ، دۀ صرف د یوېشتو کالو په عمر کښې د انډو یورپین ژبو په واولز خپل کار په **1878**ء کښې چاپ کړو۔ په **1881**ء کښې دۀ خپله د **Phd**مقاله د **genetive in Sanskrit** په نامۀ اولیکله ۔ د دۀ د ټولو نه مهم اثر په **1916**ء کښې د هغۀ شاګردانو د **"Cours de linguistique generate** په نامه چاپ کړو.

<u>فریکونسي (**Frequency**)</u>: فریکونسي یوه تکنیکي اصطلاح ده، د آواز پېدا کونکي یو څیز په نارمل هوائي دباؤ کښې په یو سیکنډ کښې د رپونو شمیرې ته فریکونسي وئیلے شي ، د فریکونسۍ اکائي هرټزفي سیکنډ ده۔

<u>فلالوجي</u> :فلالوجي د یونانۍ ژبې لفظ **Philologia**نه جوړ دے چې مطلب ئې دے د لفظونو سره مینه کول ۔

<u>فوک لنګوسټکس</u>: د عام اولس د ژبې او د فولکلور د ژبې سائینسي مطالعې ته فوک لنګوسټکس وئیلے شي ۔

<u>فونو ټیکټکس</u>: فونو ټیکټکس دا مطالعه کوي چې د یوې ژبې په غږیځ نظام کښې څۀ څۀ خاصیتونه دي او کوم غږیځ نۀ دي ۔

<u>فونولوجي :</u> په یوه مخصوصه ژبه کښې د غږونو د نظام توضیح او تشریح ته فونولوجي وئیلے شي ـ

<u>فونیټکس:</u> د غږونو د ادا کولو ، ترسیلولو او وصولولو مطالعې ته فونیټکس وئیلے شي ـ

<u>فونیم :</u> د وینا د هغه ټولو نه وړې نه وړه اکائي چې د څۀ په مدد یو لفظ د بل لفظ نه بېلیدے شي ـ

<u>فونیمکس:</u> د غږ د وړو اکائیانو یعني فونیم مطالعې او تشریح او توضیح ته فونیمکس وئیلے شي ـ

<u>کارپس ژبپوهنه :</u> کارپس د یوې ژبې د لغاتو مجموعې ته وئیلے شي چې په کمپیوټر کښې محفوظه وي۔کارپس ژبپوهنه د کمپیوټري کاریورا په مدد د یوې ژبې تجزیې او مطالعې ته وئیلے شي ـ

<u>کاګنیټولنګوسټکس:</u> کاګنیټولنګوسټکس دا مطالعه کوي چې ژبنے علم د عمومي ادراک او سوچ یوه برخه ده ، ژبنۍ روّیه د نورو عمومي روّیو او ادراکي اهلیّت نه جُدا نۀ ده ـ

<u>کانسونینټ :</u> هغه غږونه چې د ادا کولو په وخت ئې هوا د خلې په خانه کښې د بندیز او خنډ سره مخامخ کیږي۔

<u>کائي نیسکس (**Kinesics**):</u> مخ په مخ خبرو اتروکښې د مخ، سر ، لاسو او د پوره وجود د حرکاتو مطالعې ته وئیلے شي ـکوم چې د یوې

مخصوصې ټولنې غړي د خپل ثقافت نه نېغ په نېغه خبرو اترو د پاره زده کړے وي ـ

<u>کرئیول (**Creole**)</u>: کله چې د یو **Pidgin** ویونکو خلقو دویم نسل را اورسي او هغوي دغه **Pidgin** د خپلې مورنۍ ژبې یا اولنۍ ژبې په توګه وائي نو دغه **Pidgin** ته بیا **Creole** وائي ـ

<u>کلک تالویز غږونه</u> : هغه غږونه چې د ادا کولو په وخت ئې د ژبې مخامخ حصه د کلک تالو سره اوجنګېږي په پښتو کښې دا آوازونه ش، ژ، چ او ج دي ـ

<u>کلینیکي ژبپوهنه</u> : په میډیکل کښې د ژبې فرق یا نقص ته د ژبې سائنس (**Linguistic Science**) اپلائي کولو ته کلینکي ژبپوهنه وئیلے شي ـ

<u>کنټراسټولینګوسټکس</u>: دا قسم ژبپوهنه د ژبو په منځ کښې فرقونه مطالعه کوي

<u>کوډ</u>: د یوې ژبې د ټولو ژبني اجزاؤ ټول ترتیب او تنظیم ته د هغه ژبې کوډ وئیلے شي ـ

<u>کوډا (**Coda**)</u>: د سلیبل په آخر کښې یو یا د یونه زیات کانسونینټونو ته کوډا وئیلے شي ـ

<u>کوډسویچنګ</u>: هغه ټولنه چې پکښې دوه یا د دوؤ نه زیاتې ژبې وئیلے شي د هغې ویونکي په خپلو خبرو اترو کښې د خپل اظهار د

پاره کله یوې ژبې او کله بلې ژبې ته اوړي دې صورت حال ته کوډ سویچنګ وئیلے شي ۔

<u>کوئینائزِیشن (**Koineization**)</u>: کله چې په یوه ټولنه کښې د یوې ژبې د مختلفو لهجو خلق استوګنه کوي ، او د دې ګڼو لهجو نه یوه لهجه رامنځ ته شي ، نو دغه نوې لهجې ته او دې عمل ته کوئینائزِیشن وئیلے شي ۔

<u>کیفیّت (کوالټي)</u>: د آواز هغه خاصیت د کوم په زریعه چې د مختلفو آلاتو لکه ډهولکي او یا بانسرۍ نه وُتي آواز کښې فرق کېدے شي۔ هرڅو که د دې آواز اوچت والے او پچ یو هومره وي۔

<u>ګرافو فونیمکس</u>: د یوې ژبې د غږونو او د غږونو د پاره د لیکلو شوؤ علامتونو تعلق مطالعه کولو ته ګرافونیمکس وئیلے شي

<u>ګرافیمکس</u> : د ژبپوهنې هغه څانګه چې د یوې ژبې د لیکلي شکل مطالعه پکښې کولے شي هغې ته ګرافیمکس وئیلے شي۔

<u>ګرم قانون</u>:دا قانون جیکوب ګِرم په **1822**ء کښې جوړ کړے وو۔ د دې قانون ترمخه په هند یورپي ژبو کښې د جرمني ژبو څانګه کښې په کانسونینټ غږونو کښې څۀ ځانګړي او متعلقه بدلونونه لیدے شي۔

<u>ګلاسیمټکس(**Glossematics**)</u>:د یوې ژبې د وړې نه وړې اکائۍ یا جُز ته ګلاسیم وئیلے شي او ګلاسیمټکس د ګلاسمیز مطالعې ته وئیلے شي۔

ګلوټل غږونه : هغه غږونه چې د ادا کولو په وخت ئې د ژبې ويخ د ستونې د ديوال سره نزدې شي او ترمېنځ ئې هوا تېره شي نو دے آواز ته ګلوټل آواز يا ستونيز آواز وائي په پښتو کښې دا غږونه ح او ع دي۔

ګلوټوکرونولوجي:د يوې ژبې هغه بنيادي لغات چې بغېر د ثقافت اود هغې د ويونکو د نړۍ د ټولو انسانانو سره تعلق لري ، د دې لفظونو د مطالعې نه د وخت اندازې لګولو ته ګلوټو کرونو لوجي وئيلے شي ۔

لنګوسټک آنټوجني (**Ontogeny**): په آنټوجني کښې دا مطالعه کولے شي چې انسان د شېرخوارګۍ د عمر نه واخله د ژوند تر آخري لمحې پورې ژبې سره څنګه اکتساب کوي۔

لهجه: په يوه ژبه کښې علاقائي ، معاشرتي يا د زمانې په لحاظ بدلون ته لهجه وئيلے شي ۔ دا د معياري ژبې نه د ګرېمر، تلفظ او لغاتو په لحاظ بدله وي ۔

ليګزيکالوجي : د **lexicon**يعني لغاتو سائنسي مطالعې ته **lexicology**وئيلے شي.

ليګزيکو ګرافي : ليګزيکو ګرافي د ژبپوهنې هغه ښاخ دے ، چې د يوې ډکشنرۍ د تيارۍ ټولې طريقې مطالعه کوي ۔

ليونارډبلوم فيلډ : (**1887**ء _ **1949**ء): په شکاګو کښې **1887**ء کښې پېدا شوے وو او **1949**ء کښې نيوهيون کښې وفات شوے وو، دے د امريکې د ژبپوهنې نوموړے غړے وو ، په ژبه ئې په **1933**ء

کښې کتاب لیکلے وو ، چې ډیر مشهور دے ، په انډویورپین ، آسټروینشین او امریکن انډین ژبو باندې ئې کار کړے وو ۔

<u>مارفو فونیمکس:</u> د مارفیم او غږونو ترمینځه تعلق مطالعه کولو ته مارفو فونیمکس وئیلے شي

<u>مارفیمکس:</u> د یوې ژبې د مارفیم د تشریح مطالعې ته مارفیمکس وئیلے شي۔

<u>مارکس ټیرنش ویرو:</u> دے د روم مشهور ژبپوهان وو، چې سل کاله ق م تېر شوے وو دۀ د لاطینۍ ژبې یو ګرائمر لیکلے وو چې ډې لینګوالاطینا (**De Languae Latina**) په نوم پېژندے شي

<u>مائع (**Liguids**)غږونه :</u>مائع آوازونه هغه دي چې د ژبې، تالو او اورو د یو ځاے کېدو نه ادا کېږي او د تم، منښلي او تم منښلي ټولو غږونو خاصیتونه لري ، دا په درې قسمه کښې ویشلې شوي دي۔ اړخیز مائع، نااړخیز مائع او رپېدونکي مائع ۔

<u>مرکزه (**Nucleus**):</u> په سلیبل کښې واول یا ډیفتانګ ته **nucleus**یعني مرکزه وئیلے شي واول په سلیبل کښې مرکزي حېثیت لري او د واول مطابق سلیبل تلفظ کولے شي ۔

<u>مارفیم:</u> د یوې ژبې د وړې نه وړې معني لرونکې اکائۍ ته مارفیم وئیلے شي چې اشتقاق ئې نۀ کېږي ، مارفیم د ژبې په عمارت کښې د خښتې حېثیت لري ۔

<u>مړلي يا احتکائي (Fricatives)غړونه</u> :مړلي يا منښلي هغه آوازونو ته وائي چې د ادا کولو په وخت ئې د ساه لار دومره تنګه شي چې آواز ډېر په زور سره ادا شي

<u>موسيقۍ نظريه</u> : د دې نظريې باني د ډنمارک مشهور ژبپوهان اوټوجسپرسن **otto Jesperson**وو د هغه مطابق آوازونه يا غړونه اول اول کښي ډېر اوږدهٔ وو خو په دمه دمه دا مختصر شول او په آخره کښي ترې نه دا موجوده شکل جوړ شو۔

<u>ميټالنګوسټکس</u>: دا د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې پکښې د يوې ټولنې د ژبې او د ثقافت د نورو عناصرو سره تعلق مطالعه کولے شي۔

<u>ميل جول نظريه</u> : د دې نظريې مطابق انسان د مختلفو ضرورتونو د پاره آوازونه ايستل شروع کړل د دغې آوازونو نه لفظونه جوړ شول او د ژبې يو نظام جوړ شو۔

<u>ناغړن آوازونه</u> : هغه غړونه چې د ادا کولو په وخت ئې غړئيز ببوزي نهٔ رپيږي نو هغې ته ناغړن آوازونه وئيلے شي ۔

<u>نرم تالويز غړونه</u> : هغه غړونه چې د ادا کولو په وخت ئې د ژبې شاته حصه د تالو سره جنګيږي په پښتو کښې نرم تالويز غړونه ک، ګ، خ او غ دي۔

**نفسیاتي ژبپوهنه(Psychology)** : دا د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې پکښې د یوې ژبې او نفسیاتو اودماغو د اړیکوپه حقله خبرې او څېړنې کولے شي۔

**نوم چامسکي**: نوم چامسکي په **1928**ء کښې د امریکې په ریاست فلاډلفیا کښې پېدا شوے وو د چامسکي ژبې ته او د ژبې زده کړې ته بیخي نوې اپروچ وو ، چامسکي د ژبې د زدکړې په حقله اپروچ د جنریتو ګرامر دے ، چامسکي تر اوسه ژوندے دے او په ژبپوهنه کښې یو نوموړے نوم دے ۔

**نیکولائي ټروبټز کائي** : (**1890**ء__ **1938**ء) پوره نوم ئې **Nikolai Sergejevic Trubetzkoy** وو۔ په **1890**ء کښې ماسکو کښې پېدا وو۔ او**1938**ء کښې ویانا کښې مړ شوے وو په فونیم او غږ پوهنه کښې ئې د قدر وړ کارونه کړي دي۔

**نیورولنګوسټکس**:نیورو لنګوسټکس یا اعصابي ژبپوهنه د ژبې حیاتیاتي او اعصابي بنیادونو مطالعې ته وئیلے شي ۔

**نیوګرامرین سکول** : د نولسمې پیړۍ په آخري څلورمه کښې په **Leipzig** کښې څۀ سکالران راغونډ شو چې اول اول کښې د **Young grammarians** په نامۀ یاد کړے شول ، او روستو د نیوګرامرین په نامه یاد شول دے سکول تاریخي ژبپوهنه ، توضیحي ژبپوهنه او غږپوهنه باندې ډیر کارونه کړي وو ۔

<u>واول</u>: واول هغه غږ دے چې د ادا کولو په وخت ئې د ساه هوا د خلې په خانه کښې د څۀ خنډ سره نۀ مخامخ کېږي ـ

<u>ورنر قانون</u>: د ګِرِم نه پس کارل ورنر د ګِرِم د قانون څۀ بې قاعدګئ بيان کړي دي چې د ورنر قانون په نامه پېژندے شي۔

<u>وُوکلزِم(**Vocalism**)</u>: په هره ژبه کښې د واولز شمېره د هغه ژبې د مزاج مطابق بېله بيله ده ، په يوه ژبه کښې د واولز غږونو مطالعې ته وئيلے شي.

<u>ويوتهيوري</u>: دا يو نظرياتي ماډل دے چې د دې مطابق ژبنئ اختراع په ټولنه کښې د يو مرکز نه ګېر چاپېره سيمو ته داسې خورېږي لکه څوک چې په ولاړو اوبو کښې کاڼي ورتاؤ کړي او د هغه ځائے نه د چپو يوه سلسله شروع شي دا نظريه د ټولو نه اول **Johannes Schmidt** په **1872** کښې په خپل کتاب" **On the InterrlationShip of the indo European Languages**" کښې پېش کړے وه او د ويوتهيوري په نامه پېژندے شي۔

<u>ياسکا</u>: د هندوستان د سنکرت ژبې ګرامر پوهان وو چې د ساکاتا يانا نه وروستو او د پانيني نه وړاندې تېر شوے دے ـ

<u>يو ـ هي ـ هو نظريه</u> :د دې نظريې مطابق د محنت مشقت په وخت چې انسان کوم آوازونه د خلې نه اوباسي د دغه آوازونو نه ژبه جوړه شوې ده ـ

# پښتو کتابیات

(1)احمد، مجاور، زیار ،دوکتورپوهاند، *پښتو پښویه دریم چاپ* ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه ، 2005ء

(2)احمدنصیر، طاهري ، پوهنمل ، *په پښتو کښې د معاصرې ژبپوهنې تاریخي بهیر*، جلال آباد ، مومند خپرندویه ټولنه ، 2015

(3)آقا، محمد، شیرزاد، پوهنوال ، *موفولوژي* ، کابل: د لوړو زدکړو وزارت د کابل د ښوؤنې او روزنې پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پښتو څانگه، 1392 لمریز کال.

(4)بخاري ، خیال، سیّد ، *غږپوهنه* ، ناشر او سن نۀ لري

(5)جان، مولا، تڼیوال ، څېړنوال، *ژبه او ټولنه*، افغانستان: مومند خپرندویه ټولنه ننګرهار،2015 .

(6)خان، سکندر، خلیل، ارباب، *فلسفه زړه او نوې د ماضي فلسفیانه او سائینسي جائزه*، پېښور دارالتصنیف عقب ډاک خانه قصّه خواني بازار، 1966 .

(7)رفیع، حبیب الله ، څېړندوي ، *په پښتو کښې معدوله واو*، افغانستان : د افغانستان د علومو اکېډیمي ،2010ء

(8)صابر، محمد، خویشکي ، *پوهاند، پښتو غږ پوهنه او وئیپونه*، جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه ، 1393 لمریز کال

(9)مرهون، محمود، پوهیال ، *د ژبپوهنې بنسټونه*، افغانستان: کائنات څېړنیز او د ژباړې مرکز، 1394 لمریز کال .

(10)مرهون ، محمود، پوهیال، *آواز پوهنه*، افغانستان: کائنات څیړنیز او د ژباړې مرکز، **1394** لمریز کال

(11)نیازي، رفیع الله څیړنیار، *په پښتو کنبې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر*، افغانستان:د علومو د اکاډمۍ د څیړونو ریاست، **1390** لمریز کال۔

(12)واجد، عبدالواجد، څیړنپوه، *دژبپوهنې بنسټونه*، جلال آباد : مهین خپرندویه ټولنه، **1395** لمریز

(13)هاشمي محي الدین، سید،محقق، *د پښتو ژبې لنډګریمر*، پېښور: د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره ، **2004**

# اُردو کتابیات

(1)اِلانا، غلام علي، ډاکټر، *زبان اور ثقافت*، اسلام آباد: علامه اقبال اوپن یونېورسټي ، **1987**

(2)خټک ، خالد خان ، ډاکټر، *سندهي ، پشتو، اُردو کے لساني روابط*، پشاور، پشتو اکېډیمي پشاور یونیورسټي ،**2007**ء

(3)صدیقي، خلیل، *زبان کیا هے بار دوم* ، ملتان:بیمکن بُکس ګلګشت، **2001**ء

(4)علي، صفدر، پروفېسر، *اُردو لسانیات*، لاهور:فاروق سنز **16**، الکریم مارکیټ اُردو بازار لاهور، سن ندارد۔

(5)لقاء المحسن ،*اسلامیات برائے سي ایس ایس* لاهور:ډوګر پبلشرز،**2004**

# Bibliograpy

**1:Aitchison, Jean,** ***Linguistics*****, uk:Teach yourself, 2003.**

**2:Akmajian Adrian, Demers, Richerd A, Farmer, Ann K and Harnish , Robert M,** ***Linguistics An Introduction to Language and Communication*** **Fifth Edition, New Delhi :Printice Hall of India Pvt Ltd, 2004.**

**3:Ashby, Michael, and Maidmeut John,** ***Introducing phonetic Science*****, Cambridge: Cambridge university press, 2008.**

**4:Barber, C,** ***the story of Language*** **London and sydney:Pan Books Ltd 1972.**

**5:Bauer, Laurie,** ***Beginning Linguistics*****, uk:palgrvne macmillan, 2012.**

**6:Bynon, Theodora,** ***Historical Linguistics*** **Reprint Cambridge : Cambridge university press, 1990.**

**7:Ball, martin J, Perkins, Michael R, Muller, Nicole and Howard sara** ***the hand book of Clinical Linguistics ,*** **Malden USA:Black well publishers, 2008.book fi e-book.**

**8:Bod, Rens, Hay, Jennifer and Jannedy, Stefanie. Eds** ***Probabilistic Linguistics*** **Cambridge:the MIT press, 2003. Bookfi-e-book.**

**9:Car,Philip,** ***Phonology*****, London:the macmilan press Ltd, 1993.**

**10:Crystal, David,** ***Language Death*****, Cambridge:Cambridge university press, 2000 bookfi-e-book.**

**11:Cohn, Abigial, "*****phonology" in the Hand book of Linguistics*****, Eds, Mark Aronoff and Jale Rees Miller uk: Black well publishers Ltd, 2003.**

**12:Cobely pauly ed:The Routledge Companinon to semiotics and Linguistics , London and New yourk: Routtedge Taylor of Francis Group, 2001.**

**13:Compbell,Lyle,** ***The History of Linguistics*** **eds:Mark Aronoff and Janic Rees Miller, Oxford uk:Black well publishers,2001.**

**14:Chapman, Siobhan, Pragmatics, New York : palgrave macmilion, 2011.**
**15:Cook, Guy *Applied Linguistics*, New York: oxford university press, 2003, bookfi e-book.**
**16:Coates, Richard, *"Phonolgy, New , Horizons" in Linguistics* 2 eds, John Lyons, Richard Coates, Margaret Deuchar and Gerald Gazdar, London:Penguin books Ltd, 1987.**
**17:Cowles,H.wind, *Psycholinguistics*, New York: Springer Publishing Company, 2011.**
**18:Davies, Alan, and Elder Catherine, *General introduction to Applied Linguistics* :Subject to Discipline, in The Hand book of Applied Linguistics, Eds:Alan Davies and Catherine Elder Malden USA:Black well publishing Ltd 2004 bookfi-e-book.**
**19:Davies, Alan, An Introduction to Applied Linguistics from practice to theory, Edinburgh:Edinburgh university press, Ltd, 2007 . bookfi e-book.**
**20:Deckert, Sharon K and Vickers, Caroline H, An *Introduction to Sociolinguistics* London: Continuum International publishing Group, 2011.**
**21:Duranti Allesandro, *Linguistic Anthoopology A reader* Reprint Ed , Allesandro Durranti, Malden USA, Black well Publishers, 2003.**
**22:Esa, Itoken, *universal History of Linguistics* India, China, Arabia, Europe, Amesterdam:John Benjaman Publishing Company, 1991.**
**23:Evans, Vyvyan and Green, Melanic, *Cognitive Linguistics An Introduction* Edinburgh : Edinburgh university press, 2008, bookfi e-book.**
**24:Evans, Vyvyan, *A Glossary of Cognetive Linguistics*, Edinburgh : Edinbugh university press, 2007. Book fi e-book.**
**25:Fromkin Victoria, Blour, David and Collins, peter An *introduction to Langage* Australia:Nelson Thomsan Pvt Limited, 2002.**

**26:Fasold Ralph,** ***Sociolinguistics of Language, Introduction to Sociolinguistics*** **volume ii oxford:Blackwell Publishers Ltd, 1996.**

**27:Fernandez, Ena M and Smith Cairns, Helen,** ***Fundament als*** **of Psycholinguistics, west Sussex uk:Wiley Black well A John wiley of Sons Ltd Publication, 2011.**

**28:Field, John,** ***Psycholinguistics,*** **in** ***The Routledge Hand book of Applied Linguistics*** **ed, James Sampson, London of New York: Routledge Taylor of Francis Group, 2013.**

**29:File , Alwin and Muhlhqusler, peter Ed, The Ecolinguistics reader Language Ecology and Environment, London and New York: Continuum, 2001.**

**30:Grarnham , Alan,** ***Psyeholinguistics Central topics,*** **Reprint, London and New York: Routledge, 1994.**

**31:Green berger,H,Joseph,** ***Language, Culture and Communication,*** **California:Stanford university press,1971.**

**32:Gazdar Gerald, and Mellish, Christopher,** ***Computational Linguistics,*** **in** ***New Horizons in Linguistics*** **2, eds. John Lyons, Richard Coated, Margaret Deuchar, of Gerald Gazdar, London : Penguin books Ltd, 1987.**

**33:Haugen E,** ***Dialect Language and Nation in Socialinguistics,*** **eds:J.B. pride of Jancl Holmes, Harmond sworth : penguin Books Ltd, 1972.**

**34:Harris, Roy and Taylor, Talbot** ***J, Landmarks in Linguistics thought I the western tradilion from socrate*** **to Saussure , London and New York : Routtedge (eds) The Hand book of Historical Linguistics. 1997.bookfi e-book.**

**35:Joseph, Brian D, and Janda D. Richard, Malden USA: Black well publishing Ltd, 2003.**

**36:Keeffe, Anne o, Clancy, Brian and Adophs Svenja ,** ***introducing pragmatics in Use,*** **London and New York : Routledge, 2011.**

**37:Laver, John,** ***Linguistic phonetics in The Hand book of Linguistics,*** **Eds, Mark Aronoff and Janie Rees Miller, oxford uk: Black well publisher, 2003.**

38:Lawler, John M, and Aristar dry Helen, *using Computers in Linguistics* , London and New York : Routledge,1998.
39:Lodge, Ken, *A Critical Introduction to phonetics*, London: *Contin uum* International Publishing Group, 2011.
40:Liebert, Burt, *Linguistics of the new English teacher New York* : the macmillan Company , 1971.
41:Love, Nigel, *the Linguistics thought of J.R Firth in Linguistic thought in England 1914-1945*, Ed, Roy Harris, New York : Routledge, 1988.
42:Luraghi silvia and Bubenik, vit, *Historical Linguistics History* , *Sources of Resources* in *Bloomsbury companion to Historical Linguistics* eds:Silvia Luraghi and vif Bubenik, London:Bloomsburry, 2013.
43:Lieber, Rochelle, *introducing Morphology* Cambridge:Cambridge university press, 2009.
44:M.saiful-Haq, Mian and, Hussain, Bashir, *An Approoch the Study of Linguistics* , Lahor:New Kitab Mahal, No date
45:Mesthrie , Rajnd, *Concise Encyclopeadia of Sociolinguistics* Amsterdam: Elsevier Science Ltd, 2004.
46:Mcquown, Norhan A, *Language culture and Education selected and Introduced by Anwar S. Dil*, California:Stanford university press, 1982.
47:*Mc Gregor*, William B, *Linguistics An introduction* Reprint, London,: Continuum International publishing Group, 2010.
48:*Muruge shan,* R and Sivaprasath, Kiruthiga *properties of matter and Accoustics* Reprint New Delhi:S. Chand and Company Ltd 2006.
49:Murphy, M. Lynne and Koskela Anu, *Key Terms in Senantics* London:Continuum International Publishing Group, 2010.
50:Nathan, Geofferey s, *Phonology A Cognitive Grammar, introduction* Amsterdam:John Benjamin Publishing Company , 2008.
51:ohala, John J, *The Relation Between Phonetics and phonology in the Hand book of phonetic Sciences* , Eds,

**William J. Hardcastle of John Laver, Oxford:Black well publishers Ltd, 1999.**

**52:Prasad, Tarni,** ***A Course in Linguistics*****, New Delhi:PHI Learning private limited, 2009.**

**53:Pei, Mario,** ***The Story of Language*** **London:George Allen and unwin Ltd, 1925.**

**54:Rahman Tariq,** ***Linguistic for Begginners Basic Concepts*****, Karachi:oxford universily press,2010.**

**55:Robins, R,H,** ***A short History of Linguistics*** **, New York :Longman Publishera, 1997.**

**56:Rankin, Robert L,** ***The Comparative Method, in the Hand book of Historical Linguistics*** **Eds:Brian D.Joseph, Richard D. Fanda, Malden MA:Blackweel publishing Ltd,2003.**

**57:Riley, Brian T, Ed . Sociolinguistics Language in Culture and Society , New Delhi: Cosmo publications pvt Ltd, 2000.**

**58:Rees-Miller, Jannie,** ***Applied Linguistics in The Hand book of Applied Linguistics*** **Eds:Mark Aronoff and Jannie Ree-Miller, oxford uk:Black well publishers Ltd, 2003.**

**59:Reed Slattery Diana,** ***Communicating the unspeakable Linguistic Phenohmenon in the Psychedlic Spherc*** **(unpublished PhD Thesis Playmouth university 2010.**

**60:*****Saussure , Ferdinard D , A Course in general Linguistics*** **:Edited and anntaoted by Roy Harris London:Bloomsburry, 2013.**

**61:Schendl, Herbert,** ***Historical Linguistics*** **Reprint, New York: Oxford university press, 2009.**

**62:Syal, Pushpinder and Jindal D.V,** ***An introduction to linguistics*** **, New Delhi:PHI Learngin private Limited, 2013.**

**63:Schmitt, Norbert and Celce-Muricia, Marianne** ***An overview of Applied Linguistics*****, ed, Norbert Schmitt, Chenna 29 India:Hodeler Education , 2011.**

**64:Sampson, James,** ***The Routledge Hand book of Applied Linguistics*****, London and New York: Routledge Taylor ofFrancis Group, 2013.**

**65:Seminw, Elina, Stylisticss in *The Routledge Hand book of Applied Linguistics* Ed, James Sanpson, London and New York: Routledge Taylor of Francis Group, 2011.**

**66:Swann Joan, Deumert, Ana, Lillies, Theresa and Mesthrie Rajend *A Dictionary of Sociolinguistics*, Elinburgh :Edinburgh university press, Ltd, 2004.**

**67:Schiffman, Harold E, *Diaglossia as a Sociolinguistic situation* in the hand book of Sociolinguistics, Ed:Florian Coul. Pdf e-book.**

**68:Spolsky, Bernard, *Sociolinguistics*, London:oxford university press, 2008.**

**69:Steinberg, Danny D, *Psycholinguistics mind and World*, London, and New York: Longman, 1988.**

**70:Sherzer, Joel, *Areal Linguistics in North America* in *Current trends* in Linguistics vol 10, Ed, Thomas Seboek The Haque:Mouton,1973.**

**71:Tuten,Donald N, *Koineization* , in *Routledge Companion to Sociolinguistics* Eds:Carmem Llamas, Louise Mullany and peter stocuwell, London:Routleolge Taylor of Francis Group, 2006.**

**72:Thomas, Erik R, *Sociophonetics, An Introduction*, New York:palgraue macmillan, 2011.**

**73:Verma s.k and Krish naswamy, N, *Modern Linguistics An Introduction*, Delhi:oxford university press, 1989.**

**74:Wardhaugh, Ronald, *An Introduction to Sociolinguistics fifth Edition*, Malden USA: Black well publishing company, 2006.**

**75:Yule, George, *The study of Language* 4rth Edilion Combridge: Cambridge university press, 2010.**